# توحید پېژندنه

لیکوونکی : پوهنوال عبدالله زاهدي
د پولي تخنیک پوهنتون د اسلامي ثقافت علمي کادر غړی
تقریظ ورکوونکی: پوهنوال محب الله « میداني» د کابل د پولي تخنیک پوهنتون د اسلامي ثقافت علمي کادر غړی

**لنډیز**

په دې مقاله کې د توحید لغوي او اصطلاحي معنا ، د توحید اهمیت او ارزښت، د توحید ډولونه او د هر یو تعریف ، لکه د توحید الوهیت پېژندنه، د توحید ربوبیت پېژندنه او د توحید اسماء او صفاتو پېژندنه، د قرآن عظیم الشان آیتونو استدلال، او هم دا چې په توحید څه ډول ښکلي پایلې مرتبېږي، لکه د دنیا د کړاوونو څخه ساتنه، الله (جل جلا له) د موحدینو څخه دفاع کوي، همدارنګه الله (جل جلاله) د مخلوقاتو محبت د موحدینو په زړونو کې اچوي، پرېښتې موحدینو ته دعاګانې کوي، تل موحدین د انسانانو ترمنځ د الله په یووالي او وحدانیت باندې باور لري، د رسول الله ( صلی الله علیه وسلم) د وینا پر اساس موحدین به د قیامت په ورځ نه په ظاهره خفه وي او نه به هم په زړه غمجن وي او داسې نور،

**کلیدي ټکي:** الف: د توحید، ب: تعریف، ج: موحد، د: ربوبیت، هـ - جاهلیت.....

**سریزه**

اَلْحَمْدُ لِلهِ وَحْدَه‘ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلامُ عَلى مَنْ لَا نَبِىَ بَعْدَه‘

توحید د عدل اساس دی، توحید یوازینی لاره د جنت ده ، نو لوی عزت او کرامت بل نشته چې انسان جنت ته لاړشي او د ټولو کړاوونو او ویناوو قبلیدل ترتوحید پورې تړلي دي، الله (جل جلاله) په دې اړوند فرمايلي دي: (فَمَن كَانَ يَرْجُو لِقَاء رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا) {الکهف: ۱۱۰}

ژباړه: نوڅوک چې له خپل پروردګارسره د یوځای کیدو په هیله وي هغه ته په کار ده، چې ښه عمل وکړي او په بنده ګۍ کې له خپل رب سره بل څوک شریک نکړي .

توحید بنده ته د بنده د غلامی څخه آزادي ورکوي، لږ عمل د توحید سره زیاتېږي، همدا توحید دی چې د خیر او نیکۍ کارونه ورته آسان، ایمان ورلره محبوب او د کفر فسق او ګناه څخه کرکه کوي .

**د لیکنې کړنلاره:** دا کړنلاره کتابتوني ده او د قرآن کریم او د نبی کریم (صلی الله علیه وسلم ) احادیثو څخه سرچینه اخلي، په دې موضوع کې له تفاسیرو لکه تفسیر القرآن الکریم ، تفسیرقرطبي د احادیثو له کتابونو له صحیح البخاري ، ترمذي او نورو کتابونو څخه چې د توحید په باره لیکل شوي دي، لکه د شیخ الاسلام ابن تیمیه (رحمه الله) کتاب چې اقتضاء صراط المستقیم نومیږي او همدارنګه د شیخ الاسلام محمد بن عبدالوهاب لیکنه چې کشف الشبهات دی او داسې نورو کتابونو څخه معلومات را ټول شوي دي.

**پخوانيو ليکنو ته لنډه کتنه**

دې موضوع اړوند په پښتو ژبه کې بې شمېره ليکنې شتون لري، ليکن په پښتو ژبه کې ډېرې کمې ليکنې ورباندې شوي دي، پس همدې نقاطو ته په کتو مې وغوښتل تر څو د موضوع په تړاو په خپله ملي ژبه (پښتو) کې لنډ او جامع معلومات را ټول کړم او خپلو هيوادوالو ته يې وړاندې کړم.

**د موضوع اهميت:** توحيد خورا ډېر اهميت لري، تر دې چې ځيني مفسرين وايي: د قرآن کريم موضوع توحيد ده او ځينی مفسرين چې موضوع د قرآن کريم انسان بولي د هغه رجوع هم توحيد ته کېږي، ځکه دا انسان به يا په توحيد ولاړ وي يا به نه وي، د ټولو انبياء (عليهم السلام) د رالېږلو هدف توحيد دی، توحيد لومړی امر دی، د انسان څخه په قبر کې ترې سوال کېږي، ټول گناهونه په توحيد ختم کېږي، پس پاتې دې نه وي، چې د توحيد همدې ارزښتونو او اهميت ته په ليدو ما هم ځکه همدا موضوع با اهميته وګڼله او په تړاو مې لنډه او موثقه علمي ليکنه ورباندې وکړه.

**فرضي سوالونه**

۱ - آيا توحيد د اسلام اصلي محور دی؟

۲ - د توحيد اهميت په اسلام کې څومره دی؟

۳ - آيا توحيد اقسام لري؟

٤ - آيا پرته له توحيد څوک مسلمان گڼل کېږي؟

٥ - آيا توحيد د قرآن کريم موضوع ده؟

**مباحثه**

۱: توحيد الربوبيت دا دليل دی، په توحيد في العبادة باندې، ځکه الله تعالی مشرکان ملامته کړي دي او دليل يې پرې نيولی دی، چې تاسې په توحيد في الالوهيت کې خلل پيدا کړی دی او سره د دې نه چې تاسې اقرار کوئ په توحيد الربوبيت باندې، لکه الله تعالی فرمايلي دي:

( يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُواْ رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ وَالَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ , الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الأَرْضَ فِرَاشاً وَالسَّمَاء بِنَاء وَأَنزَلَ مِنَ السَّمَاء مَاء فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقاً لَّكُمْ فَلاَ تَجْعَلُواْ لِلّهِ أَندَاداً وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ). (البقره: ۲۱-۲۲)

الله تعالی پدې ايت کې په خپل عبادت باندې امر کړيدی، او دليل يې پيش کړی دی، چې الله تعالی رب العزت مستحق د عبادت دی، دليل دا دی، چې (الَّذِي خَلَقَكُمْ) د دې نه تر (رِزْقاً لَّكُمْ) پورې او بيا دا دليل دی په بطلان د الوهيت باندې نوځکه الله تعالی فرمايلي دي: (فَلاَ تَجْعَلُواْ لِلّهِ أَندَاداً وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ) الله تعالی په (وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ) لفظ کې ردَ کوي په مشرکانو چې بيا اقرار هم کوي.

۲: اقرار کول د خلکو په توحيد الربوبيت باندې، مخکې دی له اقرار کولو د دوی په توحيد الوهيت باندې په همدې مناسبت ابن تيميه (رحمه الله) وايي، هر کله چې خلک پدې خبره پوهه دي پخپل حاجت او فقر باندې چې زمونږ حاجت او فقر رب ته ښکاره ده د همدې وجې نه الله (جل جلا له ) رسولان رالېږلي چې دعوت به يې ورکاوه عبادت د الله تعالی ته چې الله تعالی واحد لاشريک ذات دی او مقصود دی په داسې طريقې سره چې مستلزم د اقرار ربوبية دی، لکه الله تعالی د هغوی د حال نه خبر ورکړی:

(وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ فَأَنَّى يُؤفَكُونَ ). (زخرف:۸۷)

**ژباړه:** او قسم دی که وپوښتې ته د دوی څخه چې چا پیدا کړي دي، نو دوی به ووایي، (هرومرو) چې الله تعالی ، پس دغه (مشران له عبادت د الله څخه) کوم طرف ته ګرځول کیږي.

همدارنګه الله (جل جلاله ) په بل ایت کې داسې فرمایلي دي:

( وَإِذَا مَسَّكُمُ الْضُّرُّ فِي الْبَحْرِ ضَلَّ مَن تَدْعُونَ إِلاَّ إِيَّاهُ). ( اسری: ۶۷)

ژباړه : او کله چې ورسیږي تاسې ته سختي د بحر (وېریږی د غرقیدونه) ورک شي (له فکره ) هغه کسان چې بولي يې او عباد ت يي کوي مګر يواځې دغه ( الله جل جلاله ته ) زاری او عبادت کوي.

الله تعالی دوی ته خبر ورکړی چې تاسې اقرار بالربوبیت کوئ اوالله (جل جلاله ) لره خپل دین خالص کوئ په دغه وخت کې چې تاسې ته څه تکلیف درورسیږي، نو خاص یو الله رابولئ او خاص هغه څخه بیا امداد غواړئ بیا اعراض کوئ او مخ اړوئ د الله تعالی د عبادت نه په هغه وخت کې چې د دې اغراض پوره شي.

**د توحید اړوند پیژندنه**

**د توحید لغوي پیژندنه**

توحید په لغت کې د باب تفعیل څخه دی، وحّد یوحّد توحیداً، اي جعله واحداً یعنې ویې ګرځاوو ( یو).

نود توحید معنا ایمان په الله تعالی چې شریک نه لري.(۶:ج۱: ۵۴۸).

**توحید په اصطلاح کې پیژندنه**

د توحید اصطلاحي معنا په تړاو د علماء کراماقوال په لاندې ډول دي:

۱- د اهل کلامو په اصطلاح کې توحید د حادث يواځې کول د قدیم څخه دي. (۷: ج۲-۱: ۳۴۳).

۲- شیخ محمد عبده (رحمه الله) وایي: دا یو علم دی، چې په کې بحث کیږي، د الله (جل جلاله) د وجود څخه او د هغه شیانو څخه چې واجب دي نفي کول د هغې د الله تعالی څخه. (۸: ج ۱: ۴۹) .

۳- شیخ محمد بن صالح العثیمین (رحمه الله) وایي: د الله تعالی يواځې والی دی په هغه شیانو چې هغه خاص دي ترالله متعال پورې. (۴: ج ۱: ۲۱).

۴- ملاعلي قاري (رحمه الله) وایي: الله سبحانه و تعالی یو دی په ذات او یو دی په صفاتو کې او پیدا کوونکی د ټولو مصنوعاتو دی.

۵- علامه جرجاني (رحمه الله) وایي: د الله تعالی د ذات يواځې کول دي د هر هغه شیانو څخه چې تصور کیږي په فهم کې او راځي په وهم او ذهن کې او هم وایي: چې توحید درې شیان دي. (۹: ۲۵)

لومړی: د الله تعالی معرفت په ربوبیت سره، دویم: يواځې والی دی په وحدانیت سره، دریم: نفي کول د شریکانو د الله تعالی.

۶- شیخ محمد بن عبدالوهاب (رحمه الله) وایي: چې د الله تعالی يواځې کول دي په عباداتو کې. (۲۱۹:۱۴)

**د توحید د ثبوت دلیلونه**

توحید د ټولو رسولانو لومړنی دعوتي سلسله وه، په همدې ترتیب لومړی منزل اومقام لري، الله تعالی يې

په اړه داسې فرمائلي دي:

(لَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَى قَوْمِهِ فَقَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُواْ اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَهٍ غَيْرُهُ). (الأعراف: ۵۹)

ژباړه: په تحقيق سره موږ نوح (عليه السلام) خپل قوم ته لېږلی وو، هغه خپل قوم ته ويلي وو، چې د الله تعالی عبادت وکړئ او نشته تاسو لره څوک مدد ګار بغیر د الله تعالی څخه.

**د توحيد ډولونه**

توحيد په درې ډوله دی: (۱)- توحيد ربوبيت، (۲)- توحيد الوهيت، (۳). توحيد اسماء اوصفات، دا درې واړه بيا دوو ډولونو ته رجوع کوي .

لکه صاحب د شرح عقيدة الطحاوية ويلي دي: هغه توحيد چې رسولان هغه ته رابلل شوي دي او کتابونه په هغه نازل شوي دي، هغه توحيد په دوه ډوله دی.

الف: توحيد د معرفت او اثبات ب: توحيد د طلب او قصد، چې دواړو باندې به لنډ بحث وکړو:

الف: توحيد د معرفت او اثبات: تعريف يې دادی، پيژندل د الله (جل جلاله) او اسماء د الله تعالی (جل جلاله) او صفات د الله تعالی( جل جلاله ) نو دا قسم توحيد په توحيد ربوبيت او توحيد اسماء او صفاتو پورې متضمن دی.

ب : توحيد د طلب اوقصد: نو دې ډول ته توحيد ته د طلب او ارادې توحيد هم وايي، پس دا قسم توحيد په توحيد الوهيت پورې متضمن دی.

په همدې ترتيب توحيد ربوبيت مرکب دی د دوو کلمو څخه، لومړی: توحيد، دويم: ربوبيت.

پس ربوبيت ماخوذ دی د رب څخه او کلمه د رب په څو معنا ګانو اطلاق کيږي.

**اول:** په معنا د مالک د شي او صاحب د شي، لکه جوهري ويلي دي: رب الشی معنا مالک الشی او ازهري وايي: هر هغه څوک چې د يو شي مالک جوړ شي، نو هغه ته رب الشیء ويل کيږي.

د بيلګې په توګه عرب وايي: رب الدابة ورب الدار.

**دوهم:** په معنا د ملک سره لکه ازهري ويلي دي: په دې قول د الله تعالی کې: اذکرني عند ربک، اي عند ملکک.

**دريم:** په معنا د سيد چې تابعداري يې کولی شي. (۶: ج۱: ۱۴).

**څلورم:** په معنا د تربيت سره لکه راغب اصفهاني په مفردات کې وايي: رب په اصل کې تربيت کوونکي ته وايي، مطلب يې دا دې، موجودول د يوشي او بيا هغې ته وده ورکول تر دې چې د کمال پړاو ته ورسيږي.

رب مالک ته وايي، تصرف کوونکي ذات ته وايي او په لغت کې په سيد باندې او په هغې متصرف باندې اطلاق کيږي، چې تصرف کوي د اصلاح لپاره دا ټول اطلاقات د الله (جل جلاله) په باره کې صحيح دي.

او رب د بل چا لپاره نشي استعماليدی، مګر په اضافت سره يعنې په نسب سره لکه د مثال په توګه رب الدار ورب الدابة، رب کذا وکذا او مطلق رب صرف الله تعالی لپاره استعماليږي.(۳:ج۱: ۴۵)

چا ويلي: چې رب اسم الاعظم د الله تعالی دی، رب په اصل کې تربيت کوونکي ته وايي، ځکه په اصل کې رابب دی.

او په اصطلاح کې د يو شي کمال درجې ته رسول دي، بيا پدې صفت سره الله (جل جلاله) موصوف

کیدای شي، چې ټول اشیاء کمال او اتمام ته رسوي، نو پدې صفت سره الله (جل جلاله) موصوف دی...

**پنځم:** اصلاح کوونکی د شي.

**شپږمه:** معنا المعبود لکه شاعر ویلي دي:

اربٌ یبول الثعلبان برأسه          لقد ذلت من بالت علیه الثعالب

ژباړه : ایا هغه شی رب کیدلی شي یعنی معبود کیدلی شي چې بولی کوي ګیدړان په سر د هغې، نو په تحقیق سره ډیر ذلیله دی هغه معبود چې بولې کوي په هغې باندې ګیدړان.

دا شعر یو اعرابي هغه وخت ویلي وو، چې ګیدړ یې ولید، چې په بت باندې یې متیازې کولې، چې هغه بت د دغه اعرابي معبود وو. (۱۵: ج۱: ۱۳۷).

**توحید ربوبیت په اصطلاح کې:** اقرار کول په دې خبره چې یقیناً الله تعالی د هر شي رب، مالک، خالق او رازق دی او په دې اقرار کول چې مړه کول او ژوندي کول د الله تعالی په لاس کې دي، الله تعالی یواځې هغه ذات ګڼي چې په وخت د مصیبت کې دعاګانې قبلوي، هغه په هر شي قادر ګڼل، د هغه په لاس کې خیر اوشر ګڼل او په دې کې د هغه سره شریک نه پیدا کول.

په عربي کې لنډ تعبیر د دې دا دی: «هو افراد الله سبحانه وتعالی بالخلق والملک والتدبیر».

په دې باندې دلیل دا قول د الله تعالی دی: (اللَّهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ وَكِيلٌ). (الزمر:۶۲)

امام شوکاني وایي: د دې آیتونو مطلب دا دی، چې خاص الله تعالی لره تصرف کول دي په ځمکه او اسمانونو کې چې وجود ته یې راوستي او دا یې پیدا کړي او په دې ټولو کې د الله تعالی حکم چلیږي او الله تعالی د خپلو بنده ګانو په مصلحتونو باندې ښه پوهیږي او د عباداتو په فایده باندې چې بنده ګانو ته یې مقرر کړي دي.

**د لغوي او اصطلاحي معنا په منځ کې مناسبت:** په الله تعالی باندې د رب هره لغوي معنا صادقه ده ځکه الله تعالی د ټولو څیزونو راوړونکی او جوړونکی دی او هم نمو ورکوونکی د اشیاوو دی، تردې چې هر شی خپل کمال ته رسوي، په ټولو بادشاه دی او د ټول نظام تدبیر کوونکی او ساتوونکی دی، په همدې ترتیب خپلو ټولو زنده سروته رزق ورکوونکی دی.

**په توحید د ربوبیت کې شرک کول او په اسلامي امت کې د هغه څرګندوالی:** کله چې نبي (صلی الله علیه وسلم) مبعوث شو، نو په دغه وخت کې عربو شرک په ربوبیت نه کاوو، دا یو نا اشنا خبره ده لیکن اوس مهال شرک في الربوبیت په مسلمه امت کې شته دی.

**لومړی:** د پیریانو څخه ویره کول او د هغوی څخه امداد غوښتل

هغوی ته ډالۍ وړل، د هغوی په نوم ذبحې کول، دا ټول شرک في الربوبیت دي، ځکه په دوی کې دا عقیده پرته ده، چې د الله (جل جلاله) له ارادې او غوښتنې څخه پرته هم جنیات په ځینې شیانو کې تصرف کولی شي، او دا هغه دسیسه ده چې شیطان د خپلو اولیاوو په زړونو کې اچولي وه او هغوی بیا په دې باندې عمل کوي، د دې اشاعت او نشرکوي، تردې چې دا بده عقیده د بعضو جاهلانو په زړونو کې ځای پر ځای شوي ده، دې ته شرک الشیاطین في ربوبیته تعالی ویل کیږي.

دوهم: پاکي بیانول د بعضې صوفیانو، مشائخو او دهغوی اطاعت کول بغیر د اطاعت د الله تعالی نه او

بغیر د اطاعت د رسول الله (صلي الله علیه وسلم) څخه، بلکې په هغه اشیاوو کې تابعداري کوي، چې الله (جل جلاله) او رسول الله (صلي الله علیه وسلم) یې بد ګڼي او هغه څیزونه ورته شریعت جوړوي، چې په دین کې هغې ته بدعت ویلی شي او دوی ته هغه طریقې جوړوي چې باطلې طریقې دي، په همدې ترتیب د هدایت او د اهل هدایت والاوو سره دشمني کوي.

او د خپلوغلطو مشرانو په داسې طریقه سره مطلق استجابت کوي، چې دغه خپل مشران یې په هرڅه کې په خپل ځان قادر کړي دي او دا ګڼي چې زمونږ په پټو او په ښکاره پوهېږي او د دوی حال هغوی ته ښکاره دی او هغوی په ټولو پټو رازونو د دوی باندې خبرېږي، نو هغوی ته ذلت ښکاره کوي ځان ورته سپک او ضعیف ښکاري.

بلکې هغوی ته تر دومره حده تسلیم شوي چې هغوی په خپل ځان او مال باندې مکمل متصرفین ګڼي نو أیا دا شرک في الربوبیة نه دی ایا دغه کسان چې دوی عبادتونه کوي د دوی ارباب نه دي د دوي اله نه حسابیږي .؟

دریم :عاجزي کول هغه حکامو ته چې هغه مسلمانان نه دي د هغوی تابعداري کول سره د دینه چې د هغوی لخوا زور هم په دوی نشته او بیا هم دوی هغه حکامو لره حکم یعنې فیصله کوونکي ګرځوي په باطل کې او دوی په تشویش کې اچوي.

په قوانینو د کفر او کافرانو باندې حلال ورته حراموي حرام ورته حلالوي او د دوی اطاعت کوي په ټولو دغه شیانو کښې انکار پرې نه کوي او حکم ځمکې ته غورزوي نو په داسې صفاتو سره چې څوک متصف شي او قیام پرې وکړي او ورباندې رضا شي او بیا قانع هم شي د هغې په صحت باندې چې دغه بلکل صحیح قوانین دي نو دا هم ښکاره شرک في الربوبیة دي.

اطاعت کول د یو چا په معصیت د الله تعالی کې بغیر د اکراه د فیصلي کوونکي نه چې هغه وربانديې څه زور هم نه وي کړی نو دا کفر دی ځکه دا فیصله کول دي بغیر د ما انزل الله څخه او د دې قول لپاره شاهد صحیح حدیث دی.

دعدي بن حاتم الطائي ( رضي الله عنه ) کله چې دی په جاهلیت کې نصراني شوی وو، بیا یې اسلام راوړ او د نبي کریم (صلي الله علیه وسلم ) څخه یې دا آیت د اهل کتابو په باره کې نازل شوی واوریدو:

(اتَّخَذُواْ أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللّهِ وَالْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَمَا أُمِرُواْ إِلاَّ لِيَعْبُدُواْ إِلَهًا وَاحِدًا لاَّ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ سُبْحَانَهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ). **(التوبة : ۳۱)**

ژباړه: نیولي وو دوی (کتابیانو) عالمان خپل او عابدان خپل خدایان بې له الله (جل جلا له) او مسیح (علیه السلام) زوی د مریم هم په خدایي نیولي وو او د الله (جل جلاله ) زوي یي بولې حال دا چې امر (حکم) نه دی شوی دوی ته په تورات او انجیل کې مګر د دې چې عبادت وکړي دوی د یو معبود چې نشته هیڅ برحق معبود، الله لره پاکي ده له هغه شي نه چې شریکوي دوی (د الله سره ).

نو کله چې دغه ایت شریف عدي بن حاتم واوریدو نو انکارېې وکړ چې مونږ خو د خپلو مشرانو عبادت ندی کړی؛ نو نبي کریم (صلي الله علیه وسلم) ورته وفرمایل: ایا هغوی به چې تاسو ته کوم شی حلال کړه او هغه به حرام وو یا به یې درته یو حرام حلال کړو نو تاسو به دا نه منله، نو عدي بن حاتم وویل: چې ولې نه، مونږ خو به د هغوی حلال حرام ګڼل او حرام به مو د هغوی حلالولو؛ نو نبي کریم

(صلي الله عليه وسلم) ورته وفرمایل: چې همدغه د هغوی عبادت دی. (۵: ج۱: ۸۷).

**توحید الوهیت:** د توحید الوهیت لغوي معنا مخکې تېره شوي ده، توحید الوهیت مرکب دی د دوو کلمو څخه، یو یې توحید او هر چې لفظ د الوهیت دی نو، دا منسو ب دی اله ته او اله لفظ په وزن د فعال دی، په معنا د معبود برحق.

نوهر هغه شی چې معبود ونیولی شي هغې ته إله ویلی شي او اله دا نوم ګرځولی شوی د هر معبود لپاره، اله په وزن د فعال دا په معنا د مفعول سره راځي، لکه امام چې (فعال) وزن دی دا هم په معنا د مفعول سره راځي، یعني په معنا د مووتم به سره راځي. (۷: ج۱: ۱۷۳)

شیخ الاسلام ابن تیمه (رحمه الله) وایي: اله په معنا د معبود سره یعنې هغه ذات دی چې زړونه ورسره محبت کوي او الله مستحق دی د الوهیت او بیا دا خبره مستلزم د صفاتو کمال لره چې په الله (جل جلاله) کې صفات د کمال شته دي نو یواځې او یواځې الله تعالی محبوب دی او معبود لذاته دی په بل چا کې دا صفت نشي راتلی، چې هغه دې معبود او محبوب لذاته شي نو هر هغه عمل چې د الله (جل جلاله) اراده پرې ونشي هغه عمل باطل دی .

او عبادت د غیر او محبت د غیر دا فساد واجبوي، لکه الله تعالی چې فرمایي:

(لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلَّا اللَّهُ لَفَسَدَتَا فَسُبْحَانَ اللَّهِ رَبِّ الْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُونَ). **(** الانبیاء: ۲۲)

**ژباړه:** که چېرته په دې ځمکه او اسمان کې بل هم مثل معبود وي نو خامخا دا ځمکه او اسمان به فاسد شوي وای نو پاکې ده الله (جل جلا له) لره چې خاوند د عرش دی، پاک دی د هغه څه نه چې دوی ورته بیانوي علي سبیل النقصان.

**د توحید الوهیت اصطلاحي پېژندنه:** توحید الوهیت چې د دې نه تعبیر کیدای شي په توحید العبادة سره

او یا توحید د طلب اوقصد سره نو اسماء دي د یو مسمی لپاره او په اجمالي توګه سره چې معنا کوي. دا د الله (جل جلاله) یواځې ګڼل دي، یعنې د الله تعالی عبادت که ظاهراً وي او باطناً وي، که زکات وي، که لمونځ او که روژه وي، که قرباني او که نذر وي، محبت او که خوف وي، رجاء او که توکل وي او داسې نور انواع چې الله تعالی په هغې عبادت باندې خپل بنده ګان مکلف کړي دي او دا یې ورته شریعت ګرځولی دی او دا قسم د توحید یواځې الله تعالی لره مبني دی په اخلاص د عبادت باندې چې الله متعال لره شریک نشته په داسې شان سره چې هیڅ یو شی به د دغه ذکر شوي شیانو څخه غیر الله لپاره نه ګرځوي، د الله متعال څخه ماسواء به څوک نه رابولي، حتی که هغه مقربه ملائیکه وي او که هغه نبي مرسل وي، چا چې په د غه شیانو کې یو شی د غیر الله لپاره وګرځاوو نو دا کافر او مشرک بلل کیږي.

په همدې ترتیب امام ازهري (رحمه الله) داسې معنا کړیده، چې عبادت عبارت دی د اعتقاد او شعور څخه چې یقیناً د معبود لپاره په علم او تصرف کې سلطه غیبیه ده بغیر د احتیاج څخه اسبابو ته او قدرت په نفع او ضرر باندې نو هره دعا او ثناء او تعظیم چې د هغې څخه دا عقیده پیدا کیږي نو هغې ته عبادت وایي. (۱۰:ج۱:۹۰)

د عبادت درې اقسامه دي:

لومړی: عبادت قولي، دویم: عبادت بدني، درېیم: عبادت مالي، دا ټول الله رب العزت لپاره ګرځول توحید الوهیت هم دی، الله تعالی یې په اړه داسې فرمايي:
( قُلْ إِنَّ صَلاَتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ). (الانعام:۱۶۲)
ژباړه: او وایه ته یقيناً بدني عبادت، مالي عبادت، مرګ او ژوند دا هر څه خاص الله لره دي.
چې تربیت کوونکی د مخلوق دی او شریک یې هم نشته او په همدې باندې ما ته امر کړی شوی دی او زه د اول منوونکو څخه یم.
بل ځای کې هم الله تعالی داسې فرمایلي دي:
(هُوَ الْحَيُّ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ فَادْعُوهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ). (غافر:٦٥)
ژباړه: دا الله تعالی همیشه ژوندی ذات دی, نشته دی بل اله معبود مګر همدا یو الله دی نو رابولئ دې الله لره په داسې حال کې چې خالص کوونکي به یاست هغه لره خپل دین.
په همدې ترتیب بل ځای کې الله جل جلاله فرمايي:
( وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاء ). (البینة: ۵)
پس معنا د حنفاء لکه څنګه چې امام شوکاني (رحمه الله) ویلي دي، چې مائل به وي او اعراض کوونکي به وي د ټولو دینونو څخه د اسلام دین ته.
نور ډېر ایاتونه دي د الله (جل جلاله) په کتاب کې چې په بنده ګانو یې دا واجب کړي دي، چې هغه به په توحید العبادة سره یوازې ګڼي او هغه به په عبادت سره خاص کوئ نه بل څوک، لکه الله متعال چې فرمايي:
(يأَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُواْ رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ وَالَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ , الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الأَرْضَ فِرَاشاً وَالسَّمَاء بِنَاء وَأَنزَلَ مِنَ السَّمَاء مَاء فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقاً لَّكُمْ فَلاَ تَجْعَلُواْ لِلّهِ أَندَاداً وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ). (البقرة: ۲۲-۲۱)
ژباړه : ای خلقو عبادت کوئ یواځې د یو الله ستا لپاره دی هغه ذات چې تاسې یې پیدا کړي یاست او ستاسې نه مخکې هم پیدا کړې وو د دې لپاره چې الله (جل جلاله) نه وویرېږئ الله (جل جلاله) هغه ذات دی، چې ګرځولې ده ځمکه ستاسې لپاره هموار‌ه فرش او ګرځولی دی اسمان په شان د چت او راوروي **د** اسمان طرف نه اوبه چې راوباسي په سبب د دغه اوبو سره امدني د ځمکي چې دا رزق ستاسې دی نو مه ګرځوئ د الله (جل جلا له) سره شریک او تاسې پوهېږئ چې الله (جل جلاله) سره څوک شریکول بد کار دی.

**وروستۍ پایله**

الله (جل جلاله) د انسان د پیدایښت څخه هدف توحید دی، چې انسان توحید وپېژني او د توحید په تقاضا عمل وکړي، هر انسان چې دا کار تر سره کوي، یقینا په دنیا او آخرت کې بریالی کیږي، مګر متأسفانه نن ورځ ډېر مسلمانان دي، چې د توحید او مسلمانۍ دعوا کوي، اما کله چې د مشکل سره مخامخ شي بیا شکوې او ګیلې کوي، د الله متعال احسانات او د ژوند ټول حقیقتونه ورڅخه هیر شي هغه نعمتونه او ښېګړې چې الله رب العزت د ژوند په اوږدو کې ورسره کړي وي، هغه ټول په نا باورۍ او نا شکرۍ باندې بدل کړای شي، همدې ته ورته مشرکینو به هم په سختۍ کې یوازې الله (جل جلا

له) ته نعرې وهلې، د بېلګې په توګه کله به چې د مشرکینو کښتۍ طوفاني شوه نو وبه یې وئیل: بتان څه نه شي کولای، یوازې الله (جل جلا له) ته نعرې کوئ، همدا وجه ده، د ابوجهل زوی عکرمه (رضی الله عنه) ووېل: دا عجیب منطق دی، چې د آرامی په وخت کې د بت عبادت کوو، لیکن د سختۍ په وخت کې الله (جل جلاله) ذات ته رجوع کوو، که د دې طوفان څخه الله (جل جلا له) نجات راکړو، نو بیا به زه هیڅکله د بت عبادت ونکړم، د یو ذات عبادت به کوم، بیا همداسې وشول، چې عکرمه د اسلام په سپیڅلی دین مشرف شو او ایمان یې راوړو، (رضی الله عنه) .

**د ماخذونو نوملړ**

۱- قرآن کریم
۲- ابن حجرالعسقلاني، أبو الفضل أحمد بن علي بن محمد. (۱۳۷۹هـ ل). فتح الباري شرح صحیح البخاری. ج۱۷ . ص ۱۴۴. الناشر: دار المعرفة. بیروت.

۳- ابن کثیر، ابوالفداء اسماعیل بن کثیرالقریشي الدمشقي. ( ۱۴۲۰هق). تفسیر القرآن العظیم. الناشر: مکتبة التراث الاسلامی سوریا.
۴- ابن تیمیه، شیخ الاسلام أحمد بن عبد الحلیم بن عبد السلام. (۲۰۰۸م ). اقتضاء صراط المستقیم ج۲. ص ۸۴۶. الناشر: مکتبة السلفیه.
۵- ابن عثمین، ابوعبدالله محمد بن صالح. فتاة المراة المسلمة، ج۱. ص ۳۴. الناشر: احیاءالتراث الاسلامیه.
۶- الترمذي، ابوعیسی محمد بن عیسی بن سوره. (۲۰۱۲م ). جامع الترمذی. ج ۱. ص۴۱۲. الناشر: مصطفی الحلبي.
۷- الجوهري، اسماعیل بن محمد. (۲۰۰۸م ). تاج اللغة والصحاح العربي.ج ۱. ص ۵۴۸. (ب.ط).
۸- جمال الدین، محمد القاسمي. (۲۰۱۶م). دلائل التوحید. ج۱. ص ۴۹. الناشر: دارالنفاس.
۹- الجرجاني، علي بن محمد. (۱۴۰۳هـ ق). التعریفات. الناشر: دار الکتب العلمیة بیروت.
۱۰- الازهري، محمد بن احمد، عقیدة المؤمن. (۱۲۰۳هـ ق). ج ۱. ص ۱۷۶. الناشر: مطالع سجل العرب القاهره.
۱۱- الزمخشري، جارالله ابي القاسم محمود بن عمر. (۲۰۱۳م). اساس البلاغة. الناشر: دار الهدایة.
۱۲- الشوکاني، محمد بن علي بن محمد بن عبدالله. (۱۳۸۳هـ ل). ج۱. ص ۱۲۷. الناشر: مصطفی حلیبي.
۱۳- شیخ الاسلام. محمد بن عبدالوهاب. (۲۰۰۸م). کشف الشبهات. ص۲۱۹. الناشر: المکتبة الاسلامیه بیروت.
۱۴- قرطبي، ابي عبدالله محمد بن أحمد الانصاری،(۱۴۱۸) الجامع لاحکام القرآن. ج- ۱- ص- ۱۳۷) الناشر: دارالکتب المصریة.
۱۵- المجد الدین، محمد یعقوب. (ب.ت). القاموس المحیط. ج۱. ص۳۴۳. (ب.ط).

# د وينې ګروپونو، Rhesus فکتور  او  چاغوالي توصيفي څېړنه

ليکونکي: پوهندوی ډاکټر سيدرحيم شاه شمل وال او پوهندوی ډاکټر ولي ګل مخلص، شيخ زايد
پوهنتون، د طب پوهنځی د فزيولوژي او ماشومانو څانګې استادان
تقريظ ورکوونکی: پوهنوال ډاکټر مغفرت الله عمل د فارمکولوژي څانګې استاد

**لنډيز:**

**موخه:** دا څېړنه د وينې ګروپونو،  Rh فکتور او چاغوالي (چې د  BMI  پوسيله ټاکل کيږي) توصيفي څېړلو ته ځانګړې شويده.

**د کار توکي او کړنلاره:** دا څېړنه د احمد شاه ابدالي د لوړو زده کړو خصوصي موسسه کې په ۶۵۰ محصلينو کې د وينې ګروپونو،  Rh فکتور او BMI د ټاکلو په بنسټ ترسره شويده. دا څېړنه prospective descriptive ده چې د Antisera A، Antisera B، Antisera D او د حساسې تلې پواسطه چې هم وزن او هم قد ټاکي ترسره شويده. د پروژې طرحه cross sectional design ده او د سمپل اخيستنې ميتود يې nonrandom دی. د ډاټا د تحليل لپاره د SPSS 25 څخه استفاده شويده.

**موندنې:** په دې څېړنه کې ۶۵۰ کسانو چې ۳۷۸ (۵۸,۲٪) نارينه او ۲۷۲ (۴۱,۸٪) ښځينه دي ګډون کړی دی، د ۶۵۰ کسانو له ډلې څخه ۲۵۶ (۳۹,۴٪) کسه متاهل او ۳۹۴ (۶۰,۶٪) کسه مجرد دي.  د ټولو کسانو د عمر منځنی کچه ۲۱,۷۹ کاله، معياري انحراف يې ۳,۰۷ کاله، اصغري عمر ۱۷ کاله او اعظمي عمر يې ۴۴ کاله دی. د ۶۵۰ کسانو له ډلې څخه ۶۶ (۱۰,۲٪) کسه منفي Rh او ۵۸۴ (۸۹,۸٪) کسه مثبت Rh درلودونکي دي.

**وروستۍ پايلې:** ددې څېړنې جنيني اريتروبلاستوزس پراساس په هرو لسو کسانو کې يوازې يو نفر منفي Rh او نهه کسه يې مثبت Rh درلودونکي دي، همدا راز د وينې د ټايپونو له مخې تر ټولو کم پيدا کيدونکی ټايپ -AB او تر ټولو زيات پيدا کيدونکی ټايپ +B ګڼل کيږي. سربيره پردې د وينې د ګروپونو له مخې تر ټولو کم پيدا کيدونکی ګروپ AB او تر ټولو زيات پيدا کيدونکی ګروپ B ګڼل کيږي.  د ټولو کسانو د BMI منځنی کچه ۲۳,۴۵، اصغري BMI ۱۶ او اعظمي BMI يې ۴۳,۴۲ دی.

**کليدي ټکي:**BMI، جنيني اريتروبلاستوزس، د وينې ګروپونه، د وينې ټايپونه، +Rh، -Rh.

**سريزه**

په ۱۹۰۱ زيږديز کال کې د يو استرلیايي زيږيدونکي امريکايي بيالوژيست کارل لينډشتاينر له خوا په انساني  وينه کې د ABO د وينې ګروپونه وموندل شول چې نوموړي بيالوژيست ته  په ۱۹۳۰ زيږديز کال کې ددې موندنې له کبله د نوبل جايزه ورکړل شوه. نوموړي په وينه کې د انتيجن او انتي باډي په نومونود موادو شتون پيدا کړ چې د سروکريواتو د نښلولو سبب ګرځيدل. ياد بيالوژيست دA، B او O ګروپونه د هغوی د خپل منځي اغيزو پر اساس سره بيل کړل. يو کال وروسته د يوې  بلې  څيړنيزې ډلې

پر مټ د AB گروپ هم وپېژندل شو. په ۱۹۴۰ زیږدیز کال کې لینډشتاینر او الیکساندر وینر د Rhesus په نوم بیزوگانو کې د Rh سیستم کشف کړ[۱].

د روغ انسان څخه ناروغ انسان ته د وینې ورکول د Blood Transfusion یا نقل الدم په نوم یادیږي. که چیرې د روغ انسان څخه ناروغ ته د وینې ورکولو په وخت کې د وینې گروپونه تعین نه شي، د یو لړ اختلاطاتو او حتی د مرگ سبب کیږي. همدارنگه د وینې گروپونو تعینول د وینې په یو شمیر ناروغیو، عدلي طب ،پلاروالی ازموینه (Paternity Test)، توکم پیژندنه، انسان پیژندنه او ډول ډول تجربوي موخو کې هم د پام وړ ارزښت لري.

د وینې حاد او مزمنه بهیدنه، د جراحی د عملیاتو پر مهال، د پلار والی په ازموینو او د ځینو نارغیو لکه جنیني اریتروبلاستوزس د مخنیوي لپاره د وینې د گروپونو او Rh فکتور ټاکلو ته اړتیا پیښیږي. په خوست ولایت کې دا لومړی څېړنه ده چې د وینې گروپونو، Rh فکتور او BMI (Body Mass Index) پارامیترونو په درلودلو ترسره شویده، چې د هغې سره به د عاجلو واقعاتو پر مهال د وینې لاس رسی اسانه شي او هم د یو شمېر ناروغیو د مخنیوي لپاره به هم لازم اقدامات ترسره شي. دا څېړنه د ۱۳۹۸ کال د عقرب په میا شت کې پیل او د همدې کال په حوت میاشت کې د خوست ولایت د احمد شاه ابدالي د لوړو زده کړو خصوصي موسسه کې په ۶۵۰ نارینه او ښځینه محصلینو کې د وینې گروپونو، Rh فکتور او BMI د ټاکلو په بنسټ پای ته رسیدلې ده.

**د کار توکي او کړنلاره**

دا څېړنه د احمد شاه ابدالي د لوړو زده کړو خصوصي موسسه کې په ۶۵۰ نارینه او ښځینه محصلینو کې د وینې گروپونو، Rh فکتور او BMI د ټاکلو په بنسټ ترسره شویده. دا څېړنه prospective quantitive descriptive ده چې د Antisera A، Antisera B، Antisera D او د حساسې تلې پواسطه چې هم وزن او هم قد ټاکي ترسره شویده. د پروژې طرحه cross sectional design ده او د سمپل اخیستنې میتود یې nonrandom دی. د ډاټا د تحلیل لپاره SPSS 25 څخه استفاده شویده. د څېړنې د اجرا دنده د پوهندوی ډاکټر سیدرحیم شاه شمل وال په غاړه او د ډاټا د تحلیل برخه د پوهندوی ډاکټر ولي گل مخلص پواسطه ترسره شویده.

**موندنې**

په دې څېړنه کې ۳۷۸ (۵۸,۲٪) نارینه او ۲۷۲ (۴۱,۸٪) ښځینه کسانو گډون کړی دی، د ۶۵۰ کسانو له ډلې څخه ۲۵۶ (۳۹,۴٪) کسه متاهل او ۳۹۴ (۶۰,۶٪) کسه مجرد دي. د ټولو کسانو د عمر منځنی کچه ۲۱,۷۹ کاله، Standard Deviation یې ۳,۰۷ کاله، اصغري عمر ۱۷ کاله او اعظمي عمر یې ۴۴ کاله دی. . د ۶۵۰ کسانو له ډلې څخه ۶۶ (۱۰,۲٪) کسه منفي Rh او ۵۸۴ (۸۹,۸٪) کسه مثبت Rh درلودونکي دي. د وینې د ټایپ له نظره د ۶۵۰ کسانو له ډلې څخه ۱۶ (۲,۵٪) کسه A منفي، ۱۲۹ (۱۹,۸٪) کسه A مثبت، ۸ (۱,۲٪) کسه AB منفي، ۷۸ (۱۲٪) کسه AB مثبت، ۲۲ (۳,۴٪) کسه B منفي، ۱۹۷ (۳۰,۳٪) کسه B مثبت، ۲۰ (۳,۱٪) کسه O منفي او ۱۸۰ (۲۷,۷٪) کسه O مثبت دي. د

وینې د ګروپونو له نظره د ۶۵۰ کسانو له ډلې څخه ۱۴۵ (۲۲,۳٪) کسه A ګروپ، ۸۶ (۱۳,۲٪) کسه AB ګروپ، ۲۱۹ (۳۳,۷٪) کسه B ګروپ او ۲۰۰ (۳۰,۸٪) کسه O ګروپ کې شامل دي. د موضوعاتو د ښه پوهاوي لپاره د څېړنې پایلې په لاندې جدولونو او ګرافونو (۱-جدول،۱-ګراف، ۲-ګراف، ۳-ګراف او ۴-ګراف) کې ښودل شویدي.

۱- جدول: د جنس، مدني حالت، Rh فکتور، د وینې ګروپونو او د وینې د ټایپونو له نظره د کسانو شمېر او سلنې

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| جنس | | | | | | | | |
| نارینه 378 (58.2%) | | | ښځینه 272 (41.8%) | | | ټوله 650 (100%) | | |
| مدني حالت | | | | | | | | |
| متاهل 256 (39.4%) | | | مجرد 394 (60.6%) | | | ټوله 650 (100%) | | |
| د Rh فکتور | | | | | | | | |
| Rh- 66 (10.2%) | | | Rh+ 584 (89.8%) | | | ټوله 650 (100%) | | |
| د وینې ګروپونه | | | | | | | | |
| A 145 (22.3%) | | B 219 (33.7%) | | AB 86 (13.2%) | | O 200 (30.8%) | | ټوله 650 (100%) |
| د وینې ټایپونه | | | | | | | | |
| A- 16 (2.5%) | A+ 129 (19.8%) | AB- 8 (1.2%) | AB+ 78 (12%) | B- 22 (3.4%) | B+ 197 (30.3%) | O- 20 (3.1%) | O+ 180 (27.7%) | 650 ټوله(100%) |




۱- ګراف:د کسانو منځنی عمر، معیاري انحراف، اصغري او اعظمي عمرونه




۲- ګراف:د کسانو منځنی وزن، معياري انحراف، اصغري او اعظمي وزنونه




۳- ګراف:د کسانو منځنی جګوالی، معياري انحراف، اصغري او اعظمي جګوالي




۴- ګراف:د کسانو منځنی BMI، معیاري انحراف، اصغري او اعظمي BMI

**مناقشه**

د نړۍ په سطحه د زیاترو هیوادونو د نفوسو د وینې د ګروپونو احصایه شتون لري، چې له بده مرغه تر اوسه پورې په دې نوملړ کې د افغانستان نوم شتون نه لري. که څه هم دا څېړنه د یو ولایت په سطحه ده، که په هر ولایت کې دې ته ورته څېړنې ترسره او بیا د هغوی میتاانالایزس ترسره شي، لېرې نه ده، چې په دې نوملړ کې به د افغانستان نوم هم ور اظافه شي. زموږ په څېړنه کې ۶۵۰ کسانو چې ۳۷۸ (۵۸,۲٪) نارینه او ۲۷۲ (۴۱,۸٪) ښځینه دي ګډون کړی دی. د ۶۵۰ کسانو له ډلې څخه ۶۶ (۱۰,۲٪) کسه منفي Rh او ۵۸۴ (۸۹,۸٪) کسه مثبت Rh درلودونکي دي. د وینې د Type له نظره د ۶۵۰ کسانو له ډلې څخه ۱۶ (۲,۵٪) کسه -A، ۱۲۹ (۱۹,۸٪) کسه +A، ۸ (۱,۲٪) کسه -AB، ۷۸ (۱۲٪) کسه +AB، ۲۲ (۳,۴٪) کسه -B، ۱۹۷ (۳۰,۳٪) کسه +B، ۲۰ (۳,۱٪) کسه -O او ۱۸۰ (۲۷,۷٪) کسه +O دي. د وینې د ګروپونو له نظره د ۶۵۰ کسانو له ډلې څخه ۱۴۵ (۲۲,۳٪) کسه A ګروپ، ۸۶ (۱۳,۲٪) کسه AB ګروپ، ۲۱۹ (۳۳,۷٪) کسه B ګروپ او ۲۰۰ (۳۰,۸٪) کسه O ګروپ کې شامل دي. د وینې د ګروپونو نسبت زموږ په څېړنه کې B>O>A>AB ښودل شوی دی. په لاندې پاراګرافونو کې ددې څېړنې پایلې د نړیوالو څېړنو د پایلو سره پرتله شویدي.

هغه څېړنه (۲۰۲۰ کال ) چې د پاکستان د کرک ولسوالی د خوشحال خان ختک په پوهنتون کرک او نجونو کالج کې په ۴۰۲ نجونو ترسره شویده، ۹۶ سلنه + Rh او ۴ سلنه یې - Rh ښودل شویدي او همدارنګه د وینې د ګروپونو نسبت یې په B>O>A>AB ډول ښودل شوی دی، چې زموږ په څېړنه کې ۱۰,۲ سلنه منفي Rh او ۸۹,۸٪ سلنه مثبت Rh درلودونکي دي او د وینې د ګروپونو نسبت یې زموږ د څېړنې د پایلې سره په بشپړ ډول ورته والی لري[۲].

همدارنګه هغه څېړنه چې د غربي هند د تدریسي روغتون په ۴۹۱۱۰ وینه ورکوونکو باندې په

۲۰۱۵کال کې ترسره شوديده ٪۱۸،۵ +A، ٪۳۰ +B، ٪۵،۷ +AB، ٪۳۸،۷ +O، ٪۱،۵ -A، ٪۲،۲ -B، ٪۰،۴ -AB او ٪۳ -O ښودل شوديدي، چې زموږ په څېړنه کې د +A (٪۱۹،۸)، +B (٪۳۰،۳) او د -O (٪۳،۱) سره نږديوالی لري [۹].

همدا راز هغه څېړنه (۲۰۱۴ کال ) چې د کابل ښار په یو نظامي روغتون کې په ۲۵۰ کسانو کې د وينې ورکولو له امله د ۲۰۱۰ مارچ څخه تر ۲۰۱۱ اکتوبر پورې ترسره شويده، ٪۲۵،۶ A ګروپ، ٪۲۹،۲ B ګروپ، ٪۱۰،۴ AB ګروپ، ٪۳۴،۸ O ګروپ، ښودل شوديدي، چې د +Rh سلنه يې ۹۰،۸ سلنه ده، چې زموږ د څېړنې د ارقامو سره څه ناڅه نږديوالی لري [۴].

سربېره پردې هغه څېړنه (۲۰۱۶ کال ) چې د ايران تهران ښار کې په ۳۴۷۵ کسانو د پلازوالی ازموينه د لسو کالونو (د ۱۹۹۸ څخه تر ۲۰۰۸ پورې) په موده کې ترسره شويده، ٪۳۲ A ګروپ، ٪۲۳،۶۸ B ګروپ، ٪۷،۷۴ AB ګروپ، ٪۳۶،۴۹ O ګروپ ښودل شوديدي، چې زموږ د څېړنې د ارقامو سره نږديوالی نه لري [۷].

هغه څېړنه چې په ۲۰۲۰ کال په پاکستان کې په ۱۶۱۸۹۳ کسانو ترسره شويده، ۹۰،۶۳ سلنه + Rh او ۹،۳۷ سلنه يې - Rh ښودل شويدي او همدارنګه د وينې د ګروپونو نسبت يې په B>O>A>AB ډول، چې ٪۲۳،۹۹ A ګروپ، ٪۳۳،۳۷ B ګروپ، ٪۹،۷۴ AB ګروپ، ٪۳۳،۱۴ O ګروپ ښودل شويدي [۶].

د نړيوالې نفوس پيژندنې ادارې له مخې (۲۰۲۳ کال) د امريکا په متحده ايالاتو کې ٪۳۵،۷ +A، ٪۸،۵ +B، ٪۳،۴ +AB، ٪۳۷،۴ +O، ٪۶،۳ -A، ٪۱،۵ -B، ٪۰،۶ -AB او ٪۶ -O ښودل شوديدي [https://worldpopulationreview. com (2023)].

هغه راپور چې سيګار (SIGAR) د افغانستان په اړوند په ۲۰۱۸ کې ورکړی دی ٪۲۵،۶ A ګروپ، ٪۲۹،۲ B ګروپ، ٪۱۰،۴ AB ګروپ، ٪۳۴،۸ O ګروپ، ښودلې، چې د + Rh سلنه يې ۹۰،۸ سلنه ده [۸].

هغه څېړنه (۲۰۱۷ کال ) چې د چين هيواد په ۳۸۳۲۰۳۴ کسانو کې د وينې ګروپونو د ټاکلو له امله د ۲۰۱۰ جنوري څخه تر ۲۰۱۲ ډسامبر پورې ترسره شويده، ٪۳۰،۵ A ګروپ، ٪۲۹،۴ B ګروپ، ٪۹،۷ AB ګروپ، ٪۳۰،۴ O ګروپ، ښودل شوديدي، چې څېړنې د ۲۰۰ (٪۳۰،۸) کسه O ګروپ ته نږديوالی لري، اما په نورو ګروپونو کې توپير لري [۵].

هغه څېړنه (۲۰۲۰ کال) چې د ايران په مشهد ښار کې په ۷۲۶۸ کسانو ترسره شويده، ٪۸۸،۲ +Rh او ٪۱۱،۸ -Rh ښودل شويدي، چې زموږ د څېړنې د ارقامو سره نږديوالی لري [۳]. د پورته پرتلې څخه جوتيږي، چې د بيلابيلو هيوادونو د وينې ګروپونو سلنې په نژاد او قوميت پورې زيات تړاو لري.

د څېړنې غښتلي ټکی دادی، چې په دې څېړنه کې دواړه جنسونه په نظر کې نيول شويدي.

د څېړنې کمزوري ټکی دادی، چې د څېړنې سمپل سايز کوچنی دی.

ددې څېړنې ګټې دادي، چې:

- ✓ د وينې ګروپونو په ټاکلو سره د عاجلو پيښو پر مهال وينه ورکوونه اسانوي او د ناروغ ژوند ساتي.
- ✓ همدارنګه د وينې ګروپونو په ټاکلو سره کولی شو د ځينو ناروغيو لکه اريتروبلاستوزس فيتاليس

مخنیوی هم کړو.

- ✓ په حقوقي مسايلو (پلاروالی آزموينه) کې د وينې ګروپونو ټاکل مهم رول لري.
- ✓ د BMI په کنترول سره د زړه، رګونو او استقلابي ناروغيو مخنيوی کولی شو.

**وروستی پايلې**

ددې څېړنې پراساس په هرو لسو کسانو کې يوازې يو نفر منفي Rh او نهه کسه يې مثبت Rh درلودونکې دي، همدا راز د وينې د ټايپونو له مخې تر ټولو کم پيدا کيدونکی ټايپ -AB او تر ټولو زيات پيدا کيدونکی ټايپ +B ګڼل کيږي. سربيره پردې د وينې د ګروپونو له مخې تر ټولو کم پيدا کيدونکی ګروپ AB او تر ټولو زيات پيدا کيدونکی ګروپ B ګڼل کيږي. د ټولو کسانو د BMI منځنی کچه ۲۳,۴۵، اصغري BMI ۱۶ او اعظمي BMI يې ۴۳,۴۲ دی.

**ماخذونه**


۱. شمل وال، سيدرحيم شاه، (۱۳۹۵ ل)، د شيخ پوهنتون پوهنيزه مجله، لومړی ګڼه، پنځلسمه مجله، مخونه: ۹۵-۸۲.

2. Abbas¹, A., Abbas, B., Aziz, S., Ullah, F., Panhwar, W. A., Ali, A., ... & Habibullah13, S. K. (2020). Prevalence of ABO and Rh Blood Group In District Karak (Female). *Bull. Env. Pharmacol. Life Sci*, *9*, 31-34.
3. Andalibi, M., Dehnavi, Z., Afshari, A., Tayefi, M., Esmaeili, H., Azarpazhooh, M., ... & Tayyebi, M. (2020). Prevalence of ABO and Rh blood groups and their association with demographic and anthropometric factors in an Iranian population: Mashad study. *Eastern Mediterranean Health Journal*, *26*(8), 916-922.
4. Garcia-Hejl, C., Martinaud, C., de Rudnicki, S., Sanmartin, N., Clavier, B., Chianea, D., & Vest, P. (2014). Blood group antigens frequencies in Kabul, Afghanistan. *Transfusion and Apheresis Science*, *50*(2), 307-308.
5. Liu, J., Zhang, S., Wang, Q., Shen, H., Zhang, Y., & Liu, M. (2017). Frequencies and ethnic distribution of ABO and RhD blood groups in China: a population-based cross-sectional study. *BMJ open*, *7*(12), e018476, 4.
6. Rehman, G. U., & Shi, H. (2020). ABO and Rh (D) blood groups distribution in Pakistan: a systematic review. *Forensic Res Criminol Int J*, *8*(6), 237-244.
7. Shahverdi, E., Moghaddam, M., Talebian, A., & Abolghasemi, H. (2016). Distribution of blood groups in the Iranian general population. *Immunohematology*, *32*(4), 135-139.
8. Sopko, J. F. (2018). *Review of the Collection and Procedures for Screening the Blood of Afghanistan National Army Personnel*. SPECIAL INSPECTOR GENERAL FOR AFGHANISTAN RECONSTRUCTION ARLINGTON VA.
9. Suresh, B., Sreedhar Babu, K. V., Chandra Mouli, P., Arun, R., & Jothibai, D. S. (2015). Distribution of ABO and rhesus (D) blood group antigens among blood donors at a tertiary care teaching hospital blood bank in south India. *J Clin Sci Res*, *4*(2), 129.

# پر جرم د مجنی علیه رضایت

ليکونکی: پوهندوی عبدالرحمن رحیمي
شیخ زاید پوهنتون، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د قضا او څارنوالي څانګې استاد
تقریظ ورکوونکی: پوهنوال محمدالله مندوزی د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استاد

**لنډیز**

په جرم باندې د مجنی علیه رضایت، معنا داده چې یو انسان بل انسان ته په ځان باندې د جرم د ترسره کولو په هکله رضایت ښکاره کړي. په دغه حالت کې د فاعل لپاره د جرمي عمل ترسره کول د پرنسیپ له مخې جرم دی او د مجنی علیه رضایت د جرمي عمل په ماهیت باندې کوم اغیز نه لري او حتی په ځینو حالتونو کې د مجنی علیه رضایت په خپله د مجنی علیه لپاره هم جزایي مسؤلیت پیداکوي، خو په دوو استثنایي حالاتو کې د مجنی رضایت ددې لامل ګرځي چې د فاعل لپاره او همدا رنګه د مجنی علیه لپاره جرم ونه ګڼل شي. یو په هغه صورت کې چې عدم رضایت په خپله د جرم د متشکله عناصرو د جملې څخه وي، چې په رضایت سره د جرم نوموړی عنصر له منځه ځي او جرمي عمل په مباح عمل بدلیږي لکه: په غصب یا سرقت کې.

دویم په هغه صورت کې چې په رضایت سره د یو جرمي عمل ترسره کول شرعاً او قانوناً مباح ګڼل کیږي. لکه: په جراحي عملیاتو او سپورتي لوبو کې.

**کلیدي ټکي:** جراحي عملیات، سپورتي لوبې، ښایست اړینه جراحي، ښایست غیر اړینه جراحي، مجنی علیه رضایت .

**موخې:** ددې علمي مقالې څخه لاندې موخې په پام کې نیول شوي دي.

۱- د مجنی علیه رضایت په هکله د اسلامي شریعت د دریځ پژندل.

۲- د پلاستیکي یا د ښایست جراحي په هکله د معاصرو فقهي مسایلو پېژندل.

۳- د ځینو غیر اړینو پلاستیکي جراحي عملیاتو په ضررونو پوهیدل.

۳- د موضوع په هکله د لیکوال د شخصي معلوماتو زیاتیدل.

۴- د مسلکي مینه والو سره د موضوع او د هغې په اړونده مسایلو کې د معلوماتو شریکول.

**د کار مواد او میتود:** د مقالې په ترتیب کې د معتبرو علمي کتابونو څخه ګټه اخیستل شوې. د مقالې مواد د کتابتوني څیړنې په بنه د نصي او لفظي اقتباس د قواعدو په مراعاتولو سره راټول شوي دي. لیکنه تر ډېره حده د موضوع د اړونده موادو څخه د عمومي برداشت په اخیستنې سره په روانه ژبه او د صفحې د منځني ماخذونو د ذکر کولو په بنه زما په شخصي برداشت ترتیب شوې ده .

**موندنې:** ددې څېړنیزې مقالې په ترڅ کې مونږ دې نتیجې ته رسیږو چې د مجنی علیه رضایت د اصل له مخې د مجرمیت د رفع (تبرئیه کوونکی) حالت نه دی، خو بیا هم په ځینو ځایونو کې چې مقنن ذکر کړي وي لکه: سپورتي لوبې او جراحي عملیات او یا د مجنی علیه هغه رضایت چې د جرم د اختصاصي

متشکله عناصرو څخه د یوه عنصر د له منځه وړلو لامل ګرځي د تبرئیه کوونکي حالت په حیث ګڼل کیږي لکه: هغه جرمونه چې په هغه کې نه رضایت د جرم تشکیلوونکی عنصر وي. د مثال په توګه په عادي حالاتو کې د چا کورته ننوتل جرم دی، خو که د کور د مالک اجازه موجوده وي، نو بیا جرم نه دی او یا لکه د سرقت په جرم کې چې د متشکله عناصرو څخه یو عنصر یې د غله شوي شي د مالک نه رضایت دی، چې طبعاً په رضایت سره جرم نه ګڼل کیږي.

ددې څیړنیزې مقالې په ترڅ کې دا هم را برسیره شول چې په ځینو ځایونو کې نه یواځې د مجنی علیه رضایت جرم له منځه نه وړي؛ بلکې د هغه رضایت په عمدي توګه د جرم د ارتکاب په معنا ده .

لکه: د زنا او لواطت په جرمونو کې چې د مجنی علیه رضایت په قصدي توګه د جرم  ارتکاب ګڼل کیږي.

همدارنګه د دې مقالې په بهیر کې داسې څرګندیږي چې د افغانستان د جزا کود (۱۱۹) مادې دویمه فقره له شرعي پلوه ځیني ستونزې لري. د بېلګې په توګه د افغانستان د جزا کود د (۱۱۹) مادې په دویمه فقره کې جراحي عملیات یواځې په دې شرط چې د طبابت د فني اصولو سره سم یې صورت موندلی وي جرم  نه ګڼل کیږي. لکه چې ښکاري په یاده ماده کې د شریعت له پلوه کوم قید وجود نه لري؛ بلکې یواځې د طبابت په فني اصولو تکیه شوي او دا به داسې معنا ولري چې که طبیب په جراحي عملیاتو کې د طبابت فني اصول مراعات کوي، نو د هر ډول جراحي عملیاتو پر وړاندې مسؤلیت نه لري؛ په داسې حال کې چې حقیقت داسې نه دی او طبیب نشي کولای یواځې د طبابت د فني اصولو په استناد غیر شرعي عملیات ترسره کړي. د بېلګې په توګه: یوه ښځه چې نه غواړي ډېر اولادونه راوړي او په دې موخه د ځان د عقیم کولو لپاره جراحي عملیات ترسره کوي، یا یوه بار داره ښځه چې په نور ماله توګه زیږون ترسره کولی شي، د جراحي عملیاتو په ذریعه له خپل رحم څخه ماشوم لیري کوي او یا داسې پلاستیکي جراحي عملیات ترسره کوي چې هیڅ اړتیا ورته نه لیدل کیږي او هغه د انسان په خلقت کې یو ډول تغییر ګڼل کیږي، نو د یادو جراحي عملیاتونو او یا دې ته ورته نورو جراحي عملیاتونو په هکله د جزا په یاده ماده کې د شریعت له پلوه مشخصاً کوم صراحت نه لیدل کیږي او یواځې د ( طبابت د حرفي فني اصولو) څخه پکې یادونه شوې ده.

**سریزه**

د مجنی علیه رضایت په لغت کې د خشنودی، اجازې او رخصت په  معنا راغلی دی. په جزایي مسایلو کې  د مجنی علیه رضایت په دې معنا دی چې یو حقیقي یا  حقوقي  شخص د قانون پرخلاف، دده  د حقوقو او ازادیو پر ضد د یوه جرمي عمل د تر سره کولو په هکله  خپله موافقه څرګنده کړي. (۳: ۱۸۸).

یا په بل عبارت: د مجنی علیه د مخکیني تمایل څخه عبارت دی، د هغه عمل په رابطه چې د هغه د حقوقو او آزادیو پرضد انجام شي او د قانون وړاندې شوي شرطونه تحقق پیدا کړي.۱ د بېلګې په توګه یو ناروغ  د خپلې ور پېښې شوې ناروغۍ څخه کړیږي، چې له  اقتصادي پلوه ډېر ناتوانه دی، حوصله یې هم له لاسه ورکړې ده، جسماً هم ډېر کمزوری او سخت دردونه هم لري، له یو ډاکټرڅخه غوښتنه کوي چې له دغه حالته د ژغورنې په موخه  ورته یوه زهري پیچکاري ووهي. ډاکټر سره له دې چې د ناروغ له

۱-. ( د حقوقي اصلاحاتو قاموس، ۱۵۶ مخ، چاپ کال ۱۳۸۷، USAID

یاد حالت څخه خبر دی د ده په غوښتنه یوه زهري پیچکاري ورته تطبیق کوي او ناروغ وژني. یا ډاکټر، یو کس ته د ورپېښې شوې ناروغۍ له امله یا د ښایست لپاره جراحي عملیات ترسره کوي. دلته پوښتنه پیداکیږي چې آیا له حقوقي پلوه په دغه حالت کې د ناروغ رضایت د ډاکټر لپاره تبریه کوونکې حالت دی؟ یا په بل عبارت د زهري پیچکارۍ په ذریعه د ناروغ وژل یا د درملنې او یا ښایست لپاره متقاضي جراحي عملیات ترسره کول د ډاکټر لپاره مشروع عمل دی او کنه؟ د دغو پوښتنو او همدارنګه دې ته ورته پوښتنو حل او ځواب زموږ ددې مقالې اصلي موضوع ده. د دغو پوښتنو(د مجنی علیه د رضایت په هکله) د حل په اړه به لومړی اصل او بیا استثنا، د افغانستان د جزا کود دریځ، د اسلامي شریعت تګلاره او د فقهاوو نظریات، د مجنی علیه د رضایت شرطونه او په اخر کې پلاستیکي یا د ښایست جراحي عملیات د بحث لاندې ونیول شي.

**لومړی اصل:** په عمومي توګه د مجنی علیه رضایت اصولاً جرم له منځه نه وړي. په دې معنا چې که یو کس بل کس ته د جرم پر ارتکاب رضایت ښکاره کړي، نو په حقوقي لحاظ د فاعل دغه عمل جرم دی. په پورتني مثال کې ډاکټر د ناروغ د وژل کېدو له مخې مجرم دی او عمل یې جرم ګڼل کیږي او دا حالت په ډېری مواردو کې د فاعل پر مجرمیت هیڅ اغیز نه لري(۴:۱۳۴).

حتی په ځینو مواردو کې د مجنی علیه رضایت په خپله هغه ته هم مسؤلیت پیدا کوي؛ ځکه د اسلامي شریعت له مخې پر هغو عملونو چې ضرر یې د انسان بدن ته متوجه وي، د عمل پر ماهیت باندې د ده د رضایت نه اغیزه، پر دې بنسټ ده چې د ده بدن او نفس د الله تعالی امانت دی او اصلاً انسان د خپل نفس او بدن مالک نه دی او نه شي کولای چې پر ضرر یې چاته اجازه ورکړي او یایې پخپله پر ضد اقدام وکړي له دې امله بل چاته د ځان د وژنې اجازه د قاتل مجرمیت له منځه نشي وړلی. همدارنګه د اخلاقو او عفت پر ضد په ټولو جرمونو کې د مجنی علیه رضایت د فاعل تقصیر له منځه نشي وړلی. د زنا او لواطت په څېر جرمونو کې د طرفینو رضایت نه یوازې داچې شرط نه دی او د دوی تقصیر نه شي له منځه وړلی ، بلکې پردوی باندې د جزا پلي کیدل په دې دلیل دي چې هغوی په رضایت سره نوموړي عملونه ترسره کړي دي. (۳:۱۸۹).

ددې اصل چې د مجنی علیه رضایت جرم له منځه نه وړي. دلیل دادی چې اصلاً د جرم له ارتکاب څخه ټولنه متضرره کیږي او د جزاګانو د وضع او پلي کیدلو څخه یوازې د خصوصي خلکو د ګټو خوندیتوب نه دی، بلکې اساسي موخه یې دا ده چې مختل شوی ټولنیز نظم اعاده شي او د ټولنې عمومي ګټې حمایه شي، ځکه د جزاګانو حق د ټولنې د عمومي حقوقو څخه ګڼل کیږي(۴: ۱۳۴).

**دویم- استثنا:** د مجنی علیه رضایت استثناً په ځینو مواردو کې د مجرمیت د رفع کیدو لامل ګرځي. د دې استثنا لامل دا دی چې په ځینو مواردو کې په رضایت سره د جرم متشکله عنصر له منځه ځي او یا په رضایت سره په ضمني توګه جرمي عمل قانوني بڼه پیدا کوي. دغه دواړه حالتونه په لاندې توګه بېل، بېل د بحث لاندې نیسو.

**لومړی- د مجنی علیه رضایت د جرم متشکله عنصر له منځه وړی وي:** په ځینو حالتونو کې د مجنی

علیه رضایت د جرم متشکله عنصر د له منځه وړلو لامل ګرځي او جرم نه تشکیلیږي. دا رضایت په هغو جرمنو کې اغیز من دی چې په هغه کې د حق د څښتن نه رضایت د جرم تشکیلوونکی عنصر وي، لکه د اجازې پرته د بل چا کورته ننوتل د کور د حرمت د نقض جرم دی؛ خو که د کور د مالک په اجازه یو څوک د بل چا کور ته ننوځي جرم نه ګڼل کیږي. همدارنګه په زور سره د چانه مال اخیستل جرم دی، خو که په رضایت سره واخیستل شي جرم نه ګڼل کیږي. همدارنګه غیر قانوني توقیف، که چیرې ثابته شي په رضایت ترسره شوي جرم نه ګڼل کیږي (۳:۱۹۰).
همدارنګه د مالک کیدو په موخه په پټه توګه د رضایت پرته د بل چا مال اخیستل د سرقت جرم دی، خو که په رضایت سره واخیستل شي د سرقت جرم نه ګڼل کیږي(۷: ۲۹۰).
**دویم- د مجنی علیه رضایت د عمل د مباح والي شرط وګڼل شي:** په ځینو وختونو کې د مجنی علیه نه رضایت د جرم د تحقق لپاره شرط نه وي، خو قانون جوړوونکی یا قضایي رویه د هغې موجودیت د جرم د مباحوالي لامل ګڼي **(۷: ۲۹۵).**
لکه په طبي جراحي عملیاتو او سپورتي لوبو کې. د مثال په توګه په عادي حالاتو کې د یو چا څیري کول او یا د چا څخه د غړي پریکول جرم دي، خو که ډاکټر د ناروغ او یا د هغه اقاربو په رضایت سره د اپنډکس د درملنې په موخه د ناروغ ګېډه وڅیري او یا یې د سرطان د ناروغۍ د سرایت د مخنیوي په موخه یې لاس یا پښه پرې کړي جرم نه ګڼل کیږي. همدارنګه په عادي حالاتو کې د ضربو واردول او یا د چا ټپي کول جرم دی؛ خوکه دا ضربې او ټپي کیدل د قانوني سپورتي لوبو په ترځ کې د جانبینو د پخواني رضایت له مخې رامنځته شي جرم نه ګڼل کیږي(۴: ۱۳۵).
**د مجنی علیه رضایت په اړه د افغانستان د جزا کود دریځ:**
د افغانستان د جزا کود د مجنی علیه رضایت څخه د اباحت د اسبابو تر عنوان لاندې په (۱۱۸) ماده کې یادونه کړې ده. د یادې مادې په دویمه فقره کې د دندې د ترسره کولو، د آمر د امر د تعمیل، او مشروع دفاع ترڅنګ د مجنی علیه رضایت د مجرمیت د لیرې کولو د یو حالت په حیث ګڼل شوی دی. د نوموړې مادې لومړی فقره د اباحت د اسبابو په شتون کې د جرمي عمل د ترسره کولو په هکله داسې حکم کوي:( جرمي عمل د اباحت د اسبابو څخه د یوه د شتون په صورت کې جرم نه ګڼل کیږي او د مرتکب د جزایي مسؤولیت موجب نه ګرځي). د جزا کود(۱۱۹) مادې د مجنی علیه د رضایت پر بنسټ د اباحت دوه موارد په ګوته کړي دي په لومړی فقره کې یې د ورزشي لوبو څخه یادونه کړې ده او په دویمه ماده کې یې د ناروغ د رضایت څخه یادونه کړې ده. نوموړې ماده په دې هکله داسې حکم کوي: ( په لاندې حالاتو کې د عمل ارتکاب چې د مجنی علیه په رضایت واقع شوی وي جرم نه ګڼل کیږي:
۱- د ورزشي لوبو د اجرا په حالت کې، په دې شرط چې د ورزش د منل شوو قواعدو او اصولو په حدودو کې یې صورت موندلی وي.
۲- د ناروغ، خاوند(همسر)، ولي، وصي یا تر دریمې درجې پورې د هغه د اقاربو په موافقه د جراحي عملیاتو یا نورو اړینو طبي اقداماتو د اجرا په حالت کې، په دې شرط چې د طبابت د حرفې له فني اصولو سره سم یې صورت موندلی وي. د جراحي د عاجلو عملیاتو اجرا چې د طبابت د حرفې له فني

اصولو سره سم یې صورت موندلی وي، له دې حکم څخه مستثنی دي.
باید یادونه وکړو چې د افغانستان د ۱۳۵۵ لمریز کال لغوه شوي جزا قانون د څلورم څپرکي په لومړي قسمت کې، طبي عملیاتونه او سپورتي لوبې د مجنی علیه د رضایت په نوم نه، بلکې د حق د استعمال په نوم، د اباحت د سببونو تر عنوان لاندې یاد کړي دي.

**په اسلامي شریعت کې په جرم د مجنی علیه رضایت**

په اسلامي شریعت کې اصل دادی چې په جرم باندې د مجنی علیه رضایت او خوښه جرم نه روا کوي او په جزایي مسؤولیت باندې هیڅ اغیزه نه لري، مګر په هغه صورت کې چې دده په خوښه د هغه جرم تشکیلوونکی عنصر له منځه تللی وي. لکه په غلا او غصب کې، ځکه په دې دواړو جرمونو کې د جرم مهم عنصر دادی چې مال د مجنی علیه د خوښې پرته یوړل شي، خو که مجنی علیه راضي وي چې یو کس یې مال واخلي نو د فاعل دا عمل مباح دی نه جرم (۸: ۳۹۹).

همدارنګه په دې هکله په اسلامي شریعت کې له سپورتي لوبو او جراحي عملیاتو، چې د درملنې په موخه د ناروغ په رضایت ترسره کیږي په ډېر صراحت سره یادونه شوې ده او حتی هغه یې د ټولنې یو ډول ضمه واري او مسؤولیت ګڼلی دی. دا موضوعات په لاندې توګه له نظره تیروو.

**سپورتي لوبې:** په اسلامي شریعت کې سپورتي لوبې د ( العاب الفرسیه) په نوم یادیږي او ټولې هغه لوبې روا بولي چې په هغه کې د قوت او مهارت مسابقه موجوده وي او د جګړې او سولې په وختونو کې ورڅخه ګټه اخیستل کیږي لکه خیز( ټوپ) وهل، اس زغلول، نیزو وهل، د ببړیو، موټرو او الوتکو مسابقه، پنډوسکی ، وزن پورته کول، رسی کشکول او داسې نور (۸: ۴۶۹).

اسلامي شریعت د سپورتي لوبو په هکله په ښکاره توګه په قران کریم کې داسې امر کړی دی ژباړه: (او تاسې تر خپلې وسې، وسې ډېر زیات ځواکمن او تیار زین کړي آسونه د هغوی د مقابلې لپاره برابرکړئ تر څو په دې وسیله الله جل جلاله پر دوښمنانو، پر خپلو دوښمنانو او پر هغو نورو دښمنانو هیبت راولې چې تاسې یې نه پیژنی، خو الله جل جلاله یې پیژني).[1]

نبي کریم صلی علیه وسلم فرمایي پوه شئ چې قوت د ویشتلو زبرنده دی، پوه شئ چې قوت د ویشتلو زبرنده دی. رسول الله صلی علیه وسلم د منډې په مسابقه کې، د اسونو او اوښانو په مسابقو کې ګډون کړی دی(۸: ۴۶۹).

په اسلامي شریعت کې د مسابقو په ترڅ کې د صدمو د پیښېدو حکم دادی چې په کومو لوبو کې چې په هغه کې زور ازموینه یا وهل ټکول معمول نه وي د اسلامي شریعت د عامو قاعدو سره سم عمدي فاعل یې د عمدي عمل مسؤول دی او که غیر عمدي وي، نو فاعل یې د غیر عمدي عمل مسؤول دی. مګر په هغه صورت کې چې صدمه د داسې لوبو په ترڅ کې رامنځته شوي وي چې په هغه کې زور ازموینه معمول وي لکه پهلواني، بکسنګ، پندوسکه او داسې نور، نو فاعل یې په دې شرط مسؤول نه ګڼل کیږي، چې د لوبې د ټاکلي حدودو څخه تیری ونه کړي. په دا ډول پیښو کې د فاعل څخه د مسؤولیت په لیري کولوکې وضعي قوانین همغږي نه دي. ځیني یې مسؤول ګڼي او ځیني مسؤول نه ګڼي . همدارنګه د وضعي قوانینو مقننین په سپورتي لوبو کې د صدمو د پیښیدو په ترڅ کې د فاعل څخه د جزایي مسؤولیت د لیري کیدو د لامل په هکله هم اختلاف لري، ځیني مقننین د فاعل څخه د جزایي

مسؤولیت د لیري کیدو لامل د جنايي قصد نه شتون ګڼي، ځیني يې د مجنی علیه رضايت او ځيني نور يې لامل دا ګڼي چې دولت سپورتي لوبو ته اجازه ورکړي ده او دا د هغوی حق ګڼي، نو د حق په استعمال کې کوم مسؤولیت نه شته. دا نظریه د اسلامي شریعت له نظرئې سره همغږي ده ، يوازې توپير يې دادی چې اسلامي شریعت په سپورتي لوبو ټينګار کوي او کفايي فرض يې ګڼي(۸: ۴۷۰ ).

۱- د قران کریم د النفال سورت ۶۰ آیت.

**جراحي عملیات**

په اسلامي شریعت کې د طبابت فن د کفايي فرضو د جملې څخه دی او د طبیب دعدم مسؤلیت په اړه د فقهاوو تر منځ هيڅ اختلاف نشته او حتی ټول فقها په دې متفق دي چې که په ټولنه کې يو تن د طبابت فن زده نه کړي، نو په ټولو دا فرض پاتې دي ځکه چې د طبابت د علم زده کړه د ټولنې د اړتیاوو د جملې څخه ده. د فقهاو په اجماع سره که يو ناروغ د طبیب د عملیاتو په ترڅ کې مړ شي، نو هغه يې مسؤول نه دی، مګر د مسؤولیت د لیري کیدو د لامل په هکله د دوی ترمنځ د نظر اختلاف شته(۸: ۴۶۴).

**د طبیب د عدم مسولیت لامل**

لکه چې وړاندې ورته اشاره وشوه، فقها د طبیب د عدم مسؤولیت په هکله اختلاف نه لري، ولې په دې اړه چې د طبیب د عدم مسؤولیت علت څه دی ، د دوی ترمنځ د نظر اختلاف موجود دی دغه نظرونه په لاندې توګه مطالعه کوو.

د امام ابوحنیفه په نظر د طبي جراحی پر وړاندې د ډاکټر د عدم مسؤلیت علت ټولنيز ضرورت دی تر څو ډاکتر د دې کار لپاره وهڅول شي، برعکس که چیرې د دغه ټولنيز ضرورت له مخې ورته جزايي یا مدني مسؤولیت راجع شي ددې امکان شته چې د طبي عملیاتو لپاره حاضر نه شي همدارنګه د امام ابوحنیفه په نظر د طبیب عدم مسؤلیت دویم علت د ناروغ رضایت دی (۸: ٤٦٥).

امام شافعي هم د طبیب څخه د مسؤلیت د لیرې کولو لپاره له دوو علتونو څخه یادونه کړې ده، یو د ناروغ رضایت دویم د ناروغ معالجه. له دې امله کله چې طبیب د ناروغ د معالجې په موخه عملیات تر سره کوي او د ضرر مقصد يې نه وي او په دې اړه دناروغ رضایت هم اخلي نو دا دواړه سببونه د طبیب مسؤلیت لیرې کوي. امام احمد رحمة الله علیه هم دغه نظر تائیدوي (۸ ٤٦٥).

امام مالک د طبیب د عدم مسؤلیت علت د حکومتي مقامونو له خوا دطبابت اجازه او د ناروغ رضایت بللی دی. ځکه دده په نظر د حاکم یا حکومتي مقامونو اجازه د طبیب لپاره د طبابت د مسلک لار پرانیزي او د ناروغ رضایت ورته هغه عملیات روا کوي، چې دهغه د روغتیا لپاره ګټوردي. له دې امله دغه دواړه اجازې د طبیب د عدم مسؤولیت علت ګرځیدلی دی (۸:٤٦٥).

که څه هم پورتنیو فقهاو د جراحي عملیاتو پر وړاندې د ډاکټر د عدم مسؤلیت په اړه بېل، بېل لاملونه په ګوته کړي، خو یواځینی لامل چې نوموړي فقها په هغه کې اتفاقي نظر لري د ناروغ رضایت دي. نو ویلای شو چې په جراحي عملیاتو کې د ناروغ رضایت د طبیب د عدم مسؤلیت اساسي لامل دی او تر هغه وخته پورې چې د جراحي عملیاتو په هکله نارو غ رضایت نوي ښودلی، د ځینو استثايي

مواردو(عاجل جراحي عمليات ) پرته د ډاکټر مسؤليت نشي رفع کيدلای. پس له دې څخه معلوميږي چې په اسلامي شريعت کې د جراحي عملياتو په ترڅ کې د ډاکټر د عدم م مسؤليت لپاره د ناروغ رضايت خورا اغيزمن دی.

**د طبيب د عدم** مسؤليت **شرطونه:** د فقهاو له نظرياتو څخه دا معلوميږي چې د طبي عملياتو پر وړاندې د طبيب د عدم مسؤليت لپاره د لاندې شرطونو شته والی اړين دی.

۱- معالج يا عمليات کوونکی بايد طبيب وي.

۲- معالج به بد نيت نه لري يعنې طبيب به د ناروغ د درملنې قصد لري.

۳- طبي معالجه يا جراحي عمليات به د طبي اصولو سره سم وي.

۴- طبي معا لجه به د ناروغ يا د هغه د ولي يا وصي په اجازه ترسره شوې وي (۸: ۴۶۵).

- دلته پوښتنه پيدا کيږي چې ايا د پورتنيو شرطونو په شتون کې هر ډول جراحي عمليات او درملنه د ډاکټر لپاره تبريه کوونکی حالت دی او کنه؟ ددې پوښتنې په ځواب کې بايد ووايو د طبيب د عدم مسؤليت لپاره دا اړينه ده چې سربيره پر هغو شرطونو چې د طبيب درملنې او جراحي عملياتو لپاره اړين دي، معالجه يا جراحي عمليات بايد مشروع او د ناروغ د درملنې لپاره وې که داسې نه وي طبيب مسؤل ګڼل کيږي. ددې موضوع د روښانه کولو په اړه په لاندې موضوعاتو بحث کوو.

**لومړی - اړين جراحي عمليات:** دا هغه عمليات دي چې واقعاً د درملنې او د ضرر د ليرې کولو په موخه ترسره کيږي او ټولنه ورته اړتيالري. په دا ډول جراحي عملياتو کې کيدلای شي د کوم بل ضرر څخه پر ته درملنه تر سره شي، چې دا ډول جراحي عمليات په عامه توګه ترسره کيږي او د جراحي عملياتو لويه برخه په همدې موخه ترسره کيږي. همدارنګه کيدلای شي په ځينو استثنايي مواردو کې د جراحي عملياتو په ذريعه لوی ضرر په لږ ضرر دفع شي، نو په هغه صورت کې چې درملنه د فني اصولو له مخې او د ناروغ په رضايت ترسره شي د طبيب دغه عمل چې په اصل کې جرم دی، جايز او مباح ګڼل کيږي. د افغانستان ۱۳۹۶ جزا کود (۵۷۱) يمه ماده څلورم بند ليکي: (که چيرې د جنين اسقاط د مور ژوند ته د نجات ورکولو په منظور د طبيب په تجويز، د درملنې په منظور صورت موندلی وي، فاعل نه مجازات کيږي) که څه هم د طبيب لپاره په عادي حالاتو کې د جنين اسقاط جايز نه دي، خو دا چې د جنين اسقاط د مور د ژوند په پرتله لږ ضرر دی، نو د لږ ضرر په ذريعه د لوی ضرر د دفع کولو له امله طبيب مسؤول نه ګڼل کيږي.

همدارنګه فرض کوو چې د شکر يو ناروغ چې پښه يې ميکروبي شوې ده او د طبيب په اند ددې ويره شته چې ميکروب يې نور بدن ته هم سرايت وکړي، نو ددې اړتيا پيداکيږي چې پښه يې پرې شي، که طبيب د ناروغ په رضايت د طبابت د فني اصولو له مخې د ناروغ پښه پرې کړي مسؤل نه ګڼل کيږي، ځکه د طبيب موخه داده چې ناروغ له اضافي ضرر او حتی مرګ څخه وژغورل شي (۷: ۲۹۶)

همدارنګه که د عصبي سرطاني تومور په ليرې کولو سره طبيب دا وه انګيري چې د ناروغ د ليدلو اعصاب پرې کيږي او د نومړې د ړنديدو لامل ګرځي او ناروغ د خپلو سترګو د ړنديدو په هکله رضايت ښکاره کړي، طبيب يې د ړنديدو مسؤل نه دی. (۷: ۲۹۶).

**دويم - غير اړين جراحي عمليات:** دا هغه جراحي عمليات دي چې د درملنې په موخه نه ترسره کيږي

اونه هم د انسان د ژوند او روغتیا سره کوم تړاو لري، بلکې د دا ډول جراحي عملیاتو څخه د ناروغ موخه دا وي چې ښایسته شي او کوم عیب چې د ده په وجود کې ښکاري هغه لیري کړي. دا ډول جراحي عملیات په دوه ډوله دي، د حاجت لپاره جراحي عملیات او د ښایست لپاره جراحي عملیات (۱۰: ۵۶).

**لومړی- د حاجت لپاره جراحي عملیات:** د دا ډول جراحي څخه موخه دا وي چې انسان د خپل بدن څخه عیب لیري کړي ، که دا عیب په طبیعي تو گه د ده په بندن کې موجود وي یا د کومې ناروغی  یا د فزیکي حملو او ضربو له امله رامنځته شوی وي.  د دا ډول عیبونو لیري کول د حاجت په موخه ترسره کیږي او دا طبیعي خبره ده  چې د دا ډول جراحت په پایله کې ا نسان ښایسته کیږي، نو ځکه ورته پلاستیکي یا د ښایست په خاطر جراحي  وایي. معمولاً د دغې جراحی په ذریعه درې ډوله عیبونه د انسان له بدن څخه لیري کیږي.

**الف:** دا هغه طبیعي عیبونه دي چې د انسان په بدن کې د پیدایښت له وخته شتون لري لکه د سترگو کوږوالی، د پښو یا د لاسونو د گوتو ترمنځ بندوالی، د اوبو د مجرا بندوالی په مخ باندې  د ځینو داغونو یا زخو شته والی او داسې نور (۱۰: ۵۷).

ب- دا هغه غیر طبیعي عیبونه دي چې د ناروغیو، مصیبتونو څخه منځته راځي لکه د جذام له کبله یا په پوزه کې د هډوکو یا غوښې د پیداکیدو له امله چې د پوزې د کوږوالي لامل گرځي. یا په سر کې  د ځینو غوښینو دانو راپیدا کیدل چې د وخت په تیریدو لویږي او بالاخره جراحي عملیاتو ته پکې اړتیا پیداکیږي او دا سې نور (۱۰: ۵۷).

ج- دا هغه غیر طبیعي عیبونه دي چې د ناوړو پیښو له امله رامنځته کیږي. لکه د سوځیدلو له امله چې د انسان په بدن یامخ کې ژور ټپونه پیداکیږي یا یې پوستکی کونزې کیږي او تغییر پیدا کوي. یا د ټکرونو له امله د انسان په بدن کې  ځیني داغونه یا کوږوالی رامنځته شي او دا سې نور.

**دویم- د ښایست جراحي:** دغه ډول جراحي د انسان په شکل کې ښایست او ځواني را منځته کوي او په دوه ډوله ده یو داړین ښایست جراحي ده او بله د غیر اړین ښایست جراحي ده ، چې هره یوه یې بیل، بیل حکم لري (۱۰: ۲۵).

**د اړین ښایست جراحي:**  دا ډول جراحي عملیاتونه چې د زیاتې بدرنگۍ د له منځه وړلو په موخه ترسره کیږي د هغو شرعي نصوصو، چې د الله (ج) په خلقت کې په تغییر باندې  د لالت کوي خلاف عمل نه دی  او په اسلامي شریعت کې یې د مشروعیت دلایل او بیلگې شته (۱۰: ۵۷).

۱- د یوه صحابي پوزه پرې شوه ، نو هغه د رسول الله صلی علیه وسلم په اجازه بله پیوند کړه.  د عبدالرحمن بن طرفه څخه روایت دی هغه وایي چې د ده نیکه عرفجه بن اسعد  پوزه د کلاب په ورځ پریکړای شوه، بیایې د سپینو زرو څخه بله جوړه کړه او په پرې شوي ځای یې پیوند کړه. بیا رسول الله صلی علیه وسلم ددې کار امر وکړ وروسته یې د هغه په امر د سروزرو څخه جوړه کړه.۱

۲- دا ډول جراحي عملیات د ضرورت او اړتیا پر بنسټ تر سره کېږي، حسي او معنوي ضرر لري او فقهي قاعده ده چې(( حاجت کله نا کله د عام یا خاص ضرورت حالت ته رسیږي)) ،  نو انسان اړ دی چې په دې سره  هغه ضرر له منځه یوسي (۱۰: ۵۸).

---

۱- حدیث ابوداود په رقم ۴۲۳۲/ ۴/ ۹۲ کې روایت کړی دی.

۳- دلته په الهي خلقت کې د تغییر قصد نشته، بلکې موخه د ضرر له منځه وړل دي (۹: ۱۰۷).
۴- د سوزېدلو یا نورو پېښو له امله د رامنځته شوې بدرنګۍ له منځه وړل په اصل کې معالجوي بڼه لري د بېلګې په توګه کله چې یوکس وسوزېږي، نو د درملنې جواز یې شته. بناً د سوزول شوي اثر له منځه وړل هم کوم ممانعت نه لري او دا په حقیقت کې معالجوي حکم لري(۹: ۱۰۷).
لکه چې ښکاري دلته د ښایست جراحي عملیاتو د جواز اصلي علت د عیني اړتیا پر بنسټ د انسان په جسم کې د ظاهري بد رنګۍ تر میم او معالجه ده.
**د غیر اړین ښایست جراحي:** دا ډول جراحي هیڅ معالجوي اړخ نه لري او نه هم د زیاتې بدرنګۍ د له منځه وړلو په موخه ترسره کېږي؛ بلکې موخه یې په وجود کې د غیر ضروري ښایست راوستل دي، چې په حقیقت کې دا د الله په خلقت کې یو ډول تغییر راوستل دي، له دې امله دغه جراحي د لاندې دلایلو له امله حرامه ده (۱۰ : ۵۹).
**لومړی دلیل:** په دې کې د الله تعالی د خلقت تغییر دی او دا ځکه حرام دی، چې دا ډول تغییر ته هیڅ اړتیا نشته لکه چې الله جل جلاله فرمايي: (ولآ مرنهم فليغيرن خلق الله) ژباړه: او زه به هغو ته امر وکړم او هغوی به زما په امر خدایي ساخت کې ردو بدل راولي.[1]
**دویم دلیل:** عبدالله بن مسعود رضی الله عنهما څخه روایت دی چې د رسول الله صلی لله علیه وسلم څخه مې واورېدل چې هغه و فرمایل: الله پاک لعنت وایي پر هغو ښځو چې خپل ویښتان کاږي او هغه ښځې چې د ښایست په خاطر د غاښونو ترمنځ بېل والی راولي، ترڅو د وړو جنکیو په څېر ښکاره شي او هغه ښځې چې د ښایست په خاطر د الله په خلقت کې تغییر راولي.[2]
په بل حدیث شریف کې راغلي دي: او هغه ښځې لعنتي دي چې د ښایست له مخې د خپلو غاښونو ترمنځ بېلتون راولي دوی د الله جل جلاله په خلقت کې تغییر راولي.[3]
**درېیم دلیل:** د ښایست په خاطر جراحي عملیات د ښځو په هغه کړنه قیاس کېږي چې دوی د ښایست لپاره خپل پوستکی په ستنو وهي او بیاېې په نیلي رنګ او رانجو شین کوي ، نو دا کارونه جرم دی ځکه دوی د الله جل جلا له په خلقت کې تغییر راولي ، همدارنګه د غیر ضروري ښایست لپاره جراحي هم د الله جل جلا له په خلقت کې تغییر راوستل دي او دا حرام کار دی.
**څلورم دلیل:** دغه کړنه د دوکې، چل بازۍ، او خیانت لامل ګرځي او دغه دواړه کړنې ناروا دي، ځکه دا ددې لامل ګرځي چې زړې ښځې د ځوانو ښځو په څېر ښکاره شي او د نکاح د غوښتنې پر مهال خلک پرې دوکه شي(۶۰:۱۰).

۱- د نسا سورت ایت ۱۱۹ ۱
۲- حدیث، بخاري ۳/ ۱۱۹ او مسلم: ۳ / ۳۲۹ روایت کړی .
۳- حدیث، احمد ۱۳/ ۴۱۷ روایت کړی.

**پنځم دلیل:** دا ډول جراحي د زیانونو څخه خالي نه وي. د مثال په توګه د سینو غټوالی چې د ځینو کیمیایي موادو لکه سلیکون یا جنسي هورمونونو په ذریعه صورت نیسي د زیاتو خطرونو لامل کېدلای

شي(۱۰ : ۱۰۹).

**د مجنی علیه د رضایت شرطونه:** ددې لپاره چې د مجنی علیه رضایت په ټولو مواردو کې د مجرمیت د رفع حالت په حیث وګڼل شي باید رضایت لاندې شرطونه ولري.
الف- رضایت باید د جرم د ارتکاب وړاندې یا د جرم د ارتکاب په وخت کې صورت ونیسي.
ب- رضایت باید آزادانه او د هر ډول عیب څخه پاک وي . هغه رضایت چې دوکې، چل او زور سره تر سره شي هیڅ اغیز نه لري.
ج- رضایت کوونکی باید عاقل، بالغ او اهلیت لرونکی وي. بناً د لیوني، کوچني او مست رضایت اغیز نه لري (۳: ۱۹۰).

**پایله**

د مجنی علیه د رضایت ترسرلیک لاندې، د مقالې د اړوندو موضوعاتو څخه دغې پایلې ته رسیږو، چې اصولاً د مجنی علیه رضایت د جرم پر ارتکاب کوم اغیز نه لري او دا نه اغیزمنتوب په زیاترو مواردو کې د جرم د فاعل او مجنی علیه دواړو لپاره صدق کوي، خو په ځینو مواردو کې د مجنی علیه پرته یواځې د عمل فاعل لپاره صدق کوي او د مجنی علیه لپاره د خپل رضایت څخه کوم مسؤلیت نه راجع کیږي.
د مجنی علیه رضایت استثنایي موارد هم لري یعنې د رضایت پر بنسټ د یوه جرمي عمل ترسره کول د فاعل او مجنی علیه لپاره هیڅ مسؤلیت نه پیدا کوي. دا موارد هغه مهال تر سترګو کیږي چې د مجنی علیه رضایت یا په خپله د جرم په ترکیب او ماهیت باندې اغیز ولري او یا د شرعي او قانوني جواز له مخې د مجنی علیه رضایت په ځینو مواردو کې، چې په هغه کې فردي او ټولیز مصلحت په پام کې نیول کیږي یا د هغې په ضرر نه وي، جرم نه ګڼل کیږي.
د مجنی علیه په رضایت سره په جراحي عملیاتو کې د جزایي مسؤولیت اساس د جراحي عملیاتو په نوعیت پورې اړه پیدا کوي. درملیزجراحي عملیات همدارنګه د طبیعي، ناروغیو او فزیکي صدمو له امله د وارد شویو عیبونو د لیرې کولو جراحي عملیات او د اړینې ښکلا جراحي عملیات جایز دي او د مجنی علیه په رضایرت سره د مسؤلیت لامل نه ګرځي. د غیرې اړینې ښکلا جراحي عملیات، د انسان په خلقت کې د تغییر لامل ګڼل کیږي له دې امله جایز نه دي او د مجنی علیه په رضایرت سره د طبیب څخه مسؤولیت نه شي لیرې کولای. جراحي عملیات په عمومي توګه په دوو برخو ویشل کیږي اړین جرا حي عملیات او غیر اړین جراحي عملیات.
- اړین جراحي عملیات ټولنیزه اړتیا ده او واقعاً د درملنې په موخه ترسره کیږي او حتی په ځینو مواردو کې دا ډول عملیات د مجنی علیه د رضایت پرته هم جایز دي .
- غیر اړین جراحي عملیات هغه دي چې د درملنې په موخه نه ترسره کیږي اونه هم د انسان د ژوند او روغتیا سره کوم تړاو لري، بلکې د دا ډول جراحي عملیاتو څخه د ناروغ موخه دا وي چې ښایسته شي او کوم عیب چې د ده په وجود کې ښکاري هغه لیرې کړي. دا ډول جراحي عملیات په دوه ډوله دي، د حاجت لپاره جراحي عملیات او د ښایست لپاره جراحي عملیات.
- د حاجت لپاره جراحي عملیاتو څخه موخه دا وي چې انسان د خپل بدن څخه عیب لیرې کړي ، که

دا عیب په طبیعي تو ګه د ده په بدن کې موجود وي یا د کومې ناروغۍ یا د فزیکي حملو او ضربو له امله رامنځته شوی وي. د دا ډول عیبونو لیرې کول د حاجت په موخه ترسره کیږي او دا طبیعي خبره ده چې د دا ډول جراحت په پایله کې ا نسان ښایسته کیږي، نو ځکه ورته پلاستیکي یا د ښایست په خاطر جراحي وایي. دا ډول جراحي عملیات له دې امله جایز دي چې د انسان په خلقت د کوم تغییر لامل نه ګرځي.
- **د** ښایست لپاره جراحي عملیات د انسان په شکل کې ښایست او ځواني را منځته کوي او په دوه ډوله ده یو داړین ښایست جراحي ده او بله د غیر اړین ښایست جراحي ده .
- د اړین ښایست جراحي عملیاتونه د زیاتې بدرنګۍ د له منځه وړلو په موخه ترسره کیږي او د هغو شرعي نصوصو، چې د الله (ج) په خلقت کې په تغییر باندې د لالت کوي خلاف عمل نه دی او په اسلامي شریعت کې یې د مشروعیت دلایل او بیلګې شته.
- **د غیر اړین ښایست** جراحي عملیات هیڅ **معالجوي** جنبه نه لري او نه هم د زیاتې بدرنګۍ د له منځه وړلو په موخه ترسره ګیږي، بلکې موخه په وجود کې د غیر ضروري ښایست راوستل دي، چې په حقیقت کې دا د الله په خلقت کې یو ډول تغییر راوستل دي، له دې امله دغه جراحي حرامه ده.
**مناقشه**
په دې څیړنیزه مقاله کې د مجنی علیه د رضایت تر عنوان لاندې په دوو موضوعګانو بحث شوی. یودا چې د اصل له مخې د مجنی علیه رضایت جرم له منځه نه وړي. دویم دا چې په ځینو استثنایي حالتونو کې د مجنی علیه رضایت د جرم د له منځه وړلو لامل ګرځي لکه: هغه جراحي عملیات چې د درملنې په موخه ترسره کیږي. دلته پوښتنه پیدا کیږي چې آیا هغه جراحي عملیاتونه چې درملیزه بڼه نلري او یواځې د ښکلا په موخه ترسره کیږي، چې په معاصر وخت کې د ښکلا یا پلاستیکي جراحی په نوم یادیږي د مجنی علیه په رضایت جایز دي او کنه؟ ددې پوښتنې په ځواب کې باید ووایو چې معاصر فقها پلاستیکي جراحي په دوو برخو (اړینه جراحي او غیر اړینه جراحي) ویشي. لومړی یې جایزه بولي او دویمه یې ناجایزه بولي. د دوی په اند جایزه پلاستیکي جراحي د هغو کسانو لپاره صدق کوي چې پر بدن یې کوم عیب موجود وي، که څه هم دا عیب پیدایشي وي لکه پیدایشي د سترګو ګوړوالی یا د پوزې کوړوالی... یا د کومې پیښې یا ناروغۍ له امله وي لکه ترافیکي یا د اورسوزیدنې پیښې یا د جزام ناروغۍ له امله وي. که څه هم د ځینو په اند د پیښو او ناروغیو له امله د رامنځته شویو عیبونو د لیرې کولو جراحي د اړتیا په بنسټ نه؛ بلکې د معالجې پر بنسټ ده. (۹: ۱۰۶)
د جراحي عملیاتو په هکله یوه بله پوښتنه داسې مطرح کیږي چې هغه جراحي عملیاتونه چې د طبابت له پلوه ورته اړتیا نه لیدل کیږي، خو ناروغ یې د غیر معالجوي موخو لپاره ترسره کوي لکه: یوه بارداره ښځه چې نه غواړي پر ځان د زیږون تکلیف تېر کړي یا نه غواړي په اندامونو کې یې تغییر رامنځه شي د جراحي عملیاتو له لارې زیږون ترسره کوي یا هغه ښځه چې نه غواړي ډېر اولادونه ولري او د رحم د لیرې کولو جراحي عملیات ترسره کوي، شرعاً جواز لري او کنه؟ ددې پوښتنې په ځواب کې باید ووایو چې دا ډول عملیات شرعاً ناروادي؛ ځکه فقهاو د طبیب د عدم مسؤلیت یو دلیل تولنیزه اړتیا ښودلې ده، نو له یوه پلوه دا ډول عملیاتو ته اړتیا نه لیدل کیږي او له بله پلوه درملیزه بڼه هم نه لري.

همدارنګه د اسلامي شریعت عمومي روحیه داده چې په نکاح کولو کې د ډېرو اولادونو راوړونکي ښځې د هغو نورو ښځه غوره دي او بل دا چې په شریعت کې د نرانو د حثیتوب ښځه منع راغلې ده او دا هم هماغسې معنا لري (۵: ۱۲۸).

**وړاندیزونه**

د افغانستان د جزا کود په (۱۱۸) ماده کې د (مجنی علیه رضایت) د اباحت د اسبابو ښځه د یوسبب په حیث ګڼل شوی دی او ددې مادې سره جوخت یې په (۱۱۹) ماده کې د مجنی علیه د رضایت دوه موارد د اباحت د سببونو په توګه یادکړي دي. په لومړی فقره کې یې د ورزشي لوبو ښځه یادونه کړې ده او په دویمه فقره کې یې د ناروغ یا خاوند(همسر)، ولي، وصي یا تر دریمې درجې پورې د هغه د اقاربو په موافقه د جراحي عملیاتو ښځه یادونه کړې ده، په دې شرط چې د طبابت د حرفې له فني اصولو سره سم یې صورت موندلی وي. زما په اند د جزا کود د ۱۱۹ مادې په دویمه فقره کې د جراحي عملیاتو پر وړاندې د طبیب د عدم مسؤلیت لپاره ډېر پراخ ډګر په پام کې نیول شوی دی، او دا طبیب ته د دې اجازه ورکوي چې حتی د یادو شرایطو په پام کې نیولو سره ځیني داسې جراحي عملیاتونه ترسره کړي چې هیڅ اړتیا ورته نه لیدل کیږي او یا د شرعي پلوه جواز نه لري. لکه: یوه ښځه چې نه غواړي ډېر اولادونه راوړي او په دې موخه د ځان د عقیم کولو لپاره جراحي عملیات ترسره کوي، یا یوه بار داره ښځه چې په نور ماله توګه زیږون ترسره کولی شي، د جراحي عملیاتو په ذریعه له خپل رحم ښځه ماشوم لیري کوي او یا داسې پلاستیکي جراحي عملیات ترسره کوي چې هیڅ اړتیا ورته نه لیدل کیږي او هغه د انسان په خلقت کې یو ډول تغییر ګڼل کیږي، نو د یادو جراحي عملیاتونو او یا دې ته ورته نورو جراحي عملیاتونو په هکله د جزا په یاده ماده کې د شرعي پلوه مشخصاً کوم صراحت نه لیدل کیږي او یواځې د ( طبابت د حرفې فني اصولو) ښځه پکې یادونه شوې ده. له دې امله شوني ده په روغتنونو کې طبیبان داسې عملیاتونه ترسره کړي چې شرعاً جواز نه لري یا د طبابت له پلوه ورته اړتیا نه وي، نو ددې لپاره چې په دا ډول حالاتو کې د مجنی علیه د رضایت پر بنسټ او د ( طبابت د حرفې د فني اصولو) په استناد د جزایي مسؤلیت په تشخیص کې له ستونزو سره مخامخ نه شو او یا دا ډول عملیاتونه نورې تولنیزې منفي پایلې لکه د ښکلا په جراحی کې بد اخلاق ته هڅونه یا په ازدواجونو کې دوکه بازي... رامنځته نه کړي، غوره به دا وي چې د طبي اړتیاوو په پام کې نیولو سره د اسلامي شریعت او معاصرې فقهې د حکمونو په رڼا کې دجزا کود په اړونده ماده کې وضاحت رامنځته شي.

**ماخذونه:**


۱- قرآنکریم

۲- نبوي احادیث

۳- اردبیلي، محد علي. (۱۳۸۳). حقوق جزای عمومي. جلد اول، چاپ ششم. تهران: نشر میزان.

۴- دانش، حفیظ الله. (۱۳۹۹). عمومي د جزا حقوق. لومړی ټوک اووم چاپ. کابل: مسلم خپرندویه ټولنه.

۵- رحماني، خالد رحمن. ( ۱۳۸۸). معاصره فقه، ژباړن: محمد طارق منیب ناشر: مکتبه فاروقیه پشاور.

۶- محسني، مرتضی. (۱۳۸۲) دوره حقوق جزای، جلد دوم. چاپ سوم. کتابخانه گنج دانش.
۷- صانعي، پرويز. (۱۳۸۲). حقوق جزای عمومي. چاپ اول. انتشارات طرح نو.
۸- عود عبدالقادر. (۱۳۸۴). د اسلام جناي تشريع او وضعي قوانين. لومړی ټوک. ژباړن، عبدالهادي هدايت. پيغام نشراتي مرکز.
۹- عباس محمود ونويسنده گان ديگر(۱۳۹۱).برسي فقهي- حقوقي مباني او محدوه تجويز جراحي های زيبايي و ترميمي. فصلنامه حقوق پزشکي سال ششم، شماره بيست و يکم، تابستان.
۱۰- نيازی مصطفی. (۱۳۸۸). معاصر فقهي مسايل. دويم ټوک. پېښور: مکتبه الفرقان.

# د سردردي پتوفزیولوژیک بنسټونه

لیکونکی: پوهندوی ډاکټر سیدرحیم شاه شمل وال
شیخ زاید پوهنتون، د طب پوهنځی فزیولوژي څانګې استاد
تقریظ ورکوونکی: پوهنوال ډاکټر مغفرت الله عمل د فارمکولوژي څانګې استاد

**لنډیز:**
په دې څېړنیزه مقاله کې د سردردي تعریف، ډولونو، پتوفزیولوژیک بنسټونو او درملنې په اړوند وروستیو ځیړنو ته په کتو سره تر بحث لاندې نیول شوې دي. سردردي یو عام عرض دی، چې ډیری خلک پرې اخته دي نو ځکه لازمه دي چې د هغې په اړوند د وروستیو ځیړنو ته په کتو لنډ معلومات ټولنې ته وړاندې شي.

**موخې:** د دې مقالې اصلي موخه د سردردي تعریف، پتوفزیولوژیک بنسټونه، ډولونه او درملنې باندې د محصلینو، روغتیاپالو مسلکي کارکوونکو او ټولو روڼ آندو پوهاوی دی، کوم چې د وروستیو څېړنو په پایلو کې رابرسېره شوي دي.

**د کار توکي او کړنلاره :** دا څېړنه کتابتوني بڼه لري، چې د طب اړوند انټرنیټ سایټونو څخه د معتبرو علمي مقالو تازه راټول شوي معلومات دي.

**پایلې:** دغه ځیړنه د ابتدایي سردردیو د ډولونو، پتوفزیالوژیکو بنسټونو او درملنې په اړوند د تازه او کره معلوماتو په راټولو متمرکزه وه. د هر اړخیزو پخوانیو او نویو تازه ځیړنو او کتابتوني مشاهداتو څخه وروسته، دې پایلې ته ورسیدو چې د یادو روغتیایي ستونزو د پتوفزیالوژیکو بنسټونو په اړه ویشل شوي نظریات شتون لري. هره وړاندې شوي فرضیه د موضوعاتو په هکله شته پوښتنو ته پوره وضاحت نه لري.

**وروستۍ پایلې:** د ابتدایي سردردیو د پتوفزیالوژیکو بنسټونو په اړه واحده فرضیه شتون نه لري، له دې امله په یاده ځیړنه کې د ابتدایي سردردیو د پتوفزیالوژیکو بنسټونو په اړه واحده فرضیه تر لاسه نه شوه، د یادې موضوع د بشپړ وضاحت لپاره نورو هراړخیزو ځیړنو ته اړتیا ده.

**کلیدي ټکي**: Secondary ،Referred Pain ،Primary Headache ،Migraine ،Cluster Headache ،Tension Type Headache ،Sensory Receptors ،Headache.

**سریزه**

سردردي د ارجاعي درد (referred pain) یو ډول دی، چې په ټول سر، نیم سر یا د سر په بیلابیلو برخو کې احساسیږي. دا چې دماغي نسج د درد آخذې (receptors) نه لري، همدا لامل دی که دماغي نسج تخریب هم شي سردردي منځته نه راوړي یوازې په محیط کې د پاراستیزیا په ډول احساسیږي، اما دا چې سردردي رامنځته کیږي لامل یې دادی چې په دماغو کې ځیني جوړښتونه شتون لري، چې د درد آخذې لري او په دې توګه که چېرې دا آخذې تخریش شي سردردي رامنځته کوي. دا جوړښتونه د ام

الصلبه (duramater)، وريدي سينوسونه، وريدونه، شريانونه، د جمجمې پيريوستم، د جمجمې عضلات، د جمجمې تحت الجلدي نسجونه، اعصاب او د دماغو د بېلابېلو برخو ترمنځ پردو څخه عبارت دي. اما د سردردي ځيني ډولونه خارج القحفي منشا لري لکه د سر د عضلاتو تقلص، د پزې او وتدي سينوسونو التهابات، مخاطي غشا ګانې، غوږونه او د سترګو تشوشات، چې دا ټول سردردي رامنځته کولی شي. سردردي هميشه د سحايا او د وينې د رګونو د کش کيدو او تخريش په پايله کې رامنځته کيږي. دا چې سردردي خورا عام تشوش دی، له همدې امله د شيخ زايد پوهنتون د طب پوهنځي د فزيالوژي ډيپارټمنټ اړينه وګڼله تر څو د وروستيو څېړنيزو او علمي اسنادو پر بنسټ د سردردي تعريف، پتوفزيولوژيک بنسټونه، لاملونه، ډولونه، درملنه او د هغې مخنيوی تر بحث لاندې ونيسي. او په دې اړوند وروستی پايلې د طب محصلينو او روغتياپال قشر سره شريکې کړي.

**د سردردي لاملونه**

سردردي زيات لاملونه لري، ځيني مهم يې په لاندې ډول دي:

**احساساتي لاملونه:** لکه سترس (کار، کور، کورنۍ)، ژور خفګان، اضطراب، زړه ماتيدل، يوازي پريښودل او حتا مثبت تحريک کولو څخه عبارت دي.

**غذايي لاملونه:** لکه الکول، اسپرتيت، پنير، چاکليت، کافين، مونوسوډيم ګلوتاميټ او پروسس شوي غوښې چې نايتريتونه لري او داسې نورو کې افراط.

**فزيکي لاملونه:** خورا زيات يا خورا کم خوب، خورا زيات فزيکي تمرينات، جروحات او د ټاکلي وختونو د ډوډۍ پرېښودل.

**محيطي لاملونه:** لمر يا خورا روښانه چراغونو ته ځيرکتل، د هوا بدلونونه، غښتلي بوی راوړونکي مواد او د ګازاتو او بخاراتو پواسطه د چټلې شوي هوا تنفس.

**هورموني لاملونه:** په ښځو کې مياشتنی عادت، د حاملګي ضد فمي درمل، د هورمون د بيا پرځای کوونکي درملنې او په ښځو کې د نقاحت دوره [http://www.ahsnet.org/,http://www.achenet.org].

سردردي زيات لاملونه لري، چې مهم يې په لومړي جدول کې ښودل شويدي.

۱- جدول: د سردردي عام لاملونه [۹]

| د سردردي عام لاملونه | | | |
|---|---|---|---|
| ابتدايي سردردي | | ثانوي سردردي | |
| ډول | سلنه | ډول | سلنه |
| Tension-type | ۶۹ | سيستميک انتان | ۶۳ |
| نيم سري | ۱۶ | د سر جروحات | ۴ |
| آيډيوپاتيک | ۲ | وعايي ګډوډی | ۱ |
| بدني شديد کار | ۱ | تحت العنکوتيه وينه بهيدنه | د ۱ څخه کم |
| کلستر | ۰،۱ | دماغي تومورونه | ۰،۱ |

**د سردردي ډولونه**

په عمومي صورت سره سردردي په دوه اساسي ډولونو ويشي، چې د ابتدايي او ثانوي سردرديو څخه عبارت دي. ابتدايي سردردي هغه ده چې لامل يې په ډاګه شوی نه وي، دا ډول سردردي د ټولو سردرديو ۹۰ سلنه جوړوي. د دې ډول سردردی بیلګې نیم سري او Tension-type سردردي څخه عبارت دي. ثانوي سردردي هغه ده، چې لامل يې معلوم وي لکه انتان يا تومور. دا ډول سردردي د ټولو سردرديو ۱۰سلنه جوړوي. اما په ۲۰۱۸ کال کې د سردردي نړيوالې ټولنې (IHS) د سردردي د ګډوډيو نړيواله دريمه ډلبندي (ICHD-3) رامنځته کړيده، چې د هغې لنډيز په لاندې توګه بيانيږي.

**لومړی برخه-** ابتدايي سردردي، چې څلور اساسي او په ټوليز ډول ۵۷ نور فرعي ډولونه لري.

۱ -نيم سري

۲- Tension-type سردردي (TTH)

۳- Trigeminal autonomic cephalalgias (TACs)

۴ -نور ابتدايي سردردي تشوشات

**دوهمه برخه-** ثانوي سردردي، چې اته اساسي او په ټوليز ډول ۱۱۷ نور فرعي ډولونه لري.

۵ -هغه سردردی چې د سر او ورمېږ د ترضيض يا زخمي کيدلو سره تړاو لري .

۶ -هغه سردردی چې د قحفي او رقبي وعايي تشوشاتو سره تړاو لري.

۷ -هغه سردردی چې غېر وعايي داخل قحفي تشوشاتو سره تړاو لري.

۸ -هغه سردردی چې د يوې مادې په اخيستلو يا د هغې په پرېښودلو سره رامنځته کيږي.

۹ -هغه سردردی چې د انتاناتو پواسطه رامنځته کيږي.

۱۰ -هغه سردردی چې د هوميوستازس د ګډوډيو پواسطه رامنځته کيږي.

۱۱ -هغه سردردی يا وجهي درد، چې د قحف، ورمېږ، سترګې، غوږونه، پزه، سينوسونه، غاښونه، خوله يا نورو وجهي او رقبي جوړښتونو د ګډوډيو پواسطه رامنځته کيږي.

۱۲ -هغه سردردی چې د روحي ګډوډيو پواسطه رامنځته کيږي.

**دريمه برخه-** قحفي دردناکې نيوروپاتي، چې دوه اساسي چې ۲۹ نور فرعي ډولونه او سپليمينټال چې ۱۷ نور فرعي ډولونه لري.

۱۳ -د قحفي اعصابو دردناک تخريبات او نور وجهي دردونه

۱۴- د سردردی نورې ګډوډې.

**څلورمه برخه (Appendix)-** چې ۴۰ نور فرعي ډولونه لري. د سردردي نړيوالې ټولنې د څېړونکو لپاره دا ډلبندي وړاندې کړيده، چې د Appendix په نوم شهرت لري، چې دلته د هغې د ذکر کولو څخه ډډه کوم. په دې ډول د سردردي ټول ډولونه ۲۶۰ ته رسيږي، چې د هغې ټولو څېړل دلته ناشوني دي. په دې بحث کې په هغو سردرديو رڼا اچوو، چې خورا عموميت لري [۳,۵].

د هيواد په اوسنيو شرايطوکې د ازادو، پراخو طبي مشاهداتو پر بنسټ زياتره وګړي د مزمنو سردرديو څخه شکايت کوي. ابتدايي سردردی، چې معمولاً د ميګرين سردردي،Tension-Type

Headache(TTH)، Cluster Headache او نورې Trigeminal Autonomic Cephalalgias پکې شامل دي، تر ډېره بریده یادې سردردی زموږ په هیواد کې بې تشخیصه پاتې شوي دي. په دې څېړنه کې هڅه شوي ده، چې د پورته یادو سردردیو په ځانګړنو، پتو فزیالوژیکو بنسټونو او درملنه باندې ژور علمي او څېړنیز معلومات راټول شي، ترڅو د نوموړیو روغتیایي ستونزو د تشخیص او حل په موخه دغه معلومات د مسلک خاوندانو او ټولنې سره شریک شي.

**(۱). د میګرین ځانګړنې او پتوفزیالوژیک بنسټونه**

د میګرین سردردي یو مهم تشوش دی، چې اساسي ځانګړتیا یې نبضاني سردردي ده. درد معمولاً د سر په یوه برخه کې متمرکز وي، د حملو په بڼه رامنځته کېږي او تر (۳) ورځو پورې دوام پیدا کوي. د سردردی سره زیاتره وخت زړه بدوالی، کانګې، د رڼا او غږ پر وړاندې حساسیت، سرچرخې، د حرکت سستوالی او نور اعراض ملګري وي. میګرین دوه عمده ډولونه لري؛ هغه میګرین چې اورا (aura) ور سره مل وي، د کلاسیک میګرین په نوم یادیږي. د نیم سري په دغه بڼه کې د لیدلو تشوشات او نور نیورولوژیک اعراض د سردردی څخه دمخه رامنځته کېږي. هغه میګرین چې اورا ورسره مل نه وي، د عام میګرین په نوم یادیږي، چې د دماغو د ځینو لویو اوعیو ټکان لرونکي توسع نیغ په نیغه د سردردی عمده لامل بلل کېږي .

تر اوسه د یادې ګډوډی پتوفزیالوژیک میکانیزمونه پوره واضح نه دي، خو سره له دې هم، د تاریخچې له مخې درې فرضیې شتون لري، چې په لاندې ډول ترې یادونه کوو:

**کلاسیکه وعایي تیوري:** کابو (۵۰) کاله وړاندې Wolff د لومړي ځل لپاره ثابته کړه، چې په میګرین کې د هورمونونو په منځګړیتوب په داخل القحفي اوعیو کې د دمویه صفیحاتو څخه د سیروتونین (5-HT) افراز رامنځته کېږي، چې د یادو اوعیو په $5\text{-HT}_2$ اخذو باندې د اغیزې له امله د هغوی تقبض رامنځته کوي. یاد تقبض ددې لامل کېږي، چې موضعي عصبي ایسکیمیا رامنځته کړي، کومه ایسکیمیا چې د اورا اساسي لامل بلل کېږي. د سیروتونین د میتابولیزم او reuptake څخه وروسته د اوعیو لومړنی تقبض په توسع بدلیږي او په عکسوي ډول د خارج القحفي اوعیو توسع هم رامنځته کوي، چې د میګرین سردردی لامل ګڼل کېږي. د میګرین د رامنځته کیدو په محیطي میکانیزم کې د dural اوعیو څخه نایتریک اوکساید (NO) افرازیږي، کوم چې د یوې خوا د خارج القحفي اوعیو توسع رامنځته کوي او د بلې خوا څخه د حسی عصبي نهایاتو حساسیت لوړوي او د نیوروپیپتایدونو لکه (CGRP,SP) افراز ته لاره هواروي. یاد پیپتایدونه د عصبي التهاب لامل کېږي، کوم التهاب چې د پروستاګلاندینو، kinins او نورو التهابي میدیاتورونو افراز تنبه کوي او د اوعیو په اندوتیل حجرو کې د NO افراز ته لاره هواروي (لومړي شکل ته وګورئ).

**دماغي فرضیه:** د موضعي عصبي ایسکیمیا په تعقیب د سردردی څخه دمخه د اعصابو په یوه ناحیه کې لومړی یو تحرکیت رامنځته کېږي، چې وروسته په عدم فعالیت یا عدم تحرکیت تبدیلیږي او د cortex څخه عبور کوي. دغه حادثه د cortical spreading depression په نوم یادیږي. یاده فرضیه د نوموړي حادثې د اعراضو پیوند، توضیح کوي. که څه هم، نوموړی حادثه نمایشي او کمزوري توضح شوي ده، خو د تجربو په پایله کې ثابته شوي ده، چې د تجربوي حیواناتو او د بېهوشی څخه وروسته د




۱- انځور: د نیم سري محیطي او مرکزي میخانیکیتونه [۸].

انسانانو په  قشر کې د +K د موضعي استعمال پرمټ ژور عصبي انحطاط رامنځته کیږي، کوم انحطاط، چې په ورو ډول (۲ ملي متر في دقیقه) د قشر سطحې ته انکشاف کوي، چې په اغیزمنه ناحیه کې ایونیک بلانس په برجسته ډول مختلوي، ولې د +K خارج الحجروي غلظت په فوق العاده ډول لوړ او د وینې اروا راکمیږي. یاده فرضیه په دې باور ده، چې cortical spreading depression د کورتیکال فعالیت د انحطاط انتشار دی.

**د عصبي التهاب فرضیه:** ځینو ازمایښتونو ښودلې ده، چې د سحایا او په خارج القحفي اوعیو کې د ترایجیمینال عصب د نهایاتو تحرکیت د میګرین حملې لومړنی واقعه بلل کیږي، کومه چې په مستقیم ډول د درد لامل کیږي، د ترایجیمینال عصب د نهایاتو تحرکیت د نهایاتو څخه د نیوروپیپتایډونو او نورو التهابي میدیاتورونو د افراز په اساس التهابي تغییرات تحریک کوي، چې د نیوروجینیک التهاب (neurogenic inflammation) په نوم یادیږي. د بیلابیلو نیوروپیپتایدونو افراز د dura په وعایي بستر کې د cortical تحریک لپاره لاره هواروي. نیوروجینیک التهاب په موصله اعصابو کې د انتقال انحطاط رامنځته کوي او د داسې میدیاتورونو لکه: سیروتونین، نیوروکینین، د پي . ماده، کالسیتونین- جین پورې تړلې پیپتاید (CGRP) او نایتریک اوکسایډ د افراز په واسطه لا تقویه کیږي. د نیم سري حملې پر مهال په وینه یا ادرارو کې د سیروتونین یا هم د نوموړي د میتابولیتونو کچې تغییر کوي. د سیروتونین افرازونکو په واسطه د نوموړي ترسب او د داسې درملو پر مټ د نیم سري د حملې مخنیوی او توقف چې په سیروتونیرجیک سیستم باندې اغیزه لري، دا یقیني کوي، چې سیروتونین په دغه ګډوډۍ کې محوري رول لري [۱۱].

د یادولو ده چې، پورتنی درې واړه تیوری د میګرین په رامنځته کیدو کې رول لري، خو د میګرین پتوفزیالوژی په پوره ډول نه شي توضیح کولی. تازه څیړنو د میګرین په نوي مالیکولي تیوری باندې تمرکز کړی دی او دا په ګوته کوي، چې د میګرین د رامنځته کیدو په میکانیزم کې CGRP او د سیروتونین $5\text{-TH}_{1F}$ اخذې بارز رول لري، خو پوره وضاحت نه لري .

**(۲). د Tension-Type سردردی ځانګړنې او پتوفزیالوژیک بنسټونه**

Tension-Type Headache (TTH) د ابتدایي سردردیو تر ټولو عامه بڼه ده، چې په اتفاقي (episodic)او مزمنو ډولونو ویشل کیږي. په کلینیک کې TTHs په زیاتو هغو ناروغانو کې راځرګندیږي، چې د درملنې په موخه یې مراجعه نه وي کړې. د TTH اصطلاح، د سردردی سندرومونو هغه تشریح ته کارول کیږي، په کومو کې چې د pericranial nociception او noxious stimuli پر وړاندې حساسیت، د درد په پتوجینیز کې تر ټول بارز فکتور بلل کیږي.

TTH معمولاً هغه سردردي ده، چې دوه طرفه په band-like fashion کې د سر د جبهې برخې څخه د سر د قفوي برخې په طرف انتشار کوي، درد زیاتره د غاړې عضلاتو ته انتشاریږي، د تنګۍ (tightness) ، فشار یا د کسل کوونکي درد په توګه وصف لري . که څه هم، TTH ډیر عام دی، خو پتوفزیالوژي او د رامنځته کیدو باوري میکانیزمونه یې واضح نه دي. د nociceptive سیستم فعلي علم دا په ګوته کوي، چې TTH عضلي منشأ لري. څیړنو ښودلې ده، چې د pericranial myofascia څخه د راپورته کیدونکي محیطي nociceptive input حساسیت، د TTH سببي فرضیه بلل کیږي[۱۰].

د TTH د درملنې په پلان کې معمولاً OTC انالجیزیک شامل دي. د معیاري انالجزیکو سره د سیداتیف انتي هیستامینیکو یا د کانکو ضد درملو یوځایي توصیه کولی شي، چې د معیاري انالجزیکو درد اراموونکي اغیزه نوره هم غښتلي کړي. د TTH په درملنه کې د انالجزیکو سره د اوپیېدو (opiates) ګډه کارونه ګټوره ثابته شوې ده، خو د ورځینی مزمنې سردردی د رامنځته کیدو خطر زیاتوي. د یادولو ده، چې د یادې متکررې سردردی د مخنیوي په موخه amitriptyline په پراخ ډول څیړل شوی وقایوي درمل دی.

**(۳). د Cluster او نورو ترایجیمینال اوتونومیک سردردیو ځانګړنې او پتوفزیالوژیک بنسټونه**

کلستر سردردی، د تشوشاتو هغه ډله ده، چې د ترایجیمینال اوتونومیک سردردیو په توګه ورته رجوع کیږي. دا د خودکاره عصبي سیستم یو وظیفوي اختلال دی، چې د سیمپاتیک سیستم د فعالیت کموالی د پاراسیمپاتیک سیستم د فعالیت د زیاتوالي سره جوړه کیږي. ګومان کیږي، چې د میګرین په شان د کلستر سردردی درد هم اوعیو ته د توسع ورکوونکو نیوروپیپتایډونو د افراز او د عصبي التهاب په پایله کې رامنځته کیږي.

په متناوب ډول په دغه تظاهري سندروم کې د ترایجیمینال فعالیت یا تحرکیت دقیق لامل واضح نه دی. یوه فرضیه دا ده، چې په عصبي هورموني بیلانس کې د diurnal یا seasonal تغییراتو په واسطه په اتفاقي ډول د هایپوتلامیک وظیفوي اختلال، د سردردي د تناوب یا دورې مسولیت پر غاړه لري. همدارنګه سیروتونین په هایپوتلاموس او ترایجیمینال سیستم کې عصبي فعالیت اغیزمنوي، چې ښایې د کلستر سردردی په پتوفزیالوژی کې رول ولوبوي. د لوړو ارتفاعاتو سره مخامخ کیدل کلستر سردردی

ته زمینه برابروي، چې دا هم په دې دلالت کوي، چې hypoxemia د ترایجیمینال اوتونومیک سردردیو په پتوجینیز کې رول لري [۶,۷,۲].

د نیم سري معالجه انفرادي او په شخص پورې تړلې ده، د حملو شدت، تکرر او د درملو پر وړاندې د انفرادي ناروغانو ځواب د درملنې په انتخاب کې رول لوبوي. په ټولیز ډول منل شوي تګلاره په دویم جدول کې خلاصه شوي ده [۴،۸].

۲- جدول: د نیم سري درملیزه معالجه [۱]

| د نیم سري درملیزه معالجه | |
|---|---|
| د نیم سري شدت | درملیزه معالجه |
| خفیف | واحد انالجزیک/ غیرسترایدي التهاب ضد درمل یا د دوی ګډه کارونه او ± د کانګو ضد درمل |
| منځنی | د غیرسترایدي التهاب ضد درملو ګډه کارونه/ تریپتان/ ایرګاټ الکالایدونه او+ د کانګو ضد درمل |
| شدید | تریپتان یا ایرګاټ الکالایدونه او(+ د کانګو ضد درمل ) + وقایه<br>• پروپرانالول یا نور بیتا-بلاکرونه<br>• امیتریپتیلین یا نور ترای سیکلیک انتي ډیپریسانټ<br>• فلوناریزین یا نور کلسیم چینل بلاکرونه<br>• والپروات یا ټوپیرامیټ |

**د سردردیو وقایه:**

د یو شمېر سردردیو مخنیوی ناشونی دی، اما د یو شمېر سردردیو مخنیوی کولی شو، چې د ځینو سردردیو وقایوي تدابیر په لاندې جدول کې ځای شوي دي. د ځینو سردردیو وقایوي تدابیر په دریم جدول کې ښودل شوي دي [http://www.headaches.org/press/NHF, 6].

۳- جدول: د ځینو سردردیو وقایوي تدابیر[http://www.headaches.org/press/NHF]

| د سردردي ډول | وقایه |
|---|---|
| د کافین د پرېښودلو سردردي | د زیاتو کافین څښلو څخه ډډه وکړئ |
| د خورا شدید تمرین سردردي | د ناراحت کوونکو تمریناتو څخه ډډه وکړئ |
| د ترضیض وروسته سردردي | د ترضیض پر وړاندې معیاري پاملرنه |
| د لوږې سردردي | منظم غذایي رژیم چې د کافي پروټینو او مرکبو قندونو درلودونکی وي وکاروئ |
| د ټیمپورومانډیبولار مفصل سردردي | استراحت، د بایټ پلیټ کارول او په شدیدو حالاتو کې د malocclusion اصلاح |

| | |
|---|---|
| د تبې سردردي | نشته |
| د Eyestrain سردردي | د لید اصلاح |
| د ټیمپورال شریان سردردي | نشته |
| د تومور سردردي | نشته |
| د Tension-type سردردي | د سترس څخه ځان ساتل، بیوفیډبک، د استراحت کوونکو کړنلارو څخه ګټه پورته کول او د ژورخفګان ضد درملو کارول |
| د Aura څخه پرته نیم سري | بیوفیډبک، بیتابلاکر (پروپرانولول، ټیمولول)، د اختلاج ضد درمل (ډایواپروکس سوډیم)، کلسیم بلاکر او NSAIDs د نیم سري په مخنیوي او درملنه کې کارول کیږي |
| د Aura سره یو ځای نیم سري | بیوفیډبک، بیتابلاکر (پروپرانولول، ټیمولول)، د اختلاج ضد درمل (ډایواپروکس سوډیم)، کلسیم بلاکر او NSAIDs د نیم سري په مخنیوي او درملنه کې کارول کیږي |
| کلستر سردردي | ددې ډول سردردی په مخنیوي کې سټیرایدونه، ارګوټامین، کلسیم چاینل نهي کوونکي او لیتیم ورکول کیږي |
| د ښځو د میاشتني عادت سردردي | د میاشتني عادت څخه مخکې او یا د هغې په جریان کې د مقبض الوعایي درملو کوچني مقدارونو او/یا د التهاب ضد درملو ورکول د سردردی مخنیوی کولی شي، اما هیسټریکټومي دا ډول سردردي نه معالجه کولی |
| د لوړ فشار سردردي | د لوړ فشار په کنترول سره د دې ډول سردردیو مخنیوی کولی شو |
| انوریزم | د لوړ فشار په کنترول سره د دې ډول سردردیو مخنیوی کولی شو |
| سینوسي سردردي | نشته |
| الرجیک سردردي | نشته |

**د کار توکي او کړنلاره :** دا څېړنه کتابتوني بڼه لري، چې د طب اړوند انټرنیټ سایټونو څخه د معتبرو علمي مقالو تازه راټول شوي معلومات دي.

**پایلې**

دغه څېړنه د ابتدايي سردردیو د ډولونو، پتوفزیالوژیکو بنسټونو او درملنې په اړوند د تازه او کره معلوماتو په راټولو متمرکزه وه. د هر اړخیزو پخوانیو او نویو تازه څېړنو او کتابتوني مشاهداتو څخه وروسته، دې پایلې ته ورسیدو چې د یادو روغتیايي ستونزو د پتوفزیالوژیکو بنسټونو په اړه ویشل شوي نظریات شتون لري. هره وړاندې شوي فرضیه د موضوعاتو په هکله شته پوښتنو ته پوره وضاحت نه لري.

**وروستۍ پایلې**

د ابتدايي سردردیو د پتوفزیالوژیکو بنسټونو په اړه واحده فرضیه شتون نه لري، له دې امله په یاده څېړنه کې د ابتدايي سردردیو د پتوفزیالوژیکو بنسټونو په اړه واحده فرضیه تر لاسه نه شوه، د یادې موضوع د بشپړ وضاحت لپاره نورو هراړخیزو څېړنو ته اړتیا ده.

**ماخذونه**

1. عمل، مغفرت الله. (۱۳۹۹ ل)، کلینیکي درمل پوهنه. (لومړی ټوک)، صریر خپرندوی، کابل. مخ: ۳۵۸.

1. Chisholm-Burns M. A, Wells B. G, & Schwinghammer, T. L. (2016). Pharmacotherapy principles and practice. McGraw-Hill. USA. 4th Ed. pp.536-545,901-910.
2. Christoph J. Schankin and Andreas Straube. (2012) Secondary headaches: secondary or still primary? J Headache Pain 13. DOI 10.1007/s10194-012-0443-8. Pp-268-269.
3. Golan, D. E., Tashjian, A. H., & Armstrong, E. J. (Eds.). (2011). Principles of pharmacology: the pathophysiologic basis of drug therapy. Lippincott Williams & Wilkins. Printed in China.3th.Ed.pp.273.
4. Headache Classification Committee of the International Headache Society (IHS). (2018) The International Classification of Headache Disorders, 3rd edition: Cephalalgia. Vol. 38(1). DOI: 10.1177/0333102417738202. Pp-1-18.
5. MILLEA PAUL J. and BRODIE JONATHAN J. (2002) Tension-Type Headache, AMERICAN FAMILY PHYSICIAN, VOLUME 66, NUMBER 5, Pp- 797-803.
6. Peter J. Goadsby. (2012) Pathophysiology of migraine: Review Article. Ann Indian Acad Neurol. DOI: 10.4103/0972-2327.99993;15: Pp-15-20.
7. Rang, H. P., & Ritter, J. M. (2015). RJ Flower in G. Henderson, Rang and Dale's Pharmacology, 8th Edition, Churchill Livingstone.pp.201-204.
8. Rizzoli Paul and Mullally William J. (2018) Headache, The American Journal of Medicine, Vol 131, No 1. https://doi.org/10.1016/j.amjmed.2017.09.005, Pp- 17-24.
9. Shibata Y. (2022) Migraine Pathophysiology Revisited: Proposal of a New Molecular Theory of Migraine Pathophysiology and Headache Diagnostic Criteria. Int. J. Mol. Sci. 23, 13002. https:// doi.org/10.3390/ijms232113002. Pp-1-13.

10. The International Headache Society, The American Council for Headache Education, The American Headache Society, WHMC Clinical Health Psychology Dept, Neurology, The Clinical Psychologist, Journal of Consulting and Clinical Psychology, Behavior Therapy.( 2013) Headaches Ver3.0, Pp-1-4.

# دحشرو په واسطه د مرګ وخت معلومول

لیکوونکی: پوهنمل عبدالطیف رحیمي
شیخ زاید پوهنتون، وترنری پوهنځی، کلینیک څانګې استاد
تقریظ ورکوونکی: پوهندوی طاهرشاه نیکمل د طب پوهنځي استاد

**لنډیز**

د۱۵۰ کالو د تېرېدو سربېره د حشرې پېژندنې عدلي طب څانګه پر غوړیدو ده، چې تراوسه یې د عدلي طب په برخه کې یوثابت ځای ندی خپل کړی، ځکه چې په دې هکله زیات معلومات شتون نلري او د بل طرفه د دې برخې د مسلکي کسانوکمښت شتون لري.

په اوسني وخت کې یوکم شمېر د حشراتومتخصیصین د نوموړی علم د پورتنۍ برخې سره سراوکارلري اود PMI زیاتره شواهد د اساسي معلوماتواوتجربو د نشتون له وجی ضایع کیږی.

د حشراتو ډلبندي، جغرافیایي موقیعت ، بیولوژیکي اوایکولوژی اړوند معلومات چې د مړه شویوحیواناتو د خوساکیدو سبب کیږي، چې د مړینې څخه وروسته یې څومره وخت تېر شوی، لا ډېرو څېړنو او تحقیقاتوته شته. دا چې د حشراتوڅخه دطب عدلي په برخه کې په ښه توګه ګټه اخستل شوې ده، نود هغوی د جغرافیایي موقیعت پېژندل ضرور اولازم دي.

د دې اړتیا شته، ترڅو د حشراتو دعدلي طب متخصص دطب عدلي د پتالوجست سره له نېږدې څخه کار وکړي، ځکه چې دواړه یود بل سره د Pmi په محاسبه کې یود بل ملاتړ کوي.

کلیدي ټکي: د مړینې وروسته موده، ارتروپودا، جسد، مړینه، عدلي، حشره پېژندنه

**سریزه**

څنګه چې حشرات د بند لرونکو پښو یوه لویه ډله تشکیلوي، تراوسه پورې د هغوی د یومیلیون په اندازه ډولونه پېژندل شوي دي، او داسې وړاندوینه شوې ده، چې دغه شمېر به د درې یا څلورمیلیونه ترکچې پورې ورسیږي، د دغو ژوندیوموجوداتو حیرانوونکي ځانګړنې د هغوی د ژوند په مختلفومرحلوکې لکه اندازه، جوړښت، رنګ، تغذیه رفتاراو داسې نورو کې بدلون لري، انسان هم د خدای ورکړي عقل اوفکر له مخې د موجوده عالم په اړه د معلوماتو راټولولو په هڅه کې دی، له دې سببه د حشراتو د پېژندنې په برخه کې هم ښه پرمختک شوی دی، همدارنګه حشراتو هم له انسانانو سره د پرمختک او نویوالي په برخه کې ښه همکاري کړې ده اود یوې مناسبې الګو په ډول یې د صنعت اوعلم د ښې زمینې په برابرولو کې مرسته کړې ده (هوایې صنایع، ترافیکي برخه، د بیمې صنعت، د جرم په پېژندلواو داسې نوروبرخوکې)

اما د جرم پېژندنې علم (Criminology ) چې زمونږ د بحث موضوع ده په زیاته اندازه د حشراتوڅخه ګټه اخیستل شوې نن ورځ د دغه علم په واسطه له یولوی ګروپ بند لرونکو پښوحشراتوڅخه د جرمي جنایاتو او قتل دوسیو په څېړنه کې ګټه اخیستل کیږي، د حشراتو په واسطه د حشراتو پېژندنې

عدلی علم (Forensic Entomology) نن ورځ د قانوني جرم پېژندنې او طبي علوموبوه برخه ده، چې له حشراتو څخه پکې ګټه کېږي، ترڅو د یو جسد دمرګ وخت د جسد ځای پرځای کیدنه اود مسمومیت په واسطه مرګ تشخیص کړي. Forensic د قانون یا محکمې په مانا ده، چې په زیاته اندازه د قانون لپاره کارول کېږي، همدارنګه Entomology هم له دوه کلموڅخه اخیستل شوې ده Entomo د حشرې په مانا او Logy د علم په مانا دی اوپه ټولیزه کې Entomology هغه علم دی چې د حشراتو له پېژندنې څخه بحث کوي چې یونوی روش د جنایي تحقیقاتو په برخه کې شمېرل کېږي اما د انسان او چاپېریالي اغېزوڅخه هم باید سترګې پټې نه شي په دغه علم کې حشرات له هغو غذايي منابعویا ذخیروڅخه چې د جسد یا مړي په توګه د جنایت په ساحه کې پاتې وي ګټه کوي او یوقانوني حشره پېژندونکی له دغو ژوندیو او یا هم غیرژوندیو مدارکو لکه: تخمه، لاروا، شفیره او یا بالغې حشرې څخه د یو جسد د مرګ د وخت په پېژندلو کې ګټه کوي له دغه علم څخه په مختلفو برخوکې ګټه اخستل کېږي چې عبارت دي له: د مرګ د وخت تعین، د جسد ځای پرځای کیدنه یانی له یوې نقطې څخه بلې نقطې ته لیږد، په جسد کې د مسمومیت تعین په هغه وخت کې چې موجود وي همدارنګه د کوچنیانو اوزیات عمر لرونکو کسانوپه بې پراوایی ساتلوکې ورڅخه استفاده کېږي، همدارنګه داسې دلیلونه هم شتون لري کوم چې دا روښانه کوي چې ځینې والدین قصداً د مچیو نیښونه خپلواولادونو ته د هغوی د تنبه کولو لپاره استفاده کوي، علاوه له دې څخه د حشره پیژندنې ځینې منابع دا ثابتوي چې ځینې حشرات د زیات عمر لرونکوکسانو د کافي مراقبت په نشتون کې په دولتي او خیریه بنسټونوکې استفاده کېږي، همدارنګه نن ورځ له حشراتوڅخه د مختلفو ترافیکي پیښو په پېژندنه کې چې دلیل یې معلوم نوي استفاه کېږي او د هغو دلایلوپه پیداکولو کې ورڅخه ګټه کېږي، چې د تصادف لامل کېږي؛ له دې څخه علاوه چې حشرات د ریل ګاډو د تصادف عوامل روښانه کوي د طیارو یا هوایي نقلیه وسایطو د تصادف هغه نا ویلي لاملونه هم روښانه کوي چې باعث د تصادف شوي دي. یو قانوني حشره پیژندونکی کولی شي چې د حشراتو د هغو ټوټوڅخه چې د ریل ګاډي په مخکنۍ شیشې او یا هم په رادیاتوربانديې جمعه شوي دي دا ډول استفاه وکړي چې یاد ریل ګاډی په کوم ځای کوم وخت او څه ډول محیط کې تصادف کړی ده، همدارنګه د حشراتوپه واسطه له هغو وینوڅخه چې د جنایت په ساحه کې پاتې دي د حادثې د څېړنې لپاره ورڅخه استفاده کېږي.

**موخې**

دا چې د حشره پېژندنې عدلي علم په اړه ډېرمعلومات په پښتو ژبه کې موجود ندي، خو په ځانګړې ډول سره د حشره پېژندنې عدلي علم په اړه پراخه معلومات اړین دي، ترڅو وکولی شو؛ د دې برخې په اړه کافي معلومات ولرو. څنګه چې د حشراتو پیژندنې عدلی علم نن ورځ د جرم پېژندنې او عدلي طب یوه برخه ده، چې له حشراتوڅخه پکې استفاده کېږي، د جرم پیژندنې علم کوم چې په زیاته اندازه د حشراتوڅخه پکی ګټه اخیستل شوې نن ورځ د دغه علم په برکت له حشراتوڅخه په مختلفو برخوکې استفاده کېږي، لکه: د جرمي جنایاتو او قتل دوسیو څېړل، د ترافیکی پیښود عواملوپېژندل، د مرګ وخت معلومول، د جسد ځای پرځای کیدنه او له یوې نقطې څخه بلې نقطې ته دجسد انتقال، جسد کې د مسمومیت معلومول، همدارنګه د کوچنیانو اوزیات عمر لرونکو کسانوپه بې پراوایی ساتلوکې

ورڅخه استفاده کیږي، نو لازمه مو وګڼله چه د حشرو پواسطه د مرګ وخت معلوم کولو په اړه هغه څېړنې، کوم چې پدې وروستیو وختونوکې ترسره شویدي، له نظره تېره وي اوغوره چاڼ یې ستاسوته وړاندې کړو.

**مواد او کړنلاره**

دا څېړنه کتابتوني ده، چې په کال ۱۴۰۱ کې ترسره شویده تقریبا د۲۴ مختلفوکتابونواو مقالوڅخه پکې ګټه اخستل شوې ده، کوم چې داکتابونه او مقالې په معتبرو او نړیوالو ژورنالوکې خپرې شوې دي ، څنګه چې د ذکرشوې مقالې د لیکلو لپاره انترنیتي اونړیوالومعتبرو ژورنالو ته کتنه شویده او پدې ژورنالو کې دخپرو شویو څېړنیزو مقالوڅخه ګټه اخستل شویده.

**شالید**

د قانوني حشره پېژندنې شاه لید د دیارلسمې پېړۍ له کلونوسره تړاو لري په دغه برخه کې لومړنی لیکنه یوچیناني جرم پېژندونکي عالم چې سونګ تزو نومیده کړې ده او په لومړي ځل یې د حشراتوپه واسطه د جنایت پېژندلو برخې ته اشاره کړې ده، چې دغه لومړنۍ حقیقي منبع ده، چې په هغه کې له حشراتو څخه د جرم پېژندلوبرخې ته اشاره شوې ده، د دغې پېښې دوسیه په دې ډول وه: چې د چین په یوه اطرافي منطقه کې په داسې سیمه کې چې هلته وریجې کرل شوي وې یو ناپېژنده قتل ترسره شوی وو، کله چې د جنایي پېښوپلټونکي د پېښې ځا ی ته لاړل؛ نو د منطقې خلکوته یی وویل، چې مونږ د دې قتل لاملین پیداکوو، وروسته له یوشمېرېې پایلو پوښتنوڅخه پلټونکو د منطقې ټول وګړي له خپلو لورونوسره یوې نقطې ته راټول کړل او غوښتنه یې ورڅخه وکړه چې خپل لورونه په ځمکه باندې کېږدی، کله چې ټولوخپل لورونه په ځمکه باندې کېښودل، نو د هغې منطقې ټول منګسونه د یو کس د لور په طرف باندې راټول شول او دلته دلیل دا کیدلی شي، چې په دغه لور باندې د قتل شوي جسد یوه اندازه مخفي پاتې اثاروشتون درلوده اود دغه لور لرونکی کس بلآخره اعتراف کوي چې قتل د ده په واسطه شوی ده همدارنګه د دغه متن په ځینونوروبرخوکې یوعالم چې سونګ تزونومیده وایي دغه معلومات چې د ضایع شوومنګسونو (blow flies ) څخه لاس ته راځي د هغومنګسونوپه زیاتوالي پورې اړه لري چې د وژل شوي جسد په سطحه باندې شتون لري اودلته د منګسونو د هجوم وخت هم په لاس راځي او دلته هغه وخت هم په لاس راتلی شي چې د نوي زخم په وخت کې څومره منګسونه د دغه جسد په زخمونو باندې راټول شوي دي یوبله مشهوره څېړنه چې په هغه کې د تجربې ثبوت د حشره پېژندنې میتود په واسطه شوی دی د فرانسیسکوردي په نوم سره یادیږي (۱۶۶۸).

په دغه څیړنه کې فاسده شوې غوښه په دوه لوښوکې په دوه حالاتونوکې یو داچې له چاپیریال سره مستقیم تړاو ولري اودوهم داچې د ازاد محیط سره تماس ونلری څېړل شوی ده. هغه غوښه کوم چې ازاد محیط کی ایښودل شوی وه خود سرانه ډول مچانوهجوم وربانډی راوړ.

۱۸۰۰ میلادی کال کې په فرانسه کې کله چې دیوماشوم جسد داسې حالت کې وموندل شو چې داجسد په ګچوکې پوښل شوی وو، تحقیقاتو دا ثابته کړه د دې ماشوم د جسد کوم قسمت چې خراب او ګنده شوی وو پدې قسمت د بدن کې مچان د فعایت په حالت کې وو.

فروفیسور هرمان د طب عدلي محقق داڅېړنه وکړه کله چې دالمان په مونیخ کې یوکس خپل مور او پلار

په قتل رسولی وو اوبیا یې درې هفتې د دوی جسدونه پټ ساتلي وو ، وروسته له دریو هفتوکله چې جسدونه پیداشول دمور دسینې په برخه کې چې کوم زخم موجود وونوموړی برخه خرابه شوی وه اوهم هغه کې ماګوت ولیدل شول لاکن نوربدن یې جوړ وو. دپلاربدن کې چې د چاقوګانو زیات زخمونه موجود وودی وخت کې دا ولیدل شول چې دپلار بدن د داخل اوخارج دواړو طرفونوڅخه خراب شوی وو اوټولوبرخودبدن کی دمچانولاروا اوشفیرې ولیدل شوی نو دامعلومه شوه چې مړ جسد ته اول قدم کی دکالیفوریده او سارکوفاجیده کورنی مچان ځان رسوي، چې نن ورځ جینايي تحقیقاتوکې ورځنې زیاته استفاده کیږي.

د بدن د داخلي جوړښتونو غړو صدمه نوه لیدلې اود بدن په چربې برخوباندې لاروا شتون نه درلوده، او د ډنګرپلارد بدن په مقابل کې ټول بدن د لاروا په واسطه له منځه تللی وه د بدن داخلي غړې تخریب شوي وو او شفیروهم په هغوکې وده کړې وه د دغه وضعیت لپاره یواځنی دلیل چې کولی شو یادونه ترې وکړو، هغه دادی چې بدن یواځې د مرمۍ په واسطه نه وو تخریب شوي بلکې په مکرر ډول سره د چاقوپه واسطه وهل شوی وو دغه د مچانو هجوم نه تنها دا چې د بدن په اطرافوکې وو بلکې د بدن د حجراتو په داخلي برخه کې هم وو کوم چې باعث د تجزیې د ټول بدن د پلار شوی وو د دې لپاره چې د بندلرونکوحشراتو په اسطه دقیقه پیژندنه صورت ونیسي چې له ډیرو مهمومسائیلو څخه ده د غیرفقاریه حیواناتو د اساسي طبقه بندې اصولو ته ضرورت ده د جسد د پاتې غوښو خوړونکي مچان چې د (Calliphoridae ) له کورنی څخه دي او د غوښې مچان چې د (Sarcophagidae ) له کورنی څخه دي له دغو حشراتوڅخه د تحقیقاتوپه برخه کې زیاته استفاده کیږي، څنګه چې حشرات د سړې وینې لرونکي موجودات دي د تولید او نمو سرعت یې د حرارت درجې له لوړیدواو کمیدوسره تړاو لري د حشراتو په واسطه د قانوني پیژندې په اړه لومړنی کتاب په ۱۸۸۶ کال کې نشرشوی ده، د اسمیت په نوم کتاب هم په دغه کال نشرشوی ده چې د قانوني حشره پیژندنې د راهنما په نوم یادیږي، همدارنګه د قانوني حشره پیژندنې او مرګ په نوم یوبل کتاب په ۱۹۹۰ کال کې نشرشوی دی، چې د جنایی پلټونکو او نور جنایی متخصیصینولپاره لیکل شوی ده.

هغه طبقه بندې چې د استیونسون ولرد له لوري په ۱۹۸۶ کال کې ترسره شوې ده

**اوسنی موجوده قانوني حشره پیژندنه په درې ډوله ده.**

۱- ښاري د حشره پیژندنې عدلي علم (Urban forensic Entomology ): په دغه ډول قانوني حشره پیژندنه کې چې د قضایي او مدني دعوې په دلایلوکې ورڅخه استفاده کیږي له هغو حشراتوڅخه ګټه اخیستل کیږي چې په مسکوني ځایونوباغونواو کورونوکې ژوند کوي همدارنګه په دغه برخه کې له هغو حشره وژونکو موادو څخه هم استفاده کیږي چې د حشراتو د وژنې لپاره کارول شوي دي.

۲- د انبارشوو محصولاتو د حشره پیژندنې عدلي علم (Stored Product Forensic Entomology): په دغه میتود د قانوني حشره پیژندنه کې د حشراتوپه واسطه د تجارتي محصولاتود ککړتیا ځانګړنې څېړل کیږي لاس ته راغلي معلومات د هغومچانو څخه راټولیږي، کوم چې د رومي بانجانو د روب په ډبی کې شتون لري.

۳- طب عدلی حشره پیژندنه ( Medicolegel Forensic Entomology ) : په دغه برخه د حشره پیژندنه

کې د خوشونت پیښې لکه: قتل، تجاوز، ځان وژنه او داسې نورموارد د بند لرونکوحشراتوپه واسطه څېړل کیږي، همدارنګه په دغه برخه د حشره پېژندنه کې هغه صدمات چې د بدني تنهاتو په واسطه منځ ته راځي هم څېړل کیږي همدارنګه د طبي قانوني حشره پېژندنې له علم څخه د انساني قاچاق او انتقال په برخه کې هم استفاده کیږي چې مجرم کس د دغه علم په واسطه جنایت کیدونکی شمېرل کیږي.

**هغه دلیلونه چې په طبي څېړنوکې له حشراتوڅخه ګټه اخستل کیږي په لاندې ډول دي.**

اول دلیل داده چې حشرات یواځې په سترګولیدونکی موجودات دي چې د جنازې په وخت کې مړي ته لاسرسی لري مثلاً د کالیفوریده کورني منګسونه په لومړنیو دقیقوکې پس له مرګ څخه جسد ته ځان رسوي او دهغه  دجسد پرمخ تخمه ګذاري کوي په دې ترتیب د منګسونو د ودی عملیه د جسد په مخ پیل کیږي او د بیولوژیکي ساعت د عملې کارپیل کیږي چې کیدلی شي د دې په واسطه د وخت تعین (PMI) تخمین شي.

دوهم دلیل داده چې د جسد مربوط بندلرونکو حشراتو فون د جسد د انتقال په عملیه کې تغیرکوي په حقیقت کې وژل شوی جسد په موقتي ډول د حشراتو او نورو مایکرو ارګانیزمونو لپاره د تغذیه یوه منبع وي د دغوژوندیو موجوداتو په منځ کې حشرات لومړني موجودات دي چې په دې اساس د بندلرونکو حشراتو د فون د تغیر بررسي کول کولای شي یو بل مقیاس د وخت تعین کړي او له مرګ څخه وروسته وخت په لاس راشي.

**هغه معلومات چې یو عدلي حشره پېژندونکی یې باید ولري:**

عدلي حشره پېژندونکی باید په معمولي ډول هغه معلومات چې له مرګ څخه وروسته معایناتو او هغه وخت چې له مرګ وروسته تېرشوی دی، د جنایت یا قتل په تحقیق کې باید له ځان سره ولري دغه محققین کولی، شي له مختلفومیتودونو لکه: د نوعوډول، د لاروا وزن، دلاروا عمر، د لاروا قد او داسې نوروعلمي روشونوڅخه باید استفاده وکړي چې، ترڅو د هغو تېرشوو ساعتونومقدارپیداکړي، چې له مرګ وروسته تېرشوي دي او دا ډېرمهم دي البته که چېرې نور ضروري معلومات هم لاس ته راغلي وي، دغه معلومات هم په جریان د جنایت کې کارول کیږي همدارنګه قانوني حشره پېژندونکی باید نورموارد هم په نظرکې ونیسي چې په لاندې ډول ترې یادونه کیږي.

- ✓ اول دجسد دمحل په مورد باید پوه شی : په عمومي ډول د جسد محل د لرګیوڅخه ډک دی، ساحل دی، کوردی، جاده ده؟ داب وهواپه مورد هوا لمړی ده یا وریځ ده؟
- ✓ دوهم د جسد د بقایا په مورد باید پوه شی: دمتوفی لباس، اندازه اونوع یې څه قسم دی؟ ایا جسد دفن شوی یا دڅه پواسطه پوښل شوی؟ ایا صحنه کې وینه یا دبدن نور مایعات وجودلری؟ ایا بدن کې کوم زخمونه وجود لری؟ ایا دجسد شاوخوا کوم درمل شتون لري چې ممکن دتجزیه کولوعملیه کې مهم نقش ولری؟ بدن څه قسم او کوم وضعیت کې قرارلری، دجسد تجزیه کومه مرحله کې ده ، ایا کوم ګروپ لاروا وجود لری ؟

| دبدن تودوخه | دبدن اوسختوالی نرموالی | دمرګ تخمیني وخت |
|---|---|---|
| ګرم | نرم | دمرګ نه ۳ ساعت وروسته |
| ګرم | سخت | دمرګ ۸-۳ ساعت منځ کې |
| یخ | سخت | دمرګ ۳۶-۸ ساعت منځ کې |
| یخ | نرم | دمرګ نه ۳۶ ساعت نه وروسته |

**د جسد د خرابوالي مرحلې:**

څنګه چې حجروي مرګ هغه وخت رامنځته کیږي چې تنفسی اومیتابولیکی فعالیتونه متوقف شي. هغه وخت کې چې دبدن ټول حجرات مړه شې پدې وخت کې جسم هم مړ دی، هغه څه چې د مرګ څخه وروسته واقع کیږي د بدن د حرارت ټیټوالی دی، څنګه چې د بدن ټول حجرات یو دم نه مړه کیږي، ترڅو دهرې حجرې هسته له منځه لاړه نشي، مثلا کله چې یو بم انفجار وکړي دانسان بدن ټوټه ټوټه کیږي همدِه وخت کې د بدن حجرات څودقیقې یازیات وخت د بدن د ټوټه کیدوڅخه وروسته هم ژوندی پاتې کیږي.

دمثال په توګه که عصبي حجرې داکسیجن د نشتوالي سره مخامخ شي بیا هم ۷-۳ دقیقې پورې ژوندی پاتې کیږي وروسته نوموړي حجرات مړه کیږي.

**دمرګ وخت تعین کولوکې موثرعوامل**

**۱- حرارت درجه**

**۲- دلاروا اندازه**

**۳- جغرافیایي وضعیت**

**۴- دبدن اندازه اوفصل**

**هغه حشرات چې عدلي حشره پېژندنه کې کارول کیږي**

۱- **مچان(Flies ):** مچان په جنایي مطالعاتو کې ډېرمهم اوحیاتي حشرات شمېرل کیږي. دمچانو لارواکوم چې په ماګوت باندې معروف دی چې د جسد په مخ زیات پیداکیږي نوپدې اساس د مرګ د وخت په تشخیص کې مهم شمېرل کیږي. عموما لاروا یې شېرې رنګه وي او بدون دپښو وی کوم چې سر یې نری اوانتها یې لویه وي. دفوریده کورنۍ مچان چه دتابوتی مچانوپه نوم هم مشهور دي، هغه جسدونوکې چې داخل د تابوت کې د ځمکې لاندې، څو کاله مخکې دفن شوی وي هم پیداکیږي. سارکوفاجیده کورنۍ مچان چې دغوښې مچانوپنوم مشهور دي دا اولین حشرات دي چې جسد ته زرځان رسوي. همدارنګه دسیفسیده کورنۍ مچان چې د فاضله موادواوخوسا شویو موادو شاوخوا کې پیدا کیږي. د دې کورنۍ مچان د انسان د بدن د پروتیني تخمرپه وخت اومخکې د امونیاکې تخمرڅخه تغذیه کوي.

**۲- سوسک (Beetles ):** سوسک چې یوه لویه ډله د حشراتوتشکیل کوي د دې لاروا چې د جسد څخه استفاده کوي کولی شو په اسانی سره تشخیص کړو. دا درې جفته پښې لري او دلاروا بدن یې سپین رنګ لري، بدن یې بدون د ویښتانو وي. نوموړی موجودات هرڅه خوړونکی دی، کوم چې د ډیروناروغیو ناقلین هم شمېرل کیږي البته زیات یې مفید دي کوم چې مرض نه تولید کوونکی دی. څنګه چې حاضر وخت کې ۳۵۰۰ نوعې شتون لري، چې معمولا دا د شپې له طرفه فعال وي، د جنایت په صحنه کې چې هلته جسد شتون ولري دا هم پیدا کیږي.

**۳- کک (Fleas):** په معمولي ډول سره دکک دبدن جسامت د ۸-۱ میلي متر پورې وي. نوموړي حشرات د میزبان په ویښتانو او وزرونو کې حرکت او فعالیتونه کوي کوم چې ټول کک وینه خوړونکي دي او د ګرمه وینه لرونکو حیواناتوخارجی پرازیتونه دي، دا موجودات هم د جنایت په صحنه کې کوم چې هلته جسد وجود ولري پیداکیږي.

**دجسد څخه د حشراتوجمع کول**

**هګۍ:** څنګه چې هګۍ ډېرې کوچنۍ وي اومعمولا په دسته ای صورت سره په زخمونو یا طبیعي سوریوکې دحشراتوپواسطه اچول کیږي، اما شاید هګۍ د مقتول په لباس کې هم پیدا شي . دا هګۍ کولی شوچې د نقاشی د ظریف برس پواسطه یې جمع کړواو ترهغه وخت پورې یې وساتو، ترڅوچې بالغ شي اودقیق تشخیص یې ترسره شي.

**لاروا:** لاروا په مختلفواندازو سره وي. لاروا د حرکت په حالت کې په جسد یا اطراف د جسد کې په توده ای شکل سره پیداکیږي نوموړی لاروا کولی شوچې ۷۵٪ الکولو کې وساتو یا یې لوله کې واچوو اودرشد لپاره یې لابراتوارته انتقال کړو ترڅوبالغ شي او وروسته یې تشخیص ترسره کړو.

**شفیره:** شفیرې هم د جنایت د صحنې څخه جمع کیږي اولابراتوار کې ساتل کیږي ترڅوبالغ شي.

**بالغ حشرات:** بالغ حشرات د حشراتود معمولي طور پواسطه ښکار کیږي وروسته د شیشه یي لوښو داخل کې ساتل کیږي، ترڅو یې تشخیص ترسره شي. باید په ډېر دقت سره د جنایت د صحنې د مختلفو برخوڅخه نمونې جمع شي اوکه چېرې جسد اوبوکې غورځیدلی وي پدې وخت کې به د اوبو د داخلي موجوداتوڅخه حتی ماهیانوڅخه هم نمونه اخېستل کیږي مطلب دا چې ترڅوجسد د سرڅخه ترګوتوپورې بررسي شي.

**دمرګ څخه وروسته وخت معلوم کول(PMI)**

دمرګ د وخت معلوم کولولپاره مختلفی طریقې وجود لري، اما مونږ د عدلي حشره پېژندنې دوه طریقوته په لاندې ډول اشاره کوو

**۱- د ارتروپودا د نسبي ودې سرعت تعین کول**

پدې طریقه کې باید صحیح تخمین د مچانو د لاروا د عمر یا د شفیرې پیداشی، کوم چې د جنایت د صحنې څخه یا د جسد د خلاصیدو وخت کې جمع شوی وي. پدې اساس کولی شو چې د لاروا د رشد د شروع څخه وخت اندازه کړوڅنګه چې حشرات بلا فاصله وروسته د مرګ څخه جسد ته ځان رسوي اوجسد باندې حمله کوي . پدې طریقه کې مهمه نقطه داده چې، ترڅو زیات عمرلرونکی لاروا د جسد پرمخ پیدا کړو کوم چې د مچانود رسیدلو وخت جسد ته مشخص کوي.

۲- د موج د حملی څپه (Wave of invasion)

که چېرې جنایت داسې محیط کې ترسره شوی وي، چې هغه ځای بند وي، لکه: داخل د اطاق، یا نامساعده اب اوهواوی، پدې حالت کې د وخت د تخمین کولولپاره د موج د حملې څپه (Wave of invasion) هم باید په نظرکې ونیول شي چې عبارت دي د وخت فاصله په منځ د جسد اود مچانوحمله په جسد باندې کوم چې هګۍ یا لاروا اچوي چې د ساعت یا ورځې پواسطه واضح کیږي.

PMI کولی شو چې دلاندې فارمول پواسطه یې معلوم کړو.

**دهګۍ اچولوڅخه تېرشوی وخت(ورځ یا ساعت) + د حملې موج(ورځ یا ساعت) = PMI**

داطریقه د حشراتو د جمیعت د ترکیب په اساس ده کوم چې یود بل نه وروسته د جسد پرمخ ځای په ځای کیږي.

## References

1. Hall RD. Medicocriminal entomology In:Catts EP, Haskell NH (eds) Entomology anddeath: Forensic Entomology Associates;1990. P. 1-8.

2. Wolff M, Uribe A, Ortiz A, Duque P. A preliminary study of forensic entomology in Medellin, Colombia. Forensic Sci. Int. 2001;120: 53-59.

3. Campobasso CP, Introna F. The forensic entomologist in the context of forensic pathologist's role. Forensic. Sci. Int. 2001;120: 132-139.

4. Amendt J, Campobosso CP, Gaudry E, Reiter C , Le Blanc HN, Hall MJR. (2007) Best practice in Forensic entomology – standards and guidelines. Int. J Legal Med 2007; 121:90-104

5. McKnight BE . The washing away of wrongs.Forensic medicine in thirteenth-century China. Science, Medicine and Technology in east Asia Vol. 1, 1981. Center for Chinese studies University of Michigan, Ann Arbor.

6. Amendt J, Krettek R, Zehner R. Forensic entomology. Naturwissenshaften. 2004; 91: 51-65

7. Bergert M. Infanticide, momification naturelle du cadavre. Ann. Hyg publique
Med. Leg. 1855; 4, 442-452.

8. Krahmer FL. Handbuch der gerichtlichen,1857 Medizin. Auff. Berlin. Cited by Amendt J, Krettek R, Zehner R. Forensic entomology. Naturwissenshaften. 2004; 91: 51-65.

9. Yovanovich P. Entomologie appliquee a la medicine legale, 1888,

Olliver-Henry, paril. Cited by Amendt J, Krettek R, Zehner R. Forensic entomology.Naturwissenshaften.2004; 91: 51-65.
10. Megnin JP. La Faune des cadavers: application de I'entomologie La medicine legale. Masson et Gauthiers-Villars, 1894, Paris. Cited by Amendt J, Krettek R, Zehner R. Forensic entomology. Naturwissenshaften. 2004; 91: 51-65.
11. Nuarteva P,Isokoski M,Laibo K. Studies on the possibilities of using blowflies(Diptera) as medicolegal indicators in Finland Ann.Entomol.Fenn. 1967; 33: 217-225
12. Goff ML. Comparison of insect species associated with decomposing remains
recovered inside dwellings and outdoors on the island of Oahu, Hawaii. J Forensic Sci.1991; 3: 748-753.
13. Greenberg B. Flies as forensic indicators J.Med. Entomol. 1991; 28: 565-577.
14. Catts EP, Goff ML. Forensic entomology in criminal investigations. Annu Rev. Entomol.1992; 37: 253-272
15. Anderson GS. The use of insects in death investigations: an analysis of cases in BritishColumbia over a five year period Can. Soc.Forensic J. 1995; 28: 277-292.
16. Introna F, Campobasso CP, Di Fazio A. Three case studies in forensic entomology from Southern Italy J. Forensic Sci. 1998; 43: 210-214
17. Campobasso CP, Introna F. The forensic entomologist in the context of forensic pathologist,s role. Forensic. Sci. Int. 2001;
120: 132-139.
18. Simth KGV. A Manual of Forensic Entomology. London: The Trustees, British
Museum; 1986. p. 207.
19. Lord WD, Burger JF. Collection and preservation of forensically important
entomological materials J Forensic Sci.1983; 28: 936-944.
20. Catts EP, Haskell NH. Entomology and Death: A Procedural guide. Clemson, South Carolina : Joyce's Print Shop, Inc. USA; 1990p 9 - 37
21. Haskell NH, Lord WD, Byrd JH. Collection of entomological evidence during death investigations. In: Byrd JH, Castner JL(eds). Forensic entomology – The utility of arthropods in legal investigations. Boca Roton FL: CRC press; 2001.p. 81-120

22. Meek CL, Andrews CS. Standard technique and procedure at the death scene In: Catts EP, Haskell NP (eds). Entomology and death: A procedural guide. Clemson, SC: Joyce's Print Shop; 1990. P. 72-81.
23. Haskell NH, Williams RE. Collection of entomological evidence at the death scene: In: Catts EP, Haskell NP (eds). Entomology and Death: A procedural guide. Clemson, Sc: Joyce's Print Shop; 1990. P. 82-97.
24. Haskell NH. Entomological collection techniques at autopsy and for specific
environments In: Catts EP, Haskell NP (eds). Entomology and death: A procedural guide Clemson, SC: Joyce's Print Shop; 1990. P.
98-110

# د تعصب شرعي حکم او زیانونه

لیکونکی : پوهنمل مسیح الله حذیفي
شیخ زاید پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي د فقه او قانون څانګې استاد
تقریظ ورکونکی : پوهندوی سید کمال شاه بنوري ، شیخ زاید پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي د فقه او قانون څانګې استاد

**لنډيز**

تعصب یو سړي ته د خپلې قبیلې د ملاتړ لپاره بلنه ورکول او له هغوی سره د هغو کسانو په مقابل کې بغاوت کول، چې د دوی مخالفت کوي، که هغه ظالمان وي او که مظلومان، همدارنګه تعصب چې یو داخلي احساس دی د دې لامل کیږي چې یو څوک دومره سخت شي، چې تل ځان په حقه ګڼي او بل شخص پرته له کوم دلیل او ثبوت څخه په باطله (غلط) ګڼي.

تعصب یوه ډیره پخوانۍ پدیده ده، او د انسان د پیدایښت سره سمه راپیدا شوې، د عصبیت لومړنی بنسټ ایښودونکی شیطان دی، شیطان خپل ځان تر نورو مخلوقاتو اعلی باله، او آدم علیه السلام ته یې سجده ونکړه، ځکه شیطان ویل آدم علیه السلام له خاورو جوړ شوی دی او زه له اور څخه او اور په خاورو غوره دی همدارنګه د قوم، ژبې، نژاد او رنګ په اساس تعصب د قران کریم له نزول نه وړاندې په عربي قبائلو کې هم ډیر زیات و، دوی له خپلو خپلوانو، کورنیو او قبیلو څخه په حق او باطل دواړو حالتونو کې دفاع کوله دا کار لوی زړورتوب او شجاعت ګڼل کېده.

تعصب د علماو په اتفاق حرام دی، د مسلمانانو ترمنځ د بغض، کینې او دښمنۍ لامل ګرځي او د حرمت په اړه یې ډیر نصوص شتون لري.

په تعصب باندې اخته کېدل مختلف لاملونه لري لکه: غلط فهمي او غرور، تنګ نظري، ناسم ټولنیز چاپیریال، جهالت او دنورو په اړه د معلوماتو کمی، له نورو خلکو سره د تعامل د اخلاقیاتو او د تعصب په باب د شرعي نصوصو څخه بې خبري ده.

او همدارنګه تعصب مختلف زیانونه هم لري چې د ټولنې جوړښت له منځه وړي او د پرمختګ مخه یې نیسي.

**کلیدي کلمات:** پر تعصب د اخته کیدو لاملونه، پېژندنه، حرمت دلایل، زیانونه یې.

**سریزه**

ألحمد لله رب العلمین والصلوة والسلام علی سید الأنبیاء والمرسلین محمد و علی اله و أصحابه أجمعین.
امابعد: قال الله تبارک و تعالی: {يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقنَاكُم مِن ذَكَرٍ وَأُنثَى وَجَعَلنَاكُم شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكرَمَكُم عِندَ اللَّهِ أَتقَاكُم إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ} (الحجرات: ۱۳).

په دې کې شک نشته چې د هغه چا ملاتړ، مرسته کول او له هغه سره خواخوږي درلودل، چې انسان ورسره د قوم، ژبې، کورنۍ، قبیلې، وطن، جغرافیایي موقعیت، سمت، مذهب، حزب، تنظیم او

داسې نورې اړيکې ولري يو فطري عمل او انساني غريزه ده، دا ځکه چې انسان له هغه چا سره زړه نيسي او محبت يې ورسره پيدا کيږي چې له ده سره نږدې والى ولري، له دې امله ويلى شو چې تعصب يوه ډېره پخوانۍ پديده ده، او د انسان د پيدايښت سره سمه راپيدا شوې، مګر کله چې اسلام د بشريت لپاره د يو بشپړ قانون په توګه راغی؛ نو د نورو اړخونو سره سره يې د دغې انساني غريزې تهذيب هم په غاړه واخيست، او دا يې وويل چې مسلمان بايد د خپلو نږدې خلکو سره ( چې دا نږدېوالی په هر څه کې وي) مينه او محبت ولري، د هغوی حقوق اداء کړي، مګر د مرستې، حمايت او کمک معيار په اسلام کې حق او عدل دی، حق چې د هر چا په اړخ کې وي، اسلام د هغه د حمايت او ملاتړ حکم کوي هغه که پردی وي او که خپل، نږدې وي او که ليرې، اوکله هم چې څوک په حق نه وي هغه سره دريدل ظلم او تعصب بولي، بناء دا يوه مهمه موضوع ده او ارزښت يې په دې کې دی، چې د ټولنې وګړي د تعصب حراموالی ،لاملونه او زيانونه وپېژني او ځان ترې وساتي.

**موخې**

لوستونکي به په دې وتوانيږي چې:

۱- د تعصب معنی او مفهوم به وپېژني.

۲- د تعصب د حرمت په دلايلو به پوه شي.

۳- د تعصب زيانونه به وپېژني.

**د کار توکي او کړنلاره**

ما د خپل تحقيق په بهير کې دا تګلاره غوره کړې ده، چې د هرې موضوع د څېړنې په موخه مې د الله تعالی کتاب قرآن کريم ته مراجعه کړې ده، يعنې هڅه مې کړې، چې اساس يې لومړی په قرآن کريم کې پيداکړم ورپسې مې نبوي سنتو ته مراجعه کړې ده، همدا راز د څېړنې په بهير کې مې د قرآن کريم او نبوي سنتو کې د پلټنې وروسته د فقهي مستندو، معتمدو او د اعتبار وړ مأخذونو ته مراجعه کړې ده يعنې د ليکنې کړنلاره مې کتابتوني تحقيق دی دا چې مقاله په پښتو ژبه ده؛ نو د پښتو ژبې ټول معيارونه مې په نظر کې نيولي او تطبيق کړي دي.

**د تعصب پېژندنه**

تعصب لغوي پېژندنه: . تعصب د عصبيت څخه اخيستل شوی او عصبيت د خپلې قبيلې د ملاتړ لپاره يو سړي ته بلنه ورکول او له هغوی سره د هغو کسانو په مقابل کې بغاوت کول چې د دوی مخالفت کوي، که هغه ظالمان وي او که مظلوم (۴: ۶۰۶).

تعصب اصطلاحي پېژندنه: تعصب يو داخلي احساس دی د دې لامل کيږي چې يو څوک دومره سخت شي، چې تل ځان په حقه ګڼي او بل شخص په باطله (غلط) ګڼي، پرته له کوم دليل او ثبوت څخه او دا احساس د سختو کړنو او چلندونو له مخې څرګنديږي چې په دې کې د بل سپکاوی او د هغه د حقونو او انسانيت نه پيژندل شامل دي (۸: ۲).

که په لنډو ټکو کې د تعصب معنی بیان کړو نو وبه وایو چې : تعصب په حق او ناحقه په ډیر شدت سره د هغه ډلې حمایت، ملاتړ او ورسره دریدلو ته وایي، چې انسان ورسره په کورنۍ، نسب، عرق، ژبه، قبیله، وطن، جغرافیایي موقعیت، سمت، مذهب، تنظیم، حزب، ... کې اشتراک او ګډون ولري، همدا راز د نورو په مقابل کې د خپل قوم، نسب، ژبې، کورنۍ او ... لویي بیانول او په هغې بې ځایه فخر کول هم د تعصب یو شکل او بڼه ده د دې ترڅنګ د یو قوم، ژبې، سیمې، هیواد، کورنۍ، قبیلې ... سره تعصب درلودل دا معنی لري، چې له هغې سره باید د نفرت تعامل وشي، دوی په مجموع کې بد وګڼل شي او ورسره کرکه وکړل شي، او په ټوله کې یې بدي بیان شي.

لدې تعریف څخه دا څرګندیږي چې تعصب لاندې بیلا بیل ډولونه لري:

۱ -د قوم، ژبې، کورنۍ، قبیلې، وطن، جغرافیایي موقعیت، سمت، مذهب، حزب، تنظیم، او ...لپاره په دې معنی تعصب چې انسان پرته له دې چې په یوه قضیه کې دا معلوم کړي، چې حق کوم لور ته قرار لري، دعدل او انصاف فیصله څه ده د خپل قوم، هم ژبو، کورنۍ، قبیلې، خپلو هم مذهبو، او د خپلې سیمې او کلي، وطن او ولایت د اوسیدونکو ترڅنګ ودریږي، دا تعصب شمیرل کیږي.

۲ -دغو پورتنیو عناصرو ته تعصب درلودل دا معنی هم لري چې په دې باندې په مجموع کې انسان بې ځایه تفاخر وکړي، او دې عناصرو ته د تړاو له امله ځان له نورو اوچت وګڼي.

۳- دریم ډول یې دا دی، چې د دغو ټولو عناصرو د اختلاف په بنسټ د خلکو سره نفرت او کرکه وشي. دا درې واړه د تعصب شکلونه او بڼې دي، چې په عقلي او شرعي دواړو لحاظونو نادرست او ممنوع دي (۹: ۶).

**د تعصب تاریخي شالید**

تعصب یوه ډېره پخوانۍ پدیده ده، او د انسان د پیدایښت سره سمه راپیدا شوې، د مفسرینو او علماء کرامو په نظر د عصبیت لومړنی بنسټ ایښودونکی شیطان دی، شیطان د خپل عنصري تعصب په اساس ځان تر نورو مخلوقاتو لوړ باله، شیطان به ویل چې زه ادم علیه السلام ته سجده نه کوم ځکه زه له ده نه په اصل عنصر کې افضل یم، هغه دا چې زه له اور نه پیدا یم او ادم علیه السلام له خاورو جوړ شوی دی او اور په خاورو غوره دی.

په دې ډول شیطان د عنصري تعصب د بدمرغې پدیدې بسنټ کېښود هغه دا چې څوک د اصل او نسب، یا قوم او نژاد په اعتبار ځان تر نورو غوره بولي همدا تعصب او یو ستر ناروا عمل دی.

د قوم، ژبې، نژاد او رنګ په اساس تعصب د قران کریم له نزول نه وړاندې په عربي قبائلو کې هم ډیر زیات و، دوی به د قبیلوي او قومي تعصب په اساس له یوه بل سره جګړې او دښمنۍ کولې له خپلو خپلوانو، کورنیو او قبیلو څخه په حق او باطل دواړو حالتونو کې دفاع کوله دا کار لوی زړورتوب او شجاعت ګڼل کیده، د خپل قوم مجرم او جنایت کار ته به یې د مجرم په نظر نه کتل بلکې د قومي خپلوی په اساس به له هر څه ورتیریدل، دوی به په یو بل باندې د قبیلوي تعصب په اساس ځانونه غوره بلل، د ځان د غوره بللو او فخر کولو لپاره به یې اشعار ویل او هرې مسئلې ته یې د قومي او نژادي تعصب له عینکو نظر کاوه خو کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په پیغمبرۍ مبعوث شو نو

د کفر ، شرک او جهالت د نورو رواجونو په څېر يې عصبيت هم يوه جاهلي او ناروا پديده وبلله او په کلکه يې وغندله، قران کريم په ښکاره مؤمنانو ته اعلان وکړ چې چې په تاسو کې هغه څوک غوره دي، چې له الله تعالی څخه ډېر ويرېږي او تقوادار وي الله عزوجل فرمايي{يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِن ذَكَرٍ وَأُنثَى وَجَعَلْنَاكُم شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكرَمَكُم عِندَ اللَّهِ أَتقَاكُم إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ} (الحجرات: ۱۳).

ژباړه: اې خلکو! موږ – تاسې ( ټول اصلا) له يوه سړي چې (آدم) او له يوې ښځې چې (حوا) ده پيدا کړي ياست او د دې لپاره مو قومونه او قبيلې وګرځولئ چې سره وپېژنئ ( کنه) د الله تعالي په وړاندې ستاسو ډېر عزتمن هغه څوک دی چې ډېر تقوا لرونکی وي، بې له شکه الله تعالی ښه پوه او باخبر دی (۱۲۱۴:۱۱).

دغه راز رسول الله صلی الله عليه وسلم اعلان وکړ چې : يَا أَيُّهَا النَّاسُ أَلَا إِنَّ رَبَّكُم وَاحِدٌ وَإِنَّ أَبَاكُم وَاحِدٌ ، أَلَا لَا فَضلَ لِعَرَبِيٍّ عَلَى أَعجَمِيٍّ وَلَا لِعَجَمِيٍّ عَلَى عَرَبِيٍّ وَلَا لِأَحمَرَ عَلَى أَسوَدَ وَلَا أَسوَدَ عَلَى أَحمَرَ إِلَّا بِالتَّقوَى (۲: ۴۷۴).

ژباړه: اې خلکو! خبر اوسئ! په يقين سره ستاسو رب يو دی او په يقين سره ستاسو پلار هم يو دی( يعني ټول د يوه پلار آدم عليه السلام زامن ياست) خبر اوسئ چې هيڅ عرب په عجم او نه عجم په عرب بهتري لري اونه سور په تور او نه تور په سور فضيلت لري مګر په تقوی سره (يعني د بهترۍ معيار قوم او رنګ نه دی بلکې تقوی ده.

د قران او نبي کريم صلی الله عليه وسلم دې زرينو هداياتو ته د اسلام لومړنيو معتقدينو يا صحابه کرامو لبيک ووايه، هغوی د قومي، قبيلوي يا نژادي تعصب فکر له خپل زړه او دماغ نه په داسې ډول وېوست چې بيا ورته خپل او پردي يوازې د تقوی په اعتبار فرق درلود. د رسول الله صلی الله عليه وسلم د اصحابو په ټولنه کې تعصب ځای نه درلود، په هغه ټولنه کې ابوصهيب رومي، بلال حبشي، سلمان فارسي رضی الله عنهم او نور د بيلابيلو قومونو او نژادونو سره تړليو اصحابو د مدني او مکي صحابه کرامو سره د ورونړو په شان ژوند کاوه او هيڅ د پرديتوب احساس يې نه کاوه.

مګر په نوي عصر کې چې د قوم پرستي، وطن پرستي او د داسې نورو تعصباتو په بنسټ په اسلامي نړۍ کې کوم نظريات، ګوندونه، حزبونه او فلسفې رامنځ ته شوې دي دا په حقيقت کې يا خو د يهودانو لخوا ايجاد شوې پلمې وې، چې په ترکيه کې يې د ترکي قوميت نعره اوچته کړه او په عربي نړۍ کې يې د عربي قوميت چيغه ووهله او په نتيجه کې يې اسلامي خلافت له منځه يووړ، او يا هم د نورو ټولو انحرافي افکارو په څېر د اروپا څخه دلته را منتقل شوي دي، او دا ځکه چې د منځنيو پېړيو په اروپا کې د خلکو ترمنځ د اړيکو بنسټ دين و او کله چې د کليسا پر ضد خلک راپاڅېدل او د کليسا مرجعيت يې له منځه يوړ، نو د ژوند د نورو اړخونو په څېر په سياسي او اجتماعي اړخ کې هم خلک د نوو بنسټونو او مرجعيتونو په لټه کې شول چې د همدې په نتيجه کې قوم پرستي په فلسفي توګه يو له هغو بنسټونو څخه وګرځېده، چې سياسي او اجتماعي نظريات پرې بناء شي.

خو بيا هم ددی خلکو ترمنځ اختلاف موجود و، چې قومونه له څه نه تشکيلېږي، يو شمېر خلکو ويل، چې د ژبې اشتراک د قوم د تشکيل بنسټ دی، نورو بيا رنګ او نسب د دې بنسټ وګاڼه، يو شمېر نور

بیا په دې نظر دي چې په یوه جغرافیایي محدوده کې اوسېدل، ګډ عادتونه او عنعنات درلودل د قوم د تشکیل اساس ګرځي (۹: ۷).

**د تعصب حرام والی د اسلامي شریعت له نظره**

تعصب په اتفاق د علماو حرام دی، ځکه د مسلمانانو ترمنځ د بغض، کینې او دښمنۍ لامل ګرځي، حال دا چې بې شمېره شرعي نصوص، آیتونه او احادیث د مسلمانانو ترمنځ د ورورولۍ، دوستۍ، مینې او محبت امر کوي، نو بناء تعصب د دې ټولولو نصوصو سره په ټکر کې واقع یو عمل دی، الله تعالی فرمایي: { إِنَّمَا الْمُؤمِنُونَ إِخوَةٌ } ( الحجرات: ۱۰).

ژباړه: بیشکه چې مؤمنان ټول په دین کې سره وروڼه دي (۱۱: ۱۲۱۰).

همدا رنګه د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی رسول الله (صلی الله علیه وسلم ) فرمایلي دي : المُسلِمُ أَخُو المُسلِمِ لَا يَظلِمُهُ وَلَا يُسلِمُهُ ..(۶: ۱۲۸).

ژباړه: مسلمان د مسلمان ورور دی نه پرې خپله ظلم کوي، او نه یې د بل چا ظلم کولو ته بې مرستې پرېږدي.

په دې مفهوم ډېر زیات نصوص راغلي دي، نو بناء متعصب انسان د دې ټولو نصوصو په مخالفتکې واقع کېږي.

۲ -تعصب د جاهلیت یوه برخه او یوه نښه ده، په هر چا کې چې په هره اندازه تعصب موجود وي هغه همدومره په جاهلیت کې ډوب او غرق دی، د جبیر بن مطعم نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: لَيسَ مِنَّا مَن دَعَا إِلَى عَصَبِيَّةٍ وَلَيسَ مِنَّا مَن قَاتَلَ عَلَى عَصَبِيَّةٍ وَلَيسَ مِنَّا مَن مَاتَ عَلَى عَصَبِيَّة (۵: ۷۵۳).

» هغه څوک له موږ څخه نه دی څوک چې تعصب ته خلک رابولي، او هغه څوک له موږ څخه نه دی چې د تعصب په بنسټ جنګ کوي، او هغه څوک چې په تعصب باندې مري، له موږ څخه نه دی.

همدا راز د ابو هریرة رضی الله څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: مَن قَاتَلَ تَحتَ رَايَةٍ عُمِّيَّةٍ، يَدعُو إِلَى عَصَبِيَّةٍ، أَو يَغضَبُ لِعَصَبِيَّةٍ، فَقِتلَتُهُ جَاهِلِيَّةٌ (۳: ۸۲).

ژباړه: چا چې د ړانده بیرغ لاندې جنګ وکړ چې تعصب ته خلک رابولي، یا د عصبیت له امله په غوسه شي نو د هغه جګړه د جاهلیت جګړه ده.

په بل حدیث کې جندب بن عبد الله البجلي د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې هغه فرمایلي دي: مَن قُتِلَ تَحتَ رَايَةٍ عِمِّيَّةٍ، يَدعُو عَصَبِيَّةً، أَو يَنصُرُ عَصَبِيَّةً، فَقِتلَةٌ جَاهِلِيَّةٌ (۱۴: ۱۴۷۸).

ژباړه: څوک چې د ړانده بیرغ لاندې ووژل شو، چې تعصب ته بلنه کوي او د تعصب په بنسټ باندې مرسته کوي نو مرګ یې د جاهلیت مرګ دی.

رسول الله صلی الله علیه د تعصب چغه او نعره په داسې صفت یاده کړې چې له ورایه ترې باید د انسان کرکه وشي، فرمایلي یې دي: (دا پرېږدئ ځکه چې دا یوه ناولې او بدبوداره خبره ده) یعنې په دې کې چې انسان هر څومره ګوتې وهي هغومره د هغې خباثتونه او ګندګي رابرسېره کېږي.

حضرت جابر بن عبد الله رضي الله عنهما فرمايي: (كُنَّا فِي غَزَاةٍ فَكَسَعَ رَجُلٌ مِن المُهَاجِرِينَ رَجُلًا مِن الأَنصَارِ فَقَالَ الأَنصَارِيُّ يَا لَلأَنصَارِ وَقَالَ المُهَاجِرِيُّ يَا لَلمُهَاجِرِينَ فَسَمَّعَهَا اللَّهُ رَسُولَهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا هَذَا فَقَالُوا كَسَعَ رَجُلٌ مِن المُهَاجِرِينَ رَجُلًا مِن الأَنصَارِ فَقَالَ الأَنصَارِيُّ يَا لَلأَنصَارِ وَقَالَ المُهَاجِرِيُّ يَا لَلمُهَاجِرِينَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ دَعُوهَا فَإِنَّهَا مُنتِنَةٌ) (۷: ۱۵۴).

ژباړه: موږ په یوه غزا کې ؤ، د مهاجرینو له ډلې څخه یو سړي د انصارو یو سړی له شا نه په لغته وواهه، نو انصاري چغه کړه: اې انصارو (راټول شئ) او مهاجر چغه کړه: اې مهاجرو (راټول شئ) الله تعالی خپل رسول صلی الله علیه وسلم ته دا چغې ور واورولې، نو پوښتنه یې وکړه، چې دا څه دي؟ نو صحابو ورته وویل: له مهاجرو څخه یو سړي د انصارو یو سړی په لغته وواهه، نو انصاري انصارو ته غږ کړ، او مهاجر مهاجرینو ته غږ کړ، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: (دا پرېږدئ، دا ناولې او بدبوی لرونکې نعره ده) د مهاجرینو او انصارو القاب څومره ښکلي او د عزت القاب ؤ، مګر کله چې د تعصب لپاره استعمال شول رسول الله صلی الله علیه وسلم پرې څومره خفه شو او په څه یې وستایل.!

د تعصب له امله د اسلام یو بنسټیز قانون له منځه ځي، هغه قانون چې په قرآن کریم کې الله تعالی مسلمانانو ته د هغه حکم کړی دی، الله تعالی فرمايي:{وَتَعَاوَنُوا عَلَى البِرِّ وَالتَّقوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الإِثمِ وَالعُدوَانِ} (المائدة: ۲).

ژباړه: تاسې یو تر بله مرسته او مدد کوئ په نیک کار او تقوی کې او مه کوئ تاسې مرستې او مدد یو تر بله پر ګناه او تېري کې (۱۰: ۵۸۷).

دا د اسلام قانون دی، چې باید مسلمان پرې ملتزم وي، د چا سره د مسلمان تأیید او مرسته هېڅ کله هم باید په دې اساس ولاړه نه وي چې هغه یې د قوم، قبیلې او کورنۍ او سیمې او وطن سړی دی، بلکې باید دې ته وګوري چې هغه کار چې دی یې تأییدوي او په هغه کې ورسره منډه وهي، د نیکۍ او تقوی کار دی که نه؟ په دې اړه عبد الرحمن بن عبد الله رضی الله عنهما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: مَن أَعَانَ قَومَهُ عَلَى ظُلمٍ فَهُوَ كَالبَعِيرِ المُتَرَدِّي فَهُوَ يَنزِعُ بِذَنَبِهِ (۱۳: ۳۱۷).

ژباړه: څوک چې د خپل قوم سره په ظلم کولو کې مرسته کوي هغه په ژور ځای کې د لویدلي اوښ په څېر دی چې د لکۍ په وسیله یې د راویستلو کوښښ کېږي.

۷ -په خپل قوم، قبیلې، نسب ... فخر کول او له دې امله نورو ته په سپکه سترګه کتل او ځان افضل او بهتر ګڼل په حقیقت کې د اسلام د هغه اساسي او بنسټیز قانون سره په ټکر کې دی، چې د قرآن کریم په دې آیت کې راغلی دی{يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقنَاكُم مِن ذَكَرٍ وَأُنثَى وَجَعَلنَاكُم شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكرَمَكُم عِندَ اللَّهِ أَتقَاكُم إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ} (الحجرات: ۱۳).

ژباړه: ای خلکو! موږ تاسې ( ټول اصلا) له یوه سړي چې (آدم) او له یوی ښځې چې (حوا) ده پیدا کړي یاست او د دې لپاره مو قومونه او قبیلې وګرځولئ چې سره وپېژنئ ( کنه) د الله تعالي په وړاندې ستاسو ډېر عزتمن هغه څوک دی چې ډېر تقوا لرونکی وي، بې له شکه الله تعالی ښه پوه او باخبر دی (۱۱: ۱۲۱۴).

همدا خبره په ګڼ شمېر احادیثو کې داسې راغلې ده رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپل وروستي

حج حجة الوداع کې وفرمایل: يَا أَيُّهَا النَّاسُ، أَلَا إِنَّ رَبَّكُم وَاحِدٌ، وَإِنَّ أَبَاكُم وَاحِدٌ، أَلَا لَا فَضلَ لِعَرَبِيٍّ عَلَى عَجَمِيٍّ، وَلَا لِعَجَمِيٍّ عَلَى عَرَبِيٍّ، وَلَا أَحمَرَ عَلَى أَسوَدَ، وَلَا أَسوَدَ عَلَى أَحمَرَ، إِلَّا بِالتَّقوَى أَبَلَّغتُ (۲: ۴۷۴).

ژباړه: ای خلکو! ستاسې رب يو دی، ستاسې پلار (حضرت آدم) يو دی، په دې پوه شئ، چې عرب په غیرعربو فضیلت نه لري او نه عجم په عربو، همدا راز سور په تور فضیلت نه لري او نه تور په سور، مګر د تقوی په بنسټ او اساس، آیا ما دا خبره تاسې ته در ورسوله؟

دا خبره يې په هغې خطبه کې وکړه چې د ډېرو مهمو قضایاو لپاره يې ځانګړې کړې وه، له دې څخه دا معلومیږي چې دا د اسلام يو ډېر بنسټیز اصل دی چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په وروستیو وصیتونو کې شامل و، نو بناء د اسلام له نظره فضیلت په دې کې نه دی چې انسان يو ځانګړي قوم، قبیلې، هېواد، سیمې، نسل او ...سره اړیکې ولري، بلکې د فضیلت معیار تقوی او د الله تعالی څخه وېرېدل او ښه کردار دی، که څوک د فضیلت معیار دا ونه ګڼي او د تعصب په بنسټ نور څه د فضیلت او برترئ معیار وبولي د هغه دا کړنه د شرعي نصوصو سره په ټکر کې ده.

د مسلمانانو ورور ولي په دې یوه کلیمه «لا اله الا الله محمد رسول الله» سره ده، د دې کلیمې پیروان ټول سره ورونه دي.

تعصب کول له قبیلې،قوم،ژبې،نژاد اوداسې نورو سره) دجاهلیت د زمانې راپاتې میراث دی، چې تل بشریت ګواښوي اوآرامې ټولنې ړنګوي، له همدې امله پیغمبرصلی الله علیه وسلم په کلکو الفاظو سره ناروا اوحرامه پدیده ګڼلې ده، نو په هرمسلمان باندې لازمه ده، چې دایمان له غوښتنې سره سم دجاهلیت ناولې پدیدې سره په هرشکل چې وي مبارزه وکړي.

**رسول الله د تعصب نظریه څنګه وځپله؟**

که په سیرة النبي باندې ځغلنده کتنه وکړو؛ نو مونږ ته به دا واضحه شي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د جاهلیت تعصب د ختمولو او اسلامي اخوت د ترویج لپاره داسې اساسي اقدامات وکړل چې تاریخ يې مثال نلري.

لکه:

۱ -د مهاجرینو او انصارو تر منځ د مواخات رامنځته کول او د ورورګلوئ فضاء جوړول.

۲ -حضرت بلال رضی الله عنه چې، یو غیر عرب و مؤذن جوړول.

۳ -حضرت سلمان فارسي، صهیب الرومي او نورو عجمو صحابه کرامو ته پرته له تبعیض او توپیر څخه په لوړ منزلت قائل کیدل.

۴ -د عربو د بیلابیلو قبیلو تر منځ پخوانۍ دښمنۍ ختمول، هغوی ته قومي او قبیلوي عصبیت د یوه جاهلانه مرض په حیث معرفي کول او هغوی ترې منع کول.

۵ -د هر قوم، رنګ، ژبې او سیمې سره د تړلیو صحابه کرامو سره يو شان چلند کول او د تبعیض فتنه محو کول (۱۲: ۵).

**په تعصب باندې د اخته کېدو لاملونه**

نو پوښتنه دا ده، چې کله تعصب داسې یو مرض دی؛ نو خلک ولې په دې مرض اخته کیږي؟ په دېره لنډه توګه ویلی شو، چې په تعصب د اخته کېدو لاملونه او اسباب په لاندې ډول دي:

**لومړی: غلط فهمي او غرور**

د خپل ځان، خپل قوم، خپل وطن ... په باره کې په غرور کې اخته کیدل، خپل ځان، خپله کورنۍ، خپل قوم، ... ورته ډېر پیاوړی او ستر معلومیدل، چې په همدې غرور او غلط فهمۍ کې فرعون هم د ځان په اړه اخته و، هغه به ویل:{قَالَ فِرعَونُ مَا أُرِيكُم إِلَّا مَا أَرَى وَمَا أَهدِيكُم إِلَّا سَبِيلَ الرَّشَادِ}[غافر: ۲۹].

ژباړه: فرعون وویل: چې زه تاسې ته نه ښایم مګر هم هغه (مصلحت) چې زه وینم (د موسی په وژلو کې) او زه تاسې ته نه ښایم (ای قبطیانو) مګر د نیکۍ لاره (۱۱: ۹۵۶).

دا وینا د دې ښکارندویه ده، چې فرعون په څومره لوی غرور کې اخته وو، کله هم، چې انسان د دې غرور څخه راووزي نو بیا د تعصب له مرض څخه نجات موندلی شي، او که دا غرور او غلط فهمي لیرې نه شي؛ نو د عمر تر پایه پورې دا مرض د انسان په زړه کې پاتې کیږي.

**دویم: تنګ نظري او د خپل ځان په محور راڅرخیدل**

داسې ډېر خلک شته، چې ډېر تنګ نظره دي، او د هیچا سره تعامل نه کوي، او نه له چا سره راشه درشه لري او نه له نورو سره د اړیکو ساتلو فرصتونه ورته برابروي، داسې خلک هم په تعصب اخته کېږي، ځکه چې د نورو خلکو سره د تعامل په نتیجه کې د نظر پراخي پیدا کیږي، د خلکو ښه او مثبت صفات د انسان مخې ته راځي، چې هغه تعصب له منځه وړي، او د نورو خلکو سره مقاطعه او راشه درشه او راکړه ورکړه نه درلودل په انسانانو کې تنګ نظري او د همیش لپاره په خپل محور د راڅرخیدو ناوړه صفات پیدا کوي چې دا بیا په تعصب تمامیږي.

**دریم: ناسم ټولنیز چاپیریال**

همدا راز هغه ناسم ټولنیز چاپیریال، چې انسان پکې ژوند کوي، او هغه پکې رالویږي هغه په انسان کې د تعصب د راپیدا کیدلو لامل ګرځي، که څوک په داسې کورنۍ، دوستانو، یا داسې ټولنیز محیط او چاپیریال کې ژوند کوي چې هلته د نورو پر ضد نفرت او کرکه وي، نورو ته په سپکه کتل کیږي، او بد رد ورپسې ویل کیږي ، د هغو د ښو صفاتو د یادولو پرځای په منفي اړخونو تر کیز کیږي ، بلکې مثبت اړخونه یې هم په منفي توګه وړاندې کیږي، دا ډول چاپیریال د انسان په زړه کې د تعصب، او د خپل ځان په اړه پر نورو د ځان لوړ ګڼلو جذبه او له نورو څخه د نفرت او د تحقیر احساسات راپیدا کیږي، همدا راز که چیرته څوک داسې سیاسي، قومي، مذهبي او فکري مشران ولري، چې د خپلو ګټو د لاسته راوړلو لپاره د خپلو خلکو په ذهنونو کې د نورو پر ضد د نفرت احساسات پیدا کوي دا د تعصب د راولاړیدو یو بل لوی لامل دی.

**څلورم: ناپوهي او د نورو په اړه د معلوماتو کمی**

د تعصب یو بل لوی لامل د خپل ځان په اړه ناپوهي او د نورو په اړه د معلوماتو کمی او یا بیخي معلومات نه درلودل دي، ځکه د بل چا په اړه د انسان په ذهن کې نفرت هغه وخت ځای نیسي، چې

هغه ورته د منفي صفاتو یوه مجموعه ښکاره شي، او دا خو معلومه خبره ده، چې د یو قوم ټول خلک، او د یوې سیمې او وطن ټول اوسیدونکي او د یوې ژبې ټول ویونکي په یو ډول د ټولو منفي صفاتو درلودونکي نشي کیدلی ، همدا راز دغه انسان چې په چا فخر کوي ناممکنه ده، چې هغوی دې ټول د یو ډول او په یوه سویه د ښو صفاتو لرونکي شي، نو بناء دا څرګنده خبره ده چې دغه انسان په جهل، ناپوهۍ، د معلوماتو په کمي او یا هم نشتوالي کې واقع دی.

**پنځم: له نورو خلکو سره د تعامل د اخلاقیاتو څخه بې خبري**

یو بل څه چې د تعصب لامل ګرځي هغه له خپلو مخالفینو سره د تعامل د درستو اصولو او اخلاقیاتو څخه بې خبري او یا نه مراعاتول دي، په دې معنا چې ټول انسانان خو په یو څېر نشي کېدلی، د هغوی ترمنځ به د قوم، سیمې، وطن، ژبې، مذهب، رایې، فکر ... په بنسټ توپیرونه موجود وي، همدا راز ټول انسانان په ټولو اړخونو کې مختلف هم نه وي بلکې ډېر ګډ صفتونه هم لري، نو همېشه اختلاف د دښمنۍ او نفرت بنسټ ګرځول هم درست نه دي، او نه توافق د همېش لپاره د تأیید اساس جوړول پکار دي، بلکې دلته داسې څه اصول او ضوابط پکار دي، چې هغه د خلکو ترمنځ د اختلاف او اتفاق دواړه اړیکې منظمې کړي، هغه اصول دا کېدلی شي:

الف- انسانان دې ته اړتیا لري چې – د ټولو اختلافاتو سره – ګډ ژوند ولري ، که مطلق اختلاف د خلکو د ګډ ژوند مانع وګرځول شي نو بیا هېڅ انسان له بل سره د ګډ ژوند امکانات نه لري، ځکه یو نه یو ډول اختلاف موجود دی، نو اختلاف باید د خپل منځي سولییز او ګډ ژوند مانع ونه ګرځي، او اختلاف تحمل کړی شي.

ب . عدل او انصاف: په دی معنا چې هر هغه څوک چې له تا سره په یو څه کې مختلف وي د کرکې او نفرت مستحق نه دی، بلکې هغه سره باید د عدل او انصاف فیصله وشي، که د هغه کوم کار د ستایلو وړ وي باید وستایل شي، که کوم کار یی د محکومولو وړ وي باید محکوم کړل شي، او کوم کار یې چې د نفرت وړ وي له هغه څخه نفرت وکړل شي، او دا تعامل باید یوازې د هغه چا سره نه وي چې په قوم، ژبه، هېواد، سیمه، مذهب، حزب، تنظیم، رایې او فکر کې ورسره اختلاف ولري، بلکې د هغه چا سره هم وي چې په دغو ټولو کې ورسره ګډ او شریک وي.

ج . هر څه د حق په تله وتلل شي، په دی معنا چې دا ونه کتل شي چې دا عمل د چا دی، بلکې دا وکتل شي چې له حق سره څومره تړاو لري، که له حق څخه لیرې وي، نفرت ترې وشي او که حق وي او یا حق ته نږدې وي، تأیید یې وشي، همدا له نورو سره د تعامل اخلاقیات دي.

که چېرته څوک دا اخلاقیات مراعت کړي؛ نو تر ډېره حده د تعصب د مرض څخه ځان ژغورلی شي، مګر که دا اخلاقیات مراعت نه کړي؛ نو بیا د تعصب په مرض کې پرېوتلی شي.

**شپږم: د تعصب په باب د شرعي نصوصو څخه بې خبري**

همدا راز د مسلمان لپاره په تعصب کې د اخته کېدو یو بل بنسټیز لامل له شرعي احکامو څخه بې خبري ده، ځکه د یو سم او صحیح مسلمان په اړه غالب ګمان دا دی، چې هغه به د شریعت د احکامو پابند وي، او کله چې په یوه مسأله کې د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم حکم وګوري نو هغه تر پښو لاندې کولی نه شي؛ نو کله چې ته یو مسلمان وګورې، چې په تعصب کې اخته دی نو پوه

شه چې هغه له شرعي احکامو څخه خبر نه دی، ځکه که خبر وای؛ نو هېڅکله به په تعصب کې اخته نه وای (۹: ۷).

**د تعصب زيانونه**

۱ - الله تعالی پرې ناراضه کېږي.

۲ - تعصب د هر راز ترقۍ مخه نيسي او خپل منځي منازعات رامنځته کوي.

۳ - د نورو قومونو سپک ګڼل چې، سخت ناروا کار دی.

۴ - د متعصب شخص ملګري او دوستان کم وي.

۵ - متعصب هر وخت پرېشان او غمګين وي؛ ځکه د نورو خلکو په نعمت کې اوسيدل يې ځوروي او زړه خوري.

۶: تعصب ټولنيز جوړښت ماتوي، او د اختلاف خلا پراخه کوي، او د ستونزو اغيزمنو حل لارو ته د رسيدو امکانات کموي.

۷: تعصب متعصب انسان دروغ ويلو لپاره هڅوي، په دې توګه موږ سمې پرېکړې ته له رسېدو څخه بې برخې کوي او د افرادو او ټولنې د اړخونو په ارزونه کې مو تېروتنې ته مجبوروي.

۸: تعصب شخړې رامينځته کوي او اختلافات اوږدوي ، کوم چې د فشار او ګډوډۍ په ډيريدو کې مرسته کوي (۸: ۹).

**پايله**

تعصب يو داخلي احساس دی د دې لامل کېږي، چې يو څوک دومره سخت شي، چې تل ځان په حقه ګڼي او بل شخص په باطله (غلط) ګڼي، پرته له کوم دليل او ثبوت څخه او دا احساس د سختو کړنو او چلندونو له مخې ځرګندېږي چې په دې کې د بل سپکاوی او د هغه د حقونو او انسانيت نه پېژندل شامل دي، تعصب يوه ډېره پخوانۍ پديده ده، او د انسان د پيدايښت سره سمه راپيدا شوې، د مفسرينو او علماء کرامو په نظر د عصبيت لومړنۍ بنسټ ايښودونکی شيطان دی، شيطان د خپل عنصري تعصب په اساس ځان تر نورو مخلوقاتو لوړ باله، شيطان به ويل چې زه ادم عليه السلام ته سجده نه کوم ځکه زه له ده نه په اصل عنصر کې افضل يم، هغه دا چې زه له اور نه پيدا يم او ادم عليه السلام له خاورو جوړ شوی دی او اور په خاورو غوره دی. د قوم، ژبې، نژاد او رنګ په اساس تعصب د قران کريم له نزول نه وړاندې په عربي قبائلو کې هم ډېر زيات و، دوی به د قبيلوي او قومي تعصب په اساس له يوه بل سره جګړې او دښمنۍ کولې له خپلو خپلوانو، کورنيو او قبيلو څخه په حق او باطل دواړو حالتونو کې دفاع کوله او دا کار لوی زړورتوب او شجاعت ګڼل کيده.

تعصب په اتفاق د علماو حرام دی ځکه، چې د مسلمانانو ترمنځ د بغض، کينې او دښمنۍ لامل ګرځي، حال دا چې بې شمېره شرعي نصوص، آيتونه او احاديث د مسلمانانو ترمنځ د ورورولۍ، دوستۍ، مينې او محبت امر کوي، نو بناء تعصب د دې ټولولو نصوصو سره په ټکر کې واقع يو عمل دی.

که په سيرة النبي باندې ځغلنده کتنه وکړو؛ نو مونږ ته به دا واضحه شي، چې رسول الله صلی الله

علیه وسلم د جاهلیت تعصب د ختمولو او اسلامي اخوت د ترویج لپاره داسې اساسي اقدامات وکړل چې تاریخ یې مثال نلري لکه: د مهاجرینو او انصارو تر منځ د مواخات رامنځته کول او د وروړګلوۍ فضاء جوړول، د بلال رضی الله عنه چې، یو غیر عرب و مؤذن جوړول، د سلمان فارسي، صهیب الرومي او نورو عجمو صحابه کرامو ته پرته له تبعیض او توپیر څخه په لوړ منزلت قائل کیدل، د عربو د بیلابیلو قبیلو تر منځ پخوانۍ دښمنۍ ختمول، د هر قوم، رنګ، ژبې او سیمې سره د ټولو صحابه کرامو سره یو شان چلند کول او د تبعیض فتنه له منځه وړل.

په تعصب باندې د اخته کېدو لاملونه دا دي، غلط فهمي او غرور، تنګ نظري او د خپل ځان په محور راڅرخیدل.، ناسم ټولنیز چاپیریال، جهالت او نورو په اړه د معلوماتو کمی، له نورو خلکو سره د تعامل د اخلاقیاتو څخه بې خبري، د تعصب په باب د شرعي نصوصو څخه بې خبري ده.

د تعصب زیانونه دا دي، الله تعالی پرې ناراضه کیږي، د هر راز ترقۍ مخه نیسي او خپل منځي منازعات رامنځته کوي، د نورو قومونو سپک ګڼل ،چې دا کار سخت ناروا دی، د متعصب شخص ملګري او دوستان کم وي، متعصب هر وخت پریشان او غمګین وي؛ تعصب ټولنیز جوړښت ماتوي، او د اختلاف لمن پراخوي، او د ستونزو اغیزمنو حل لارو ته د رسیدو امکانات کموي، متعصب انسان دروغ ویلو لپاره هڅوي، په دې توګه موږ سمې پریکړې ته له رسیدو څخه بې برخې کوي، شخړې رامینځته کوي او اختلافات اوږدوي، کوم چې د فشار او ګډوډۍ په ډیریدو کې مرسته کوي.

**وړاندیزونه**

۱- دولت باید د قومي، سمتي، مذهبي او ژبني تعصبونو د مخنیوي لپاره یو کمیسون جوړ کړي تر څو خلکو ته عامه پوهاوی ورکړي او خلک له دغه تعصباتو څخه منع کړي.

۲- علماء کرام دې د خپلو خطبو او وعظونو په لړ کې وګړو ته د تعصب د حراموالي او زیانونو په اړه بیانونه وکړي؛ ترڅو وګړي د تعصباتو څخه ډډه وکړي.

۳- د پوهنتون استادانو او معلمینو ته مې وړاندیز دا دی، چې خپل شاګردان په ملي او د اتحاد روحیه باندې وروزي او د تعصباتو څخه مخنیوی وکړي.

۴- د ټولنې عام وګړو ته مې وړاندیز دا دی، چې د قومي، سمتي، مذهبي او ژبني تعصباتو څخه ډډه وکړي ترڅو یو واحد او متفق ملت او هیواد ولرو.

**اخځلیکونه**


۱: القرآن الکریم.

۲: ابن حنبل، أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد الشیباني. (۱٤۲۱ هـ). مسند الإمام أحمد بن حنبل.ج ۳۸. المحقق: شعیب الأرنؤوط - عادل مرشد، وآخرون، إشراف: د عبد الله بن عبد المحسن الترکي. الناشر: مؤسسة الرسالة، الطبعة: الأولی.

۳: ابن ماجه، محمد بن یزید أبو عبدالله القزویني. (ب . ت). سنن ابن ماجه. ج ۴. تحقیق : محمد فؤاد عبد الباقي. الناشر: دار الفکر – بیروت.

۴: ابن منظور، محمد بن مكرم بن على، أبو الفضل، جمال الدين ابن منظور الأنصاري الرويفعى الإفريقى. (١٤١٤ ه). لسان العرب. ج ١. الناشر: دار صادر – بيروت. الطبعة: الثالثة.

۵: ابوداود، سليمان بن الأشعث أبو داود السجستاني الأزدي. (ب . ت). سنن أبي داود. ج ۲. تحقيق : محمد محيي الدين عبد الحميد. الناشر : دار الفكر.

۶: البخاري، محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة البخاري، أبو عبد الله. (١٤٢٢ه). الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه. ج ۳. المحقق : محمد زهير بن ناصر الناصر. الناشر : دار طوق النجاة. الطبعة : الأولى.

۷: البخاري، محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة البخاري، أبو عبد الله. (١٤٢٢ه). الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه. ج ۶. المحقق : محمد زهير بن ناصر الناصر. الناشر : دار طوق النجاة. الطبعة : الأولى.

۸: التعصب : تعريفه وأنواعه وأضراره وحكمه - [PDF] عرب سايكلوجي: https://arabpsychology.com

۹: تعصبات د اسلام له نظره: دوکتور مصباح الله عبدالباقي: https://www.eslahonline.net

۱۰: د افغانستان د سترو علماو یوه ډله، (۱۴۱۴ هـ ق). کابلی تفسیر. ج ۱. نظر ثاني : مولانا سید عبید الله شاه، چاپ خانه: د حرمینو شریفینو د خادم پادشاه فهد د قرآن کریم د طباعت لپاره،(ب . ط).

(a) ۱۱: د افغانستان د سترو علماو یوه ډله، (۱۴۱۴ هـ ق). کابلی تفسیر. ج ۲. نظر ثاني : مولانا سید عبید الله شاه، چاپ خانه: د حرمینو شریفینو د خادم پادشاه فهد د قرآن کریم د طباعت لپاره،(ب . ط).

۱۲: د قوم پرستۍ او تعصب حرمت د قرآن او آحادیثو په رڼا کې لطف الله یوسفزی: ! https://www.nunn.asia

۱۳: الشاشي، أبو سعيد الهيثم بن كليب بن سريج بن معقل الشاشي البِنْكَثي. (١٤١٠ه). المسند للشاشي. ج ١. المحقق: د. محفوظ الرحمن زين الله. الناشر: مكتبة العلوم والحكم - المدينة المنورة. الطبعة: الأولى.

۱۴: القشيري، مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري النيسابوري. (ب - ت). المسند الصحيح المختصر بنقل العدل عن العدل إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم. ج ۳. المحقق: محمد فؤاد عبد الباقي. الناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت.

# په اسلامی شریعت کې د مهر پېژندنه

لیکونکی: پوهنمل نصرت الله جلالي
شیخ زاید پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي د فقې او قانون څانګې استاد
تقریظ ورکونکی: پوهندوی سید کمال شاه بنوري، شیخ زاید پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي د فقه او قانون څانګې استاد

**لنډیز**

دا څېړنیز اثر چې (د مهر پېژندنه په اسلامی شریعت کې) ترعنوان لاندې په کتابتوني مېتود ترسره شوي دي چې مهر پوري اړیکه لري او پدي سره د اخته خلکو اړتیا او لیوالتیا ته په پام خورا ارزښتناکه، مهمه، او فقهي څېړنه ده چې څېړونکو او مینه والو ته ډېره په زړه پورې موضوع ده په دې څېړنه کې د مهر اړوند مواد د موضوع تسلسل په پام کې نیولو سره په لاندې توګه تر څېړنې لاندې نیول شوې: په اسلامي شریعت کې د مهر لغوي او اصطلاحي پېژندنه ځکه کله چې یوه موضوع ونه پېژندل شي بیا د هغې په مفهوم اومطلب څوک نه پوهېږي، همدا رنګه د مهر ثبوت او اندازه د قران کریم او احادیثو څخه مې ذکر کړې چې نیم مهر کله لازمیږی او پوره مهر کله لازمیږی او کله داسې هم کېږی چې د منکوحې لپاره وروسته د طلاق څخه هیڅ مهر نه وی .

**کلیدي ټکي:** مهر لغوی پیژندنه، اصطلاحی پېژندنه، د مهر مشروعیت ، د مهر ډولونه پیژندنه

**سریزه**

إن الحمد لله نحمده، ونستعينه، ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

امابعد قال تعالي ( وَآتُوا النِّسَاءَ صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً فَإِنْ طِبْنَ لَكُمْ عَنْ شَيْءٍ مِنْهُ نَفْسًا فَكُلُوهُ هَنِيئًا مَرِيئًا) سورة النساء اية ٤

عن سهل بن سعد، قال: جاءت امرأة إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم فقالت: إني وهبت من نفسي، فقامت طويلا، فقال رجل: زوجنيها إن لم تكن لك بها حاجة، فقال صلى الله عليه وسلم: "هل عندك من شيء تصدقها"؟ قال: ما عندي إلا إزاري فقال: "إن أعطيتها إياه جلست لا إزار لك فالتمس شيئا"، فقال: ما أجد شيئا، فقال: "التمس ولو كان خاتما من حديد" فلم يجد، فقال: "أمعك من القرآن شيء"؟ قال: نعم سورة كذا وسورة كذا لسور سماها، فقال: "زوجناكها بما معك من القرآن.(۴۱۴:۱۸)

. زما د مقالی موضوع ده ( د مهر پېژندنه په اسلامی شریعت کې ) یقینا چې ډیره مهمه موضوع

ده او ماته هم په دې موضوع کې معلومات حاصل شو په مختلفو مسائلو باندې چې د مهر سره تړاو لري لکه مهرمسمی ، مهرمثل ، مهرمعجل ، مهرمؤجل او نور هغه موضوعات چې د د مهر سره تړاو لري دا په اسلامی شریعت کې ثابته خبره ده چې مهر د ښځې حق دی او په خاوند باندې لازمه ده چې دا خپلې ښځې ته ورکړی ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو ته وویل چې تاسو ښځو ته مهر ورکړی اګرکه د اسپنې یوه ګوته هم وي او دادلیل دی په اهمیت د مهر باندې چې خاوند به یی ښځې ته ورکوي لیکن که ښځه په خوشحالۍ او په رضامندۍ سره مهر خاوند ته وبښی بیا په خاوند باندې مهر ورکول لازم نه دی ( والله اعلم )

د څېړنې موخې

لوستونکي به په دې وتوانېږي چې:

أ. د مهر لغوي اواصطلاحي څېړنه باندې پوه شي

ب. په اسلامي شریعت د مهر په اندازه باندې پوه شي.

ج. د مهر دورکولو ډولونه و پېژندنه

**د کار توکي او د څېړنې تګلاره**

ما د خپل تحقیق په بهیر کې دا تګلاره غوره کړې ده، چې د هرې موضوع د څېړنې په موخه مې د الله تعالي کتاب قرآن کریم ته مراجعه کړې ده، یعنې هڅه مې کړې چې لومړیی په قرآن کریم کې پیدا کړمه وریسې مې نبوي سنتو ته مراجعه کړې، همدا راز د څیړنې په بهیر کې مې د قرآن کریم او نبوي سنتو کې د پلټنې وروسته د فقهې مستندو او معتمدو کتابونو ته مراجعه کړې ده یعنې د لیکنې کړنلاره مې کتابخانه یي تحقیق دی دا چې مقاله په پښتو ژبه ده؛ نو د پښتو ژبې ټول معیارونه مې په نظر کې نیولي دي.

**د مهر لغوی او اصطلاحی پېژندنه**

مهر په ډیرو نومونو سره نومول شوی دی چې څه یی په لاندې ډول تر بحث لاندې نیسو

١-المَهْرُ ٢- النِّحْلَة ٣ - الفَرِيضة٤ - والأجر ٥ - العليقة٦ - العقر

مهرپه لغة کې عطیه اوبخشش ته وایی : المهر صداق المرأة

ژباړه: مهرد ښځې ورکړه دی

او ددې جمع مهورة دی لکه بعل اوبعولة او فحل وفحولة لکه څرنګه چې ویل کېږی ( ومهرت المرأة مهرا ای أعطيتها المهر )

ژباړه : ورمې کړه هغې ښځې ته مهر په طریقی د بخشش سره .(۱۵۸۲:۴)

او همدارنګه مهرپه قران کریم کې په مختلفو نومونو سره راغلی په معنی د (الصداق ) ۲ په معنی د (النحلة )دلیل دادی لکه څرنګه الله تعالی فرمایی ({وآتوا النساء صدقاتهن نحلة} (النساء: الآیة 4) ژباړه ورکړی زنانه ته مهرونه د هغوی په طریقه د بخشش سره ۳ په معنی د (اجرت) سره لکه څرنګه الله تعالی فرمایی ({وآتوهن أجورهن} (النساء: الآیة 25)

ژباړه : ورکړی دې ښځو ته مهرونه ددوی ۴په معنی د فرض سره {وقد فرضتم لهن فريضة} )البقرة( 237)

ژباړه اوتاسو مقررکړی دوی ته مهر ۵ په معنی د مهرسره لکه څرنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم -: «فإن لمسها فلها المهر بما استحل»

ژباړه : که لاس یی ولګول نو دې ښځی لپاره به مهروی ۶ په معنی د (العليقة) «أدوا العلائق "، قيل: يا رسول الله - صلی الله عليه وسلم - وما العلائق؟ قال: " ما تراضى الأهلون»

ژباړه : ورکړی (العلائق ) مهر لره وویل شو ای دالله تعالی رسوله علائق څه ته وایی رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل هغه شی دی چه راضی وی ورباندی ستاسوکورنې.(۱۳۰:۱۴)

۶ مهر په معنی د (عقر) سره هم راځي لکه څرنګه چې عمر رضی الله عنه فرمایی

( عَن ابْن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْه أنه قَالَ: « (فلهَا) عقر نسائها» وَهَذَا الْأَثر ذكره الرَّافِعِيّ دَلِيلا عَلَى أَن الْعقر اسْم من أَسمَاء الصَدَاق .(٦٨٧:١٨)

ژباړه : د ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی دایی وایی چې هغی ښځی لپاره به مهر وی او دا اثر الرافعی رحمه الله ذکرکړی چې دلیل دی په دې خبر باندې چې ( العقر ) د مهر نو دی

**د مهر اصطلاحی پېژندنه**

(المهرهو المال الذي تستحقه الزوجة على زوجها بالعقد عليها أو بالدخول بها.) (٦٧٥٨:٦)

ژباړه : مهر هغه مال ته وایي دي ـ چې ښځه په خپل خاوند باندې حق لری په تړون سره او یا په (د خول ) کوروالی سره

او ځنی احناف د مهر تعریف داسی کوی

مهر عبارت دی د هغی مال څخه چی ښځه د هغی مستحق ګرځی په نکاح سره یا په (وطی) کوروالی سره

امام مالك وایی

مهر عبارت دی د هغې مال څخه چې ورکول کیږی ښځی ته په عوض د استمتاع ( فایده ) اخیستلو کې د ښځې څخه .(٦٧٥٨:٦)

**د مهر ډولونه**

مهر په عموم کې په دوه ډولونه ده یو مهرمسمی بل مهر غیرمسمی او همدارنګه دروکولو په اعتبار سره مهر بیا په دوه ډوله دی یو مهر مؤجل بل مهر معجل دریم تقسیم په اعتبار د اندازې سره دی چه هغه نصف مهر او پوره مهردی چې خاوند ټول مهرپه یوځل ورکوی او یا نمایی مهر مخکې دکوروالی څخه ورکوی اونمایی وروسته ورکوی اما مستحب داده چې مهر د مشکلاتو د ختمولو لپاره معین شی او همدا رنګه د مهر ورکول مخکې د (دخول) کوروالی څخه هم صحیح دی چې ښځه ورباندې ځانته د خپل د اړتیا شیان واخلی.(١٦:١٥)

او دلیل په دې خبره باندی درسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث دی کله چې علی رضی الله عنه غوښتنه وکړه ( سأل عليٌّ رضي الله عنه رسول الله صلى الله عليه وسلم أن يدخل بفاطمة قال له صلى الله عليه وسلم: "أعطها شيئًا" فقال: ما عندي من شيء، قال: "فأين درعك الحطمية؟ " قال عليٌّ: هي عندي، فقال صلى الله عليه وسلم: "فأعطها إياه.(١٣٠:١٩)

ژباړه : کله چې علی رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه غوښتنه وکړه چې

فاطمه رضی الله عنها خواته لاړشي نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل چې دېته څه شی ورکړه علی رضی الله عنه ورته وویل چه ماسره څه نشته رسول الله صلی الله علیه سلم ورته وویل ستا هغه حطیمیه زغره څه شوه هغې ورته وویل چې ماسره شته رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل هغه ورته ورکړه

بس دادلیل شو په دې خبره باندې چه (قبل الدخول) مخکې د کوروالی څخه مهرمستحب دی او همدارنګه تاجیل اوتاخیر وروستوالی په مهر کې هم روادی په اتفاق د عاقدینو سره کله چې خاوندغریب وی ځکه دا مهردین او قرض دی لکه نورو قرضونو په شان نوتاخیر پکې هم روادی اما په مهر کې تلوار مستحب دی.(۱٦۸:۱۵)

**درېیم مطلب : د مهر د وجوب دلیل د قران کریم څخه؛**

وَآتُوا النِّسَاءَ صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً فَإِنْ طِبْنَ لَكُمْ عَنْ شَيْءٍ مِنْهُ نَفْسًا فَكُلُوهُ هَنِيئًا مَرِيئًا( سورة النساء: ۴)

ژباړه: او ورکوئ ښځوته مهرونه ددوی په خوشحالی سره بیا که دوی تاسو ته له هغه مهر نه څه شی د زړه په خوشحالی سره درکړي نو هغه خوری ښه خوندور حلاله بی ضرره .(۲۳۳:۱۳)

دا ایت دلالت کوی په ثبوت د مهرد قران کریم څخه اوهمد ارنګه په تفسیر روائع البیان کې ددې په تفسیر کی داسی لیکل شوی دی ( هذه الآیات یأمر الرجال بإعطاء النساء مهورهن عن طیب نفس، عطّیة وهبة بسخاء، لا منّة فیها ولا استعلاء، فإذا طابت نفوسهن).(٤٤٢:٨)

ژباړه: په دې ایات کې الله تعالی امرکوی نارینه ته په ورکولو د مهر ښځو ته په خوشحالی سره په طریقه د بخشش او نه بوی په طریقه د احسان اچولو په ښځوباندی

ددې ایت څخه علاوه نوردېرایاتونه شته دي چه په هغې خاوندانوته امر شوی ده چې خپلو ښځوته مهر ورکړي

**دویم دلیل**

{وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ مِنْكُمْ طَوْلًا أَنْ يَنْكِحَ الْمُحْصَنَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ فَمِنْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ مِنْ فَتَيَاتِكُمُ الْمُؤْمِنَاتِ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِإِيمَانِكُمْ بَعْضُكُمْ مِنْ بَعْضٍ فَانْكِحُوهُنَّ بِإِذْنِ أَهْلِهِنَّ وَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ مُحْصَنَاتٍ غَيْرَ مُسَافِحَاتٍ وَلَا مُتَّخِذَاتِ أَخْدَانٍ} [النساء:25].

ژباړه: اوهغه څوک چه توان نه لری له تاسی له جهته د غناء ددې چه په نکاح واخلی اصیلی مؤمنی ښځی نو ( په نکاح دې واخلی ) له هغو ښځو چه مالکان شوی دي ( د هغو ) ښی لاسونه ستاسی له ( هغو) وینځو ستاسی چه مؤمنی وی او الله تعالی ته ښه معلوم دی ایمان ستاسی ځینی ستاسی له ځینو نورو یئ نو په نکاح واخلئ ( د بل چا) وینځی په اذن د خاوندانو د دوی او ور کړئ تاسی دوی ته مهرونه د دوی په په نیکه وجه سره دوی عفیفی ساتلی شوی له زنا چه نه وی زنا کوونکی په ښکاره او نه وی نیوونکی د پټو یارانو . (۱۳: ٤٥٥-٤٥٦)

**د مهر ثبوت په احادیثو سره**

**اول دلیل**

عَن أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ -: أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صلى الله عليه وسلم - أَعْتَقَ صَفِيَّةَ، وَجَعَلَ

عِتْقَهَا صَدَاقَهَا .(۱۳۰۰:۹)

ژباړه: انس رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم صفیة رضی الله عنها ازاده کړه او د هغې ازادول یې د هغې لپاره مهر وګرزوه

سره له دې چې ناروغ دا مهال له يادې طريقې څخه ګټه اخلي، انتي بيوتيک ته اړتيا نه لري؛ ځکه خپله دغه لارواګانې انتي بيوتيکAllantoin لري، چې د زخم پر مخ يې اچوي، اصل کې دا طريقه هغه مهال کاريږي، کله چې انتي بيوتيک و نه توانيږي، چې زخم کنترول او روغ کړي او يا په هغه صورت کې چې انساج مړه وي او انتي بيوتيک ورته نه رسيږي؛ نو بيا دا طريقه ګټوره او اړينه ګڼل کيږي بايد چې استفاده ترې و شي. ځکه کله چې د انتي بيوتيک رسېدلو ته اړتيا وي نو هلته بايد د وينې جريان شتون ولري او کله چې انساج مړه وي نو بيا هلته وينه جريان نه لري او چې وينه جريان و نه لري نو زخم ته انتي بيوتيک نه رسيږي.

په دې اساس انتي بيوتيک نه شي کولی، هغه کار ترسره کړي کوم چې لاروا يې ترسره کوي؛ نو ويلی شو چې لاروا له انتي بيوتيک څخه ګټوره او مترقي ده؛ ځکه چې هم د انتي بيوتيک کار ترسره کوي او هم د جراحی. له دې امله ماګوت په حيرانوونکې توګه سره خپل عمل ترسره کوي، سره له دې چې زيات ناروغان پر خپلو زخمونو د لاروا کېښودل نه خوښوي او دا ورته په زړه پورې نه وي[۱۲].

**د لاروا د عمل کولو مېکانېزم**

**د لاروا د عمل مېکانېزم په لاندې ډول دی:**

۱- د لاروا د خولې په لاړو کې د Allantion په نوم انتي بياتيک وجود لري چې پر باکترياوو پراخه تاثير لري.

۲- همدارنګه لاروا امونياک توليدوي کوم چې د مکروب وژنې لوړه ځانګړنه لري او همدارنګه د ټپ Ph د ۸،۵-۸ ته پورته کوي، په دې درجه کې باکترياوې له مشکل سره مخ کېږي چې وروسته د زخم د جوړېدو پروسه چټه کيږي.

۳- د لاروا د سر په برخه کې په زياته اندازه ويښتان وجود لري، د دې ويښتانو فزيکي برخورد د

میکروبونو د نابودئ اوخرابوالي سبب ګرځي.

۴- لارواوې انترلوکین ۶ ته ورته مواد هم ترشح کوي چه د زخم د جوړېدو د پروسې د چټکېدو او د فیبرو بلاستونو د رامنځته کېدو سبب هم کیږي.

۵- لارواوې د خپلو زیاتو او هرطرفه حرکاتو په واسطه زخم ته خفیف ماساژ ورکوي او په نتیجه کې زخم ته د زیاتې وینې بهېدنې سبب کیږي.

۶- د زخمونو داخل کې د لارواګانو فعالیت د زخم د وړوکوالي سبب کیږي دا په داسې حال کې چې د جراحي کړنو په واسطه د نیکروزی او مړو انساجو لرې کول د جراحي عملیاتو پواسطه د زخم د غټوالي سبب کیږي.



ځنګه چی لارواګانې زخمونو کې مړه انساج له منځه وړي، مقابل کې یې نوی او سالم انساج فعالوي. زخمونه له باکتریاوو پاکوي او پداسې حال کې چې سالمو او ژوندیو انساجو ته ضرر نه رسوي. دا لارواګانې نکروزي او عفوني شوي انساج خوري او وروسته خپله له زخمه بېرون ته خارجیږي. د لارواګانو په واسطه د زخمونو تداوي روش د مزمنو او عفوني شویو زخمونو د تداوي لپاره په دنیا کې کاریږي. په دې روش کې د حشراتو استریل شوې لاروا کله چې له تخمې خارج شي، وروسته زخمونو کې اچول کیږي ترڅو د زخم د مړو انساجو څخه تغذیه وکړي. کوم وخت کې چې لاروا د بلوغ مرحلې ته ورسیږي نور له زخم څخه تغذیه نه کوي، په دې وخت کې باید لاروا تبدیل کړل شي او نورې لاروا باید زخم کې واچول شي[۱۳، ۱۵، ۲].

**د لاروا په واسطه د درملنې دودیزې ګټې**

- ✓ په ماګوت تراپي کې د عفوني شویو انساجو لرې کولو او جراحي ته ضرورت نه شته.
- ✓ د دې کړنلارې د درملنې موده لنډه وي (۳ ورځې عفوني شویو زخمونو کې او۴ میاشتې د شکر عفوني شویو زخمونو).
- ✓ کلینیک کې بستر کولو ته اړتیا نه وي.
- ✓ د درملنې مصارف یې کم وي.
- ✓ د تداوي په جریان کې فقط اکسیجن ته ضرورت وي[۱۷].

**کلینیکي کارونه**

د مچانو له لاروا څخه د شکر مرض په واسطه منځته راغلي زخمونه، سوځېدلي زخمونه او د هغو تومورونو مختلفې نوعې چې درملنه او تداوي ونه لري، ورځنۍ استفاده کېږي. د لاروا په واسطه د زخمونو دتداوي روش ډېر ساده او ارزان دی، د انتي بیوتیکونوخلاف هېڅ نوعه عارضه منځته نه راوړي. د مچانو له لاروا استفاده کول د سینې د بدخیمو زخمونو، سوځېدنې، آبسی او د سینو د نیمه حاد التهاب لپاره ښه نتیجه ورکوي. کله چې د زخمونو تداوي لپاره درمل او جراحی کړنې نتیجه ورنه کړي، د مچانو د لاروا په واسطه د تداوي روش دی چې د زخمونو د تداوۍ لپاره استعمالیږي. همدارنګه د لاروا په واسطه هغه وخت کې چې د مریض صحت په خطر کې وي یا مریض د انتي بیوتیکونو په تحمل کولو قادر نه وي، ګټور او مفید دی. پداسې حال کې چې خوراکي انتي بیوتیک او بېګانه خوار حجرات ضرر لیدونکې منطقې ته ورسیږي، د وینې کافي اندازې ته ضرورت لري، لارواوې په خلاصو زخمونو کې تنها اکسیجن ته ضرورت لري ترڅو وکولی شي، مړه انساج له منځه یوسي او زخمونه له باکتریاوو څخه پاک کړي. همدارنګه لارواوې پر هغه باکتریاوو باندی چې د متی سیلین په مقابل کې مقاوم وي، ښه تاثیر لري لکه ستافیلوکوکوس. د دې روش په واسطه د هغو کسانو تداوي چې شکر مرض ولري، د زخمونو د تداوۍ لپاره یې له ۴-۱میاشتې او هغه مریضان چې شکر مرض ونه لري، له ۳- ۹ ورځو پورې یې تداوي وخت نیسي[۱۸، ۶].

**جانبي عوارض**

زیاتره مریضان د درملنې پر مهال خاص علایم نه لري، اما بعضې مریضان ممکن د خارش احساس ولري، دا خارش داسې وي لکه چې یو شی د پوستکي پر سطحه وخیږي.

کله چې لارواوې لویې شي د عصبی سیستم د تحریک په دلیل بعضې مریضان ممکن له درده شکایت وکړي، دوی کولی شي د درد ضد ساده تابلیتونو په واسطه دا مشکل برطرف کړي کوم چې په دویمه یا درېیمه ورځ زخم بوی لرونکی او ابکی کیږي. له دې نومړو ذکر شویو جانبي عوارضو څخه نور جانبي عوارض نه لري کوم چه دا عملیه له۷۲ ساعتونو څخه زیات طول نه کشکوی[۱۱].

**د کانسري تومورونو درملنې هیلې**

څنګه چې د مچانو لاروا نکروزی ګنده، عفونت شوي او خراب شوي انساج چې د چرک په قسم خارجیږي خوري او له منځه یې وړي. دا خبره موضعي ده چې له لاروا څخه د سرګانی تومورونو د علاج لپاره ترې استفاده وکړو یا نه دا مسله زیاتو تحقیقاتو او مطالعاتو ته ضرورت لري. په هر حال که چېرې تومورونه سطحي وي او وکولی شو چه لاروا د دې زخمونو په سطحه خوشی کړی شي باید دا تحقیق وشي. شاید د دې طریقې په واسطه سطحې تومورونه ممکن تداوي کړو. څنګه چې لاروا نکروزی شوي انساج خوري او تومورونه هم نکروزی شوي انساج ایجادوي، ممکن لاروا نومړي ذکر شوي انساج له منځه یوسي.

نن ورځ د طب متخصصین له طبي ماګوت څخه د زخمونو د تداوي لپاره استفاده کوي، د دې طریقې په واسطه د زخمونو مړه او نکروزی شوي انساج له منځه ځي چې له لاروا څخه استفاده کړل یوه لویه شاخچه د طب د علم ده چې د زیست درمانی په نوم یادېږي. په دې علم کې ژوندي ارګانیزمونه

او موجودات لکه لیچ یا مچۍ چې د تداوي د مستقیم روش او مېتود په شکل د استفادې لاندې قرار نیسي. د دې علم طرفداران او متخصصین امید لري چې اینده کې به دا کار او علم زیات د استعمال ځایونه ولري[۱۸، ۲].

**پایله**

په پایله کې پدی پوه شوو چې د مچانو له لاروا څخه د شکر مرض په واسطه منځته راغلي زخمونه، سوځېدلي زخمونه او د هغو تومورونو مختلفې نوعې چې درملنه او تداوي ونه لري، ورځنۍ استفاده کېږي. د لاروا په واسطه د زخمونو دتداوي روش ډېر ساده او ارزان دی، د انتي بیوتیکونوخلاف هېڅ نوعه عارضه منځته نه راوړي. د مچانو له لاروا استفاده کول د سینې د بدخیمو زخمونو، سوځېدنې، آبسی او د سینو د نیمه حاد التهاب لپاره هم ښه نتیجه ورکوي. کله چې د زخمونو تداوي لپاره درمل او جراحۍ کړنې نتیجه ورنه کړي، د مچانو د لاروا په واسطه د تداوي روش دی چې د زخمونو د تداوۍ لپاره استعمالیږي. همدارنګه د لاروا په واسطه هغه وخت کې چې د مریض صحت په خطر کې وي یا مریض د انتي بیوتیکونو په تحمل کولو قادر نه وي، ګټور او مفید دی.

## References

1. Grubs up. By Hugh Wilson; The Independent (1, March, 2005) at: http://news.independent.co.uk/uk/health_medical/story.jsp?story=615569.
2. Sherman RA, Shimoda KJ: Presurgical maggot debridement of soft tissue wounds is associated with decreased rates of postoperative infection. Clinical Infectious Diseases 2004; 39:1067-70.
3. Thomas S, Jones M, Shutler S, Jones S. Using Larvae in Modern Wound Management.Journal of Wound Care, Feb 1996; 5(2):60-9.
4. Mulder JB. The Medical Marvels of Maggots. JAVMA, Dec 1989; 195(11):1497-9.
5. Waters J. The Benefits of Larval Therapy in Wound Care. Nursing Times, Jan 1998; 94(2):62-3.
6. Reed SM, Bayly WM. Toxicologic Diseases: Antibiotic-Associated Diarrhea-Pathogenesis.Equine Internal Medicine, Philadelphia: Saunders Company, 1998, 672-3.
7. Weil GC, Simon RJ, Sweadner WR. A Biological, Bacteriological and Clinical Study of Larval or Maggot Therapy in the Treatment of Acute and Chronic Pyogenic Infections. American Journal of Surgery, Jan 1933; 19(1):36-48.
8. Sherman RA: Maggot Therapy. Infection Control in Long-Term Care Facilities Newsletter (APIC). 6(3):5.1995.
9. Sherman RA, Hall MJR, Thomas S: Medicinal maggots: an ancient

remedy for some contemporary afflictions. Annu Rev Entomol. 45:55-81. 2000.
10. Pechter EA, Sherman RA. Maggot Therapy: The Surgical Metamorphosis. Plastic Recon.Surgery, Oct 1983; 72(4):567-70.
11. Thomas S, Jones M, Shutler S, Andrews A. All You Need to Know About Maggots. Nursing Times, Nov 1996; 92(46):63-76.
12. Thomas S, Andrews A, Jones M. The Use of Larval Therapy in Wound Management. Journal of Wound Care, Nov 1998; 7(10):521-4.
13. Mumcuoglu KY, Ingber A, Gilead L, Stessman J, Friedmann R, Schulman H, Bichucher H, Ioffe-Uspensky I, Miller J, Galun R, Raz I. Maggot Therapy for the Treatment of Diabetic Foot Ulcers.Diabetes Care, Nov 1998; 21(11):2030-1.
14. Young T. Maggot Therapy in Wound Management. Community Nurse, Sep 1997; 3(8):43-5.
15. Bunkis J, Gherini S, Walton R. Maggot Therapy Revisited. West J Med, Apr 1985; 142(4):554-6 .
16. Vistnes LM, Lee R, Ksander GA. Proteolytic Activity of Blowfly Larvae Secretions in Experimental Burns. Surgery, Nov 1981; 90(5):835-41.
17. J. Wayman, V. Nirojogi, A. Walker, A. Sowinski and M.A. Walker, The cost-effectiveness of larval therapy in venous ulcers. J Tissue Viability 10 (2000), pp. 91–94.
18. Iain S Whitaker 1, Christopher Twine 2, Michael J Whitaker 3, Mathew Welck 4, Larval therapy from antiquity to the present day: mechanisms of action, clinical applications and future potential 83:409-413; doi:10.1136/pgmj.2006.

# د حیاء اهمیت او فضیلت د اسلامي شریعت په رڼا کې

لیکونکی : پوهنمل مسیح الله حذیفي
شیخ زاید پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي د فقه او قانون څانګې استاد
تقریظ ورکونکی : پوهندوی سید کمال شاه بنوري ، شیخ زاید پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي د فقه او قانون څانګې استاد

**لنډیز**

حیاء هغه خوی دی، چې انسان د ناوړه کارونو پرېښودو ته اړ کوي او حقدار ته د حق په سپارلو کې له کمې کولو څخه یې ژغوري، د اسلام سپېڅلي دین د حیا اهمیت د دې لپاره روښانه کړی دی تر څو مؤمن باحیا او په ټولنه کې د امن او سکون د خپراوي ذریعه وګرځي او د حیاء کولو په لوري تشویق شي، ځکه حیاء د ایمان یوه برخه ده، د ایمان څخه نه جلا کېدونکی عمل دی, همدا رنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم حیاء د اسلام له ځانګړو اخلاقو څخه شمېرلې ده او د خیر او نیکۍ لاسته راوړلو سبب دی, د حیاء له وجې د انسان په خبرو  او کړنو کې ښایست او جمال پیدا کیږي, په حیاء سره د انسان زړه ژوندی کېږي او د انسان او حیوان فرق په حیاء سره کیږي، انسان دبي ځایه او ناوړه کارونو څخه ژغوري او اهل حق د حق په اداء کولو کې له کوتاهۍ څخه منع کوي.
د حیاء حقیقت دا دی چې انسان کله د الله تعالی د نعمتونو مشاهده وکړي د هغې وروسته فکر کوي چې زما څخه د منعم د شکر په ادا کولو کې څومره کوتاهي کیږي نو د دې فکر سره د انسان په زړه کې یوکیفیت پیدا کیږي چې حیاء ورته ویل کیږي او حیاء کول په قرآني او نبوي نصوصو سره ثابت دي او دغه نصوص انسانان دیته تشویقوي ترڅو په ټولنه کې با حیاء واوسي، رسول الله صلی الله علیه وسلم د انصارو په داسې یو نفر تېرېده، چې هغه خپل ورور له زیاتې حیاء کولو څخه منع کولو ( ورته ویل یې چې ډېره حیاء مه کوه) نو رسول الله صلی الله  علیه وسلم ورته وویل په خپله حیاء یې پرېږده بیشکه چې حیاء له ایمان څخه ده.

**کلیدي کلمات:** حیاء اهمیت، ثبوت یې د قرانکریم او نبوي سنتو په رڼا کې، پېژندنه، فضیلت یې.

**سریزه**

ألحمد لله رب العلمین والصلوة والسلام علی سیدالأنبیاء والمرسلین نبینا محمد و علی اله و أصحابه أجمعین.

امابعد: قال الله تبارک و تعالی: {إِنَّ ذَلِكُم كَانَ يُؤذِي النَّبِيَّ فَيَستَحيِي مِنكُم وَاللَّهُ لَا يَستَحيِي مِنَ الحَقِّ}(الأحزاب: ۵۳).

الله تعالی انسان اشرف المخلوقات پیدا او په فطري ښېګڼو یې ښایسته کړ له دې ښېګڼو څخه یوه یې شرم او حیاء ده. له شرعي نقطه نظره شرم او حیا هغه صفت ته ویل کیږي چې انسان له قبیحو (بدو) او ناخوښو کارونو پرهیز او لیرې کوي، په هغو ښو صفاتو کې چې انسان یې د فطرت په لحاظ لري، یو

صفت د حیاء صفت دی.

شرم او حیاء که د انسان لپاره ښایست دی؛ خو د مسلمان لپاره د ده د ایمان یوه نه بېلېدونکې برخه ده ، په حیاء سره ایمان تقویه کېږي ، که په چا کې د حیاء صفت په څومره اندازه قوي وو، په هغه کې د ایمان دغه شُعبه په دومره اندازه قوي ده ، او که په چا کي د حیاء صفت کمزوری وو، په هغه کي د ایمان دغه شُعبه کمزورې ده.

حیاء داسي صفت دی چې انسان له ټولو بدو کارونو راگرزوي ، که هغه بد په ټولنه کي بد گڼل کېږي او که په شریعت کي بد گڼل شوي وي او همدا راز د ښو کارونو له پرېښودلو هم انسان راگرځوي او د اسلام سپېڅلي دین د حیا اهمیت د دې لپاره روښانه کړی دی تر څو مؤمن باحیا او په ټولنه کې د امن او سکون د خپراوي ذریعه وگرځي. رسول الله صلی الله علیه وسلم یو ځل یو انصاري ولید چې خپل ورور ته یې د ډېرې زیاتې حیا او شرم د نه کولو ویل، رسول الله صلی الله علیه وسلم چې واورېدل ورته وې فرمایل: دَعهُ فَإِنَّ الحَيَاءَ مِنَ الإِيمَانِ (۶: ۱۴).

ژباړه : په خپله حیاء یې پرېږده بیشکه چې حیاء له ایمان څخه ده.

بناء دا یوه مهمه موضوع ده او ارزښت یې په دې کې دی، تر څو مؤمن باحیا او په ټولنه کې د امن او سکون د خپراوي ذریعه وگرځي

**موخې**

لوستونکي به د دې مقالې په لوستنې سره:

۱- د حیاء په معنی او مفهوم به پوه شي.

۲- د حیاء اهمیت او فضیلت به و پېژني.

۳- د حیاء پر ثبوت به د قرانکریم او نبوي احادیثو په رڼا کې پوه شي.

۴: د حیاء گټې به و پېژني.

**د کار توکي او کړنلاره**

ما د خپل تحقیق په بهیر کې دا تګلاره غوره کړې ده، چې د هرې موضوع د څېړنې په موخه مې د الله تعالی کتاب قرآن کریم ته مراجعه کړې ده، یعنې هڅه مې کړې، چې اساس یې لومړی په قرآن کریم کې پیداکړم ورپسې مې نبوي سنتو او د ضرورت په بناء مې اسلامي فقهي ته مراجعه کړې ده، یعنې د لیکنې کړنلاره مې کتابتوني تحقیق دی دا چې مقاله په پښتو ژبه ده؛ نو د پښتو ژبې ټول معیارونه مې په نظر کې نیولي او تطبیق کړي دي.

**د حیاء پېژندنه**

د حیاء لغوي پېژندنه: حیاء په لغت کې احتشام ته وایي احتشام له حشم څخه اخېستل شوی دی اوحشم معنی ده، راغونډ شو اوحیاء یې وکړه (۱۷: ۲۱۳).

یا په بل عبارت: حیاء شرم ته وایي ،په یوکارکې د ملامتیا له ویري څخه پرهیز اوځان ژغورنې ته حیاء وایي (۱۲: ۵۳۴).

دحیاء اصطلاحي پېژندنه: حیاء هغه خوی دی چې انسان د ناوړه کارونو پرېښودو ته اړ کوي او حقدار ته د حق په سپارلو کې له کمي کولو څخه یې ژغوري.

په همدې اساس د الله جل جلاله د رضاء په خاطر نیک اعمال ترسره کول او د بدو اعمالو پرېښودل حیاء ګڼل کیږي (۳: ۵۲).

**د حیاء اهمیت او فضیلت**

حیاء د هغو لوړو او عالي اخلاقو له جملې څخه ګڼل کیږي، چې الله جل جلاله یې پر اساس د داود علیه السلام د لور صفت په خپل کتاب کې په لاندې توګه کړی دی: {فَجاءَتهُ إِحداهُما تَمشِي عَلَى استِحياءٍ قالَت إِنَّ أَبِي يَدعُوكَ لِيَجزِيَكَ أَجرَ مَا سَقَيتَ لَنا}(القصص: ۲۵).

ژباړه: پس راغله دغه (موسی) ته یوه له دواړو چې تګ یې کاوه په حیاء سره؛ نو ویې ویل ( موسی ته) چې بیشکه زما پلار تا د دې لپاره غواړي چې زموږ د میږو د اوبه کولو اجوره درکړي (۱۴: ۴۹۶).

همدارنګه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زیاتو مبارکو احادیثو کې د حیاء فضیلت بیان شوی دی پدې سره غواړي ، چې مسلمانان د حیاء کولو په لوري تشویق کړي چې ځینې یې له دغو احادیثو څخه په لاندې توګه دي:

۱: حیاء د ایمان یوه برخه ده

الف: عَنْ أَبِي هُرَيرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «ألإِيمَانُ بِضعٌ وَسَبعُونَ شُعبَةً، وَالحَيَاءُ شُعبَةٌ مِنَ الإِيمَانِ (۱۵: ۶۳).

ژباړه : د أبي هريرة رضي الله عنه څخه روایت دی، د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یې رانقل کړی دي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: ایمان څه له پاسه اویا شعبې لري، اوحیاء د ایمان یوه شعبه ده .

ب: عَن سَالِمِ بنِ عَبدِ اللَّهِ، عَن أَبِيهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ مَرَّ عَلَى رَجُلٍ مِنَ الأَنصَارِ، وَهُوَ يَعِظُ أَخَاهُ فِي الحَيَاءِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «دَعهُ فَإِنَّ الحَيَاءَ مِنَ الإِيمَانِ (۶: ۱۴).

ژباړه : سالم بن عبد الله د خپل پلار څخه روایت کوي، چې یقینا رسول الله صلی الله علیه وسلم د انصارو په داسې یو نفر تېرېده، چې هغه خپل ورور له زیاتي حیاء کولو څخه منع کولو( ورته ویل یې چې ډیره حیاء مه کوه) نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل په خپله حیاء یې پرېږده بیشکه چې حیاء له ایمان څخه ده.

۲: حیاء د ایمان څخه نه جلا کېدونکی عمل دی

عَنِ ابنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِن الحَيَاءَ وَالإِيمَانَ قُرِنَا جَمِيعًا، فَإِذَا رُفِعَ أَحَدُهُمَا رُفِعَ الآخَرُ" (۹: ۱۶۶).

ژباړه: د ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی، د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یې رانقل کړي دي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: حیاء او ایمان دواړه د یو بل سره تړلي دي، کله چې یو یې له منځه ولاړ شي بل هم له منځه ځي.

۳- حیاء د ایمان ثمره ده

عَن أَبِي بَكرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: الحَيَاءُ مِنَ الإِيمَانِ، وَالإِيمَانُ فِي الجَنَّةِ، وَالبَذَاءُ مِنَ الجَفَاءِ، والجفاء في النار"(۸: ۴۹۹).

ژباړه: د ابو بکر رضي الله عنه څخه روایت دی، د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یې رانقل کړی

دي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: حياء دايمان یوه برخه ده اوایمان ( ایمانداران ) به په جنت کې وي اوبې حیايي او سپک ویل جفاء او بدي ده، جفاء او بدي ( جفاء کاران او بدکاران ) به په دوزخ کې وي.

۴: رسول الله صلی الله علیه وسلم حیاء د اسلام له ځانګړو اخلاقو څخه شمیرلې ده

عَن أَنَسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ -: "إِنَّ لِكُلِّ دِينٍ خُلُقًا، وَخُلُقُ الْإِسلَامِ الحَيَاءُ" (۴: ۲۷۷).

ژباړه: د انس رضی الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: په تحقیق سره د هر یو دین لپاره ځانګړي اخلاق وي او د اسلام اخلاق حیاء ده.

۵: حیاء د خیر او نیکی لاسته راوړلو سبب دی

قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الحَيَاءُ لاَ يَأتِي إِلَّا بِخَيرٍ (۷: ۲۹).

ژباړه: نبي صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: حیاء له خیر یا نېکی پرته بل څه منځته نه راوړي.

۶: حیاء ټولو کړنو ته ښایست ورکوي

عَن أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ: مَا كَانَ الفُحشُ فِي شَيءٍ إِلَّا شَانَهُ، وَمَا كَانَ الحَيَاءُ فِي شَيءٍ إِلَّا زَانَهُ (۱۰: ۴۱۷).

ژباړه: د انس رضی الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: په هر څه کې چې ناروا خبرې پیدا شي هغه بدرنګه کوي او په کوم څه کې چې حیاء پیدا شي هغه ښایسته کوي.

۷: د حیاء له وجې د انسان په قول ( خبرو ) او فعل کې ښایست او جمال پیدا کیږي

باحیا انسان د خلکو په نظر کې هم ښکلی او جذاب ښکاري او د الله تعالی په نزد هم مقبول وي، د دې خبرې ثبوت په قرانکریم کې هم پیدا کولی شو، د شعیب علیه السلام لور ( صفوراء ) چې کله د موسی علیه السلام رابللو ته راغله، نو د هغې په تګ او رفتار کې ډېره میانه روي او ښه والی و، الله تعالی ته د دې همدا حیاء او شرم دومره خوښ شو، چې حتی په قرانکریم کې یې د هغې یادونه وکړه، الله تعالی فرمايي: {فَجَاءَتهُ إِحدَاهُمَا تَمشِي عَلَى استِحيَاءٍ} (القصص : ۲۵)

ژباړه: پس راغله دغه (موسی) ته یوه له دواړو چې تګ یې کاوه په حیاء سره (۱۴: ۴۹۶).

۸: په حیاء سره د انسان زړه ژوندی کیږي او د انسان او حیوان فرق په حیاء سره کیږي

الله جل جلاله د حیاء له پرېښودو او له بې حیایۍ څخه خپل بندګان منع کړي او داسې یې فرمايلي دي: {إِنَّ اللَّهَ يَأمُرُ بِالعَدلِ وَالإِحسَانِ وَإِيتَاءِ ذِي القُربَى وَيَنهَى عَنِ الفَحشَاءِ وَالمُنكَرِ وَالبَغيِ يَعِظُكُم لَعَلَّكُم تَذَكَّرُونَ (النحل : ۹۰).

ژباړه :بې شکه الله په عدل، ښېګڼې او خپلوانو ته په ورکړې امر کوي او له بې حیایی،بدو کارونو ، سرکشی او ظلم څخه منع کوي، الله تاسو ته نصیحت کوي څو تاسو پند واخلئ (۱۳: ۱۵۶۸).

په دې آیت کې له بې حیایی څخه منع راغلې ده، بې حیايي یو داسې ناوړه صفت دی چې په چا کې راغی، هغه د هر ناروا کار اهل ګرځي ، ځکه هغه څه چې د انسان او ګناه تر مینځ دیوال وي، هغه له خلکو، یا له ځان او یا هم له الله تعالی څخه حیاء ده .

په دې هکله په حدیث شریف کې راغلي دي :

عَن أَبِي مَسعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِمَّا أَدرَكَ النَّاسُ مِن كَلَامِ النُّبُوَّةِ الأُولَى إِذَا لَم تَستَحيِ فَاصنَع مَا شِئتَ (۷: ۲۹).

ژباړه : له حضرت ابو مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي دي: هغه څه چې د مخکینیو پیغمبرانو له خبرو څخه خلکو موندلي، ( یو ) دا دی چې کله دې حیاء نه لرله، نو څه دې چې خوښه وي، هغه کوه (هغه څه کوه چې د شرف، عزت او میړانې لرونکی انسان یې نه شي کولی ).

ځکه له بدو کارونو څخه د ده هیڅ راګرځوونکی نشته، نو ځکه دی هر هغه څه ته وړاندې کېږي چې د ده نفس یې غواړي .

کله چې له چا څخه د حیاء صفت لاړ شي، نو هغه د بې مهاره اوښ په څېر آزادېږي او د خیر او شر تمییز ترې پورته کېږي .

زموږ په ټولنه کې چې څومره بد کارونه تر سره کېږي، وېلی شو چې د ټولو لامل د حیاء نه شتون دی .

له دې حدیث څخه معلومه شوه چې حیاء داسې صفت دی، چې د ټولو پیغمبرانو – علیهم السلام – په شریعت کې ښه صفت وو او منسوخ شوی نه دی.

۹: حیاء انسان دبې ځایه او ناوړه کارونو څخه ژغوري

امام نووي رحمه الله وايي: حیاء یو داسې صفت دی چې انسان د بې ځایه او ناوړه کارونو څخه ژغوري او اهل حق د حق په اداء کولو کې له کوتاهۍ څخه منع کوي همدا راز أَبي القاسم جنید رحمه اللّٰه وايي : دحیاء حقیقت دا دی چې انسان کله د الله تعالی د نعمتونو مشاهده وکړي د هغې وروسته فکر کوي چې زما څخه د منعم د شکر په ادا کولو کې څومره کوتاهي کیږي؛ نو د دې فکر سره د انسان په زړه کې یوکیفیت پیدا کیږي چې حیاء ورته ویل کیږي (۱۹: ۲۳۰).

**د حیاء ثبوت د قران کریم او نبوي سنتو په رڼا کې**

۱: الله تعالی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حیاء په اړه په قرآن کریم کې فرمایي: {إِنَّ ذَلِكُم كَانَ يُؤذِي النَّبِيَّ فَيَستَحيِي مِنكُم وَاللَّهُ لَا يَستَحيِي مِنَ الحَقِّ}(الأحزاب:۵۳).

ژباړه: بیشکه دغه ننوتل، کیناستل او خبري کول داسې کار دی چې نبي صلی الله علیه وسلم ته تکلیف رسوي پس نبي صلی الله علیه وسلم حیاء کوي له تاسې څخه چې و باسي تاسې او الله تعالی جل جلاله حیاء نه کوي دحقې خبرې له ویلو (۱۴:۶۹۸).

تفسیر: یعنې نبي علیه السلام د حیاء او شرم له وجهې په پخپل ځان زحمت او تکلیف تیروي او د خاطر او لحاظ له وجهې په صافو الفاظو دغو میلمنو ته نه وايي چې ووځئ اوخپلو ځایونو ته ولاړ شئ، ځکه چې ماته تکلیف او اذیت رسیږي ،دا خو د نبي صلی الله علیه وسلم نیک اخلاق او مروت دی ؟ او الله تعالی خامخا د خپل رسول صلی الله علیه وسلم په ژبه تاسې ته خپل احکام در رسوي او درښکاره کوي اوهیڅ شی درڅخه نه منعه کوي (۱۴:۶۹۸).

۲: عن أَبَا سَعِيدٍ الخُدرِيَّ، يَقُولُ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ «أَشَدَّ حَيَاءً مِنَ العَذرَاءِ فِي خِدرِهَا وَكَانَ إِذَا كَرِهَ شَيئًا عَرَفنَاهُ فِي وَجهِهِ (۱۶: ۱۸۰۹).

ژباړه : د ابي سعید الخدري رضی الله عنه څخه روایت دی، هغه فرمایلي دي، چې رسول الله صلی الله

علیه و سلم په پرده کې له پیغلوڅخه زیات حیاء ناک وه؛ خو چې کله به یې یو شی بدګانه موږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم له مخ څخه پوهېدو چې دغه کار بد ګڼي.

۳: عن عائشة، قالت: كان النبيَّ - صلى الله عليه وسلم - إذا بلغَه عن الرَّجُل الشَّيءُ لم يقُل: ما بالُ فلانٍ يقولُ؟ ولكن يقول: ما بَالُ أقوَامٍ يقولون كذا وكذا؟ (۵: ۱۶۶).

ژباړه: د بي بي عایشې رضی الله عنها څخه روایت دی وایي، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم داسې عادت و، کله به چې ورته دکوم چا لخوا نه یو څه ناوړه کار یاخبره ور ورسیده، چې ده به دغه کار ښه نه ګاڼه؛ نو داسې به یې نه ویل چې څه وجه ده چې فلانی انسان داسې وایي؛ بلکې ویل به یې چې څه وجه ده چې ډېرقومونه اوخلک داسې داسې (کارونه کوي) او یا داسې خبرې کوي.

۴: عَن سَالِمِ بنِ عَبدِ اللَّهِ، عَن أَبِيهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ مَرَّ عَلَى رَجُلٍ مِنَ الأَنصَارِ، وَهُوَ يَعِظُ أَخَاهُ فِي الحَيَاءِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ: دَعهُ فَإِنَّ الحَيَاءَ مِنَ الإِيمَانِ (۶: ۱۴).

ژباړه : سالم بن عبد الله د خپل پلار څخه روایت کوي چې یقینا رسول الله صلی الله علیه وسلم د انصارو په یو نفر چې خپل ورور یې له زیاتې حیاء کولو څخه منع کولو تېرېده، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل په خپله حیاء یې پرېږده بیشکه چې حیاء له ایمان څخه ده.

۵: عَن أَنَسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "إِنَّ لِكُلِّ دِينٍ خُلُقًا، وَخُلُقُ الإِسلَامِ الحَيَاءُ" (۴: ۲۷۷).

ژباړه : د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي دي : هر دین اخلاق لري او د اسلام اخلاق حیاء ده .

دا وجه ده چې رسول الله صلی الله علیه و سلم انتهایي حیاء ناک و او د کاملې حیاء خاوند وو .

۶: عَنِ ابنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنهُمَا، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ: الحَيَاءُ وَالإِيمَانُ قُرِنَا جَمِيعًا، فَإِذَا رُفِعَ أَحَدُهُمَا رُفِعَ الآخَرُ (۲: ۷۳).

ژباړه : ابن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: بیشکه چې حیاء او ایمان دواړه یو تربله سره تړلی شویدي کله چې یو پورته شي او لري شي دویم هم ورسره پورته کیږي.

۷: عَن أَبِي هُرَيرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ: الحَيَاءُ مِنَ الإِيمَانِ، وَالإِيمَانُ فِي الجَنَّةِ، وَالبَذَاءُ مِنَ الجَفَاءِ، وَالجَفَاءُ فِي النَّارِ (۱۰: ۴۳۳).

ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: حیاء د ایمان یوه برخه ده او ایمان ( ایمانداران ) به په جنت کې وي او بې حیایي او سپک ویل جفاء او بدي ده جفاء او بدي ( جفاء کاران او بدکاران ) به په دوزخ کې وي.

**د حیاء کولو ګټې**

۱: حیا د ایمان له خصلتونو څخه ده.

۲: د الله سبحانه وتعالی څخه د شرم کولو له امله د ګناه پرېښودل.

۳: د الله تعالی سره د زیات محبت کولو له امله د هغه اطاعت ته مخه کول.

۴: حیاء انسان د دنیا او آخرت له شرمونو څخه ساتي.

۵: کله چې انسان حیاء ولري د عزت په جامه پوښل شوی وي؛ نو داسې کړنه نه کوي چې د عزت او وقار زیانمنونکې وي، او هغه چا ته زیان نه رسوي چې د عزت وړ وي.

۶: حیاء انسان د ګناهګارانو او باطل پرستو خلکو سره د مقابلې کولو مخه نه نیسي.

۷: څوک چې له الله جل جلاله شرمیږي او حیاء کوي، الله به پرې په دنیا او آخرت کې پرده واچوي.

۸: حیاء کونکی انسان الله جل جلاله ته محبوب او د خلکو ترمنځ هم خوښ وي.

۹: حیاء انسان د بد کارېو څخه منع کوي او د هر ډول ښویدلو څخه ژغوري.

۱۰: حیاء انسان هر محبوب او ښه کار ته هڅوي او له هر بد او ناوړه کار ترسره کولو څخه یې ژغوري (۴۹۱:۱۸).

۱۱: حیاء جنت ته د داخلیدو او جهنم څخه د نجات سبب دی.

۱۲: حیاء د خدای د وفادارو او صالحو بندګانو یو صفت دی چې په دنیا او آخرت کې د خدای مینه ترلاسه کوي.

۱۳: الله عزوجل حیاناک انسان خلکو ته ښه، نیک او دروند وربښژني .

۱۴: څوک چې د حیاء صفت ولري، د نیکۍ پیروي کوي او نورو ته په نیکۍ امر او له بدیو منع کوي (۱۱: ۳).

**پایله**

حیاء شرم ته وایي ،په یوکارکې د ملامتیا له ویرې څخه پرهیز او ځان ژغورنې ته حیاء وایي، یا حیاء هغه خوی دی چې انسان د ناوړه کارونو پریښودو ته اړ کوي او حقدار ته د حق په سپارلو کې له کمې کولو څخه یې ژغوري، حیاء د هغو لوړو او عالي اخلاقو له جملې څخه ګڼل کیږي، چې الله جل جلاله یې پر اساس د داود علیه السلام د لوړ صفت په خپل کتاب قرآن کریم کې کړی دی.

په زیاتو مبارکو احادیثو کې د حیاء فضیلت بیان شوی دی پدې سره غواړي، چې مسلمانان د حیاء کولو په لوري تشویق کړي، حیاء د ایمان یوه برخه ده، د ایمان څخه نه جلا کېدونکی عمل دی او د ایمان ثمره ده او رسول الله صلی الله علیه وسلم حیاء د اسلام له ځانګړو اخلاقو څخه شمیرلې ده او د خیر او نیکۍ لاسته راوړلو سبب دی.

حیاء ټولو کړنو ته ښایست ورکوي او له وجې یې د انسان په خبرو او کړنوکې ښایست او جمال پیدا کیږي، په حیاء سره د انسان زړه ژوندی کېږي او د انسان او حیوان فرق په حیاء سره کیږي، حیاء انسان د بې ځایه او ناوړه کارونو څخه ژغوري.

امام نووي رحمه الله وایي: حیاء یوداسې صفت دی، چې انسان د بې ځایه او ناوړه کارونو څخه ژغوري او اهل حق د حق په اداء کولو کې له کوتاهۍ څخه منع کوي.

أبي القاسم جنید رحمه اللّٰه وایي : د حیاء حقیقت دا دی چې انسان کله د الله تعالی د نعمتونو مشاهده وکړي د هغې وروسته فکر کوي چې زما څخه د منعم د شکر په ادا کولو کې څومره کوتاهي کیږي نو د دې فکر سره د انسان په زړه کې یوکیفیت پیدا کیږي، چې حیاء ورته ویل کیږي.

د حیاء دثبوت په اړه قرآني آیتونه او زیات شمیر احادیث شتون لري چې مخکې ذکر شوي دي.

**وړاندیزونه**

۱- دولت ته مې وړاندیز دا دی، چې د بې حیايي آلات، وسایل او ځایونه چې په بازارونو کې شتون ولري بند کړي او د هغې جدي څارنه وکړي.

۲- علماء کرام دې د خپلو خطبو او وعظونو په لړ کې وګړو ته د حیاء د اهمیت او فضیلت په اړه بیانونه وکړي؛ ترڅو وګړي د حیاء په جامه وپوښل شي.

۳- د پوهنتون استادانو او معلمینو ته مې وړاندیز دا دی، چې خپل شاګردان حیاء کولو ته راوبلي او د حیاء صفت په ځان کې پیدا کولو ته یې تشویق کړي او د بې حیايي کولو څخه یې مخنیوی وکړي.

۴- د ټولنې عامو وګړو ته مې وړاندیز دا دی، چې د حیاء په اړه د نبوي سنتو ټولې لارښوونې په ځان عملي کړي ترڅو یو با حیاء ملت ولرو او د بې حیايي څخه ځان وژغوري.

**اخځلیکونه**


۱: القرآن الكريم.

۲: ابن البيع، أبو عبد الله الحاكم محمد بن عبد الله بن محمد بن حمدويه بن نُعيم بن الحكم الضبي الطهماني النيسابوري المعروف بابن البيع (١٤١١ هـ). المستدرك على الصحيحين. ج ١. تحقيق: مصطفى عبد القادر عطا. الناشر: دار الكتب العلمية – بيروت. الطبعة: الأولى.

۳: ابن حجر، أحمد بن علي بن حجر أبو الفضل العسقلاني الشافعي. (١٣٧٩هـ). فتح الباري شرح صحيح البخاري. ج ١. الناشر: دار المعرفة – بيروت.

۴: ابن ماجة، أبو عبد الله محمد بن يزيد القزويني. (١٤٣٠ هـ). سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط. ج ٥. المحقق: شعيب الأرنؤوط - عادل مرشد - محمَّد كامل قره بللي - عَبد اللّطيف حرز الله. الناشر: دار الرسالة العالمية. الطبعة: الأولى.

۵: أبو داود، سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي السِّجِسْتاني (١٤٣٠ هـ). سنن أبي داود. ج ٧. المحقق: شعَيب الأرنؤوط - محَمَّد كامِل قره بللي. الناشر: دار الرسالة العالمية. الطبعة: الأولى.

۶: البخاري، محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي. (١٤٢٢هـ). الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه. ج ١. المحقق: محمد زهير بن ناصر الناصر. الناشر: دار طوق النجاة. الطبعة: الأولى.

۷: البخاري، محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي. (١٤٢٢هـ). الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه. ج ٨. المحقق: محمد زهير بن ناصر الناصر. الناشر: دار طوق النجاة. الطبعة: الأولى.

۸: البخاري، محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة البخاري، أبو عبد الله . (١٤١٨ هـ). صحيح الأدب المفرد للإمام البخاري. حقق أحاديثه وعلق عليه: محمد ناصر الدين الألباني. الناشر: دار الصديق للنشر والتوزيع. الطبعة: الرابعة.

۹: البيهقي، أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني، أبو بكر البيهقي. (١٤٢٣ هـ). شعب الإيمان. ج ١٠. حققه وراجع نصوصه وخرج أحاديثه: الدكتور عبد العلي عبد الحميد حامد.

الناشر: مكتبة الرشد للنشر والتوزيع بالرياض. الطبعة: الأولى.

۱۰: الترمذي، أبو عيسى محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك. (۱۹۹۸ م). سنن الترمذي. ج ۳. المحقق: بشار عواد معروف. الناشر: دار الغرب الإسلامي – بيروت.

۱۱: أهمية ثمرات الحياء في الدنيا والآخرة - موسوعة - الموسوعة العربية... https://www.mosoah.com

۱۲: حسن عميد. (۱۳۸٤هـ ).فرهنگ فارسي عميد، چآپ مؤسسه انتشارات . تهران ايران.

**۱۳: د افغانستان د سترو علماو يوه ډله، (۱۴۱۴ هـ ق). کابلی تفسير ، ج ۱. نظر ثاني : مولانا سيد عبيد الله شاه، چاپ خانه: د حرمينو شريفينو د خادم پادشاه فهد د قرآن کريم د طباعت لپاره،(ب . ط).**

**۱۴: د افغانستان د سترو علماو يوه ډله، (۱۴۱۴ هـ ق). کابلی تفسير ، ج ۲. نظر ثاني : مولانا سيد عبيد الله شاه، چاپ خانه: د حرمينو شريفينو د خادم پادشاه فهد د قرآن کريم د طباعت لپاره،(ب . ط).**

**۱۵: القشيري، مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري النيسابوري. (ب . ت). المسند الصحيح المختصر بنقل العدل عن العدل إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم. ج ۱. المحقق: محمد فؤاد عبد الباقي. الناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت.**

۱۶: القشيري، مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري النيسابوري. (ب . ت). المسند الصحيح المختصر بنقل العدل عن العدل إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم. ج ۴. المحقق: محمد فؤاد عبد الباقي. الناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت.

۱۷: مصطفى، (إبراهيم مصطفى / أحمد الزيات / حامد عبد القادر / محمد النجار). ( ب . ت). المعجم الوسيط. ج ۱. الناشر: دار الدعوة.

۱۸: الميداني، تأليف: عبدالرحمن بن حبنكة الميداني. (۱٤۲۳هـ). الأخلاق الإسلامية وأسسها. ج ۲. دار النشر: دار القلم – دمشق. الطبعة السادسة.

۱۹: النووي، أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف النووي. (۱٤۱۹هـ). رياض الصالحين. المحقق: شعيب الأرنؤوط. الناشر: مؤسسة الرسالة، بيروت، لبنان. الطبعة: الثالثة.

# مارکیټ ته له رسیدو مخکې د پېر او پلور حکم

لیکونکی : پوهنمل نصرت الله جلالي
شیخ زاید پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي د فقې او قانون څانګې استاد
تقریظ ورکونکی: پوهندوی سید کمال شاه بنوري د شرعیاتو پوهنځي د فقه او قانون څانګې استاد

**لنډیز**
دا څېړنیز اثر چې په کتابتوني مېتود او تحقیقي بڼه ترسره شوی دی چې د بیع پوري اړیکه لري او په سوداګرېزو چارو کې د بوختو خلکو اړتیا او لیوالتیا ته په پام سره خورا ارزښتمنه، مهمه، نوې او فقهي څېړنه ده چې څېړونکو او مینه والو ته ډېره په زړه پورې موضوع ده په دې څېړنه کې د بیع تلقی رکبان اړوند مواد د موضوع تسلسل په پام کې نیولو سره په لاندې توګه تر څېړنې لاندې نیول شوې دي په اسلامي شریعت کې د بیع لغوي او اصطلاحي پېژندنه ځکه کله چې یوه موضوع ونه پېژندل شي بیا د هغې په مفهوم او مطلب ځوک نه پوهېږي، همدارنګه د بیع ارکان ذکر شوي دی او همدارنګه د هر یو تعریف او مثال ذکر شوي دي بل د بازار څخه بهر پلورونکو مخې ته د توکو د پېردولو لپاره ورتللو حکم د قران او حدیث او د اسلامي فقهی په دلایلو سره واضح شوي دی . او د مقالې په اخره کې پایله، وړاندېزونه او مأخذونه ذکرشوی دي.

**کلیدي کلمات** : بیع ارکان پېژندنه، بیع لغوی او اصطلاحی پېژندنه، په پیریدو کې د فقهاوو نظرونه پېژندل، تلقی رکبان حکم پېژندنه په اسلامي شریعت کې .

**سریزه**

إن الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضلَّ له، ومن يضلل فلا هاديّ له، وأشهد أن لّا إله إلا الله وأشهد أن محمداً عبده ورسوله. أما بعد:

{وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبا} {وَأَشْهِدُوا إِذَا تَبَايَعْتُمْ) عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَطْيَبِ الْكَسْبِ؟ فَقَالَ: «عَمَلُ الرَّجُلِ بِيَدِهِ، وَكُلُّ بَيْعٍ مَبْرُورٍ ) عَنْ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما قَالَ: كُنَّا نَتَلَقَّى الرُّكْبَانَ فَنَشْتَرِي مِنْهُمْ الطَّعَامَ فَنَهَانَا النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - أَنْ نَبِيعَهُ حَتَّى يُبْلَغَ بِهِ سُوقُ الطَّعَامِ)

په اسلامي شریعت کې بیع بېلابېل ډولونه لري لکه بیع فاسده. بیع باطله، بیع منابزه، بیع تولیه، بیع مرابحه او بیع خیار شرط مکر د دغو بیعو څخه یو هم یې بیع تلقی الرکبان دی یعنی د قافلې مخی ته تلل او د هغې څخه توکي اخیستل مخکی لدې څخه چی دا توکي بازار ته ورسیږی اوس ددې څېړنه پکار ده چې ددې بیع څه حکم دی ایا دا بیع روا ده او که ناروا ده او همدارنګه د بیع ارکان ذکر کول چې د بیع ارکان کوم دي او په قران او احادیثو سره د هغې ثبوت او همدارنګه اسلامي فقهی په رڼا کې بیع تلقی الرکبان د رواکیدو حکم او دا موضع ځکه مهمه ده چی اکثر خلک په اوس وخت کې بازار ته

دراتلو وړاندې د توکو راوړونکو مخې ته ورځي او د هغوی څخه توکي اخلي مګر په اسلامی شریعت کې ددې څخه منع راغلې ده چې د توکو د اخیستلو لپاره په لاره کې نه ودرېږی چې مخکې د منډیی او بازار ته د تلو څخه مخکې ور څخه واخلي دا په اسلامي شریعت کې ځکه منع دی چی نور اخستونکې ورڅخه بې برخې کېږی نو اسلامي شریعت داسی کامل دین دی چې د ژوند ټولو برخوته شامل دی چې د انسانانو حقوق په هرحالت کې په نظر کې نیولي دي .

**د څېړنې موخې**

لوستونکي به په دې وتوانېږي چې:

الف . د بیع په لغوي، اصطلاحي معنا او حکم باندې پوه شي.

ب . په اسلامي شریعت کې د بیع ثبوت واضح شي.

ج . د بیع ډولونه پېژندل.

د . د بازار څخه بهرته د توکو اخیستلو په حکم پوه شي.

**د کار توکي او د څېړنې تګلاره**

ما د خپل تحقیق په بهیر کې دا تګلاره غوره کړې ده چې د هرې موضوع د څېړنې په موخه مې د الله تعالي کتاب قرآن کریم ته مراجعه کړې ده یعنې هڅه مې کړې، چې لومړی په قرآن کریم کې حکم پیدا کړم وروسې مې نبوي سنتو ته مراجعه کړې همدا راز د څیړنې په بهیر کې مې د قرآن کریم او نبوي سنتو کې د پلټنې وروسته د فقهې مستندو او معتمدو کتابونو ته مراجعه کړې ده یعنې د لیکنې کړنلاره مې کتابتوني ده.

**د بیع لغوی او شرعي معنا پېژندنه**

بیع په لغت کې ( مبادلة المال بالمال ) ته ویل کېږی(۵:۲۰).

ژباړه : بدلول د مال په مال سره یا بدلول د توکو په توکو سره

او دا بیع د اضداد څخه ده ددې په مقابل کې اخیستل ) راځی کله اطلاق د بیع په شراء باندې کېږی او کله اطلاق د شراء په بیع باندې کېږی لیکن هربو د (عقد) ترون کوونکو ته بایع ویل کېږی.

کله چې بیع مطلقا ذکرشی متبادریې زهن ته د مال خرڅول راځی یعنی اطلاق یې په بایع (خرڅوونکي ) کېږی مګر قوریشو د بیع اطلاق په هغې شي باندې کاوه چې د یوکس د ملکیت څخه به ووته او اطلاق د مشتری یې په هغې کس کاوه چې د هغې په ملکیت کې به کوم شي داخل شو.

**د بیع شرعي پېژندنه**

( مبادلة المال بالمال علی سبیل التراضي)(۶:۲۱۹).

ژباړه : بدلول د مال په مال سره په رضامندی د (عاقدینو) ترون کونکو سره .

**د بیع حکم**

د بیع حکم دلیل د قران کریم او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حدیث څخه ثابت دي الله جل جلاله په قران کریم کې د بیع درواکیدو په هکله داسی فرمایلی دي {وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبا}(البقرة:۲۷۵).

ژباړه: الله تعالی حلال ګرځولی بیع (خرڅول ) او سود یی حرام ګرځولی او همدارنګه په بل ایت کې هم

راځی {وَأَشْهِدُوا إِذَا تَبَايَعْتُمْ}(البقرة:۲۸۲).
ژباړه قایم کړي ګواهان کله چې (بیع ) خرڅول کوی دا ایتونه دلالت کوي په (مشروعیت ) رواکیدو د بیع باندې مګر دا بیع به د قران کریم او د نبوی احدیثو مطابق وي.

**د بیع رواکیدو دلیل د حدیث څخه**

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَطْيَبِ الْكَسْبِ؟ فَقَالَ: «عَمَلُ الرَّجُلِ بِيَدِهِ، وَكُلُّ بَيْعٍ مَبْرُورٍ»(۲۳۷:۴).

ژباړة : د ابن عمررضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وشو د خوندورو ګټو هغې وویل هغه ګټه خوندوره ده چې په خپل لاس سره ګټل شوی وي او خوندوره بیع دېته وایی چې د دوکې څخه خالي وي او شرعا فاسد نوی.(۱۹۰۴:۱۵).

د علماوو اختلاف په دې خبره کې ده چې غوره کسب کوم کسب ده ماوردی رحمه الله وایی غوره کسبونه درې دي

۱ . زراعت ۲ . تجارت۳ . (صنعت) کسب دا غوره کسبونه دي امام شافعی رحمه الله وایی غوره کسب تجارت دی دریم قول دا دی چې غوره کسب زراعت دی ځکه په دې کې پر الله تعالی توکل وي

علماوو لیکلي دي{ أن أطيب المكاسب ما كان بعمل اليد، وإن كان زراعة فهو أطيب المكاسب لما يشتمل عليه من كونه عمل اليد ولما فيه من التوكل ولما فيه من النفع العام للآدمي وللدواب والطير. قال الحافظ ابن حجر: وفوق ذلك «ما يكسب من أموال الكفار بالجهاد وهو مكسب النبي - صلى الله عليه وسلم - وهو أشرف المكاسب» لما فيه من إعلاء كلمة الله تعالى انتهى قيل وهو داخل في كسب اليد} (۳:۱۳).

ژباړه : خوندور کسب هغه دی چې انسان د خپل د لاس محصول وخوري او که داکسب زراعت وي دا غوره کسب دی ځکه دا مشتمل وي د لاس په مزدوري باندې او په دې کې (توکل) بروسه وي په الله تعالی باندې او د زراعت ګټه عام وي انسانان، مرغان، او حیوانات ټول ورڅخه ګټه اخلي

ابن حجر رحمه الله وایی چې غوره مال هغه د ی چې د کفارو څخه د جهاد په سبب لاسته راشی او دا د نبی کریم صلی الله علیه وسلم عمل او کړنه وه او دا د غوره کسبونو څخه دی ځکه په دې کې (اعلاء) اوچتوالی د کلمې د الله راځي لیکن دا هم داخل دی په ( عمل الید ) د لاس په ګټه کې

**دبیع ارکان**

دبیع ارکان درې دي ۱ . (عاقدین) اخستونکې او خرڅونکې ۲ .(معقود علیه ) هغه څه چې په هغې باندې بیع واقع کېږی ۳ . ایجاب اوقبول

ایجاب هغه (قول) یا وینا ته وایی چه صادرېږي د (بایع ) خرڅونکې څخه او قبول هغه لفظ ته وایی چې صادرېږي د (مشتری) اخیستونکې څخه ددې مثال داسی دی لکه چې بایع ووایی (بعت هذالشئ ) ما دا شی په تا باندې خرڅ کړو او مشتری ووایی ( اشتریت هذالشئ) مادا شی واخیستو (۲:۱۸).

**د بیع تلقی الرکبان پېژندنه**

أي هم القوافل التجارية التي تأتي بالبضائع من مصر إلى مصر آخريقال إذا مر رجل على بعير يقال عنه راكب و إذا كان على فرس نقول مر فارساً و إذا كان على حمار نقول مر حمّار و الركب أصحاب الإبل في

السفر دون الدواب و هم العشرة فما فوقها و الركبان الجماعة منهم(۱۳۸:۸).

ژباړه : الركبان هغه قافلې ته وایي چې راتګ کوي د خرڅونکو توکو سره دیوې ښار څخه بل ښار ته او هغه سړي چې په اوښه تېریده هغې ته یې (راکب) ویل او کله چې یو کس په اس تېریده هغې ته به یې (فارس) ویل او کله چې یو سړی په خره باندی تېریده هغی ته به ویل کیده ( مرعلی حمار) او (راکب) ویل کیده هغه کسانوته چې هغه اوښانوباندې سفر کوی هغه لس کسان وي او یا زیات وي د سلو څخه او(ركبان ) ویل کېږی یوې ډلې ته نو (تلقی الرکبان ) هغې کسانوته وایی چې هغوی د قافلې مخې ته د مالونو اخیستلو په غرض راځي لپاره د توکو اخیستلو.

**دویم تعریف**: د بیع تلقی الرکبان داسي شوي ( و قد عرف الشيرازي تلقي الركبان بقوله (تلقي الركبان: وهو أن يتلقى شخص طائفة من الناس يحملون متاعاً إلى بلد، فيشتريه منهم، قبل قدومهم البلد ومعرفتهم بالسعر. وهو حرام ومعصية، ويثبت لهم حق الفسخ إذا غبنوا غبناً فاحش)(۶۳:۱۲).

ژباړه: بیع تلقی الرکبان دېته وایی چې مخامخ شی یوکس د خلکو یوې ډله سره چې هغوی توکي ښارته بار کړی وي او دوي ترې توکي واخلي مخکې دراتلو څخه ښارته او مخکې د قیمت معلومولو څخه او دا کار حرام اوګناه ده او کله چې د مال خاوندته تاوان وي نو د بیع د (فسخ) ړنګولو حق لري.

**د بیع تلقی الرکبان د رواکیدو دلیل**

په دې مسئله کې د علماوو اختلاف دی چې ایا بیع تلقی الرکبان روا ده او که ناروا ده په دې کې د فقهاوو مختلف اقوال دي ۱ . قول د جمهور علماوو په نزد بیع تلقی الرکبان حرامه ده ۲ . قول د امام شافعی رحمه الله دی د دوي په نزد مکروه ده ۳ . قول د احنافودی ددوي په نزد بیع تلقی الرکبان صحیح ده.

**د جمهورعلماوو دلایل**

د جمهور علماوو لومړی دلیل ددې بیع په حرمت باندې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا حدیث دی (عن عبد الله بن عمر عن النبي صلى الله عليه وسلم قال : كنا نتلقى الركبان فنشتري منهم الطعام ، فنهانا النبي - صلى الله عليه وسلم - أن نبيعه حتى نبلغ به سوق الطعام(۷۳:۲).

ژباړه: د عبدالله ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی مونږ به د قافلې مخی ته تللو د توکو اخیستلو لپاره رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ورڅخه منعه کړو تردې پورې چې بازارته ورسیږي

**دویم دلیل** (عَنْ عَبْدِ اللهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، «أَنَّهُ نَهَى عَنْ تَلَقِّي الْبُيُوعِ (۱۱۵۶:۲).

ژباړه : د عبدالله ابن عمر رضی الله عنه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د قافلې مخی ته دتللوو څخه منعه کړې

**دریم دلیل** (عن أبي هريرة عن النبي صلى الله عليه وسلم قال : لا تلقوا الأجلاب ، فمن تلقى منه شيئاً فاشترى ، فصاحبه بالخيار إذا أتى السوق.(۳۰۱:۱۶).

ژباړه : د ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلی دي تاسو مه ځی د قافلې مخی ته که څوک لاړه او د هغې څخه یې څه واخیسته پس ملګری ددې (بایع ) اختیارمن دی کله چې بازار ته راشی یعنی د بیع د (فسخ ) ړنګولو اختیار لری

جمهور فقهاء وایی چې دا حدیث دلیل دی په حرمت د بیع تلقی الرکبان باندې کله چې یو کس داسی

بیع کړی وي بایع لره اختیاردی په فسخه کولو د بیع باندې امام ثعلبی مالکی وایی: (تلقي السلع قبل أن تورد للأسواق فهذا ممنوع إلا أنه لا يفسخ ويخير بقية أهل السوق في أن يشاركوا)(۴۸۱:۷).

ژباړه: ثعلبی مالکی رحمه ا لله وایی د قافلې مخې ته تلل ممنوع دی مګر که څوک لاړه بیع یې فسخه کیدی نشی او اختیار ورکول کیږی د بازار اوسیدونکو ته چې په دې کې شریک شی ددې څخه دا معلومه شوه چې د قافلې مخې ته تلل منعه ده او همدارنګه صاحب المحلی رحمه الله تعالی نظر دادی چې د قافلې مخې ته تلل مطلقا حرام ده که قصدا وي او که بدون د قصد څخه وي او برابره خبره ده که (ملتقی) مخامخ کیدونکې د لارې اوسیدونکې وي او برابره خبره ده که بازاروالاو ته ضررر سېږي او که نه رسیږی ددې قول څخه دا معلومه شوه چې بیع تلقی الرکبان حرام دی په نزد د ابن حزم رحمه الله (۴۴۹:۱).

**د امام بخاری رحمه الله نظر**

امام بخاری رحمه الله وایی بیع تلقی الرکبان حرامه ده او ددې په نزد هغه څوک چې د قافلې مخې ته ځی لپاره د توکو اخیستلو دا مشتری (اخیستونکی ) ګناه ګار دی او دلته د امام بخاری به نزد په دې بیع کې دوکه ده او دوکه په (بیع ) خرڅول او(شراء) اخیستلو کې روا نه دي

امام بخاری وایی ټول هغه (عقدونه) تړونونه چې شرعا منعه وي هغه مردود دي او همدارنګه اصولین علماوو ویلې دي ټول هغه (بیوع ) خرڅلاو منعه ده کوم چې د فساد سبب ګرځی برابره خبره ده که هغه راجع زات د (عقد) تړون ته وي او یا لازم وي د تړون سره.(۳۸:۱۴).

د امام شوکانی رحمه الله نظر هم دادی چې بیع تلقی الرکبان نه دی روا او دلیل د امام شوکانی د بخاری روایت دی (عنِ ابنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُما كانَ يَقُولُ: نَهى النبيُّ - صلى الله عليه وسلم - أَنْ يَبيعَ (وفي روايةٍ: لا يَبِعْ بَعْضُكُمْ عَلى بَيْعِ بَعْضٍ ولا يَخْطُبُ الرَّجُلُ على خِطْبَةِ أَخيهِ حتَّى يَتْرُكَ الخاطِبُ قَبْلَهُ أَوْ يَأْذَنَ لَهُ الخَاطِبُ.(۳۶۸:۲).

ژباړه : ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی دای وایی رسول الله صلی الله علیه وسلم منع کړی له دې څخه چې ځنی ستاسو به (بیع ) اخیسستل او خرڅول نه کوی په (بیع) د ځنی نورو یعنی ترڅو پورې چې یو کس د یو شی د اخیستلو او یانه اخیستلو څخه فارغ شوی نه وي بل کس ته روا نه ده د هغې د اخیستلو او همدارنګه ریباری د نکوی سړی په ریباری د ورور خپل تردې پورې چې ریباری کونکې یې پریږدی مخکې ددې څخه او یا اجازت ورته وکړی ریباری کونکې

ددې حدیث څخه امام شوکانی رحمه الله استدلال کوي چې بیع تلقی الرکبان روا نه ده.

**د علماوو اختلاف دی په علة د منع د بیع تلقی الرکبان کې**

ځنې علماوو ویلی علة د نهی دادی چې کله یو کس د قافلې مخې ته لاړشی لپاره د توکو اخیستلو ټوله ګټه دې ته راځي او نور خلک چې بازارکې اخیستل او خرڅول کوي هغوی ددې کټې څخه محروم او بې برخې وي او هغوي ته ضرررسېږی او ګټه د هغوی څخه پاتی کېږی نو علة ځان ته ګټه رسؤل او د نورو خلکو دګټې څخه بې برخې کیدل دي

او همدارنګه ځنی علماء علة د حرمت د (بیع تلقی الرکبان ) دا وایی چې مالک د توکو ته او د بازار اوسیدونکو ته ضرر ونه رسېږی نو ځکه دا بیع حرامه ده .(۱۹۸:۱۰).

**د امام شافعی او مام احمد رحمها الله نظر**

د امام شافعی او مام احمد رحمها الله نظر دادی چې بیع تلقی الرکبان مکروه دی او د دوې لپاره نقلی دلیل دا حدیث دی ( عن أبي هريرة، قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «لا تلقوا الجلب، فمن تلقى منه شيئا فصاحبه بالخيار إذا أتى السوق»(۲۱۷:۱۱).

ژباړه: د ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دی دای وایی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل تاسو مه ورځی د توکو مخی ته د اخیستلو لپاره ځوک چې مخامخ شو څه شی سره مالک د توکو ته اختیار دی کله چې بازارته راشی

امام شافعی رحمه الله وایی چې دا بیع روا ده مګر مالک د توکو لره اختیار شته د بازار تللو څخه وروسته ځکه کله چې یو کس یو شی واخلی د بانډې والاوو څخه مخکې د بازار نه د رسیدو څخه په دې کې دوکه او تاوان دی د توکو مالک سره نو هغی لره اختیار دي د بیع د فسخی کولو (۱۷۸:۹).

د امام شافعی رحمه الله د نظر څخه دا معلومه شوه که یو کس

د قافلې مخې ته ناڅاپه لاړشی بدون د قصد څخه اخیستل یاخرڅول وکړی دا بیع مکروه نه دی او مکروه په هغې صورت کې دی چې د مشتری قصد دا وې چې داتوکي زه واخلم مخکې د نور خلکو څخه او همدارنګه په قیمت کې

دروغ ووایی یعنی په بازارکې یوه بیعه وي او دا د هغې څخه په ارزانه قیمت یی واخلي په دې صورت کې بیعه مکروه دی

او جوینی رحمه الله هم دا شرط لګولی چې دروغ به نوي په بیع کې او هدف به یی دا نوی چې په کم قیمت یی واخلی .(۲۶۸:۱۰).

**په کوم صورت کې دا بیع (تلقی الرکبان ) مکروه دی**

د ځنې فقهاوو دا نظر دی چې د توکو مخی ته تلل مطلقا مکروه نه دی او دا نظر د امام اوزعی او امام ابوحنیفه رحمها الله دی .(۲۷:۱۳).

دوي استدلال کوی په دې حدیث سره (عن عبد الله بن عمر رضي الله عنهما ، قال : كنا نتلقى الركبان فنشتري منهم الطعام فنهانا النبي صلى الله عليه وسلم أن نبيعه حتى نبلغ به سوق الطعام ) (۳۹:۳).

ژباړه: عبدالله ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی دای وایی مونږ به د قافلې مخې ته تللو مونږ به د هغو ی څخه خوررا کې توکې اخیستل بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم منعه کړو داخیستلو څخه تردې پورې چه مونږ ورسیږو بازارته او همدارنګه دوی استدلال کوی پدې حدیث (عن عبدالله ابن عمررضی الله عنه أنهم كانوا يشترون الطعام من الركبان على عهد الرسول صلى الله عليه وسلم ، فيبعث عليهم من يمنعهم أن يبيعوه حيث اشتروه حتى ينقلوه حيث يباع الطعام) (۴۰:۳).

ژباړه : عبدالله ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی دوی به خوراکي توکي اخیستل د قافلې والاوو څخه په زمانه د رسول الله صلی الله علیه وسلم کې رسول الله صلی الله علیه وسلم دوی پسي ځوک ولېږه چې منعه یی کړی تردې پورې چې نقل کړی هغې ځای ته چې هلته خرسیږی . ددې دواړو حدیثینو څخه داسی استدلال کیږی چې دا بیعه صحیح ده مګر رسول الله صلی الله علیه وسلم چې منعه کړی ددې وجه نه چې د بازارد اوسیدونکو حق وساتل شی او همدارنګه خرڅونکې یی منعه کړی چې

توکي مه خرڅوی ترڅو پورې چې بازارته ورسېږی لیکن د احنافو په کتابونو کې داخبره ذکرشوی چې (بیع تلقی الرکبان) په دوه حالاتوکې مکروه دی لومړی حالت هغه دی چې د ښار
او سیدونکو ته ضررروی او هغوی د کټی څخه بیبرخی کېږی دویم چې قیمت یی پټ شی د هغې کسانو څخه چې توکې راوړی پدې دوو حالاتوکې مکروه دی دا بیع .(۱۰:۱۹۸).
راجح قول پدې مختلفو اقوالو او نظرنو کې هغه ده چې بنا وي په صحیح دلیل او مصلحت د مسلمانانو باندې کله چې مونږ فکر وکړو د اول قول علماوو ته چې هغوی مختلف دلایل وړاندې کړه او د مسلمانانو مصلحت یی په نظرکې نیولی دی دوي بیع تلقی الرکبان حرام ګرځولی ځکه په دې کې ډیر ضرردی د ښار اوسیدونکو ته او همدارنګه د مال مالک ته هم ده .
دا غوره او راجح نظردی چې بیعه تلقی الرکبان حرامه ده نو د اسلامي شریعت اوامر او نواهی د مسلمانانو په مصلحت او ګټه بنا ده او همدارنګه اسلامي شریعت رد کوي په هغې کسانو باندې چې د اسلامي شریعت په مخالفت خبرې کوي او د اسلامي شریعت اوامر او نواهی بناوي په مصلحت باندې د مثال په ډول الله تعالی په قران کریم کې مونږ ته حکم کوي د سترګو په ښکته کولو د پره دیوو زنانه وو نه اوس په دې کې مصلحت دادی چې د زنا لپاره مقدمه کتل اولیدل دي او الله تعالی فرمایی ( قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَلِكَ أَزْكَى لَهُمْ إِنَّ اللهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ) ( النور:30).
ژباړه: ووایه ای محمد صلی الله علیه وسلم مؤمنانو ته چې ښکته کې خپل نظرونه او ساتنه وکړی د خپل د خاص اندامونو دا ښه پاکونکی دی دوي لره بیشکه الله تعالی ښه خبرداردی په هغې کارونو چې دوی یی کوی.
نو په بیع تلقی الرکبان کې هم اسلامي شریعت د مصلحت څخه کاراخیستی چې مسلمانانو ته پکې تاوان ونه رسېږی .

**پایله**

کله چې ما په دې موضوع کې تحقیق وکړو (بیع تلقی الرکبان ) (یعنی هغه توکي چی مخکې د بازار د رسیدو څخه واخیستل شی ) زه دې نتیجې ته ورسیدم چې اسلامي شریعت دا د مصلحت دین ده او پدې کې د هرشی لپاره اصول وي چې د چا حق پکې ضایع نشی حتی چې(هغه توکې چې بمارکیټ ته درسیدو څخه مخکې واخیستل شی ) په دې کې هم اسلامي شریعت د خلکو ګټه یی په نظر کې نیولی او ضرر یی ورڅخه دفعه کړی او همدارنګه اسلامي شریعت د توکو د مالک او د ښار اوسیدونکې حق یي هم په نظر کې نیولی ده دا دلیل شو د اسلامي شریعت په عدالت باندې چې اسلامي شریعت د انصاف او عدال دین دی او همدرانګه په دې موضوع کې د فقهاوو مختلف نظرونه می مطالع کړی او د هر مذهب قول او دلیل می ذکر کړی لیکن راجح مذهب پکې د جمهورعلماوو دی . (والله اعلم )

**وړاندیزونه**

۱- د توکو اخیستونکې دې په خپل خرڅول او خیستل کې د عدالت څخه کار واخلي ځکه اسلامی شریعت مونږ ته په عدل او انصاف باندې حکم کوې
۲- تجارانو او دوکاندارانو ته پکار ده چې د توکو خرڅول او خیستل اسلامي شریعت سره برابرکړی چې د نور خلکو حقوق ورڅخه ضایع نه شی

۳- په اسلامي ټولنه کې چې څوک اوسېږی باید به بیع او شرا کې نور خلکو ته ضرر ونه رسوي

۴- د مسجد امامانو او خطیبانو ته مې داوړاندیز دی چې په خپلو خطبو کې خلکو ته هغه بیع او شرا یعنی اخیستل او خرڅول واضح کړي چې سبب د ګناه نه وي او همدارنګه هغه بیع او شرا دې هم واضح کړی چی نور ته پکې ضرر وي

۵- خرڅونکې او اخیستونکې باید دوکه ونه کړی په بیع او شراکې او د خپل د توکو عیب د خرڅولو په وخت کې اخیستونکې ته بیان کړی او اسلامي شریعت په دې ترکیز کوي چی په بیع او شرا کی باید دوکه نه وی.

**ماخذونه**

القران

1. ابن حزم، المحلى مصدر الكتاب: موقع يعسوب .قوبلت على النسخة التي حققها الاستاذ الشيخ احمد محمد شاكر الجزء الاول دار الفكر. ج449/8
2. البخاري ، محمد بن إسماعيل أبو عبدالله الجعفي الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه .صحيح البخاري .الناشر: دار طوق النجاة (مصورة عن السلطانية بإضافة ترقيم ترقيم محمد فؤاد عبد الباقي) الطبعة: الأولى، 1422هـ ج٣.
3. البخاري ، محمد بن إسماعيل أبو عبدالله الجعفي الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه .صحيح البخاري .الناشر: دار طوق النجاة (مصورة عن السلطانية بإضافة ترقيم ترقيم محمد فؤاد عبد الباقي) الطبعة: الأولى، 1422هـ ج١٠.
4. البيهقي أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي ، أبو بكر (المتوفى: 458هـ) لسنن الصغير للبيهقي دار النشر: جامعة الدراسات الإسلامية، كراتشي ـ باكستان ج ٢.
5. التلقين في الفقه المالكي. تحقيق: محمد ثالث سعيد الغاني الناشر: المكتبة التجارية.ج٢.
6. التميمي ، أبو عبد الرحمن عبد الله بن عبد الرحمن بن صالح بن حمد بن محمد بن حمد بن إبراهيم البسام (المتوفى: 1423هـ) توضِيحُ الأحكَامِ مِن بُلُوغ المَرَام .الناشر: مكتَبة الأسدي، مكّة المكرّمة .الطبعة: الخامِسَة، 1423 هـ - 2003 م ج٤.
7. الثعلبي، عبد الوهاب بن علي بن نصر المالكي أبو محمد سنة الولادة / سنة الوفاة 362. ج٢.
8. الجوهري ، أبو نصر إسماعيل بن حماد الفارابي (المتوفى: 393هـ) الصحاح تاج اللغة وصحاح العربية ،الناشر: دار العلم للملايين - بيروت الطبعة: الرابعة 1407 هـ - 1987 م ج١.
9. الشافعي ،محمد بن إدريس .الأم .المحقق: رفعت فوزي عبد المطلب. دار النشر: دار الوفاء البلد: المنصورة الطبعة: الأولى. ج5 .
10. الشوكاني محمد بن علي بن محمد بن عبد الله اليمني (المتوفى: 1250هـ) نيل الأوطار تحقيق: عصام الدين الصبابطي طبعة: الأولى، 1413هـ - 1993م

الناشر: دار الحديث، مصرج٥ .
11. الشيباني ،أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد (المتوفى: 241هـ) مسند الإمام أحمد بن حنبل المحقق شعيب الأرنؤوط - عادل مرشد، وآخرون إشراف: د عبد الله بن عبد المحسن التركي الناشر: مؤسسة الرسالة ج١٦.
12. الشيرازي، المهذب أبو اسحاق إبراهيم بن علي بن يوسف (المتوفى: 476هـ) الناشر: دار الكتب العلمية. ج١.
13. الصنعاني، محمد بن إسماعيل بن صلاح بن محمد الحسني، الكحلاني ، أبو إبراهيم، عز الدين، المعروف كأسلافه بالأمير (المتوفى: 1182هـ. سبل السلام .الطبعة: بدون طبعة وبدون تاريخ عدد الأجزاء: 2 الناشر: دار الحديث. ج٢.
14. العينى ،أبو محمد محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد بن حسين الغيتابى الحنفى بدر الدين (المتوفى: 855هـ) عمدة القاري الناشر: دار إحياء التراث العربي - بيروت، ج10.
15. القاري،علي بن (سلطان) محمد، أبو الحسن نور الدين الملا الهروي (المتوفى: 1014هـ)مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح .الطبعة: الأولى، 1422هـ - 2002م الناشر: دار الفكر، بيروت - لبنان عدد الأجزاء: ج٩ .
16. القزويني ، يزيد - أبو عبد الله محمد بن يزيد (المتوفى: 273هـ)سنن ابن ماجه.ج٣.
17. مجمع الملك فهد ،الفقه الميسر في ضوء الكتاب والسنة: الناشر : مجمع الملك فهد لطباعة المصحف الشريف، سنة الطبع : 1424هـ ج١.
18. المحقق: شعيب الأرنؤوط - عادل مرشد - محمَّد كامل قره بللي - عَبد اللّطيف حرز الله
الناشر: دار الرسالة العالمية الطبعة: الأولى، 1430 هـ - 2009 م ج٣.
19. النيسابوري، مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري (المتوفى: 261هـ) المسند الصحيح المختصر بنقل العدل عن العدل إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم .الناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت .ج٣.
20. وزارة ولأوقاف والشئون الإسلامية - الكويت ،الموسوعة الفقهية الكويتية الأجزاء 1 - 23: الطبعة الثانية، دارالسلاسل – الكويت. ج٩.

# په خوست ولایت کې د خلاصې او لپراسکوپیکې کولې سیستیکتومي پروسیجر تر منځ پرتله

ليکونکې: رنځور مل ډاکټر قادرشاه همت د خوست ولایتي روغتون د جراحي ديپارتمنت مشر
پوهنمل ډاکټر شېرزاد هڅاند د شیخ زاید پوهنتون د طب پوهنځی جراحي ديپارتمنت استاد
تقريظ ورکوونکی: پوهندوی ډاکټر سید رحیم شاه شمل وال د شیخ زاید پوهنتون طب پوهنځی د فریولوژي ديپارتمنت مشر

**لنډیز**

د صفراء کڅوړې تيږې په ټوله نړۍ کې د ناروغې يو عام عامل دی، چې ښځینه جنس نسبت نارينه جنس ته زيات په دې ناروغۍ باندې اخته کیږي. صفراء کڅوړې د تیږو ناروغۍ زیاتره پېښې پرته له اعراضو څخه وي. (۱)

تر ۱۹۸۱ میلادي کال پورې د صفراء کڅوړې د تیږو نارغۍ له پاره Open cholecystectomy یوه معیاري درملنه وه، مګر د Laparoscopic cholecystectomy په راتګ سره په تدريجي ډول زیاتره جراحانو د OC پر ځای LC ته ترجیح ورکړه. په روغتون کې د پاتې کیدو مودې د کموالي سربېره يې تر عمیاتو وروسته درد کم او له روغتون څخه ژر رخصت کیږي. علاوه پردې د ښکلا له نظره هم LC نسبت OC ته ښه والی لري. په دغه څېړنه کې دا تشريح شوي، چې د صفراء کڅوړې د تیږو له پاره کوم پروسیجر نسبت بل ته ښه والی لري. (۲)

**مواد او میتود:** په دغه څېړنه کې ټول سل ناروغان شامل دي، چې عمرونه یې له ۱۳ څخه تر ۹۰ کالو پورې دي او د التراساوند له معاینې څخه وروسته ورته د صفراء کڅوړې د تیږو ناروغي تشخیص شوي دی. یاد ناروغان د خوست په ملکي روغتون او تقوا معالجوي روغتون کې بستر شوي. یاد ناروغان په دوه ګروپونو باندې ویشل شوي دي، Group A (n=50) چې د LC او Group B (n=50) چې OC ورته تر سره شوي ده.

**پایلې:** په OC کې د (۸۰ دقیقې) LC (۶۰ دقیقې) په پرتله د عملیاتو موده ۲۰ دقیقې اوږده وه. په روغتون کې په اوسط ډول د ناروغ پاتې کیدو موده په A ګروپ کې ۱٫۳ او په B ګروپ کې ۴ ورځې وه. تر عملیاتو وروسته درد په A ګروپ کې تر ۱۵ ساعتو پورې او په B ګروپ تر ۴۸ ساعتو پورې وو او همدارنګه په OC کې (۱۰ سلنه) د LC (۴ سلنه) پر تله د شق شوې ناحیې منتن کیدل زیات وو.

**وروستی پایلې:** د صفرا کڅوړې د تیږو په هغو ناروغانو کې چې په خورا دقت غوره شوي وي، د OC په پر تله د LC کړنلارې ته ترجیح ورکول کوي.

**کلیدي ټکي**

د صفراء کڅوړې تيږې، تر عملیاتو وروسته درد، د عملیاتي ناحیې منتن کیدل، تر عملیاتو وروسته په روغتون کې د پاتې کیدو موده.

**شالید**

د صفراء کڅوړې تیږې یوه له عامو ناروغیو څخه ده چې زیاتره په ښځینه جنس کې رامنځ ته کیږي او له ۱۵ څخه تر ۲۵ سلنه ښځینه جنس پرې اخته دي. د صفراء کڅوړې د تیږو ناروغۍ له پاره اساسي درملنه عبارت له OC څخه ده چې په لومړي ځل د Carl August Langenbuch جرمني جراح له خوا په ۱۸۸۱ میلادي کال کې تر سره شوه. سربیره پر عملیاتو د درملنې نور ډولونه یې عبارت له Oral dissolution agents او Lithotripsy څخه دی چې اغیز یې کم او نن سبا په کلینیکي ساحې کې ور څخه ډېره کمه ګټه اخیستل کیږي.(۳)

د LC په مروجیدو سره د صفراء کڅوړې د تیږو د ناروغیو په درملنه کې خورا پرمختګ راغلو چې اوس یې جراحان نسبت OC ته ډېر اهمیت ورکوي. لومړۍ LC د Professor Muhe Boblingen له خوا په جرمني کې تر سره شوه، چې اوس مهال په ټوله نړۍ کې LC د درملنې په لومړۍ کرښه کې راځي.(۵)

د LC ګټې د ناروغ ژر له روغتون څخه خارجول، له عملیاتو څخه وروسته د درد کموالی او ژر خپلې دندې ته ګرځیدلو څخه عبارت دي. مګر د ګټو تر څنګ یې زیانونه عبارت له د Common Bile duct جروحات، د جراح تجربې کموالی، د وسایلو لوړه بیه او په واضح ډول د ناحیې اناټومي نه لیدو څخه دي. په هغه ناروغانو کې چې قلبي او تنفسي ستونزې لري، د هغې له پاره کاربن دای اکساید مضاد استطباب وي، د صفراء کڅوړې د تیږو له پاره باید ورته OC تر سره شي، ځکه کاربن دای اکساید د Cardiac arrhythmias سبب ګرځي. (۴)

**میتود او مواد**

یاده څېړنه په Prospective ډول په سلو ناروغانو کې چې پنځوس ناروغانو ته OC د خوست په ملکي روغتون کې او پنځوس ناروغانو ته LC په تقوا معالجوي روغتون کې د ۱۳۹۷ کال د حمل میاشتې له پیل څخه د ۱۳۹۷ د حوت میاشتې تر پایه پورې عملیات شوي، تر سره شوي دی. په دغه څېړنه کې هغه ناروغان چې د Cholecystitis اعراض علایم یې درلودل ذکر شوي دي، ناروغانو څخه د تاریخچې له اخیستو وروسته فزیکي او لابراتواري معاینات، د صدر اکسرې او التراساونډ تر سره او Cholelithiasis په لوحه بستر او عملیات ورته شوي دي.

یاد سل ناروغان په دوه ګروپو ویشل شوي دي، په A ګروپ کې LC ناروغان او په B ګروپ کې OC ناروغان شامل دی. په دغه ناروغانو کې په روغتون کې د پاتې کیدو موده، تر عملیاتو وروسته درد او تر عملیاتو وروسته د زخم انتان ارزول شوي دي.

**نتیجه:**

زیاتره ناروغان د ښځینه له جنس څخه دي (۸۳ سلنه) په A ګروپ کې ۴۲ ښځینه او ۸ یې نارینه دي چې ورته LC اجرا شوي ده. په B ګروپ کې ۴۱ ښځینه او ۹ نارینه دي چې OC ورته اجراء شوي ده. د عمر له پلوه له ۱۳ کالو څخه تر ۹۰ پورې رسیږي چې زیاتره ناروغان یې د ۳۰ څخه تر ۶۰ کالو پورې عمر لري.

د ګیډې په ښۍ پاسنۍ برخه کې درد تر ټولو عام عرض وو چې ناروغانو ته د شحمي غذا تر

خوړولو وروسته پیدا شوی وو بیا په ترتیب سره ژر مرښت، دلبدي او استفراق، ارګمي او تبه يې د اعراضو له جملې څخه وو. د دواړو ګروپونو څخه يو ناروغ هم زيړی نه درلود. په OC ناروغانو کې تر خوراک وروسته زر مرښت، تبه او تر عملياتو وروسته د زخم انتان موجود وو. اما Belching بیا په LC ناروغانو کې موجود وو. دلبدي او استفراقات بیا په دواړو ګروپو ناروغانو کې شتون درلود.

۱ – جدول: د نارینه او ښځینه جنس تر منځ د پيښو پرتله

| Sex | Laparoscopic cholecystectomy (Group A) | Open cholecystectomy (Group B) | Total | Percentage of patient |
|---|---|---|---|---|
| Male | 8 | 9 | 17 | 17% |
| Female | 42 | 41 | 83 | 83 % |
| Total | 50 | 50 | 100 | 100% |

| Type of procedures | Number of patient | Mean of age | Std. Dev. | Minimum | Maximum |
|---|---|---|---|---|---|
| Laparoscopic cholecystectomy (Group A) | 50 | 51,52 | 14,285 | 20 | 80 |
| Open cholecystectomy (Group B) | 50 | 52,2 | 13,807 | 28 | 87 |

د یادو سلو کسانو څخه ۱۷چې نارینه دي، د عمر له نظره يې P value د 0,526 سره مساوي دی، چې د احصایې له نظره سیګنیفیکینټ نه دی، اما له یادو سلو کسانو څخه چې ۸۲ يې ښځینه دي، د عمر له نظره P value د 0,059 چې د احصایې له نظره سیګنیفیکیټ نه نیږدې دی.

هغه ناروغانو ته چې LC تر سره شوي وه، تر عملیاتو وروسته يې درد په اوسط ۱۵ ساعتو کې له منځه ولاړ په داسې حال کې چې هغه ناروغانو ته چې OC تر سره شوي وه درد يې په اوسط ډول تر ۴۸ ساعتونو پورې دوام درلود.

په روغتون کې پاتې کیدو موده په A ګروپ ناروغانو کې په اوسط ډول ۱,۸ ورځې په داسې حال کې چې په B ګروپ ناروغانو کې دغه موده څلور پورې وغزيده.

| Type of procedures | Number of patient | Mean of days | Std. Dev. | Minimum | Maximum |
|---|---|---|---|---|---|
| Laparoscopic cholecystectomy (Group A) | 50 | 1,80 | 0,700 | 1 | 3 |
| Open cholecystectomy (Group B) | 50 | 4 | 1,340 | 2 | 7 |

په یادو سلو ناروغانو کې چې ۱۷ يې نارينه دي، د عملیاتو وروسته په روغتون کې د پاتې کيدو د ورځو P value د 0,125 سره مساوي دی، چې د احصايې له نظره سګنیفکینټ نه دی، اما د يادو سلو ناروغانو څخه ۸۳ يې ښځينه جنس تشکيلولي، چې P value د 0,000 سره مساوي دی، چې د احصايې له نظره سيګنيفيکينټ دی.

تر عملیاتو وروسته د شق شوي ناحيې انتان په A ګروپ کې ۲ ناروغانو درلود، په داسې حال کې چې په ګروپ B ناروغانو کې دغه شمېره تر پنځو پورې رسيدلې وه (4% versus 10%).

۲ – جدول: دشق شوي ناحيې منتن کيدل

| Incision site infection | LC | OC | Percentage |
|---|---|---|---|
| Infected patient | 2 | 5 | 14% |
| Total patient | 50 | 50 | 100 % |

د يادو سلو کسانو څخه چې ۱۷يې نارينه دي، چې د شق شوي ناحيې د منتن کيدو له نظره P value د 1 دی، چې احصايې له نظره سيګنيفيکنټ نه دی، او د يادو سلو کسانو څخه چې ۸۲ ښځينه دي، P value د 0,078 چې احصايې له نظره سيګنيفيکنټ نه دی،

**مناقشه**

Lanenbuch فرانسوي عالم چې په لومړي ځل open cholecystectomy عمليات تر سره کول ويلي يې وو، چې صفراء کڅوړه په دې خاطر نه ليرې کوو چې تيږې په کې دي، بلکې په دې خاطر ليرې کوو چې تيږې يې جوړې کړې دي. په همدې اساس بيا د تيږو سره يو ځای صفراء کڅوړې ليرې کول دي تر څو په ناروغ کې بيا تيږې رامنځ ته نه شي. د عملياتو استطباب په دواړو ګروپونو کې يو شان دی اما د پروسيجر انتخاب بيا ناروغ پر صحي او اقتصادي حالاتو پورې اړه لري، دا چې په LC ناروغانو کې تر عملياتو وروسته درد کم، تر عملياتو وروسته د زخم انتان رامنځ ته کيدل په روغتون کې د ناروغ کم وخت له پاره پاتې کيدل نسبت OC ته

کم دي، نو په همدې لحاظ باید ناروغ ته LC ترسره شي.
په دغه څېړنه کې ښځینه جنس نسبت نارینه جنس ته زیات (۸۳ سلنه) وو، زیاترو ناروغانو عمر له ۳۰ څخه تر ۶۰ کالو پورې وو. که په مقایسوي ډول د هغې څېړنې سره وکتل شي چې هند کې د Singh P et al له خوا شوې ده په کې ښځینه جنس (۷۹ سلنه) ده، [۷] چې زموږ د څېړنې د سلنې (۸۳ سلنې) سره اړخ لګوي.
د B ګروپ (OC) ناروغانو کې د عملیاتو موده نسبت A ګروپ (LC) ته کمه وه چې همدا څېړنه مو په مقایسوي ډول د Pessaux P et al د څېړنې سره، چې په سعودي عربستان کې په ۱۳۹ ناوغانو تر سره شوې وکتله په هغې کې LC نسبت OC ته کمه وه، (103.3 min versus 149.7 min). زما په اند چې د نوي او پر مختللیو وسایلو نه شتون او تر څنګ یې د تجربه لرونکي پرسونل کمښت به یې سبب وي. [۸]
همدارنګه زموږ په څېړنه کې تر عملیاتو وروسته درد په LC کې۱۵ او په OC کې تر ۴۸ ساعتو پورې دوام کړی وو چې په مقایسوي ډول مو د Shukla A et al څېړنې سره چې په هندوستان هیواد کې تر سره شوې، وکته، چې په هغې کې هم د LC درد (۱۴ ساعته) نسبت OC ته (۲۷ ساعته) ته کم وو، خو په عمومي ډول زموږ په څېړنه کې درد موده زیاته وه، چې ممکن د درملو د کیفیت کموالي، په مناسب ځای کې نه ساتل او پر وخت د درد ضد درملو نه تطبیق وي.
زموږ په څېړنه کې تر عملیاتو وروسته په روغتون کې د پاتې کیدو موده په LC کې ۱٫۳ ورځې او په OC کې۴ ورځې وه. په مقایسوي ډول مو د هغې څېړنې چې د Anmol N et al له خوا تر سره شوې وه وکتل شوه، چې LC ناروغانو ۳ ورځې اوو په OC کې ۵ ورځې ښودل شوي ده. [۸]

**وروستی پایلې:**
د صفراء کڅوړې تیږې په ټوله نړۍ کې یوه عامه ناروغي ده چې خاصې درملنې ته اړتیا لري، د هغه ناروغانو له پاره چې د صفراء کڅوړې د تیږو له ناروغیو څخه کړیږي، درمنله یې OC یا LC ده. یادې څیړنې څخه هدف داده، چې د صفراء کڅوړې تیږو په درملنه کې LC له OC سره مقایسه کړو. په پایله کې داسې لیکو چې LC د صفراء کڅوړې تیږو د درملنې له پاره لومړۍ انتخاب ده، چې تر عملیاتو وروسته یې درد کم، په روغتون کې یې پاتې کیدو موده لږه، د جلدې ښکلا له نظره ښه او د شق ناحیې منتن کیدل یې کم دي.

ماخذونه:


1. Anmol N,Lakshminaryan G, Manohar TM,Avadhani GK, Abinash H. Outcome Following open and laparoscopic cholecystectomy. J Evolution Med Dental Sci.2014;3(15):4061-71. 8
2. Della Bianca P, Bonvin B. Lithotripsy of biliary calculi by

shock waves. Current possibilities and perspectives. Helv Chir Acta. 1990, 56:9136. 6

3. Doke A, Gadekar N, Gadekar J, Dash N, Unawane S.A comparative study between open versus laparoscopic cholecystectomy. Sch J App Med Sci. 2016: 4 (1) : 57 – 61
4. Gadacz TR, Talamini MA. Traditional versus Laparoscopic Cholecystectomy. Am J Surg. 1999: 161-8. ijmedicine.com/index.php/ijam/article/view/1403/1076
5. Particularly laparoscopic cholecystectomy in patients with destructive forms acute cholecystitis / V.O. Siplivy, G.A. Petrenko, G.A. Guzü ta ³í. // Practical medicine. - 2005. - ¹1, Volume IX. - C. 86-87.
6. Experience of performing laparoscopic interventions in patients with acute choleitol/ V.I. Erbakov, A.V. Kozachenko, O.N. Pesotsky and others. // Short cut school. - 2005. - ¹1.1. - pp.150-152.
7. Huang C.S. Long-term results of major bile duct injury associated with laparoscopic cholecystectomy / C.S. Huang, H.H. Lein, F.C. Tai, C.H. Wu // Surg. Endosc. - 2003. - Vol.17, no. 9. - P. 1362-1367.
8. Minimally invasive operation in a non-invasive operation / M.². Tutchenko, O.A. Tkachenko,O.V. Vasilyuchik ta ³n. // Zá. science. worker P.L. Rupik. - K.,2007. - Vi. 16, Book 4. - C. 102-106.
9. Karim T, Kadyal A.A Comparative Study of Laparoscopic vs. Open Cholecystectomy in a Suburban Teaching Hospital. J Gastrointest Dig Syst. 2015: 5:371.
10. Pessaux P, Regenet N, Tuech JJ, Rouge C, Bergamaschi R, Arnaud JP. Laparoscopic versus open cholecystectomy: a prospective comparative study in the delderly with acute cholecystitis. Surge Laparosc Endosc Percutan Tech. 2001 Aug: 11 (4): 252-5
11. Villanova N, Bazzoli F, Taroni F, Frabboni R, Mazzella G, Festi D, et al. Gallstone recurrence after successful oral bile acid treatment. A 12-year follow-up study and evaluation of long-term post dissolution treatment. Gastroenterol. 1989, 97: 726-31.

# اثرات عاید سرانه بالای دسترسی مردم به انترنت در افغانستان

نویسنده گان : پوهنیار عبدالفتاح مفلح و پوهنمل مامورالدین منگل
اعضای کادر علمی دیپارتمنت اقتصاد ملي پوهنتون شیخ زاید
تقریظ دهنده: پوهنوال دوکتور رحیم جان دردمل استاد پوهنځی اقتصاد

**چکیده**

میزان دسترسی مردم به اجناس و خدمات در یک کشور سطح رفاه اقتصادی را در همان کشور نشان میدهد. یکی از خدمات که در بخش معلوماتی و ارتباطی مردم بشکل روز افزون از آن استفاده میکنند خدمات انترنتی می باشد. عوامل مختلف از قبیل قیمت خدمات انترنتی، درامد مصرف کننده گان، ذوق و عادت مصرف کننده گان و غیره از جمله عواملی شمرده میشوند که بالای میزان دسترسی مردم به خدمات انترنتی در یک جامعه اثرگذار است.
دراین مقاله اثرات عاید سرانه بالای میزان دسترسی مردم به انترنت در افغانستان بین سالهای ۲۰۰۲ و ۲۰۲۰ ارزیابی شده که در آن معلومات از سایتهای بانک جهانی و اتحادیه جهانی مخابرات بدست آمده و بااستفاد از مودل ریگریشن خطی مورد تحلیل قرار گرفته است. نتایج تحلیل نشان میدهد که سطح عاید سرانه بالای میزان دسترسی مردم به انترنت در افغانستان ۳۱,۴ فیصد بشکل مثبت نقش دارد.

**مقدمه**

عصر کنونی را عصر ارتباطات نامیده اند. گسترش چشمگیر ارتباطات و توسعه بی سابقه تکنالوژی های نوین ارتباطی و تغییر شیوه های ارتباطی در بین افراد یک جامعه همانا از مشخصات جامعه ای است که در آن زنده گی مینماییم. استفاده از رسانه های نوین شرط لازم برای تغییر ساختار و ارتقای جایگاه در جوامع بشری است.(شهیدزی, ۲۰۱۶)
بالای مقدار تقاضای یک جنس عوامل متعددی از قبیل قیمت همان جنس، سطح درامد مصرف کننده گان، قیمت سایر کالاها، سلیقه و انتظارات از آینده اثر گذار است. (Dominick Salvatore, 2006)

خدمات انترنتی از جمله کالاهای است که بشکل روز افزون از آن در افغانستان استفاده صورت میگرید و برای رشد و انکشاف اقتصادی و همسانی با جهان یک ضرورت شناخته میشود. سطح دسترسی به انترنت تابع عوامل مختلف می باشد که یکی از عمده ترین آن سطح درامد مردم در توانایی پرداخت مصرف انترنت می باشد.

از آنجایکه دنیای امروزی دنیای انترنت شناخته میشود و تقریبا تمام فعالیت های بشری از تحصیل و

دریافت معلومات تا انجام معاملات و وظیفه از طریق انترنت امکان پذیر بوده؛ میزان دسترسی مردم به خدمات انترنتی از جمله شاخص های مهم توسعه اقتصادی محسوب می شود.

کشور های مختلف با درنظرداشت امکانات متفاوت با سطوح مختلف به سهولت های انترنتی دسترسی دارند و انترنت در اقتصاد از یکطرف سبب رشد وا نکشاف اقتصادی میگردد و از طرف دیگر رشد اقتصادی و افزایش درامد مردم سبب دسترسی بیشتر مردم به خدمات انترنتی نیز میگردد. در این تحقیق سعی صورت میگیرد تا در افغانستان بین سالهای ۲۰۰۲ الی ۲۰۲۰ اثرات عاید سرانه بالای رشد میزان دسترسی مردم به انترنت مطالعه شود و سنجش شود.

**واژه های کلیدی:** افغانستان، انترنت، تولیدات ناخالص داخلی، دسترسی، عاید سرانه

**اهداف تحقیق**

۱. شناسایی رابطه بین عاید سرانه و فیصدی نفوس که به انترنت در افغانستان دسترسی دارند
۲. تثبیت میزان اثر پذیری متغیر وابسته ( میزان دسترسی مردم به انترنت) از متغیر مستقل ( عاید سرانه)

**فرضیات تحقیق**

$$H_0: \beta = 0$$
$$H_1: \beta \neq 0$$

- فرضیه صفری: عاید سرانه بالای میزان دسترسی مردم به انترنت در افغانستان اثر گذار نیست.
- فرضیه متناوب: عاید سرانه روی میزان دسترسی مردم به انترنت در افغانستان اثر گذار است.

**پیشینه تحقیق**

در حول موضوع مورد بحث تحقیقات ذیل دریافت و مطالعه گردیده است.

- تحقیقی در مورد اثرات رشد اقتصادي و استفاده از انترنت بالای نشرات علمی در کشورهای آسین و بهترین پوهنتون های جهان توسط حسین غلیزاده، هادی صالحی، محمد امین، محمد دانایی، علی اردی، فرید حبیبی، نادرعلی ابراهیم و نورازون ابو عثمانی در سال ۲۰۱۴ صورت گرفته که در آن رابطه بین استفاده از انترنت و GDP بالای نشر مقالات و کنفرانس های علمی در ده پوهنتون های درجه اول جهان، کشورهای آسین و مالیزیا صورت گرفته است. اعداد و ارقام تحقیق از سایت بانک جهانی و دیتابس science direct بدست امده و با میتود one-way ANOVA تحلیل شده؛ نشان میدهد که کشور

های آسین و مالیزیا بین استفاده از انترنت و GDP و نشرات پوهنتون ها رابطه مثبت وجود داشته اما در بهترین پوهنتون ها به سطح جهان (کشورهای امریکا و انگلستان) رابطه این شاخص ها منفی بدست آمده است. (Gholizadeh et al., 2014)

- تحقیقی در مورد سرمایه گذاریهای مستقیم خارجی، تکنالوژي معلوماتی و رشد اقتصادی در سب سحرین افریقا توسط Simplice A. Asongu و Nicholas M. Odhiambo در سال ۲۰۱۹ انجام شده که در آن نقش ورود تکنالوژی معلوماتی و ارتباطی در جهت دادن سرمایه گذاریهای مستقیم خارجی به نفع رشد اقتصادی در ۲۵ کشور افریقایی بین سالهای ۱۹۸۰ و ۲۰۱۴ ارزیابی شده است. بااستفاده از ارقام بانک جهانی در مورد رشد GDP، GDP حقیقی و GDP per capita به عنوان شاخص های رشد اقتصادی و وردو انترنت و تلیفون به عنوان شاخص های تکنالوژی معلوماتی و ارتباطی وتحلیل اعداد وارقام با میتود Generalized Method of Moments نشان داده که تکنالوژي معلوماتی و ارتباطی بالای هر سه شاخص رشد اقتصادی تاثیرات مثبت دارد.(Asongu et al., 2018)
- تحقیقی توسط Rajah Rasiah در مورد تکنالوژي معلوماتی وارتباطی (ICT ) و عاید سرانه (GDP Per Capita) در سال ۲۰۰۶ انجام شده که در آن سه فرضیه تست شده است در قدم اول رشد GDP سبب رشد تکنالوژي معلوماتی و ارتباطی شده و در قدم دوم رابطه بین عاید سرانه و مصرف تکنالوژي معلوماتی و ارتباطی مثبت بوده و در قدم سوم اثرات تکنالوژي معلوماتی و ارتباطی بالای رشد عاید سرانه در طول زمان روبه افزایش ثابت شده است. معلومات باساس مشاهدات ۱۶۳ کشور که در هر ۱۰۰۰ نفر چند نفر به تلیفون دسترسی دارد و مصرف تکنالوژی معلوماتی و ارتباطی در ۴۹ کشور بین سالهای ۱۹۹۵ و ۲۰۰۰ با استفاده از اعداد وارقام بانک جهانی مورد استفاده قرار گرفته است. (Rasiah, 2006)

با در نظرداشت تحقیقات صورت گرفته فوق دراین تحقیق رابطه بین عاید سرانه و میزان دسترسی مردم به انترنت در افغانستان بین سالهای ۲۰۰۲ و ۲۰۲۰ صورت میگیرد که هم ازنظر مکان و هم از نظر زمان با تحقیقات صورت گرفته قبلی متفاوت و جدید می باشد.

**مواد و روش تحقیق**

مواد استفاده شده در این تحقیق ثانوی می باشد. اعداد و ارقام بارتباط عاید سرانه در افغانستان بین سالهای ۲۰۰۲ و ۲۰۲۰ از سایت بانک جهانی بدست آمده و ارقام به ارتباط میزان دسترسی مردم به انترنت بین سالهای ۲۰۰۲ و ۲۰۲۰ در افغانستان از سایت اتحادیه جهانی مخابرات یا ITU بدست

آمده است. مواد جمع آوری شده به کمک مودل ریگریشن خطی که در آن عاید سرانه به عنوان متغیر مستقل و میزان دسترسی به انترنت به عنوان متغیر وابسته در نظر گرفته شده، تحلیل و تجزیه شده است.

**مبانی نظری تحقیق**

GDP **سرانه:** در صورتیکه ارزش مجموعی تولیدات ناخالص داخلی (GDP) در یک کشور در یک دوره بالای نفوس آن کشور تقیسم شود GDP سرانه بدست می آید.

GDP همان طوریکه در سطح یک کشور نشان دهنده ارزش تولیدات مجموعی و مصارف مجموعی است در سطح فرد هم بیانگر عواید و مصارف شخص می باشد و هرفرد در اقتصاد تلاش دارد تا درامدی بیشتری داشته باشد و بتواند از طریق مصرف آن مطلوبیت بیشتری را حاصل کند، بنا این یک شاخص معمول در اندازه گیری رفاه اقتصادی فرد نیز می باشد. (Mankiw, 2016)

**تولیدات ناخالص داخلی (Gross Domestic Product):** عبارت از ارزش بازارای تمام کالاها وخدمات تولید شده در یک کشور طی یک دروه زمانی می باشد. اجزای تولیدات ناخالص داخلی عبارت از مصرف(C)، سرمایه گذاریها(I)، مخارج دولت(G) و صادارت خالص(X-M) است که معادله آن شکل ذیل را دارد.

در اجزای فوق مصرف عبارت از خرید کالاها وخدمات توسط خانواده ها به استثنای خرید خانه های جدید می باشد. سرمایه گذاری عبارت از خرید ابزار، تجهیزات، ساختمان و خانه های جدید توسط خانواده ها می باشد، مخارج یا خریداریهای دولت نیز شامل خرید کالاها و خدمات توسط دولت را نشان میدهد و صادرات خالص تفاوت ارزش صادرات و واردات را نشان میدهد.

در سنجش ارزش تولیدات ناخالص داخلی معمولا از دو نوع قیمت ها استفاده صورت میگیرد، در صورتیکه از قیمت های جاری یعنی قیمت همان سال که تولیدات در آن صورت گرفته است استفاد شود نوع GDP سنجش شده اسمی می باشد و اگر قیمت های سال پایه برای سال های مختلف در نظر گرفته شود GDP که سنجش میشود واقعی شمرده می شود.

**انواع سنجش تولیدات ناخالص اقتصاد کل:** برای سنجش GDP معمولا سه روش متفاوت بکار برده میشود. سنجش ایجادی، سنجش استفاده وی و سنجش توزیعی. در سنجش ایجادی ارزش تمام تولیدات اقتصاد کل سنجش گردیده و فعالیت های قبلی از آن تفریق میگردد، حاصل این تفریق ایجاد ارزش ناخالص اقتصاد کل را نشان میدهد که با اضافه نمودن مالیات غیر مستقیم و تفریق امدادیه های دولت به تصدی ها میتوان تولیدات ناخالص داخلی را از آن بدست آورد. در سنجش استفاده وی مصارف استهلاکی خانواده ها و دولت، مصارف سرمایوی ماشین آلات و تجهیزات در تعمیرات وسایر دستگاه ها، تغیرات در موجودی گدام و صادرات خالص باهم جمع شده نتیجه حاصله تولیدات ناخالص داخلی را نشان میدهد. در سنجش توزیعی عواید عوامل تولید متشکل از مزد و معاشات، عواید موسسات غیر انتفاعی، مفاد تصدی های، ربح و کرایه خالص و مالیات غیر مستقیم

به شمول تعرفه و مالیه بر واردات باهم جمع می شوند حاصل جمع عبارت از تولیدات خالص داخلی است که با جمع نمودن استهلاکات تولیدات ناخالص داخلی بدست می آید. (نورعباد,۱۳۹۳)

**داده ها و مدل تحقیق**

داده های تحقیق به ارتباط سطح عاید سرانه درافغانستان مربوط سالهای ۲۰۰۲ الی ۲۰۲۰ می باشد و از سایت بانک جهانی دریافت گردیده که در جدول ذیل نشان داده میشود.

| *Year* | *GDP Per Capita* **($)** | *Year* | *GDP Per Capita* **($)** |
|---|---|---|---|
| *2002* | 179.43 | *2012* | 638.85 |
| *2003* | 190.68 | *2013* | 624.32 |
| *2004* | 211.38 | *2014* | 614.22 |
| *2005* | 242.03 | *2015* | 556.01 |
| *2006* | 263.73 | *2016* | 512.01 |
| *2007* | 359.69 | *2017* | 516.68 |
| *2008* | 364.66 | *2018* | 485.67 |
| *2009* | 437.27 | *2019* | 494.18 |
| *2010* | 543.31 | *2020* | 516.75 |
| *2011* | 591.19 | | |

منبع: سایت بانک جهانی(World Bank, 2022)

داده ها مربوط میزان رشد دسترسی مردم افغانستان به انترنت مربوط سالهای ۲۰۰۲ و ۲۰۲۰ می باشد و از سایت اتحادیه جهانی مخابرات یا ITU دریافت گردیده که در جدول ذیل نشان داده میشود.

| *Year* | *Access to Internet* | *Year* | *Access to Internet* |
|---|---|---|---|
| *2002* | 0 | *2012* | 0.0545 |
| *2003* | 0.0009 | *2013* | 0.059 |
| *2004* | 0.0011 | *2014* | 0.07 |
| *2005* | 0.0122 | *2015* | 0.0826 |
| *2006* | 0.0211 | *2016* | 0.11 |
| *2007* | 0.019 | *2017* | 0.135 |
| *2008* | 0.0184 | *2018* | 0.168 |
| *2009* | 0.0355 | *2019* | 0.176 |
| *2010* | 0.04 | *2020* | 0.184 |
| *2011* | 0.05 | | |

منبع: سایت اتحادیه جهانی مخابرات(ITU, 2022)

### مدل تحقیق

چون تحقیق کمی بوده از مدل ریگریشن خطی استفاده صورت میگیرد. داده های مربوط را در قالب مدل $Y = \alpha + \beta X + \varepsilon$ به شکل معادله که در زیر نشان داده شده مورد تجزیه و تحلیل قرار میدهیم.

$$Access\ To\ the\ internet = \propto + \beta(GDP\ per\ Capita) + \varepsilon$$

در این مدل میزان دسترسی مردم به انترنت به عنوان متغیر وابسته، $\propto$ عرض از مبدا، $\beta$ ضریب متغیر مستقل، GDP سرانه بحیث متیغر مستقل و $\varepsilon$ عبارت از اثرات عوامل مستقل دیگر بالای متغیر وابسته می باشد.

### آزمون ریگریش خطی تحقیق

با استفاده از برنامه SPSS برای ریگریشن مورد نظر چنین نتایج را در می یابیم .

| Model Summary | | | | |
|---|---|---|---|---|
| Model | R | R Square | Adjusted R Square | Std. Error of the Estimate |
| 1 | .560[a] | .314 | .273 | 5.22561 |
| a. Predictors: (Constant), GDP_PerCapita | | | | |

در جدول بالا دیده میشود که ارزش R Square بالغ به 0.314 می باشد و نشان میدهد که GDP سرانه 31.4% درمیزان دسترسی مردم به انترنت نقش دارد متباقی68.6% در آن عوامل دیگر نقش دارردند .

| Coefficients[a] | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| Model | | Unstandardized Coefficients | | Standardized Coefficients | t | Sig. |
| | | B | Std. Error | Beta | | |
| 1 | (Constant) | -3.155 | 3.670 | | -.860 | .402 |
| | GDP_PerCapita | .022 | .008 | .560 | 2.787 | .013 |
| a. Dependent Variable: Percentage of population having access to internet | | | | | | |

از معلومات جدول همبستگی شکل معادله را میتوان چنین تثبیت کرد.

$$Access\ To\ the\ internet = -3.155 + 0.022(GDP\ per\ Capita) + \varepsilon$$

یعنی با افزایش هر واحد GDP سرانه میزان دسترسی به انترنت به اندازه 0.022 واحد افزایش میکند.

| ANOVA[a] | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| Model | | Sum of Squares | df | Mean Square | F | Sig. |
| 1 | Regression | 212.139 | 1 | 212.139 | 7.769 | .013[b] |
| | Residual | 464.220 | 17 | 27.307 | | |
| | Total | 676.359 | 18 | | | |
| a. Dependent Variable: Percentage of population having access to internet | | | | | | |
| Capita Per b. Predictors: (Constant), GDP | | | | | | |

در جدول ANOVA دیده میشود که ارزش P کوچکتر از 0.05 یعنی 0.013 می باشد بنا فرضیه صفری ما رد و فرضیه متناوب تاید می گردد.




باساس گراف رابطه بین دو متحول شکل ذیل را دارد.

**مناقشه**

بااستفاده از اعداد و ارقام موجود و تحلیل صورت گرفته دیده میشود که متغیر مستقل مورد مطالعه ( GDP سرانه) بالای متغیر وابسته ( میزان دسترسی مردم به انترنت) در افغانستان در طول سالهال ۲۰۰۲ و ۲۰۲۰ اثر گذاری مستقیم با ارزش R Square = 0.314 داشته که بیان میدارد عاید سرانه در میزان دسترسی مردم به انترنت به اندازه ۳۱,۴ فیصد و متباقی ۶۸,۶ فیصد عوامل دیگر نقش دارد. و با ارزش P=0.013 فرضیه صفری رد و در عوض فرضیه متناوب مورد تایید قرار میگیرد. گراف رابطه بین عاید سرانه و میزان دسترسی به انترنت شکل صعودی و معادله آن شکل Y= 3.155 + 0.022X - را دارد که در آن Y میزان دسترسی به انترنت و X سطح GDP سرانه می باشد.

**نتیجه گیری**

در تحقیق انجام شده دریافت گردید که عاید سرانه بالای میزان دسترسی مردم در افغانستان بین سالهای ۲۰۰۲ و ۲۰۲۰ بطور مستقیم با میزان ۳۱,۴ فیصد نقش دارد.
ضمنا پشنهاد صورت میگرید تا محققین علاقمند در موضوع روی عوامل اثر گذار دیگر بالای متغیر وابسته ( میزان دسترسی مردم به انترنت در افغانستان) تحقیقات بعدی را انجام دهند و دولت افغانستان و سازمانهای دیگر که خواهان تغیر میزان دسترسی مردم به انترنت باشند صرف با وزن ۳۱,۴ فیصد عاید سرانه مردم را در مورد مهم و قابل توجه در نظر بگیرند.

**منابع**


۱. شهیدزی, ا. (۲۰۱٦). نقش انترنت و کمپیوتر در رسانه های اجتماعی مجازی. *مجله علمی پوهنتون کابل*

۲. نورعباد, ح. (۱۳۹۳). *مباحثی ازبرنامه ماستری*. مرکز ملی تحقیقات پالیسی

3. Asongu, S. A., Africa, S., Odhiambo, N. M., Africa, S., & Asongu, S. A. (2018). *Unisa Economic Research Working Paper Series*. 1–25.
4. Dominick Salvatore. (2006). Microeconomics. In *Schaum's Outlines*. https://doi.org/10.1036/0071462368
5. Gholizadeh, H., Salehi, H., Embi, M. A., Danaee, M., Ordi, A., Tanha, F. H., Ebrahim, N. A., & Osman, N. A. A. (2014). Economic growth and internet usage impact on publication productivity among ASEAN's and world's best universities. *Modern Applied Science*, *8*(5), 169–178. https://doi.org/10.5539/mas.v8n5p169

6. ITU. (2022). *www.itu.int*. Www.Itu.Int. https://www.itu.int/en/ITU-D/Statistics/Pages/stat/default.aspx
7. Mankiw, G. (2016). *Macroeconomics [9th Edition] ( PDFDrive )*.
8. Rasiah, R. (2006). Information and communication technology and GDP per capita. *International Journal of Internet and Enterprise Management*, *4*(3), 202. https://doi.org/10.1504/ijiem.2006.010914
9. World Bank. (2022). *Afghanistan | Data*. Www.Worldbank.Org. https://data.worldbank.org/country/afghanistan?view=chart

# په لابراتوارونو کې د عضوي موادو د سنتيز د مناسبو شرايطو څېړل

ليکوونکی: پوهنيار محمد ثناء الله روښان
شيخ زايد پوهنتون، د ښوونې او روزنې پوهنځی، د کيميا څانګې استاد
تقريظ ورکوونکی: پوهنوال امرالله اصفي د ښوونې او روزنې پوهنځی متقاعد استاد

**لنډیز:**

په دغې څېړنیزه مقاله کې په لابراتوار ونو کې د يو عضوي مرکب سنتيز مناسب شرايط څېړل شوي دي، څرنګه چې هر کيمياوي مرکب د يو کيميا وي تعامل په نيتجه کې منځ ته راځی نو د مرکب ماهيت، جوړښت او اهميت د مربوطه تعامل په هغو شرايطو پورې اړه لري، چې ياد محصول يې تر تاثير لاندې تشکيل شوی وي، په دې اساس بايد د کيمياوي تعامل اوليه (تعامل کوونکي) مواد بايد به دې ډول انتخاب شي چې قيمت يې ارزانه، زيات پيدکيدونکي، غير زهري او محيط ته مضر نه وي چې د دې مقالې اصلي هدف د دغو شرايطو څېړل دي يعنې د يو کيمياوي تعامل لپاره له څه ډول محيط، کتلست معارف او ريجنت څخه بايد استفاده وشي تر څو محصول په کم وخت او ښه کيفيت سره په لاس را شي دې هدف ته د رسيدو لپاره په لابراتوارونو کې د عضوي موادو د سنتيز دولس ګوني اصول بايد په نظر کې ونيول شي چې د دغې مقالې اصلي منځپانګه تشکيل کړې ده.

**کليدي ټکي**: دولس ګوني اصول، سنتيز، کتلست، ککړتيا. مناسب شرايط

**سريزه:**

په عضوي سنتيز کې کيمياوي تعاملات داسې په پام کې نيول کيږي چې د امکان ترحده د هغه موادو له توليد څخه مخنيوی وشي چې اضافي دي، له سنتيز څخه وروسته د غير ضروري موادو په شکل محيط ته غورځول کيږي چې دغه مواد اخر د ځمکې په مخ، سيندونو، اقيانوسونو، ويالو او لښتيو کې اچول کيږي د محيط د ککړتيا باعث کيږي، له اقتصادي نظره هم په دغو موادو باندې دوه ځلې مصرف کيږي لومړی د اوليه موادو اخيستل او دوهم د غير ضروري موادو دفعه کول نن ورځ دا شعار چې زموږ ښار- زموږ کور دی يو نړيوال شعار بلل کيږي، ځکه نن ورځ د اقيانوسونو د اوبو ککړتيا، د اوزون د طبقې سوري کېدل هم د نړ يوالو له لويو انديښنو څخه دي. په علمي لحاظ چې مخنيوی له معالجې څخه بهتره ده همدا راز علمي اخلاق هم دا حکم کوي چې، محقق يادې نقطې په نظر کې ونيسي. ځکه چې د محيط د ککړتيا له منځه وړل ستونزمن او په لوړ قيمت سره نسبت مخنيوي ته تماميږي مثلاً که يو کيمياوي تعامل لپاره خاص محدوديتونه شتون ونه لري له کم خطره، ارزانه او ډير پيداکېدونکو موادو څخه بايد استفاده وشي لکه هغه کيمياوي معرفونه چې خپل ترکېب کې د مختلفو عناصرو اتومونه لري د هغوی د اضافي او کم خطره موادو توليد بايد په نظر کې ونيول شي. کيمياوي مواد بايد په دې ډول سنتيز شي چې د ښه عمل او اغيزمنتيا څخه برخمن وي، لږ زهري خاصيت ولري تر څو د کيمياوي صنايعو مالکان د هغې مادې په عرضه کولو کې کافي معلومات ولري مثلاً د هغوی محيطي ځانګړتياوې، غير سرطاني، فشار، حرارت او د بخار ځانګړتياوې يې معلومې وي ترڅو د دغو موادو حمل

او نقل بې خطره وي دغه هدف ته د رسیدولپاره د لابراتواري مناسبو شرایطو پېژندل او له هغو څخه د استفادې کولو په میکانزم باندې پوه شو چې په دې څېړنیزه مقاله کې د یادو اصولو په اړه معلومات راټول شوي دي.

**موخې:**

له دغې څېړنېزې مقالې څخه زمونږ اصلي موخې په لاندې ډول دي.

۱- د یو کیمیاوي تعامل لپاره د مناسبو شرایطو په ټاکلو پوهیدل.

۲- د هغو کیمیاوي موادو پېژندل چې د محیط لپاره مضر دي.

۳- د یو کیمیاوي تعامل لپاره د مناسب کتلست، محلل او محیط د ټاکلو په میکانیزم پوهیدل.

۴- په اکسدیشني تعاملاتو کې د مناسبو اکسیدانتونو د استعمال په ګټو پوهیدل.

۵- د خطرناکه او زهري موادو پېژندل.

**مواد او کړنلاره**: د دغې مقالې د څېړنې ډول کتابتوني شکل لري چې په ترتیب کې مې له مختلفو داخلي او خارجي کتابونو علمي مقالو او د انترنیټ له معتبرو سایټونو څخه استفاده کړې ده. نوموړې مواد مې په ځانګړي توګه ترتیب کړي دي.

## په لابراتوارونو کې د عضوي موادو د سنتیز د مناسبو شرایطو څېړل

**لومړی اصل مخنیوی**[۱]: عضوي سنتیز کې کیمیاوي تعاملات باید په دې ډول طرحه او په نظر کې ونیول شي چې د امکان تر حده د هغو موادو له تولید څخه مخنیوی وشي چې اضافي دي له سنتیز څخه وروسته د غیر ضروري موادو په شکل محیط ته غورځول کیږي چې یاد مواد اخر د ځمکې په مخ سیندونو، اقیانوسونو، ویالو او لښتیو کې اچول کیږي او د محیط د ککړتیا باعث کیږي له اقتصادي نظره هم په دغو موادو باندې دوه ځلې مصرف کیږي لومړی د اولیه موادو اخیستل دوهم د غیرې ضروري موادو دفعه کول نن ورځ دا شعار چې زموږښار- زموږ کوردی[۲]. په یو نړیوال شعار باندې بدل شوی دی باید له دې شعار څخه هیڅ وخت سترګې پټې نه شي ځکه نن ورځ د اقیانوسونو د اوبو ککړتیا او د اوزون د طبقې سوري کېدل د نړیوالو له لویو اندیښنو څخه دي، په علمي لحاظ مخنیوی له معالجې څخه بهتره ده، علمي اخلاق هم دا حکم کوي چې محقق باید یادې نقطې په نظر کې ونیسي ځکه چې د محیط د ککړتیا له منځه وړل ډېر زیات سخت او په لوړ قیمت سره نسبت مخنیوي ته دي مثلاً که د یوکیمیاوي تعامل لپاره خاص محدودیتونه شتون ونه لري له کم خطره، ارزانه او ډېر پیداکېدونکو موادو څخه باید استفاده وشي لکه هغه کیمیاوي معرفونه چې خپل ترکیب کې د مختلفو عناصرو اتومونه لري د هغوی د اضافي کم خطره موادو تولید باید په نظر کې ونیول شي مثلاً د ځینې اوکسیډې کوونکو معرفونو استعمال باید په لاندې ډول سره وي[۱].

$$H_2O_2 > KMnO_4 > OsO_4$$

**دوهم اصل د اتومونو اقتصادي استعمال**[۲]: د عضوي موادو په سنتیز کې د موادو د سنتیز روش یا طریقه په دې ډول انتخاب شي چې کوم اتومونه د لمړنیو موادو په توګه استعمالیږي باید لاس ته راغلي

---

۱. Prevention

۲. Atomic Economy

محصول کې د امکان ترحده ډېره برخه او سهم ولري مثلاً که چېرې د یو سنتیزي په میکانزم کې محصول د ۱۰۰٪ څخه کم همدا راز ټول اولیه اتومونه په محصول موادوکې شتون ونه لری، جانبی محصول هم تولید شي دغه تعامل او روش د سنتیز لپاره مناسب نه ده،د دې لپاره چې د یو کیمیاوي تعامل د پای ته رسېدو څخه وروسته څومره اضافي مواد تولیدیږي او د دغه تعامل د استفادې اندازه څومره ده یوه اندازه ریاضیکي او فرمولي محاسبې ته اړتیا شته چې، په۱۹۹۱م کال کې باري تروست[۳] لاندې فرمول د اتومونو د اقتصادي استفادې لپاره ارایه کړ[۳]. له دغه فرمول څخه د دقیقی استفادې په وخت کې باید کیمیاوي تعامل توزین شوي حالت کې په نظر کې ونیول شي.

$$\text{Atomic Economic} = \text{AE}\ \frac{product\ molecular\ weight}{Molecular\ weight\ of\ raw\ materials}\ x\ 100$$

په لاندې روشونو کې د تاکل شوي مرکب لپاره دوهم روش مناسب ده.



A

MW: 78 4.5 ´ 32 = 144

$$AE\% = \frac{98}{78 + 144} ´ 100 = 44.1\%$$



A

MW: 56 3 ´ 32 = 96

$$AE\% = \frac{98}{56 + 96} ´ 100 = 64.5\%$$

څرنګه چې لیدل کیږي د اقتصادي اتومي استعمال عددي قیمت له دوهم تعامل څخه زیات ده. دوهم تعامل بهترده همدا راز د دوهم تعامل جانبي محصول هم د اوبو مالیکولونه دي چې د محیط لپاره ککړونکی عامل نه ده. لاندې روشونه په نظر کې نیسو مناسب یې لومړی روش ده.

۳. Barry Trost




طبعي ده چې د پورته تعامل لپاره لومړی روش مناسب ده ځکه چې د اتومي اقتصادي لګښت د فیصدي زیاتوالي برسېره د اضافي موادو تولید یې هم د محیط لپاره مضر نه ده د اوبو مالیکولونه تولید شوي دي، اما دوهم روش د پورته تعامل لپاره بیخي مناسب نه ده ځکه چې د اتومي اقتصادي لګښت د کمې فصیدي برسېره دوه ډوله مضر او زهري مواد محیط ته د اضافي موادو په شکل تولید شوي دي چې دواړه یې خورا زهري خاصیت لري له یاد روش څخه په عضوي سنتیزکې استفاده ونه شي بنا پردې ویلای شو چې د پریسایکلیک تعاملاتو د اتومونو د اقتصادي لګښت له مخې ۱۰۰٪ اجرا کېږي همدا راز د دیلز- آلدر او د کلایزن د نوآوري تعاملات د اتومي اقتصادي لګښت له مخې ټول ۱۰۰٪ اجرا کېدونکي تعاملات دي[۴]. ځکه چې هیڅ اتوم په دغو تعاملاتو کې د اضافي موادو په شکل نه تولیدیږي او ټول لومړني اتومونه په محصول موادو کې شتون لري او د عضوي سنتیزله مخې دغه تعاملات خورا د اهمیت وړ تعاملات دي لکه.




پورته تعاملاتو کې لومړی روش د فینولو د تولید لپاره له دوه ځانګړتیاوو څخه برخمن ده لومړی دا چې



د اقتصادي اتومي لګښت قیمت یې لوړده او بل دا چې تعامل په یوه لوښي کې په یوه مرحله کې سرته رسېږي، اما زیات نور روښونه هم شتون لري چې کولای شو د هغو په واسطه هم فینول سنتیزکړو[۵].
اما د لاسته راتلو مراحل یې زیات او د اضافي موادو له تولید سره مل وي لکه.
همدا راز د یوبل میتود په واسطه هم فینول په دې ډول سره په لاس راوړلای شو چې هم یې اتومي اقتصادي ارزښت لوړ وي او د جانبي موادو په شکل استون ورڅخه په لاس راځي چې استون یو ښه محلِل ده او دغه روش د عضوي سنتیز له مخې ډیر ښه روش ده لکه[۵].




په ۱۹۹۴م کال کې یو بل عالم ریګرشلدون[٤] یو بل معیار یې د یو کیمیاوي تعامل د ښه مؤثریت لپاره بیان کړ، او د E[٥]- فاکتور په نوم یې یاد کړ E – فاکتور د اضافي تولید شوو موادو مقدار په کېلوګرام تقسیم په لاس راغلي محصول په کېلو ګرام څخه عبارت دی، E – فاکتور مونږ ته دا بیانوي چې د هر کېلوګرام محصول لپاره د یو کیمیاوي تعامل په نتیجه کې څومره اضافي مواد تولید شوي دي لکه په لاندې تعامل کې د هر کېلوګرام  بنزوفنون د تولید لپاره څومره اضافي مواد تولید کیدلای شي[۱۶].




$$E_{factor} = \frac{Kg_{(wasts)}}{Kg_{(product)}} = \frac{\text{Mass waste}}{\text{Mass Product}}$$

wast = Mass in prosis - Product

د پورته عددي محاسبې څخه دا په لاس راځي چې د هر کېلوګرام استوفنون د تولید لپاره ۰,۱۷۱ کېلوګرامه اضافي مواد تولید شوي دي اما د اضافي موادو نوعیت هم ډیر مهم ده مثلآ د اوبو مالیکولونه ښه دي خو کروم سلفت ډیر مضرمواد دي[۶].

---

٤. Roger Sheldon
٥. Efficiency Factor

**دریم اصل د خطرناکو کېمیاوي موادو ځخه کمه استفاده:** دا اصل په حقیقت کې د یو کیمیاوي تعامل د معرفونو، کتلستونه او د جانبي موادو لږ زهري خاصیت لرل تائید وي، د سنتیز روشونه په داسې ډول طرحه او پلان شي چې اولیه مواد او د تعامل د محصول مواد کم زهري خاصیت د انسانانو او چاپیریال لپاره ولري، د خامو موادو ځخه استفاده باید داسې وي چې دغه مواد نوي کېدونکي وي او همدا راز له مناسبو کتلستونه او ریاکتورونو ځخه کار واخیستل شي د لومړنیو موادو په اړه باید معلومات ترلاسه شي چې څه ډول خاصیت لري ځنګه یې کولای شو د یوځای ځخه بل ځای ته انتقال کړو، همدا راز یو تحقیق کوونکی چې کله په کومو موادو باندی تحقیق کوي د هغی یاداشت باید په یوه کتابچه کې ولیکل شي ترڅو په راتلونکي کې د هغو له خواصو ځخه نور تحقیق کوونکي او محصلین خبروي[۶].

**څلورم اصل د کیمیاوي موادو د تامین طرحه او پلان:** کیمیاوي مواد باید په دې ډول سنتیز شي چې د ښه عمل او مؤثریت ځخه برخمن وي او کم زهري خاصیت ولري[۶] تر څو د کیمیاوي صنایعو مالکان د هغې مادې په عرضه کولو کې کافي معلومات ولري مثلآ تر څو د هغوی محیطي ځانګړتیاوي، فشار، حرارت، غیرې سرطاني او د بخارځانګړتیاوې یې معلومې وي ترڅو د یادو موادو حمل او نقل بې خطره وي.

**پنځم اصل د محلِل او کومکي موادو برابرول:** په یو عضوي سنتیز کې له کومکي موادو لکه محلِل د امکان ترحده کمه استفاده وشي که امکان لري بیخي استفاده ونه شي او په هغو تعاملاتو کې چې د محلِل ځخه بغیر امکان نه لري باید له مناسبو محلِلونو ځخه استفاده وشي مثلآ اوبه، الکول او فوق بحرانی کاربن ډای اکساید یا هغه محلِلونه چې د سطحي جذب[۶] قدرت یې زیات وي له هغو محلِلونو ځخه بهتره دي چې خپل ترکیب کلورین لري، په همدې دلیل روشي میتود[۷] په عضوي سنتیز کې یو خاص اهمیت لري له همدې امله نن ورځ د عضوي موادو د سنتیز محققین یا میتودولوجستان[۸] کوشش کوي داسې روشونه او طریقې پیداکړي چې کم مصرفه او محیط ته زیان اړونکې نه وي[۷].

**شپږم اصل د انرژی د مناسب مصرف طرحه او پلان:** د اړتیا وړ انرژي په کیمیاوي عملیو کې باید له محیطي او اقتصادي نظره د اهمیت وړ وي د امکان تر حده عضوي تعاملات د محیط په فشار او حرارت کې ترتیب شي په خاص ډول دا بهتره ده چې د فتروشیمي په صنایعو کې د موادو د تولید لپاره د یوې کیمیاوي عملیې د سرته رسولو لپاره هر څومره چې د حرارت مقدار زیاتیږي، بیرته د دستګاه د سړولو لپاره مصرف ته اړتیا پیدا کیږي، په عین وخت کې د انرژي سوځیدو منابع هم په مصرف رسیږي چې په نتیجه کې دغه ډول کیمیاوي تعاملات له اقتصادي نظره په لوړ قیمت تمامیږي محققین د یاد روش پرځای کولای شي له مناسبو کتلستونو ځخه استفاده وکړي ترڅو د کیمیاوي تعامل د فعالولو د انرژي سطحه را ټیټه کړي[۸].

٦. Surfactant
٧. Methodology
٨. Methodologists

**اووم اصل له نوې کېدونکو ذخیرو څخه استفاده:** لازمه ده چې په کیمیاوي تعاملاتو کې له نوي کېدونکو خامو موادو څخه استفاده وشي، ښه به دا وي چې له هغو منابعو څخه استفاده وشي چې فوسيلي منبع نه لري او د هغو پرځای له سوځیدونکو فیلونو، د باد انرژي، د لمر انرژي او داسې نورو منابعو څخه استفاده وشي او د اولیه موادو په استعمال کې له بایو ګازونو څخه د طبعي ګازونو پرځای استفاده وشي د نوي کېدونکو منابعو پېژندل او پیداوکول په ټولنه کې د هر محقیق لپاره یو مهم اصل دی او دا هم باید وویل شي چې د نوي کېدونکو منابعو څخه داستفادې په وخت کې باید مصرف، وخت، سرعت او لاسرسی هم په نظرکې ونیول شي[۹].

**اتم اصل په یوعضوي سنتیز کې د جانبي مشتقاتو څخه مخنیوی:** د عضوي موادو د سنتیز په یوه عملیه کې باید د غیر ضروري مشتقاتو د تولید څخه مخنیوی وشي ځکه زیاتې انرژي او محلِل ته ضرورت لري، په همدې اساس د ډومینو[۹] اوتک ظرفي[۱۰] یا د یو لوښي تعاملات د خاصو ځانګړنو درلودونکي دي ځکه په یادو تعاملاتو کې د خالص کولو په عملیه کې د څو مرحلو څخه مخنیوی کیږي او په یوه لوښي کې یوځای په عین وخت کې صورت نیسي، مثلآ د لاندې تعاملاتو ټول مراحل په یو لوښي کې صورت نیسي[۱۰].





**نهم اصل کتلستونه:** د متجانسو او غیرې متجانسو کتلستونه څخه استفاده د عضوي سنتیز له مهمو اصولو څخه ده ځکه کتلستونه کولای شي چې د یو کیمیاوي تعامل مهمو ځانګړ تیاوو ته لاس رسی ولري، لکه د موادو کمه استفاده، د اقتصادي ارزښت زیاتوالی او د انرژي د مصرف په کمولو کې خورا ښه رول ولوبوي، غیرې متجانس کتلستونه د یو بستر په توګه عمل کوي[۱۱]. او د هغوی جلا کول د کیمیاوي تعامل د عملي څخه وروسته اسانه کار ده هر څومره چې د یوکتلست د بدلیدو عدد (TON)[۱۱] او د بدلیدو د فریکونسی عدد(TOF)[۱۲] لوړ وي د هغه کتلست ارزښت او اهمیت زیات وي مثلآ سلفوریک اسید چې په عضوي سنتیز کې د کتلست په توګه ورڅخه زیاته استفاده کیږي په دې وروستیوکلونو کې د سلیکا سلفوریک اسید، سلیکا کلورایدونه، نافیون –اچ او داوکس د غیرې متجانسو کتلستونو په توګه د سلفوریک اسید مایع تیزابو پرځای استعمالیږي او همدا راز د هغوی

۹. Domino Reaction
۱۰. One-Pot
۱۱. Turnover Number (TON)
۱۲. Turnover Frequency (TOF)

دوباره لاسته راتلل او بیا ورځخه د کتلست په توګه استفاده هم د امکان وړده په کتلستونه باندې په دې ورستیو کلونو کې زیات تحقیقات شوي حتی د سلیکا ژیل په واسطه یې نوري اړیکې ورسره وصل کړې دي او په کامل ډول یې په جامدو تیزابو باندې بدل کړې دي دې برخه کې په نړیوالو ژورنالونو کې مختلفې مقالې لیکل شوي دي او همدا راز په اوس وخت کې د هایدروجن سلفیت مالګو څخه هم $M(HSO_4)$ د کتلستونه په توګه استفاده شوې ده.

د کتلستونه او انزایمونو د مطالعې په وخت کې دوه فاکتورونه چې د (TON) او (TOF) په نومونو سره یادیږي زیاته استفاده کیږي چې بعضې وخت یې د $K_{cat}$ په نوم سره هم یادوي په عمومي ډول سره په عضوي سنتیز کې دری مهم کمیتونه د کتلستونه د ارزښت او اهمیت لپاره مطالعه کیږي چې عبارت دي له.

- ✓ د انتخاب وړتیا
- ✓ TON

(TOF) د (TON) او (TOF) له مخې د یو کتلست د کارولو اندازه یا مقدار په لاس راوړلای شو دا دوه مفهومونه په درې مختلفو کتلستي سیستمونو یعني متجانس سیستم، غیرې متجانس سیستم او حیاتي کتلستي سیستم کې مختلف مقدارونه لري مثلاً په لاندې معادله کې A لومړی ماده او B محصول مواد دی[۱۲].

$$A \xrightarrow{Cat.} B$$

په متجانسو سېستمونو کې TON د A مالیکولونو له هغه مقدار څخه عبارت دی چې د یومول کتلست په واسطه د B په مالیکولونوباندې بدلیږي[۱۳].

او (TOF) د A مادې د مولونو هغه مقدار چې یومول کتلست یې په یوه ثانیه دقیقه یا ساعت کې په څو موله د B په ماده باندې بدلولای شي عبارت دی. نو په دې اساس

$$TOF = \frac{TON}{Tim}$$

په غیرې متجانسو کتلستي سیستمونو کې د (TON) او (TOF) مقدار د هرې فعالې[۱۳] موضوع له مخې یا د هر ګرام کتلست له مخې بیانیږي له همدې امله په دقیق ډول نه شو ویلای چې د کتلست څو موله د سطحې پرمخ شتون لري[۱۵]. په حیاتي کتلستي سیستمونو کې د (TON)، (TOF) مقدار د انزایم او تعامل کوونکو موادو د کامپلکس د جوړښت له سرعت څخه وروسته د هغې تقسیم د انزایم په مجموعي غلظت باندې په لاس راځي عمومي فرمول د (TON) او (TOF) کمیتونو په متجانسو سیستمونو کې په لاندې ډول ده[۱۴].

$$TOF = \frac{\frac{Yield\%}{Tim}}{Amount\ of\ Catalyst\ (mol\%)} \qquad TON = \frac{Yield\%}{Amount\ of\ Catalyst\ (mol\%)}$$

---

۱۳. Active Site

له پورته فورمول څخه داسې نتيجه اخيستل کيږي هر څومره چې د کتلست مقدار کم او د محصول فيصدي زياته وي د (TON) او (TOF) مقدارهم زيات په لاس راځي[۱۶]. هر څومره چې دغه مقدار ډير وي دغه کتلست د عضوي موادو د سنتيز لپاره ډيرښه ارزښت او اهميت لري.

مثلا لاندې کيمياوي تعامل چې د امينوکافت ايپوکسيد يا د امينو او ايپوکسايد ترمنځ تعامل ده په نظر کې نيسو د مختلفو کتلستونو څخه استفاده شوې ده د TOF کميت له مخې مناسب کتلست په لاندې ډول انتخاب کيږي[۱۷].

| کتلست | د کتلست مقدار | وخت (ساعت) | د محصول فيصدي |
|---|---|---|---|
| $ZrO(OTf)_2$ | ۱,۲۵ | ۱ | ۹۲ |
| $Sn(OTf)_2$ | ۵ | ۲۰ | ۹٤ |
| $InCl_3$ | ۲ | ۱۲ | ۹۰ |




$$TOF = \frac{\frac{92}{1}}{1.25} = 73.6\ h^{-1}\ ,\quad TOF = \frac{\frac{94}{20}}{5} = 0.94\ h^{-1}\ ,\quad TOF = \frac{\frac{90}{12}}{2} = 3.75\ h^{-1}$$

له جدول څخه معلوميږي چې د پورته تعامل د ښه سرته رسولو لپاره د زرکونيل تريفلات کتلست مناسب ده ځکه په کم وخت کې په زياته اندازه محصول په لاس راغلی ده[۱۸].

مثلاً د لاندې سوزوکي کوپلنګ تعامل لپاره د پلاديم له کامپليکس څخه د کتلست په توګه استفاده شوې ده او دا کتلست څوځله خالص شوی او دوباره په مرحله يي شکل ورڅخه استفاده شوې ده د TON مقدارېې د ۰,۱ او ۰,۰۰۱ مول مقدار کتلست لپاره په لاندې ډول محاسبه شوی[۱۹].



| محصول | د کتلست مقدار(مول) |
|---|---|
| ۹۹ (۹۱،۸۸،۷۹،۸۰،۷٦) | ۰٫۱ |
| ۲۷ (۷۱،٥٤،۳۷،۲۲،۷) | ۰٫۰۰۱ |

د دې مسئلې د حل لپاره لومړی لاسته راغلي محصولات ټول جمع کوو او د جمع حاصل یې د کتلست په مقدار باندې تقسیم وو چې په نتیجه کې د ۰٫۱ مول مقدارکتلست لپاره د TON مقدار۵۱۳۰ او د ۰٫۰۰۱ مول مقدار کتلست لپاره د ۲۱۸۰۰۰ عدد په لاس راځي[۲۰].

**لسم اصل د سنتیز شوو موادو له منځه وړلو یا تخریب طرحه او پلان:** د کیمیاوي موادو سنتیز باید په دې ډول سره طرحه او پلان شي چې د دغو موادو له استفادې وروسته د هغو تخریب او تجزیه په محیط کې غیر ثابتو موادو باندې د بدلیدو وړتیا ولري مثلآ نن ورځ هغه لوښي او وسایل چې د یو بار مصرف لپاره استعمالیږي ترکیب یې پولي ستایریني ده نن ورځ دغه ترکیب له سلولوز او پروتیني موادو څخه په لاس راوړي چې له استفادې وروسته په محیط کې په بې ضرره موادو باندې تبدیل کیږي[۲۱].

**یوولسم اصل د محیط د ککړتیا څخه لحظه په لحظه مخنیوی:** نن ورځ داسې تجزیوي روشونه د کیمیاوي تعاملاتو د کنترول لپاره طرحه او پلان شوي دي چې کولای شي په هره لحظه کې د مضرو موادو تولید تشخیص کړي مضر مواد همیشه د یو کیمیاوي تعامل په نتیجه کې محیط ته نه علاوه کیږي بلکې د ضعیف مدیریت او نه کنترول په وخت کې هم دا مواد محیط ته تولیدیږي چې باید په مخنیوي کې یې زیاته پاملرنه وشي[۲۲].

**دولسم اصل د حادثې له واقع کیدو څخه مخنیوی:** په کیمیاوي عملیو کې باید هغه مواد چې ورڅخه استفاده کیږي په دې ډول استعمال شي چې د مختلفو حادثو لکه چاودنه، انتشار او اورلګیدنې څخه مخنیوی شوی وي مثلآ د امکان ترحده خطرناک ګازونه باید په داسې مایعاتو تبدیل شي چې حمل او نقل یې اسانه وي او له ضرر څخه مخنیوی شوی وي[۲۳].

**پایله**

باید په یو عضوي سنتیز کې له کومکي موادو لکه محلِل څخه د امکان ترحده کمه استفاده وشي او تعاملات دې داسې طرحه او پلان شي چې بیدون له محلِل څخه اجرا شي او په هغو تعاملاتو کې چې د محلِل څخه پرته امکان نه لري باید له مناسبو محلِلونو څخه استفاده وشي مثلآ اوبه، الکول او فوق بحراني کاربن ډای اکساید یا هغه محلِلونه چې د سطحي جذب قدرت یې ډیر وي د هغه محلِلونو څخه غوره دي چې کلورین لرونکي ترکیب لري. په همدې دلیل روش یا میتود په عضوي سنتیز کې یو خاص اهمیت لري له دې امله نن ورځ د عضوي موادو د سنتیز محققین یا میتودولوجستان کوشش کوي داسې روشونه او طریقې پیداکړي چې کم مصرفه او محیط ته زیان اړونکي نه وي. د کیمیاوي موادو

سنتيز په دې ډول سره طرحه او پلان شي چې لاس ته راغلي مواد له استفادې ورسته د هغو تخريب او تجزيه په محيط کې په غير ثابتو موادو باندې د بدليدو وړتيا ولري مثلاً هغه لوښي او وسايل چې د يو بار مصرف لپاره استعماليږي ترکيب يې پولي ستايريني ده نن ورځ دغه ترکيب له سلولوز او پروتيني موادو څخه په لاس راوړي چې له استفادې وروسته په محيط کې په بې ضرره موادو باندې تبديليږي. همدا راز د عضوي موادو د سنتيز په يوه عمليه کې بايد د غير ضروري مشتقاتو د توليد څخه مخنيوی وشي ځکه زياتې انرژي او محلِل ته اړتيا لري په همدې اساس د ډومينو او تک ظرفي يا د يو لوښي تعاملات د خاصو ځانګړنو درلودونکي دي ځکه په دغو تعاملاتو کې د خالص کولو په عمليه کې د ځو مرحلو څخه مخنيوی کيږي او په يوه لوښي کې يوځای په عين وخت کې صورت نيسي.

**وړانديزونه**

۱- د عضوي موادو د سنتيز مسلکي کسانو ته مې وړانديز دا ده چې تعاملات دې په دې ډول طرحه او پلان کړي چې محلل ته اړتيا ونه لري که د محلل ته اړتيا وه له داسې محلل څخه دې استفاده وشي چې د اضافي موادو په شکل محيط ته زيان ونه رسوي.

۲- د کيميا ځانګې استادانو ته مې وړانديز دا ده چې محصلين دې د عضوي موادو سنتيز له مناسبو شرايطو سره بلد کړي او په دې برخه کې دې عملي ګامونه پورته کړي.

۳- د پوهنتون رهبري ته مې وړانديز دا ده چې د کيميا ځانګې لپاره دې د مجهز لابراتوار جوړ او نوي سامان الات چې د ليسانس دورې اړوند تطبيقاتي کارونه په کې اجرا شي په پام کې ونيول شي.

**ماخذونه:**

[1] Linthorst, J. A. An overview: origins and development of green chemistry. (**2010**). *Foundations of chemistry*, *12*(1), 55-68.

[2] Fadhel, A. Z., Pollet, P., Liotta, C. L., Eckert, C. A. Combining the benefits of homogeneous and heterogeneous catalysis with tunable solvents and nearcritical water. (**2010**). *Molecules*, *15*(11), 8400-8424.

[3] Centi, G., Forzatti, P. Environmental catalysis-1st world conference environmental catalysis for a better world and life held in pisa. (**1996**), (Vol. *27*, pp. 1-2).

[4] Tamaddon, F., Alizadeh, M. Cocamidopropylbetaine catalyzed benzoin condensation and pseudo-four-component reaction of the in situ formed benzoin in water. (**2015**). *Synlett*, *26*(04), 525-530.

[5] Wang, D., Astruc, D. Fast-growing field of magnetically recyclable nanocatalysts. (**2014**). Chemical reviews, *114*(14), 6949-6985.

[6] Polshettiwar, V., Luque, R., Fihri, A., Zhu, H., Bouhrara, M., Basset, J. M. Magnetically recoverable nanocatalysts. (**2011**). *Chemical reviews*, *111*(5), 3036-3075.

[7] Barrault, J., Pouilloux, Y., Calcens, J.M., Vanhove, C., Bancquart, S. Catalysis and fine chemistry. (**2002**). *Catalysis today*, *75*(1-4),

177-181.

[8] Kazemi, M., Ghobadi, M., Mirzaie, A. Cobalt ferrite nanoparticles ($CoFe_2O_4$ MNPs) as catalyst and support: magnetically recoverable nanocatalysts in organic synthesis. (**2018**). *Nanotechnology reviews*, *7*(1), 43-68.

[9] Zhu, Y., Stubbs, L. P., Ho, F., Liu, R., Ship, C. P., Maguire, J. A., Hosmane, N. S. Magnetic nanocomposites: a new perspective in catalysis. (**2010**). *Chem cat chem*, *2*(4), 365-374.

[10] Ghorbani- Vaghei, R., Sarmast, N., Mahmoodi, J. One- pot synthesis of polysubstituted pyrrolidinones using novel magnetic nanoparticles as an efficient and reusable catalyst. (**2017**). *Applied organometallic chemistry*, *31*(8), e3681.

[11] Polshettiwar, V., Varma, R. S. Green chemistry by nano-catalysis. (**2010**). *Green chemistry*, *12*(5), 743-754.

[12] Rostami, A., Tahmasbi, B., Abedi, F., Shokri, Z. Magneticnanoparticle immobilized N-propylsulfamicacid: The chemoselective, efficient, green and reusable nanocatalyst for oxidation of sulfides to sulfoxides using $H_2O_2$ under solvent-free conditions. (**2013**). *Journal of molecular catalysis A: chemical*, *378*, 200-205.

[13] Mahmoodi, N. M., Khorramfar, S., Najafi, F. Amine-functionalized silicat nanoparticle: preparation, characterization and anionicdye removal ability. (**2011**). *Desalination*, *279*(1-3), 61-68.

[14] Rostami, H., Shiri, L. One- pot multicomponent synthesis of pyrrolo [1, 2- a] pyrazines in water catalyzed by $Fe_3O_4$@$SiO_2$- $OSO_3H$. (**2018**). *Chemistryselect*, *3*(47), 13487-13492.

[15] Rossi, B., Pastori, N., Prosperini, S., Punta, C. Multicomponent versus domino reactions: One-pot free-radical synthesis of $\beta$-amino-ethers and $\beta$-amino-alcohols. (**2015**). *Beilstein journal of organic chemistry*, *11*(1), 66-73.

[16] Ferlin, F., Luciani, L., Viteritti, O., Brunori, F., Piermatti, O., Santoro, S., Vaccaro, L. Polarclean as a sustainable reaction medium for the waste Minimized synthesis of heterocyclic compounds. (**2019**). *Frontiers in chemistry*, *6*, 659.

[17] Asif, M. A mini review: biological significances of nitrogen heteroatom containing heterocyclic compounds. (**2017**). *Int. J. Bioorg. Chem*, *2*(3), 146-152.

[18] Ghabraie, E., Balalaie, S., Bararjanian, M., Bijanzadeh, H. R., Rominger, F. An efficient one-pot synthesis of tetra-substituted pyrroles.(**2011**). *Tetrahedron*, *67* (30), 5415-5420.

[19] Kumar, S. V., Muthusaravanan, S., Muthusubramanian, S., Perumal, S. An efficient one-pot three- component domino reaction for the synthesis of 1, 3, 4- tri-substituted pyrroles. (**2016**). *Chemistry select*, *1*(4), 675-679.

[20] Sarkar, S., Bera, K., Maiti, S., Biswas, S., Jana, U. Three-component coupling synthesis of diversely substituted N-aryl pyrroles catalyzed by Iron (III) chloride. (**2013**). *Synthetic communications*, *43*(11), 1563-1570.

[21] Jadhav, N. C., Jagadhane, P. B., Patile, H. V., Telvekar, V. N. Three-component direct synthesis of substituted pyrroles from easily accessible chemical moieties using hypervalent iodine reagent. (**2013**). *Tetrahedron letters*, *54*(23), 3019-3021.

[22] Xie, J., Xing, X. Y., Sha, F., Wu, Z. Y., Wu, X. Y. Enantioselective synthesis of spiro [indoline-3, 4′-pyrano [2, 3-c] pyrazole] derivatives via an organo catalytic asymmetric michael/cyclization cascade reaction. (**2016**). *Organic biomolecular chemistry*, *14*(35), 8346-8355.

[23] Kiyani, H., Samimi, H., Ghorbani, F., Esmaieli, S. One-pot, four-component synthesis of pyrano [2, 3-c] pyrazoles catalyzed by sodium benzoate in aqueous medium. (**2013**). *Current chemistry letters*, *2*(4), 197-206.

[24] Silveira, C. C., Mendes, S. R., Martins, G. M., Schloesser, S. C., Kaufman, T . S. Modular $CeCl_3 \cdot 7H_2O$-catalyzed multi-component synthesis of 1, 2, 3, 4 –tetrasubstituted pyrroles under microwave irradiation and their further trichloroiso cyanuricacid-mediated conversion into 5-sulfenylpyrrole derivatives. (**2013**). *Tetrahedron 69*(43), 9076-9085

# د پیسو نوي نسل پېژندنه او اهمیت

لیکونکی: پوهنیار رحمت الله منګل
شیخ زاید پوهنتون، اقتصاد پوهنځی، مالي اوبانکي څانګې استاد
تقریظ ورکوونکی: پوهنوال ډاکټر رحیم جان دردمل، شیخ زاید پوهنتون اقتصاد پوهنځی استاد

**لنډیز**
کرېپټو کرنسي د پیسو یو نوی نسل دی او د څېړونکو د پام وړ موضوع ده، چې په 2009 کې د یوه نامالوم کس له خوا رامنځ ته شوه. دغه کس تر اوسه نه دی پېژندل شوی؛ خو د نوم( ساتوشي ناکاموتو) څخه یې داسې مالومېږي، چې د جاپان دی. د دې څېړنې موخه د کرېپټو کرنسی چې د پیسو نوی نسل دی، پېژندنه ده، چې دا پیسې کوم ډول پیسې دي؟ دې پیسو ته ولې کرېپټو کرنسي وایي، څه ډول کارول کېږي او څه ګټه لري؟ دغه کیفي څېړنه د (document analysis) باندې بنا ده په کوم کې، چې مختلفې منابع کارول کېږي لکه، چاپي اثار، وېبسایټونه، انلاین ډېټابیسونه، د ادارو پالیسۍ، منولونه، کتابونه، مقالې او د اداراتو راپورونه تر څو مربوطه مالومات د څېړنې لپاره تیار کړي. د دې ډول څېړنو لپاره (content analysis) میتود استعمال کړی او نورو مخکینیو څېړنو څخه مالومات راټول کړي. نو د دې مېتود پر بنسټ موږ مالومات له مختلفو انګلیسي او نورو ژبو له کتابونو او مقالو څخه ګټه پورته کړې. موږ په دې څېړنه کې هغه څه تر لاسه کړل، چې موږ خپله موخه ګرځولې وه، لکه د کرېپټو کرنسیو کارونه، اقتصادي ګټې، پېژندنه او د دې پیسو نور اړخونه مو په تفصیل سره ذکر کړل. دغه څېړنه د اکاډمیکو او غیرې اکاډمیکو خلکو سره د هغوی په مالوماتو زیاتوالي او په دې ډول کرنسیو کې پانګونې لپاره خورا اغېزمنه ده، بله دا چې دغه څېړنه په خپل ډول کې لمړنۍ څېړنه ده، چې تر سره کېږي او د دې پیسو په اړه نویو څېړنو لپاره یو کړکی دی. دغه څېړنه کولی شي د مرکزي بانک سره هم مرسته وکړي، چې هغوی دې موضوع ته په دقت پام وکړي تر څو ملت له غیرې مشروع او زیان منونکو پانګونو سره مخ نه شي

**کلیدي ټکي:** بېټکواین، پیسې، د پیسو نوی نسل،کرېپټو کرنسي، بلاک چېن

**د څېړنې موخې**

1. د پیسو د نوي نسل پېژندنه
2. د کرېپټو کرنسیو اقتصادي اهمیت باندې پوهېدل او په اقتصادي کړنو کې ترې ګټه پورته کول
3. د پانګه اچوونکو لپاره د مالوماتو وړاندې کول او د نویو فرصتونو ور پېژندل

**سریزه**

پیسې او د پیسو پېژندنه یوه مهمه موضوع ده؛ ځکه نن سبا، چې د پیسو جګړې(Currency War) خبرې کېږي موږ ته دا را په ګوته کوي، چې پیسې په اقتصادي امورو کې زیات د اهمیت وړ دي. د پیسو موضوع یوازې د راکړې ورکړې وسیله نه ده بلکې د پیسو پالیسۍ په وسیله کولی شو، چې د پیسو څخه

د اقتصادي سمون لپاره لکه: اقتصادي پرمختګ، اقتصادي ثبات، پانګونه، بې کارۍ له منځه وړل، فقر کمولو، سپما ترویج او داسې نورو برخو کې کار واخلو. د پیسو تکامل تر اوسنۍ دورې پورې مختلف پړاوونه طی کړي دي؛ خو پیسو هغه وخت په اقتصادي کړنو کې چټکتیا رامنځ ته کړه، چې کله کاغذي پیسې رامنځ ته شوې دا همدومره ستره او مهمه اختراع وه لکه انټر نیټ او کمپیوټر؛ ځکه اقتصاد ته یې یوه نوې بڼه ورکړه. د کاغذي پیسو رامنځ ته کېدلو له امله، برېښنايي پیسې هم رامنځ ته شوې او د برېښناي پیسو په رامنځ ته کېدو سره په اقتصاد کې په راکړو ورکړو کې چټکتیا څو چنده زیاته شوه. د برېښنايي پیسو رامنځ ته کېدو سره په راکړو ورکړو او پیسو په لېږد کې زیات سهولتونه رامنځ ته شول لکه د راکړو ورکړو او پیسو په لېږد کې سرعت، امنیت، اسانتیا، لګښتونو کمښت، د وخت ضایع کېدو څخه مخ نیوی، انتظار نه کول او غوره مدیرت ؤ. سره د دې، چې د کاغذي پیسو په رامنځ ته کېدو سره ستر بدلون په اقتصادي کړنو کې رامنځ ته شو او د برېښناي پیسو په رامنځ ته کېدو سره دغه اسانتیاوې لا زیاتې او اقتصادي چټک تیا لا ګړندۍ شوه خو بیا هم د پیسو په نظام کې داسې تشې موجودې وې، چې باید ډکې شوې وای، دغه تشې عبارت وې له ، د معامله کوونکو تر منځ د منځ ګړي موجودیت، د معاملې پر سر د فیس اخستل، د پیسو محدود اندازې انتقال، دولتي پالیسیو مراعتول او داسې نور. دغه مختلف لاملونه وو، چې ساتوشي ناکاموتو اراده وکړه تر څو دغه خنډونه له منځه لاړ شي او معامله کوونکي ازادانه معاملات تر سره کړي نو په ۲۰۰۹ کال کې ناکاموتو د بېټکواین په نوم داسې دول انټرنیټي پیسې رامنځ ته کړې، چې پورته موجود ټول خنډونه یې له منځه یوړل. دا په دې مانا، چې د پیسو په راکړه ورکړه او لېږد کې نوره هم اسانتیار رامنځ ته شوه او په اقتصادي معاملاتو کې لا چټکتیا ته لاره هواره شوه نو همدا وجه ده، چې دغه موضوع ورځ تر بلې اهمیت پیدا کوي او ډېرې زیاتې څېړنې د دې په اړه تر سره شوي او د قانوني کولو طرف ته روانې دي، په دې مانا، چې دغه پیسې د السلوادور په شمول یوازې په دوه درې هېوادو کې تر اوسه قانوني دي نورو هېوادونو کې د قانوني پیسو په ډول نه دي پېژندل شوي. دلته افغانستان کې په دې اړه تر ااوسه څېړنې یا نه دي لیدل شوې او یا هم ډېرې کمې دي نو دا یوه اړینه چاره ده، چې په دې اړه څېړنې تر سره شي، له ګټو زیانونو او قانوني کېدلو څخه یې با خبره شو. په ځینو هېوادونو کې، چې دې ډول پیسو کې خلک پانګونه کوي، خلکو زښت زیات زیانونه هم و موندل او همدا شان هغه هېوادونو خلک، چې د دې ډول پیسو سره بلد تیا لري په ډېره اغېزمنه توګه له دې ګټه اخلي.

**مېتودولوژي**

په دې مقاله کې د کیفي څېړنې مېتود څخه ګټه اخستل شوې او ډېټا د مختلفو انګلیسي، پښتو کتابونو او همدا شان له نړیوالو معتبرو انګلیسي مقالو څخه په کې استفاده شوې او د ټاکل شوو اهدافو مطابق، چې پورته ذکر شوي ځای پرځای شوې. دغه څېړنه یوه کیفي څېړنه ده، کیفي څېړنه د څېړنې ستونزه د مختلفو اقتصاد پوهانو له نظره ژوره او په کم وخت کې ښه څېړي او دغه کیفي څېړنه د (document analysis) باندې بنا ده په کوم کې، چې مختلفې منابع کارول کیږي لکه، چاپي اثار، وېبسایټونه، انلاین ډېټابیسونه، د ادارو پالیسۍ، منولونه، کتابونه، مقالې او د اداراتو راپورونه تر څو مربوطه مالومات د څېړنې لپاره تیار کړي. دغه میتود(Document analysis) ځکه کارول کیږي ، چې

په دې میتود کې دغه مختلف منابع و څېړل شي تر څو زموږ د اړتیا وړ مواد تر لاسه کړو Abdul-Baki) and Uthman, 2017). همدارنګه Abdul-Baki and Uthman (2017) and Sutrisno and Haron (2020) د دې ډول څېړنو لپاره (content analysis) میتود استعمال کړی تر څو له نورو مخکینیو څېړنو څخه مالومات راټول کړي. لکه څرنګه، چې په دې څېړنه کې موږ هم له مخکینیو څېړنو او کتابونو څخه استفاده کوو او د دې تر څنګ موږ دلته په دې څېړنه کې (document analysis) په اساس کیفي میتود څخه ګټه پورته کوو تر څو د خپلو موخو مطابق ډېټا را ټوله او په سیستماتیک ډول ځای پر ځای کړو.

**څېړنو ته کتنه** (Literature review)

**د پیسو نوی نسل**

دا د پیسو نوی پړاو دی، چې په مختلفو نومونو یادیږي، دا د برېښنایي پیسو یو ډول دی خو د نورو برېښنایي پیسو څخه زیات توپیر لري، چې په لاندې ډول یې تر بحث لاندې نیسو.

**سایبر پیسې (Cyber Cash)**

په امریکا کې یوه کمپنۍ 1994 کې رامنځ ته شوه، چې د کریپټو ګرافۍ څخه په ګټې اخستنې یې د ورکړو یا تادیاتي خدمات تر سره کول او د وخت په تېرېدو سره له منځه لاړه اوس، چې کله موږ د سایبر کېش له اصطلاح سره مخامخ کیږو نو موخه ترې هماغه کرېپټو کرنسی دي.

**ډیجیټل کرنسي(Digital Currency)**

ډیجیټل پیسې مجازي پیسې دي، کومې، چې په برېښنایز ډول پنځول (رامنځ ته کیږي) کیږي او زېرمه کیږي. ټولې ډیجیټل پیسې کریپټو کرنسی نه دي، یوازې همدا کرېپټو کرنسی بنه یې د ډیجیټل پیسو یو ډول دی.

**مجازي کرنسي(Virtual Currency):** په 2012 کال کې د اروپا مرکزي بانک مجازي پیسې داسې تعریف کړې، چې مجازي پیسې، هغه ډیجیټل پیسې دي، چې د کوم خاص اورګان له لوري نه کنټرولیږي، بلکې د مجازي پیسو د پنځوونکو له لوري کنټرول او خپریږي، او همدارنګه د یوې مجازي ټولنې له خوا منل شوې او د همدغې ټولنې له لوري کارول کیږي.

**کرېپټو کرنسي(Crypto-Currency) :** کریپټو کرنسی د ډیجیټل پیسو یو فرعي سیټ دی یا په بله وینا، کریپټو کرنسي د ډیجیټل پیسو یو ډول دی او د کریپټو ګرافۍ په وسیله رامنځ ته کیږي، او دغه کریپټو ګرافي دغو پیسو ته دا ځواک ورکوي، چې د دوی جعلي پیسو جوړول نا ممکن کړي او، چې کله د مجازي پیسو یادونه کیږي نو موخه ترې همدا کرېپټو کرنسی دي.

**نوټ:** دغه پورته اصطلاحات مو ځکه بېل و کارول، چې ځینو لوستونکو ته ستونزې ایجادوي او توپیر یې نه شي کولی او همدارنګه دغه (Digital Currency, Virtual Currency, Crypto-Currency and Cyber-Cash) ټول اصطلاحات مترادف کارول کیږي، چې کرېپټو کرنسي، سایبر کرنسي یا سایبر کېش او مجازي پیسې یو شان دي او د ډیجیټل پیسو تر عنوان لاندې کارول کیږي.(1: 60-62)

**د کرېپټو کرنسۍ لنډه پېژندنه**

د مختلفو اقتصاد پوهانو له نظره د کرېپټو کرنسۍ پېژندنه

کرېپټو کرنسي د ډیجیټل پیسو یو ډول دی، چې د کرېپټوګرافۍ په وسیله رامنځ ته کېږي او د بلاکچین ټیکنالوژۍ کې داسې کارول کېږي، چې د هغوی کاپي کول تقریبا ناممکن دي. ځینې علما بیا وایي، چې کرېپټو کرنسي هغه نوم د ی، چې یو ډول غیرې فزیکي پیسو یا ډیجیټل پیسو ته ورکړل شوی. په بل ځای کې داسې راپېژندل شوې، چې کرېپټو کرنسي یو ډو ډیجیټل شتمني ده او په ډیجیټل نړۍ کې د کرېپټوګرافۍ په وسیله د تبادلې د وسیلې لپاره رامنځ ته شوې د "کریپټو" کلمه هغه رمز یا کرېپټوګرافۍ ته اشاره کوي او بیا د بلاک چېن ډېټابېس ته وراضافه کېږي. او بیا وروسته دغه "کرنسي" د دې د استعمالونکو ترمینځ د تبادلې د وسیلې په توګه پېژندل کېږي.(16: 271-281)

**د خیالي یا ډیجیټل پیسو شالید**

د لومړي ځل لپاره په 1998 کې د (Wei Dai) په نوم یو اقتصاد پوه یوه لیکنه خپره کړه، چې د برېښنایي پیسو یو مبهم ویشل شوی سیستم، چې د ("b-money",) په نوم ؤ په کې تشریح شوی ؤ. له هغې لږ وروسته یو بل پیاوړي اقتصاد پوه د (Nick Szabo) د (bit gold) په نوم ، چې (bitcoin) ته ورته وې رامنځ ته کړې، چې یو برېښنایي کرنسي سیستم ؤ. لومړی غیرې مرکزي (decentralized) کرېپټو کرنسي په 2009 کال کې د (Satoshi Nakamoto) له خوا رامنځ ته شوه، چې کرېپټو ګرافي تابع یې کاروله(SHA-256, a cryptographic hash function). (4:229-238)

په ځینو څېړنو کې راځي، چې ساتوشي ناکاموتو د یو بانک سره د خپلو پیسو په اړه شخړه رامنځ ته شوې وه؛ نو هوډ یې درلود، تر څو داسې یو سیستم رامنځ ته کړي، چې دریم ګړی په کې موجود نه وي او هر څوک و کولی شي پرته له دریم ګړي مستقیم ډول د پیسو او سوداګریز معاملات تر سره کړي. داسې یو نظر رامنځ ته شو، چې ولې یو شخص د خپلو معاملاتو تر سره کولو لپاره دریم ګړي ته، چې بانک د ی اړتیا ولري او همدغه بانک دی، چې زموږ د توکو د قیمتونو د لوړوالي سبب ګرځي؛ ځکه زموږ څخه فیس اخلي. لکه سوشل میډیا، چې رامنځ ته شوه ځکه سوشل میډیا کې هر څوک په خپله خوښه کولی شي هر څه یې، چې زړه و غواړي هماغسې خبرې پوسټ کوي د کرېپټو کرنسۍ په سیستم کې هم همدا شان دی، هر څوک چې هر چا سره په هر ځای او هر چېرې، چې زړه و غواړي خپل د پیسو او سوداګریز معاملات تر سره کولی شي. د بېټکواین د قیمت په اړه داسې ویل کېږي، چې لومړیو کې د یو بېټکواین قیمت ډېر ټیټ ؤ او هر چا به، چې غوښتل یوه پیتزا تر لاسه کړي نو باید دوه سوه بیټکواینه ورکړي، په دې مانا، چې د یوې پیتزا قیمت دوه سوه بېټکواینه ؤ. د الکترونیکي پیسو له طریقه ډیجیټل نغدي تادیه وروسته له هغه مشهوره شوه، چې د کمپیوټري سیستم بانکداري رامنځ ته شوه. خو باید یادونه وکړو، چې دغه وخت کې انټر نېټ رامنځ ته شوی ؤ. یو مرکزي سرور له همدې کبله ډاډ ترلاسه کوي، چې فنډونه یو ځل مصرفېږي پدې سیستم کې خلک د تنظیم شویو او کنټرول شویو اصولو پر اساس معامله کوي، چې ممکن د اسعارو ارزښت او د اشخاصو شتمني اداره کړي دا استدلال کېږي، چې که افراد وتوانیدل، چې د مرکزي شبکې له لارې په خپلو منځو کې په ازادانه ډول معامله وکړي نو ټولنه به پخپله د دې د ارزښت په ټاکلو کې مرسته وکړي. نوموړي اسعار به یو ډیټابیس ته اړتیا ولري،

چې په جلا جلا توګه د انفرادي معاملو د ثبت کولو توان ولري، چې اصلاح کول او غلا کول ناشوني کوي. بېټکواین د بلاکچېن ټکنالوژۍ ته وده ورکړې، چې دا ټول اهداف لاسته راوړي او د یوې وسیلې د مشروعیت لپاره یو پلیټ فارم برابر کړي، چې د تبادلې یا کرېپټوکرنسی د ډیجیټلي وسیلې په توګه ثبت او پېژندل کېدی شي. (7: 16-40)

**د بلاکچېن لنډه پېژندنه**

د بېټکواین پلېټ فارم اساس د بلاکچېن په نوم ټکنالوژي ده. بلاکچېن د بېټکواین پلېټ فارم د سرو زرو ځای ګرځېدلی. بلاکچېن یوه نوې ټیکنالوژي ده او دغه ټیکنالوژي به په کاروبار کې د مالي معاملو په سر ته رسولو کې ستر بدلون را ولي. دلته یې له پنځو کلیدي ټکو څخه یادونه کوو.

1: دغه ټیکنالوژي، چې د وېشل شوې ټیکنالوژۍ نوم هم ورکړ شوی یوازې تر بېټکواینه محدوده نه ده بلکې د دې ټکنالوژۍ په وسیله زیات نور مالي کارونه تر سره کېدلی شي.او د بلاکچېن او توزیع شوي لېجر کلمې د اړونده ټکنالوژیو په پراخه مجموعو باندې پلي کېږي یا په دې مانا، چې په نورو تخنیکي کارونو کې هم ترې استفاده کېدای شي. د دې ټکنالوژۍ د کارولو لپاره د کرېپټو کرنسي پرته ډېرې نور ځایونه شتون لري، چې په هغو کې ترې ګټه اخستل کېږي.

2: دغه مشترک توزیع شوی لېجر د مرتبطو، منعکسو شویو، او ریکارډ شویو معاملو یو سیټ دی. د محاسبینو لپاره څوک چې دا لولي؛ دا په سټرایډونو کې د دوه ګوني ثبت لېجر په څېر دی. د لېجر سیستم تصور کړئ، چې په ورته وخت کې د زرو محاسبینو له خوا د هرې معاملې لپاره ساتل کېږي او یا په نظر کې نیول کېږي.

3: په توزیع شوي لېجر کې ټول ترسره شوي معاملات په شبکه کې د برخه اخیستونکو لخوا په مستقله توګه تائیدیږي او بیا په انفرادي ډول په لېجر کې ساتل کېږي.

4: د دې ټکنالوژیو غیرې مرکزي طبیعت، د منځګړي نه درلودل یعني کوم بانک یا بله اداره د معامله کوونکو تر منځ نشته او هر چا ته اجازه ورکوي، چې ونډه پکې واخلي؛ ځکه دوئ د پروتوکولونو(یو کمپیوټري ژبه ده، چې کمپیوټرونه سره نښلوي تر څو مالومات سره تبادله کړي) له مخې رامنځته شوي مقررات تعقیبوي؛ په پیل کې دا یوازې د یو څو پوهنتونو او دولتي نهادونو شخصي ډله وه، چې د دغې ټیکنالوژۍ څخه یې ګټه پورته کوله، مګر په پایله کې انټرنیټ غیرې مرکزیت غوره کړ اوس هر څوک کولی شي ونډه پکې واخلي او د انټرنیټ کارولو سره ترې ګټه پورته کړي.

۵: د منځګړي لرې کول به مثمریت او خوندیتوب ډېر کړي؛ ځکه منځګړې ادارې لکه بانک زموږ څخه فیس یا کمېشن اخلي او د معامله کوونکي لپاره یو ډول لګښت دی.(17: 44-52)

**د بلاکچېن ګټې:** بلاکچېن اعتماد رامنځته کوي، بېروکراسي له منځه وړي، فساد، رشوت، مالیاتي خلاؤ او داسې نورو سره مبارزه کوي.بلاک چېن یوځو غیر معمولي وړتیاوې لري د دوئ څخه یوه دا ده، چې تاسو کولی شئ سمارټ قراردادونه رامنځته کړئ دا هغه څه دي، چې په ښکاره ډول هر څه ښيي. دا یو داسې تړون دی، چې پخپله پروسس اجرا کوي او د قراردادونو، پلي کونکی، کنټرول، فعالیت او تادیه یې اداره کوي.(15:271-281)

**کرېپټو کرنسي څرنګه کار کوي؟**

بېټکواین یو مرتبط سیستم دی،داسې نه دی لکه دودیز سیستم، لکه څرنګه، چې په دودیز تادیاتي سیستم کې د بېلګې په توګه ویزه، ماسترکارډ یا نورې برېښنایي معاملې، چې تر منځ یې یو دریم ګړی یا کومه مالي اداره موجوده وي او دغه دریمګړې اداره د دوی ټول مالومات کنټرولوي او د دوی معاملې تضمینوي، همداشان د همدې خدمت په مقابل کې دی یوه اندازه فیس اخلي، د دې تر څنګ معامله کونکي هم مطمئن وي، چې د دوی پیسې او مال خوندي دي. بېټکواین یو بشپړ ماډل لري؛ د دې امنیت د کریپټوګرافي لوګاریتمونو لخوا تضمین شوی؛ د حکومت یا حکومتونو لخوا د خوندیتوب پرځای دا یو خوندي لوګاریتم هش (SHA) دی، چې (bites 256) کېږي. په دودیز سیستم کې دبېلګې په توګه که چېرې تاسو یو ډالر شبکې ته وسپارئ نو دا به تضمین کړي، چې تاسو به وکولی شئ یو ډالر ترلاسه کړئ هر کله چې وغواړئ خو په کرېپټو کرنسی یا بېټکواین کې داسې نه ده. په هر صورت، هېڅ شخص، اداره یا دولت یې تضمین نه کوي؛ ځکه، چې هیڅوک د شبکې ملکیت نلري. هیڅ تضمین شتون نه لري، چې بېټکواین له دودیزو اسعارو سره یو ثابت ارتباط ولري.(13:15-16)

بېټکواین په 2011 کال کې له 1$ څخه کم خو په 2013کال کې 1200$ څخه زیات خو اوس مهال په 2021 کال کې د یوه بېټکواین قیمت شاوخوا 62000$ ډالرو پورې هم رسېدلی. سربېره پردې, بېټکواین خلاصه سرچینه ده؛ هر څوک کولی شي د دې سرچینې کوډ ترلاسه کړي، کوچني تغیرات رامنځته کړي او بېټکواین ته ورته شبکه جوړه کړي او لدې سره خپله شخصي کرنسي جوړه کړي. په هر صورت, د بېټکواین مرکزي پروتوکول تر څو یو څوک بدلون په کې راولي ډېر ستونزمن دی او وجه یې د دې کرنسی د غیرې مرکزیې (Decentralize system) سیستم دی. خو که څوک خلاق فکر لري، او دوی دا فکر کوي، چې د دوی د بېټکواین په نسبت ښه ایډیا یا نظر لري تر څو نوې بله ډیجیټلي کرنسي جوړولی او پنځولی شي نو بیا په ډېرې اسانی سره کولی شي یوه نوې کرنسي جوړه کړي، چې د دې ښه مثال په اوس مهال کې د پای نېټورک په نوم کرېپټو کرنسي ده، چې په اوس وخت کې د افغانانو تر منځ زیاته مشهوره شوې. د بېټکواین په استخراج کې، زرګونه سیالي کونکي د ریاضیکي پېچلیو تخنیکونو د حل لپاره رقابت کوي. که یو څوک دا تخنیک حل کړي د بېټکواین د نړیوال لیږد ثبت کې یې بلاک اضافه کیږي او انعام ورکول کیږي او دا انعام 25Bitcoins بېټکواین کرنسی دی. په هر صورت، دا خورا زیات کمپیوټري ځواک غواړي؛ تر ټولو مشهوره طریقه تر څو دغه ریاضیکي ستونزه یا رمز حل کړي او یو بلاک زیات کړي نو یو ګروپ استخراج کوونکي سره یو ځای کیږي یو بل سره مرسته کوي او په ګډه یوه ستونزه یا ریاضیکي پېچلي لوګاریتمي فرمولونه حلوي او یو بلاک رامنځ ته کوي، چې په دې سره دوی په ګډه انعام تر لاسه کوي او ګټه د ټولو سره شریکه وي، چې 25 بېټکواینه وي. په اصل کې دا فکر موجود ؤ، چې بېټکواین به ”د خلکو کرنسي“ وي او دا د محاسبې قوت به غیرې مرکزي وي او هر څوک د بېټکواین د ستونزو په حل کولو کې یو شان فرصت لري، چې هیش فنکشن یا تابع په نوم یادیږي. سربېره پر دې دا جوته شوې، چې هېش فنکشن د ځانګړو اسبابو او ماشینونو لخوا په موثره توګه حل کیدلی شي، چې د همدغې فنکشن لپاره جوړ شوي دي او دغه ماشینونه یوازې همدا فنکشن یا تابع لري. متوسط شمېر خلک د خپلو کمپیوټرونو په وسیله، خو زیات شمېر خلک بیا په سلګونه

زره ډالره په هغو ماشینونه باندې مصرفوي، چې یوازې هیش فنکشن لري تر څو دغه تابع حل کړي. زیات شمېر خلک شته، چې له همدې لارې څخه هره ورځ 3000 ډالرو څخه زیات عاید ترلاسه کوي یا په کال کې د بېټکواین له استخراج څخه تر 1m میلیون ډالرو زیات عاید ترلاسه کوي.(14: 617-622)

**د کرېپټو کرنسی قانونیت**: (Ribeiro) په خپله څېړنه کې داسې لیکي، عدلي څانګه یا اداره دا مني، چې مجازي پیسې یو ښه خدمت وړاندې کوي او کولی شي تجارتي کړنو ته پرمختګ ورکړي. د دې تر څنګ یو بل اقتصاد پوه(Kelion, 2013)؛ بیا په خپله څېړنه کې داسې لیکي: تاسو کولی شئ برلین څخه د بیر په شمول هر څه وپېرئ، په مستردام کې د پیزا غوښتنه وکړئ، په اډینبورګ کې تیکسي په کرایه ونیسئ، په لجوبلجنا کې د غاښونو معاینه ترسره کړئ، په نیکوسیا کې یو سند ترلاسه کړئ، په مسسچو ستیشن کې جواز وپېرئ او نور. د بېټکواین لومړنی سوداګریزې معاملې ثبت د 2010 کال د May په میاشت کې رامنځته شو چیرې، چې Laszlo Hanyecz یو فلوریډایی پروګرامر له Papa John's څخه د دوه پیزا پېرودلو لپاره (10,000 Bitcoins)وکارول، په هغه وخت کې یې په اټکل سره 60$ ارزښت وه. Hanyecz دا فرض کړه، چې د دوو پیزاؤ لپاره او د یو چا د وخت د جبران لپاره کافي بېټکواین دي مګر نن سبا د بېټکواین هغه مقدار شاوخوا 5 میلیون ډالرو ته رسیږي. (6: 31-39)

**د بېټکواین هر اړخیزه پېژندنه**

- کرېپټوکرنسي د الکترونیکي تادیاتو سیستم او یو عام لېجر دی، چې ټول په یوه واحد کې له بېټکواین څخه عبارت دی.
- بېټکواین د انعام په نوم میکانیزم له لارې رامنځته شوی، چې د استخراج (mining) په نوم یادیږي، چې د ډېرو پېچلو ریاضیکي ستونزو حل اړین دی تر څو بېټکواین تر لاسه کړو او دغه چاره مرحله په مرحله ستونزمنه کیږي.
- هغه سیستم ،چې په مرسته یې د پیسو او تادیې سیستم خوندي کیږي بېټکواین دی.
- بېټکواین یوله بل سره نښتی سیستم دی، چې د ډلیزې روڼتیا پر اساس اداره کیږي.

**د بېټکواین لاندې ځانګړتیاوې د بېټکواین د مدافعینو لخوا توضیح شوي:**

1: غیرې مرکزي سیستم دی، د حکومت کنټرول یا د مالکیت احتمال له منځه وړي. سربېره پر دې، بېټکواین یوه محدوده اندازه شتون لري، هېڅ یوه اداره یا ارګان نومورې اسعار تولید یا د زیاتوالي او کموالي له لارې یې ارزښت نشي تغیر کولی. دغه سیستم د بېټکواین ارزښت د عرضې او تقاضا اقتصادي طبعي قوانینو ته پریږدي.

2: بلاک د ټولو رسمي تبادلو مستقل عامه ثبت دی، چې په سیستم کې رامنځته کیږي او د بېټکواین یوه اړینه برخه ده. بلاک چېن د جعل کولو د مخنیوي پرمهال نظم او تبادلې ته په وده کې مرسته کوي.

3: اشخاصو او سوداګرو ته الکترونیکي تادیات په هر وخت کې کولی شي، چټک پروسس کړي او لګښت یې ډېر کم دی، د معاملاتو د پروسس له جریان څخه منځګړې ادارې لرې کوي.

4: که څه هم د بېټکواین د ټولو معاملو توضیحات په عامه ډول ساتل کیږي؛ د ښکیلو اشخاصو

پېژندنې نسبتاً نامعلومې پاتې کېږي، یعنې په دې ټکنالوژۍ کې هیڅ څوک یو بل نه پېژني.

5: د بېټکواین راکړه ورکړه د کاروونکو ترمنځ په مستقیم ډول ترسره کېږي یعنې پرته له کومې واسطې لکه بانکونه یا نورې مالي ادارې.

6: د بېټکواین د راکړې ورکړې تصدیق د شبکې د حرکت لخو ترسره کېږي او د بلاک چین په داخل کې په یوه توزیع شوي لېجر کې ثبت کېږي.

7: د بېټکواین اعظمي شمېر 21 میلیونو پورې محدود دی، یعنې تر اوسه یوازې همدومره موجود دي. (7: 16-40)

**د بېټکواین ګټې**

- د سیاست له پلوه مستقلې پیسې دي.
- په مستقله توګه یعنې خودسرانه د حکمي پیسو په شان نشي رامنځته کیدلی.
- جعلي نه شي کیدلی، د دې یو ښه ځانګړنه همدا ده، چې جعل کاري په کې ناممکنه ده.
- ډېر خوندیتوب لري، د ملکیت د سوانحو او د تېرو راکړو ورکړو د کمپېتو د ثبتولو له لارې هم خوندي ساتل کېږي.
- غلا او یا د چا لخوا کنګل کیدای نشي، ځکه د دې ټکنالوژۍ اپشنونه ډېر ستونزمن دي.
- په ډېر شفاف ډول یې د غیرې باوري کسانو ترمنځ بې باوري له منځه وړي، ځکه جعل نه شي کېدای.
- کولی شي په څو ثانیو کې د نړۍ هرې یوې برخې ته په چټکه او موثره توګه عمل وکړي.
- د راکړې ورکړې ډېر کم لګښت، لدې کبله نړیوالو پیسو د خارجي تبادلې لګښت او د خارجي تبادلې خطر له منځه وړی.
- د حکمي پیسو په توپیر، دا ډیفلاسیوني حالت لري.

**د بېټکواین زیانونه**

- د بېټکواین د راکړې ورکړې تعقیب کول ناشوني دي یعني د مرکزي بانک له خوا تر څو قانونیت یې ثابت کړي، د پیسو مینځل، د ترهګرۍ مالي کول، د نشه یی توکو او د نا قانونه توکو تجارت.
- که چېرې خصوصي کیلي ورکه شي، ټول بېټکواین د تل لپاره ورک کېږي.
- دا حقیقي پیسې نه دي، ځکه نو هلته تل دوکه رامنځته کېدای شي.

په دې وروستیو کې د کرېپټو کرنسۍ یو شمېر تبادلې هېک شوې او په میلیونونه ډالر غلا شوي دي. یوه بله ستونزه د ورکېدو ده که په غلطۍ کې پیسې یو چاته ولېږل شوې بیا را کرځېدل یې نا ممکن دي، خو که چېرته مقابل سړی یې و غواړي کولی شي. بله دا، چې په 2021 کال کې د یوه شخص څخه، چې

240 میلینونو ډالرو په ارزښت يې بېټکواين لرل خپله ځانګړې کيلي يا پاسورډ هېر شوی ؤ او اته ځلې يې خپله کيلي يا پاسورډ ورکړی ؤ خو بټوه يې نه وه خلاصه کړې او که لس ځله يې ورکړې او سم نه وي نو خپلې پيسې د تل لپاره له لاسه وکوي، چې دا يوه ستره ستونزه ده. دا ځکه، چې هغه خصوصي کيلي، چې د ډيجيټل لاسليکونو او د عامو خلکو کيلي توليدوي په برېښنايي بټوه کې ساتل کېږي، چې د بريدونو پر وړاندې حساس دي؛ دا يوه امنيتي سيمه ده چې بايد پياوړې شي.(1701-1700 :8)

د بېټکواين د موضوع په هکله ځينې مهمې پوښتنې موجودې دي

1 . هيڅوک په مطمئنه توګه پدې نه پوهېږي چې د بېټکواين سافټوير تر شاه څوک دي. د خلاصې سرچينې لپاره جوړ شوی. له دې امله هېڅوك نشته، چې په اصل کې د پيسو او يا هم د نظام په هکله په مجموع کې خپل مسوليت په غاړه واخلي.

2 . څوک، څنګه پوهيږي، چې په پرانيستې منبع کې شته سيستم هم، هغه سيستم دی، چې په حقيقت کې فعاليت کوي؟ که ناڅاپي غيرې متوقعه حيرانتيا د سيستم څخه را و وځي نو څه به وشي؟ له دې امله حتی د بېټکواين د حساب اعظمي مقدار يوازې21 ميليونه ده.

3 . بېټکواين حقيقي پيسې نه دي، لکه پيسې ځينو اجناسو او خدماتو باندې تکيه نه کوي.

په يوه بل ځآی کې د بېټکواين په اړه داسې ويل کيږي، چې بېټکواين يوه ډيجيټل کرنسي ده، چې هيڅ بېټکواين د مرکزي صدور اختيار يا فزيکي بېټکواين نه لري. په خاصه توګه بېټکواين يوه کرپټوکرنسي ده، چې د کوډبندي د پرتوکولونو د راهنمايي کولو لپاره د کرپټوګرافي تخنيکونه کاروي کوم، چې ملکيت راپېژني او د معاملاتو توضيحات تائيدوي. د بېټکواين د کوډبندی پرتوکول د ساتوشي ناکاماتو په نوم يو شخص له خوا په 2009کال کې رامنځته شوی، چې په مرسته يې بالاخره 21m ميليونه بېټکواين د رياضيکي لوګارتيمونو د حل لپاره د انعام په توګه ډيزاين شول ترڅو( د بېټکواين ساتلو لپاره اړين لېجر) په پروسه کې د استخراج(mining) په نوم يادېږي. يو ځل استخراج شوی هر بېټکواين يا يې هم يوه برخه – هم پلورل کيدای شي، د پېرودنو لپاره د تادېې د وسيلې په توګه او د پانګې اچونې په توګه هم استعمال کيدلی شي.

بېټکواين په سوداګريزو وېب پاڼو کې پېرودل او پلورل کېږي، چې د تبادلې(exchange) په نوم پيژندل کيږي؛ هر يو يې $^{24}/_{7}$ (يعنې په هفته کې اووه ورځې او څلورويشت ساعته) په مستقله توګه فعاليت کوي او نړيوالو پېرودونکو ته د عنعنوي تبادلې بهرنۍ سوداګرۍ او يا هم بروکرج پليټ فارم( brokerage platforms) ته ورته طريقه شتون لري.(281-271 :15)

**بېټکواين څرنګه کار کوي؟**

د يوه کارونکي ليدلورې څخه بېټکواين د ګرځنده اپليکېشن يا د کمپيوټر د يو پروګرام څخه بل څه نه دي، چې د بېټکواين يوه خصوصي بکسه يا بټوه چمتو کوي او يو کارونکي ته اجازه ورکوي، چې له هغې څخه بېټکواين واستوي يا يې هم ترلاسه کړي.

د پردو تر شا، د بېټکواين شبکه يو عامه لېجر وړاندې کوي، چې د بلاک چېن په نوم يادېږي. پدې لېجر کې د پروسس پر مهال هره معامله تر سره کېدای شي. د کاروونکي کمپيوټر ته اجازه ورکوي، چې د هرې معاملې اعتبار تائيد کړي. د هرې معاملې صدق د لېږل شوي ادرس مطابق د ډيجيټل لاسليکونو لخوا

ساتل کیږي او ټولو کاروونکو ته اجازه ورکوي، چې د خپلو بېټکواین له بکسو څخه د بېټکواین په لېږدولو باندې کنټرول ولري.(170 :5)

سربېره پردې، هر څوک کولی شي د ځانګړي هارډوېر کمپیوټري ځواک په استعمالولو سره معاملې پروسس کړي او د دې خدمت لپاره په بېټکواین کې جایزه ترلاسه کړي، دا اکثره د استخراج په نوم یادیږي، خو دغه استخراج اسان کار نه دی سختو پېچلو لوګاریتمي فرمولونو او رمزونو حلولو وروسته یو شخص کولی شي، چې بېټکواین او یا د هغې ټوټې ترلاسه کړي. ادرس یې د بانکي حساب په څېر دی په کوم کې، چې کاروونکي کولی شي بېټکواین ترلاسه کړي، ذخیره کړي او یا یې ولیږدوي. د دې پر ځای چې په بکسه کې په فزیکي توګه خوندي شي؛ بېټکواین د عامه کیلي کرېپټوګرافي سره خوندي کیږي. د بېټکواین هره بټوه یوه خصوصي کیلي لري کومه، چې مالک یې باید مخفي وساتي. د دې خصوصي کیلې سره کاروونکی کولی شي د عامه شمېرو ډېرې شمېرې رامنځته کړي، چې د عامه ادرسونو جوړولو لپاره استعمالېدلی شي. کاروونکی کولی شي پدې عامه بټوه کې پیسې ترلاسه کړي. هر څوک کولی شي هر ادرس ته بېټکواین ولیږي؛ مګر یوازې د خصوصي کیلې سره یو شخص کولی شي په بکسه کې بېټکواین مصرف کړي. د بېټکواین ادرس عام دی په اتوماتیکه توګه امکان نه لري، چې پوه شي چې کوم ادرس په کوم شخص پورې تړاو لري، پدې توګه د بېټکواین ادرسونه تخلصونه دي. د بېټکواین لېږدونکې شبکې نورو اشخاصو ته د معاملاتو توضیحات خپروي په شبکه کې نور اشخاص د خپرې شوې معاملې توضیحات ثبتوي او که معامله معتبره ښکاره شوه معامله په بلاک چېن کې یو(1) په څېر یا نوم جمع کیږي. د مثال په توګه، که چېرې تاسو غواړئ په سان فرانسسکو کې د پیالو او کیکونو له بېکرۍ څخه پیالې او کېکونه واخلئ نو تاسو د دوی د بکسو عامه ادرس ته اړتیا لرئ؛ ستاسو بکسه شبکې ته لېنک خپروي. د پېر او پلور دا لېنک د بېټکواین شبکه کې خپور شي چیرته، چې دا په مختلفو چکونو سره تائیدیږي. لکه څرنګه، چې ستاسو بکسه کافي بېلانس و لري او د ا د شبکې نورو غړو ته خپروي. نوموړی لیږد بالاخره د یو استخراج کوونکي لخوا ترلاسه کیږي څوک، چې معامله په بلاک چېن کې شاملوي، دا بلاک چېن بیا په شبکه کې پروسس کیږي او له نړیوال بلاک چېن سره یوځای کیږي. بېټکواین اوس د پیالو او کېکونو د بېکرۍ بکسې پورې اړه لري او د هغه ادرس لخوا پېژندل شوی، چې تاسو ورته بېټکواین لیږلي دي.(11-1 :9)

**څنګه کولی شو بېټکواین واخلو؟**

تاسو کولی شئ، چې په اسانۍ سره د جواز شوې تبادلې (license exchanges) له لوري بېټکواین لاسته راوړئ. دلته د څو مختلفو ډیجیټلي ادارو نومونه د بېلګې په ډول یادوو کوم، چې خپله بېټکواین لري او مارکېټ ته یې وړاندې کوي. د بېلګې په ډول Kraken، Coin base، Hit BTC، Bit stamp، Coin mama، چې ځینې محدودیتونه هم لري. تاسو باید د خپل د پام وړ د تبادلې زېرمه غوره کړئ، تر څو وګورئ، چې کومې تبادلې د کارولو لپاره ارزښتناکې دي، چې تر څو مو بېټکواین خوندي وي coin base په متحده ایالاتو کې یوه مشهوره تبادله ده او په لوړه کچه ترې کار اخستل کیږي.(752-745 :12). بېټکواین یوازینۍ ډیجیټل پیسې نه دي، په نړۍ کې اوسمهال په زرګونو بېلابېل ډوله ډیجیټل پیسې شته، خو بېټکواین یې تر ټولو ډېر پېژندل شوی ډول دی. که یو څوک وغواړي بېټکواین تر لاسه کړي، باید د

بېټکواين ادرس ولري، چې د 27 تر 34 شمیرو اوږد وي. دغه اوږده شمېره د پوسټ یا ادرس په څېر کارول کېږي او بیا له یوې ډیجیټلي کڅوړې بېټکواین ورته راستول کیدی شي. دغه اوږده شمېره حتمي نه ده، چې دیوه کس په نامه او ادرس پورې تړلې وي ،ځکه خو ډېر کسان، چې بېټکواین اخلي په پټ نامه یې اخلي او پېژندګلوي یې پټه وي. د بېټکواین د اخیستو لپاره د اوږدې شمېرې ترڅنګ، چې د ادرس کار ورکوي تاسو باید د ډیجیټل پیسو بکس یعنې بټوه ولرئ، دغه بکس ته ننوتل او ساتل داسې دي لکه ستاسو د بانک ادرس. په پیل کې ټاکل شوې وه، چې یوازې 21 میلیونه بېټکواین جوړېدای شي ،او ګومان دا ؤ، چې د دې شمیرې پوره کېدل به اوږده موده ونیسي، خو اوس داسې ښکاري، چې ډېر ژر به دا شمېره پوره شي. د دې شمېرې له پوره کېدو وروسته څه پېښېږي، ډېر خلک نه پوهېږي، خو بیا به د بېټکواین له لارې راکړه ورکړه عادي وګرځي.(15-12 :10). دبېټکواین د کارولو لپاره دنوم پټ ساتل، د دې لامل شوي، چې خلک یې په انټرنیټ د ناقانونه پېر او پلور لپاره وکاروي. خو یو شمېر محدود پېژندل شوي سوداګریز بنسټونه اوس خپلو پېرودنکو ته اجازه ورکوي، چې د بېټکواین له لارې شیان او خدمات وپېري. دمایکرو سافټ کمپني، دسیلانیانو تر منځ مشهور ایکسپیډیا اوځینې نور لکه د جاپاني سوشي، د خوړو یو رستورانت او د لندن د تابلو یو پلورنځی ځینې بېلګې دي، چې تاسې بېټکواین په کې کارولی شئ. دا دمنلو شویو اسعارو او پیسو په څېر نه دي لکه امریکایي ډالر، چې د نړۍ په هر کنج کې یې کارولی شئ، هوټل ته پیسی ورکولی شئ، ډوډۍ پرې اخیستلی شئ. خو بېټکواین لرونکي دا د پېرلو لپاره نه کاروي بلکې د تجارت لپاره یې کاروي، په دې مانا، چې په یو بل باندې یې خرڅوي لکه د پیسو بدلون. ډاکټر هیلن په وینا د 80 او 90 سلنې تر منځ خلک بېټکواین دپانګونې په موخه پېري.( 14: 617-622)

**موندنې**

د څېړنې موخو ته په کتو؛ لکه څرنګه، چې دې څېړنه کې مو و مونده، چې کرېپټو کرنسۍ د پیسو یو نوی نسل دی او د دوی نوي جوړښت ته او ورځ تر بلې د مارکېټ پراختیا ته په کتو د افغانستان خلکو لپاره او هم دولت لپاره دا باید یوه مهمه موضوع وي. د کرېپټو کرنسیو بېلابېل ډولونه او او د مختلفو خلکو او دولتونو له لوري د دغه ډول پیسو کارونه د دغو پیسو اهمیت ذکر کوي. دا چې برېښنایي پیسو په اقتصاد کې نوی بدلون راوست او اقتصادي کړنو ته یې فوق العاده چټکتیا ورکړه همدا شان کرېپټو کرنسۍ هم د برېښنایي پیسو یو ډول دی او د برېښنایي پیسو هغه نیمګړتیاوې، چې په برېښنایي پیسو کې موجودې وې هغه ور پوره کړې نو د خیالي پیسو دغه ځانګړتیاوې دا مونږ ته را په ګوته کوي، چې دغه پیسو په اقتصادي محیط کې نور بدلونونه رامنځ ته کولی شي او اقتصادي کړنو کې لا چټکتیا رامنځ ته کولی شي.

پورته وضاحت او د کرېپټو کرنسیو ځانګړتیاوو څخه مونږ داسې انګېرو، چې کریپټوکرنسیو باندې پوهېدل یو اړینه چاره ده. لکه څه ډول چې پوهان په خپلو څېړنو کې څرګندوي، چې اوسمهال دبېټکواین په وسیله په بیلابیلو هیبوادونو کې پېر او پلور تر سره کېږي. د بېلګې په توګه په( eBay) ویبپاڼه باندې عملا د بېټکواین په وسیله پېر او پلور کېږي. سوداګر اوس د بېټکواین له لارې شیان په اټکلیز شکل خرڅوي ترڅو اجناس دوی ته تاوان ونه کړي. نو دوی خپل اجناس له اوسه دراتلونکې په نیت خرڅوي.

همدا چاره دبېټکواین ارزښت تر پوښتنې لاندې راولي، ځکه، چې دلته بېټکواین داسعارو پرځای دسهمونو یا معتبرو ونډو چلند کوي. دبېټکواین په هکله څو عمده نظرونه شته. لومړی ګروپ په دې عقیده دی، چې د بېټکواین له لارې په اسانی سره یوه اکاونټ ته د دوه کسانو ترمنځ دکم مصرف په ورکولو سره پیسې لېږل کیدل اسان دي نو ځکه به په اینده کې ډېرو خلکو ته دمنلو وړ وي. دویمه ډله وایي، چې بېټکواین به دکاغذي پیسو لپاره یو بدیل شي، چې د یوې غیرې نغدي ټولنې جوړولو کې به ونډه واخلي او د (کین) هغه نظریه، چې وایي ،یو وخت به داسې اسعار رامنځته شي، چې هیڅ هیواد پورې به تړاؤ ونه لري ،سمه ثابته شي. درېیمه ډله خلک په دې اند دي، چې بېټکواین یوه بې ثباته کرنسي ده، چې له لارې یې پیسې ناسمې کارول کېږي ،یا منځل کېږي،ځکه چې شاته یې هېڅ ضمانت او پشتوانه نشته. یو شمېر هېوادونه غواړي پر بېټکواین بندیز ولګوي، دبېټکواین استعمال دنړۍ په مختلفو هېوادونو کې کېږي خو ځینې یې دبندیز او نه استعمال په هکله پرېکړې کوي.

په دې موضوع باندې بحث دا ښیي، چې که مورږ د کرېپټو کرنسیو په مختلفو ډولونو باندې پوه شو، نو زمورږ خلک کولی شي، چې سمه پانګونه کې برخه واخلي ځکه دلته اقتصاد پوهان د مختلفو هېوادونو په هکله داسې وایې. په امریکا او نګلستان کې یې کارېدل په پراخه کچه لیدل کېږي خو یادو هېوادونو دولتونو خپل خلک دبېټکواین دزیانونو په هکله خبر کړي. بنګله دېش،بولوویا، چین، ایسلینډ، هند، روسیه، سویډن، تایلنډ، ویتنام او دځینو نورو هېوادونو مرکزی بانکونه غواړي، چې د بېټکواین په استعمال بندیز ولګوي. که څه هم بېټکواین خپله بیه دیوې میاشتې په اوږدو کې دوه برابره زیاته کړې.خو ډېر کارپوهان په دې اند دي، چې داخپله یو غیرې عادي او اندیښمنونکی حالت رامنځ ته کوي. ډاکټر هیلمن وایي ښایي په نږدې راتلونکې کې د بېټکواین اسمانڅکه بیه له خاورو سره برابره شي ،یعنې په بشپړه توګه خپل ارزښت له لاسه ورکړي، د اقتصاد پوهانو دغه ډله هغو ته، چې بېټکواین لري همدا سلا ورکوي، چې بازار او نرخ ته پاملرنه وکړي او که په دې پوهېږي، چې بیه یې بې سارې په راکوزېدو ده ،نو ژر تر ژره یې وپلورئ ،که څه هم دا د اقتصادي ناورین د رامنځ ته کولو یوه برخه ګرځي خو د دې لپاره چې پانګه مو له هېڅ سره برابره شي ،دا به غوره وي، چې په وخت یې وپلورئ. خو ځینې بیا وایي، چې که کوم هېواد دا د خپلې لومړۍ یا دوهمې رسمي کرنسۍ یا پیسو په توګه وپېژني دا به د بېټکواین ارزښت لا زیات کړي. د دغو هېوادونو په سر کې دجاپان او وینزویلا نوم اخیستل کېږي. ځینې اقتصادي کارپوهان دا ویل، چې دراتلونکو اولمپیک لوبو لپاره، چې په 2020 کې په توکیو کې کېږي دا پیسې رسمي کړي. نو دنړۍ او جاپان اقتصادبه لا ورسره وغوړیږي. په 2020 کې دځینو مهمو سرچینو انګېرنه او وړاندوینه دا وه، چې د بېټکواین بیه به لا زیاته شي، یو بېټکواین به له 50000 ډالرو او حتی یو لکو ډالرو ته ورسېږي. داقتصادي چارو کارپوهان دغه ډول انګېرنې او اټکلونه تل کوي، خو چې کوم یې رښتیا کېږي، دې ته به وخت ښه ځواب وایي. په افغانستان کې دبېټکواین تصور نوی دی او په هکله یې پوهاوی کم دی. دلته د برېښنایي تادیاتو او یا ډیجیټلي اسعارو تصور تر اوسه عام شوی نه دی. د 2019کال په لومړیو کې دبېټکواین په هکله داسې ویل کیدل، چې ګواکې د افغانستان بانک دبېټکواین له لارې پورپانې خپروي، خو مرکزي بانک یاد خبر رد کړ او یادونه یې وکړه چې د پور پاڼو خپرول د افغانستان بانک واک کې نه راځي. په ورته ډول متحده عربي امارات به خپله کرنسي د سرو

زور پشتوانې په بنسټ پیل کړي او دغه کرنسي (One-Grame) نومول شوې، متحده امارت خپلو مشرتریانو ته د شتمنۍ په وسیله ملاترې کرنسۍ وړاندې کوي، چې ډېره معتبره به وي، چې دې ته د شتمنۍ په وسیله ملاتړ کوونکی ماډل هم وایي.(11-9 :17). پورته بحث څخه جوتیږي، هغه څه چې موږ غوښتل تر لاسه کړي مو دي.

**پایله**

دا چې د یوې موضوع پېژندل او د همدغې موضوع په اړه ژوره څېړنه تر سره کول مهمه کړنه ده. د کرپټو کرنسیو موضوع یوه ډېره مهمه موضوع ځکه ده، چې د نړۍ خلکو همدې ته مخ کړی دی، ستر سوداګر او پانګوالو پام یې جلب کړی دی، نو همدې اهمیت ته په کتو دغه څېړنه مهمه وه، د دې موضوع په اړه، په نړۍ کې زیاتې څېړنې شوي، خو افغانستان کې د دې موضوع په اړه څېړنه بیخي نوې ده، موږ ویلی شو، چې تر اوسه د دې موضوع په اړه، څېړنه زموږ نه ده تر سترګو شوې نو ځکه د نورو څېړنو سره چې د دې موضوع په اړه په مختلفو هېوادو کې  تر سره شوي، زیات تفاوت لري د څېړنو څخه مالومیږي، چې دغه موضوع نوره نړۍ کې هم خورا نوې ده، ځکه ډول پیسې په 2009 کې رامنځ تهشوي خو په نورو هېوادو کې د دې موضوع په اړه څېړنې خورا زیاتې دي.

کرپټو کرنسۍ د پیسو یو نوی نسل دی او د دوی نوي جوړښت ته او ورځ تر بلې د مارکېټ پراختیا ته په کتو د افغانستان خلکو لپاره او هم دولت لپاره دا باید یوه مهمه موضوع وي. د کرپټو کرنسیو بېلابېل ډولونه او او د مختلفو خلکو او دولتونو له لوري د دغه ډول پیسو کارونه د دغو پیسو اهمیت ذکر کوي. دا چې برېښنايي پیسو په اقتصاد کې نوی بدلون راوست او اقتصادي کړنو ته یې فوق العاده چټکتیا ورکړه همدا شان کرپټو کرنسۍ هم د برېښنايي پیسو یو ډول دی او د برېښنايي پیسو هغه نیمګړتیاوې، چې په برېښنايي پیسو کې موجودې وې هغه ور پوره کړې نو د خیالي پیسو دغه ځانګړتیاوې دا موږ ته را په ګوته کوي، چې دغه پیسو په اقتصادي محیط کې نور بدلونونه رامنځ ته کولی شي او اقتصادي کړنو کې لا چټکتیا رامنځ ته کولی شي.

کرپټو کرنسي  د کرپټوګرافۍ یو کمپیوټرایز هنر په وسیله ډېزاین او جوړیږي  د دې تر څنګ د یوې ډېرې پر امنه ټکنالوجۍ څخه برخمنه ده، چې د بلاکچېن په نوم یادیږي. بلاکچېن د کرپټو کرنسیو پلېټ فارم د سرو زرو ځای کرځېدلی. بلاکچېن یوه نوې ټیکنالوژي ده او دغه ټیکنالوژي به په کاروبار کې د مالي معاملو په سر ته رسولو کې ستر بدلون را ولي. د دې ټکنالوژیو غیرې مرکزي طبیعت، د منځګړي نه درلودل یعني کوم بانک یا بله اداره د معامله کوونکو تر منځ نشته او هر چا ته اجازه ورکوي، چې ونډه پکې واخلي ځکه، دوئ د پروتوکولونو(یو کمپیوټري ژبه ده، چې کمپیوټرونه سره نښلوي تر څو مالومات سره تبادله کړي) له مخې رامنځته شوي مقررات تعقیبوي؛ په پیل کې دا یوازې د یو څو پوهنتونو او دولتي نهادونو شخصي ډله وه، چې د دغې ټیکنالوژۍ څخه یې ګټه پورته کوله، مګر په پایله کې انټرنیټ غیرې مرکزیت غوره کړ اوس هر څوک کولی شي ونډه پکې واخلي او د انټرنیټ کارولو سره ترې ګټه پورته کړي. د کرپټو کرنسیو دغو ځانګړتیاؤ ته په کتو زیات هېوادونه او لویې کمپنۍ په دې اخته دي، چې څنګه وکولی شي دغه ډول کرنسۍ ایجاد او د  خپل هېواد پیسو په سیستم کې جاري کړي، چې له جملې یې السیلوادور هغه یوازینی هېواد دی، چې بېټکواین یې په رسمي

ډول د ډالرو تر څنګ د هېواد پیسو واحد اعلان کړ، د دې تر څنګ هغه هېوادونه، چې غواړې کرېپټوکرنسی د رسمي پیسو په شکل و مني عبارت دي له، امریکا متحده ایالات، کاناډا، جاپان، جرمني، بېلاروس، سینګاپور او ځینې نور هېوادونه دي. ځینې کمپنی هم غواړي، چې خپلې کرېپټو کرنسی جوړې کړي لکه فیسبوک، امازون، مایکرو سافټ ، تیسلا او داسې نورې کمپنی شته، چې په همدې تلاش کې دي. نو دغو سترو هېوادونو او کمپنیو ته په کتو موږ ویلی شو، چې دغه پیسې به په راتلونکو کلونو کې په اقتصاد کې ستر بدلون راولي او زموږ حکومت او خلک باید دغه پیسې په نظر کې ونیسي تر څو په راتلونکې کې د نړۍ غوښتنو او بدلونونو سره ځان عیار کړي او همدارنګه پانګوالو لپاره یو ښه فرصت دی، چې دلته په دې پلېټ فارم کې پانګونه وکړي ځکه بېټکواین او د دې پیسو نسل ټول ډولونه د تبادلې په نسبت د پانګونې لپاره زیات کارول کېږي.

**وړاندیزونه**

- په پوهنتونونو کې استادان باید د دې موضوع په اړه لا ډېرې څېړنې وکړي تر څو مالومه شي، چې دغه کرنسی د یوه اقتصاد لپاره څومره اړینې دي
- د افغانستان مرکزي بانک باید په خپلو پالیسیو کې دې موضوع ته ځای ورکړي تر څو په راتلونکې کې له دغو پیسو ګټه واخلي.
- افغانستان بانک هم باید د دې په اړه څېړنه وکړي تر څو له ګټو څخه یې با خبره شي او په مخکې پرتې ستونزې ور حل کړی شي.
- د بلاک چېن ټکنالوجي، چې یو ډېره پرامنه ټکنالجي ده نو د مرکزي بانک او نورو بانکونو ته په کار ده، چې د خپلو حسابونو پر امنه کولو لپاره له دې ټکنالوجی څخه ګټه پورته کړي.

**مآخذونه**


1. منګل، رحمت الله.(1400). د پیسو اقتصاد، لمړی، کابل: مستقبل خپرندویه ټولنه، افغانستان
2. Abdul-Baki, Z., & Uthman, A. B. (2017). Exploring the “social failures” of Islamic banks: a historical dialectics analysis. Journal of Islamic Accounting and Business Research.
3. Abu-Bakar, M. M. (2018). Shariah Analysis of Bitcoin, Cryptocurrency and Blockchain.
4. Andrianto, Y., & Diputra, Y. (2017). The effect of cryptocurrency on investment portfolio effectiveness. Journal of Finance and Accounting.
5. Asif, S. (2018). The halal and haram aspect of cryptocurrencies in Islam. Journal of Islamic Banking and

Finance.

6. Bunjaku, F., Gjorgieva-Trajkovska, O., & Miteva-Kacarski, E. (2017). Cryptocurrencies–advantages and disadvantages. Journal of Economics.
7. Chuen, D. L. K., Guo, L., & Wang, Y. (2017). Cryptocurrency: A new investment opportunity?. The Journal of Alternative Investments.
8. Dziembowski, S. (2015, October). Introduction to cryptocurrencies. In Proceedings of the 22nd ACM SIGSAC Conference on Computer and Communications Security.
9. Evans, C. (2015). Bitcoin in Islamic banking and finance. Journal of Islamic Banking and Finance.
10. Inci, A. C., & Lagasse, R. (2019). Cryptocurrencies: applications and investment opportunities. Journal of Capital Markets Studies.
11. Jayasuriya Daluwathumullagamage, D., & Sims, A. (2021). Fantastic Beasts: Blockchain Based Banking. Journal of Risk and Financial Management.
12. Mukhopadhyay, U., Skjellum, A., Hambolu, O., Oakley, J., Yu, L., & Brooks, R. (2016, December). A brief survey of cryptocurrency systems. In 2016 14th annual conference on privacy, security and trust.
13. Onuklu, A. (2019). Research on Blockchain: A Descriptive Survey of the Literature. In Disruptive Innovation in Business and Finance in the Digital World. Emerald Publishing Limited.
14. Rose, C. (2015). The evolution of digital currencies: Bitcoin, a cryptocurrency causing a monetary revolution. International Business & Economics Research Journal (IBER).
15. Salman, A., & Razzaq, M. G. A. (2018). Bitcoin and the world of digital currencies. Financial Management from an Emerging Market Perspective.
16. Sutrisno., & Haron, R. (2020). Increasing the role of zakat institutions in poverty reduction through productive zakat programs in Indonesia. Humanities & Social Sciences Reviews.

17. Wu, C. Y., Pandey, V. K., & Dba, C. (2014). The value of Bitcoin in enhancing the efficiency of an investor's portfolio. Journal of financial planning.

# د سون توکو په توګه د هایدروجن استعمال او د هغه ګټې ځېړل

لیکوونکی: پوهنیار روښان حیران
شېخ زاید پوهنتون، ښوونې او روزنې پوهنځی، فزیک څانګې استاد
تقریظ ورکوونکی: پوهندوی عبدالتواب عزیزي، د فزیک څانګې استاد

**لنډیز**

علی، ذاکری.۱۳۹۱، تمدن های بشری از منظر قرآن کریم مقاله. عضو هیت علمی دانشگاه آزاد اسلامی: واحد تاکستان ایران.

عمید، حسن.۱۳٤۲، لغت نامه، سازمان چاپ ابن سینا، ناشر اشجع.

کرافورد، هریت. ۱۳۸۷، سومر و سومریان، ترجمه زهرا باستی، تهران: سمت.

میروبیان، زینب و دادور، ابولقاسم.۱۳۹٦، بازنمود خشونت در آثار تجسمی بین النهرین مقاله.دانشگاه

الزهرا. تهران.
مقدم، عباس پرتوی و همکارانش.۱۳۹۲، تاریخ هنر ایران و جهان، ایران: سهامی خاص.
محمودی، امیرعلی. ۱۳۹۵، مقبره زیگورات شهر باستانی اور؛ عراق: ایران.
ویل دورانت، ویلیام.۱۳٦۵، تاریخ تمدن، تهران: سازمان انتشارات و آموزش انقلاب اسلامی.
یساقی، علی و همکارانش، بررسی معماری دوره سومر در تمدن بین النهرین مقاله علمی: ایران

# د اعتباري او سود نرخ د خطراتو مدیریت

لیکوال: پوهنیار ګل ولي محمدزی
د شیخ زاید پوهنتون، اقتصاد پوهنځی، د مالي او بانکي څانګې استاد
تقریظ ورکوونکی : پوهنوال محمدالله مندوزی، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی استاد

**لنډیز**

اعتباري خطر د یوې ادارې د پور ورکړل شویو پیسو سره تړاؤ لري، چې یوه اداره یې بلې ادارې ته د باور په اساس ورکوي.
نو کله چې قرض اخیستونکی په دې ونه توانیږي، چې په هغه ټاکل شوي وخت کې اصلي سرمایه یا د سود مقدار تادیه کړي؛ نو په دې صورت کې اعتباري خطر رامنځته کیږي. د یادونې وړ ده، چې دا ډول خطرونه ثابت نه دي، ځکه چې هیڅ څوک په دې باندې نه دي توانیدلي، چې ووایي راتلونکي وخت کې به د سود نرخ ثابت وي، ځکه کیدای شي، چې په بازار کې د ځینو عواملو په اساس د سود په نرخ کې تغیرات رامنځ ته شي، او د یوې مالي ادارې لپاره د خطر سبب وګرځي، د دې علمي مقالې د لیکلو اصلي هدف هم د اعتباري او د سود نرخ خطر مدیریت دی، او د دوهمي لاس ډاټا څخه ېکې استفاده شوي ده، چې د نوموړي ډاټا د بېلا بېلو کتابونو، سایټونو، مشهورو ژورنالونو او علمي مقالو څخه راټوله شوې ده. د ډاټا له تحلیل څخه دا پایله ترلاسه شوه، چې د سود نرخ کې د بدلون د رامنځ ته کیدو اصلي علتونه انفلاسیون، عمومي اقتصادي حالت، د مرکزي بانک پولي سیاستونه، د خارجي اسعارو د تبادلې مارکېټ کړنې، د قرض سندونو لپاره د بهرنیو سرمایګذارانو تقاضا، مالي او سیاسي ثبات او ځینو نورو عواملو څخه عبارت دي. دغه علمي مقاله د هغو مالي ادارو لپاره چې د قرض ورکولو او اخیستلو معاملات تر سره کوي، ډېر د اهمیت درلودونکي ده.

**کلیدي ټکي** – اعتباري خطر، اعتباري خطر مدیریت، سود نرخ خطر، سود نرخ خطر مدیریت.

**سریزه**

مالي سیستم د یو هېواد د ملي اقتصاد مهمه برخه تشکیلوي، چې مالي ادارې د مالي سیستم یوه مهمه برخه شمېرل کیږي، چې دوی د خلکو څخه اضافي پیسې راټولوي او اړو خلکو ته یې بیا په پور ورکوي. که چېرې مالي ادارې خپل فعالیتونه په ښه شان تر سره کړي؛ نو په بېلابېلو سکتورونو کې چټک پرمختګ رامنځ ته کیږي، چې په افغانستان کې هم دا ډول ادارې د مهمو اقتصادي زیربناوو څخه ګڼل کیږي؛ نو که چېرې مالي ادارې او بانکي نظام په یوه هېواد کې شتون ونلري، اقتصادي پرمختګ هم په آسانۍ سره نه رامنځ ته کیږي. مالي ادارې د اقتصادي پروژو د تمویلوونکو په توګه ډېرې ګټورې دي. د یادولو وړ ده، کله چې مالي ادارې د قرض ورکولو معاملات تر سره کوي؛ نو د دغه معاملاتو تر سره کولو څخه مخکې دوی باید دوی ځینې مدیریتونه ولري، چې د هغې پر بنسټ دغه معاملات مدیریت کړي، لکه د اعتباري خطرانو مدیریت، د سود نرخ

خطر مدیریت، تر څو په راتلونکي کې د کوم خطر سره مخامخ نه شي.

د څېړنې موخې

د دې لیکنې اصلي هدف په مالي اداراتو کې د هغو اعتباري او د سود نرخ خطرانو پېژندنه او د هغوی اداره کول دي، چې یوه مالي اداره د خپلو معاملاتو په اجرا کولو کې د هغې سره مخامخ کېږي. برسېره پردې به دا هم ښکاره شي چې هغه کومې لارې او شیوې دي، چې د هغه په اساس مالي ادارې وکولی شي، اعتباري خطر او د سود نرخ خطر مدیریت کړای شي.

د کار مواد او میتود

د څېړنې میتود په یوه څېړنه کې زیات اهمیت لري، ځکه مونږ ته دا را په ګوته کوي چې د مطلوبو معلوماتو د راټولولو لپاره د کومو منابعو او روشونو څخه استفاده شوې ده. د دې لپاره چې د (اعتباري او سود نرخ خطرانو مدیریت) تر عنوان لاندې مقاله بشپړه کړم؛ نو د مختلفو ژبو له معتبرو کتابونو، مقالو او انټرنیټي سایټونو څخه استفاده تر سره شوې ده. د تحقیق په جریان کې د مقالې د عنوان له ټاکلو وروسته د ضرورت وړ مواد د کتابخانه یي تحقیق د میتود پر اساس راټول او د هغې پر اساس فهرست ترتیب او د کار لاندې نیول شوي دي.

د اعتباري خطر مدیریت

اعتباري خطر د مالي خطرونو له ډلې څخه یو عمده او اساسي خطر ګڼل کېږي، چې په کاروباري ادارو کې رامنځ ته کېږي. اعتباري خطر د یوې ادارې د پور ورکړل شویو پیسو سره تړاؤ لري، چې یوه اداره یې بلې ادارې ته د باور په اساس ورکوي. نو کله چې قرض اخیستونکی په دې ونه توانېږي، چې په همغه ټاکلي وخت کې اصلي سرمایه یا د سود مقدار تادیه کړي؛ نو اعتباري یا کریډټي خطر رامنځ ته کېږي (۲: ۹۳).

جیول وایي چې اعتباري خطر نه یوازې د دیوالي توب په حالت کې بلکې، په بېلابېلو حالتونو کې رامنځ ته کېږي، د بیلګې په توګه، په مؤقتي یا نامعلوم ډول سره په تادیاتو کې د ځنډ د رامنځ ته کیدو پر اساس هم اعتباري خطر رامنځ ته کیدای شي (۵: ۲۲).

د شتمنۍ مدیریت یو اساسي اصل دا دی، چې بانک او نورې مالي ادارې هغو اشخاصو او ادارو ته قرضونه ورکړي، چې هغوی په دې وتوانېږي چې په هماغه ټاکل شوي وخت کې یې بېرته ورڅخه ترلاسه کړای شي، او زیاته ګټه هم ورڅخه لاسته ته راوړي. نو د دې لپاره چې مالي ادارې اعتباري خطرونه راکم او د قرضونو په ورکولو کې بریالي شوي وي؛ نو د هغه لپاره بانک او نورې مالي ادارې یو کاري چوکاټ جوړوي. په لنډ ډول د اعتباري خطراتو د کموالي لپاره باید لاندې اصول په نظر کې ونیول شي:

1. د معلوماتو راټولول او څارنه

د قرضونو په مارکېټ کې کم معلومات شتون لري، ځکه چې قرض ورکوونکی شخص د پانګونې د فرصتونو او د قرض اخیستونکي د فعالیتونو په باره کې کم معلومات لري. لازمه ده چې د قرضونو

په مارکېټ کې قرض ورکوونکی د بدو یا خرابو قرضونو څخه ترممکنه حده ځان وژغوري او یو ښه قرض چې د قرض ورکونکي لپاره ګټه ولري ورکړي. لازمه ده چې قرض ورکوونکی د قرض اخیستونکي په باره کې د اعتماد وړ معلومات راټول کړي او د معلوماتو راټولول د اعتباري خطر مدیریت یو اساسي اصل بلل کیږي.

کله چې یو شخص د مصرفي قرضې په باره کې غوښتنه وکړي لکه د موټر اخیستلو لپاره قرض، د کور اخیستلو لپاره قرض؛ نو په لومړي سر کې د نوموړي مشتري په اړه باید یو شمېر اړینې پوښتنې وشي مثلاً د ستا معاش څومره دی، بانکي حساب، نورې شتمنۍ، د تقرر وخت، عمر او نورو بېلابېلو موضوعاتو په اړه معلومات راټول شي، چې د دغه معلوماتو د راټولولو پر اساس مونږ د هغه مشتري د اعتبار درجه معلومولی شو. د معلوماتو راټولولو پروسه د مالي ادارو لخوا کاروباري ادارو ته د قرضونو ورکولو په شان ده، چې د هغې پر بنا مالي اداره د کمپنیو د ګټې او ضرر حساب شتمنۍ او قرضونو په باره کې معلومات راټولولی شي. د یادولو وړ ده چې بانک باید هغه کاروبارونو ته د قرض په ورکولو کې له ډېر اختیاطه کار واخلي، چې د قانون له مخې په هغه باندې محدودویتونه لګول شوي وي او هغه د ډېر لوړ خطر درلودونکي وي.

2. د مشتریانو سره اوږدمهاله رابطه ساتل

د اعتباري خطر مدیریت یو بل مهم اصل د مشتریانو سره اوږدمهاله روابط دي، چې د بانک او مالي ادارو لپاره د قرض اخیستونکو په باره کې د معلوماتو د لاسته راوړلو یوه بله مناسبه لار ګڼل کیږي.

کله چې یو مشتري په بانک کې د پخوا څخه جاري یا پس انداز حساب ولري، او دغه مشتري د قرض غوښتنه وکړي؛ نو د قرضونو ورکولو مدیر د ده حساب ګوري، چې په خپل حساب کې یې په تېر وخت کې څه ډول فعالیتونه تر سره کړي دي، چې دغه د بانک لپاره د قرض اخیستونکي په باره کې یوه اندازه معلومات ورکوي، دغه اصل د بانک لپاره د نورو اصلونو په پرتله چې د هغې څخه په استفادې سره معلومات راټولوي، اقتصادي بلل کیږي.

کله چې یو مشتري د بانک سره اوږمهاله اړیکې لري؛ نو هغه په همغه اندازه په اسانۍ سره کولای شي، چې د بانک څخه قرض لاسته راوړي (۳: ۲۱۸- ۲۱۹).

3. د پور ورکولو ژمنه

د قرض ژمنه یا وعده د قرض ورکوونکي هغه ژمنه ده، چې قرض اخیستونکي ته به یو ټاکلی مقدار قرض ورکوي. د قرض ژمنې ته د ژمنې سند هم ویل کیږي. /https://www.bankrate.com/glossary/l/loan-commitment

سوداګریزو اشخاصو ته د قرضونو ورکول د ژمنو په اساس بانک د هغه سره اوږدمهاله اړیکې جوړوي او د هغه په واسطه معلومات لاسته راوړي. د قرضونو ژمنې د بانک هغه ژمنې دي، چې یو شرکت ته په داسې ډول قرضونه ورکوي، چې د هغه د سود نرخ د مارکیټ د سود نرخ سره یو ډول وي. چې زیاتره سوداګریز او صنعتي قرضونه د ژمنو په اساس تر سره کیږي. چې د شرکت لپاره د هغه ګټه داده، چې د قرض لاسته راوړلو یوه منبع ده چې هر وخت یې ضرورت ورته پیدا شو،

او د بانک لپاره یې دغه ګټه ده، چې اوږدمهاله اړیکې تشویقوي او بانک ته معلومات په لاس کې ورکوي. د قرضونو ژمنې قرارداد چې تر سره کیږي نو د شرکت څخه د دوی د عوایدو، شتمنۍ، قرضونو، کاروباري فعالیتونو او ځینې نورو په باره کې معلومات لاسته راوړي. چې دغه د معلوماتو راټولولو مصارفو د کموالي لپاره یو ښه میتود دی.

4. تضمین او جبران کوونکی بېلانس

د قرضونو ورکولو لپاره د تضمین اخیستل د اعتباري خطرونو د مدیریت یوه مهمه وسیله ده. چې د قرضونو اخیستلو په مقابل کې قرض اخیستونکی د یوې بلې شتمنۍ ژمنه کوي، چې د قرض بېرته ورکړې د ناتوانۍ په صورت کې به هغه جبران کوي. کله چې قرض اخیستونکی د قرض په ورکولو کې پاتې راغلو؛ نو قرض ورکوونکی کولای شي چې هغه تضمین شوې شتمنې خرڅه کړي او هغه قرض جبران کړي.

کله چې یو بانک سوداګریز قرض اشخاصو ته ورکوي نو د تضمین یو عام شکل یې جبران کوونکی بېلانس دی، په دې معنا چې یوه کاروباري اداره د قرض اخیستلو په مقابل کې د هغه بانک په خپل جاري حساب کې یو معلوم حد پیسې باید کېږدي. د مثال په توګه، کله چې یو کاروباري واحد ۱۲ میلیونه ډالر قرض اخلي؛ نو د هغه بانک سره باید په خپل جاري حساب کې کم تر کمه ۱ میلیون ډالر شتون ولري. د دې حساب یوه بله ګټه د بانک لپاره دا ده چې دوی د هغه کاروبار مالي حالت هم کتلی او معلوملی شي، چې د دوی حساب څه ډول دی (۳: ۲۱۹ – ۲۲۰).

5. د کریډیټ محدودیت

د قرض محدودیت د قرض بازار هغه حالت دی، چې په هغه کې د قرض ورکوونکي لخوا د قرض اخیستونکي غوښتنو ته د غوښتل شوي قرض په پرتله د قرض مقدار کم وي.

https://link.springer.com/chapter/10.1007%2F978-1-349-19804-7_10

د مالي ادارو لپاره یوه بله لاره چې د هغه په اساس د قرض ورکولو یو بدیل وټاکي، یا په اعتباري خطر کې کموالی رامنځ ته کړي، د قرض حد ټاکل یا د قرض محدودیت دی. د قرض محدودیت په دوو ډولونو سره پلی کیږي:

لومړی دا چې قرض ورکوونکی، قرض اخیستونکي ته د قرض ورکولو څخه انکار وکړي، که څه هم د قرض اخیستونکی، قرض ورکوونکي ته د سود لوړ نرخ باندې هم قایل وي.

دوهم دا چې قرض ورکوونکی غواړي چې د قرض ورکړې، په مقدار باندې یو ډول محدودیت وضع کړي، چې د قرض اخیستونکي د غوښتنې په نسبت چې هغه یې غواړي کمه اندازه قرض ورکړي.

د قرض ورکولو لومړۍ طریقه چې قرض ورکوونکی شخص، د سود په لوړ نرخ باندې هم قرض نه ورکوي، د هغه علت دادی چې افراد او شرکتونه چې په لوړ خطر لرونکو پروژو کې سرمایګذاري کوي؛ نو دوی د سود لوړ نرخ هم تادیه کوي، چې په دغه وخت کې د قرض ورکولو بدیل باید انتخاب کړي. قرض اخیستونکی داسې فکر کوي، چې په هغه پانګونې کې به بریالی او شتمن به شي، خو قرض ورکوونکی شخص داسې وایي چې په هغه پانګونه کې به نوموړی کس ناکام او د پیسو په بېرته تادیه

کولو کې به پاتې راشي.

مالي ادارې د کريډيټ د محدوديت دوهمه طريقه چې د قرض په مقدار کې کموالی رامنځ کول دي، مالي ادارې قرض اخيستونکي ته قرض ورکوي، خو په هغه مقدار سره چې قرض اخيستونکي يې غوښتنه کوي په هغه مقدار سره قرض نه ورکوي، د قرض محدوديت څخه د مالي اداراتو هدف د بېرته تادېې په وخت کې د ناکامۍ څخه مخنيوی دی، چې شتمنۍ په بيلابيلو ډولونو سره وويشي (۳: ۲۲۰).

د سود د نرخ خطر مديريت

په مالي بازارونو کې د لنډمهاله سود نرخونو تغيير د بانک په ګټه باندې تاثير کوي، لکه د خزانې بيل (Treasury Bill ) که چېرته د هغه سود نرخ لوړ شي، داسې توقع کېږي، چې د بانک په ګټه کې کموالی رامنځ ته کېږي او د بانک د سود نرخ د بانک د شتمنۍ او قرضونو وخت پورې تړاؤ لري (۱: ۲۹).

د سود په نرخ باندې زيات عوامل تاثير کوي، چې کيدای چې يوه اداره د سود نرخ خطر سره مخامخ کړي، لکه انفلاسيون، عمومي اقتصادي حالت، د مرکزي بانک پولي سياستونه، د خارجي اسعارو د تبادلې مارکيټ کړنې، د قرض سندونو لپاره د بهرنيو سرمايګذارانو تقاضا، مالي او سياسي ثبات او داسې نور (۲: ۸ – ۹).

د دې لپاره چې د سود نرخ خطر باندې لاښه پوهيدلي وو؛ نو د فيرسټ نيشنل بانک بېلانس شيټ په نظر کې نيسو:

۱-۱. د فرسټ نيشنل بانک بيلانس شيټ

| فيرسټ نيشنل بانک | |
|---|---|
| قرضونه | درايي |
| د حساس نرخ لرونکی پورونه(ميليون ډالر)50 | حساس نرخ لرونکي درايي ګانې(ميليون ډالر) 20 |
| د د پس اندازونو د اسنادو متغير نرخ | متحول نرخ او لنډ مهاله قرضونه |
| د پيسو د بازار د زيرمې حسابونه | لنډ مهاله ارزښت لرونکي پانې |
| ثابت نرخ لرونکي قرضونه 50$ million | ثابت نرخ لرونکی درايی ګانې ميليونه 80$ |
| چکي پس اندازونه | ذخاير |
| پس اندازونه | اوږد مهاله قرضونه |
| د پس انداز اوږدمهاله پانې | اوږد مهاله ارزښت لرونکي پانې |
| د مالک سرمايه | |

د شتمنيو د جملې څخه ۲۰ ميليونه ډالره شتمنۍ حساسې (بدلون منوونکي) دي، چې د هغه د سود نرخ په لنډ وخت کې معمولاً په يو کال کې بدليدونکی دی او ۸۰ ميليونه ډالره شتمنۍ د سود نرخ ثابت دی چې په لنډ وخت کې معمولاً په يو کال کې نه بدلېږي. د قرضونو په برخه کې ۵۰ ميليونه ډالره د سود نرخ بدليدونکی دی او د ۵۰ ميليونه ډالرو د سود نرخ ثابت دی.

داسې فرض کوو چې د سود په نرخونو کې ۵٪ تغير رامنځ ته شو، او د سود نرخ د ۱۰٪ څخه ۱۵٪ ته

لوړ شو. چې په لنډمهاله شتمنیو کې د یو میلیون په اندازه عواید زیات شول ( 1 million = 5% x 20 million)، او د جاري قرضونو په برخه کې په دوی باندې ۲,۵ میلیونه ډالره مصرف زیات شو ( 2.5 million = 5% x 50 million). د دغه د سود نرخ د تغیر په اساس فیرسټ نیشنل بانک د ۱,۵ میلیونه ډالرو په اندازه ګټه کمه شوه. همداسې که چیرته د سود په نرخ کې ۵٪ ټیټوالی رامنځ ته شوی وی؛ نو دوی به ۱,۵ میلیونه ګټه لاسته راوړې وی. د دغه مثال څخه مونږ دغې نتیجې ته رسیږو، چې کله بانک د جاري شتمنیو څخه زیات جاري قرضونه ولري؛ نو په دې صورت کې د سود په نرخ کې لوړوالی د بانک ګټه کموي او د سود په نرخ کې کموالی د بانک ګټه لوړوي(معکوسه اړیکه لري). د سود نرخ تغیر یا د سود نرخ خطر د لاندې میتودونو په واسطه کولی شو، تحلیل کړو (۳: ۲۲۰ – ۲۲۱).

**د فاصلې او دورې**

**تحلیل**

د سود په نرخ کې تغیر چې د هغه په اساس د بانک په ګټه کې بدلون راځي، کولی شو چې د فاصلې تحلیل(Gap analysis) میتود پواسطه هغه اندازه ګیري کړو. په دغه تحلیل کې د بانک د قرضونو حساسې نرخ یعني په لنډ وخت کې چې په هغه کې تغیر رامنځ ته کیږي هغه به د شتمنیو حساسې نرخ څخه راکم کړو، چې دغې ته خالیګاه یا فاصله ویل کیږي. مثال ( 30 $ million = 20 $ million – 50 $ million-) که چیرته د سود نرخ تغیر په فاصلې تغیر کې ضرب کړو؛ نو مونږ ته به د بانک په ګټه باندې د هغه تاثیرات معلوم شي. د مثال لپاره که چیرته د سود نرخ ۵٪ لوړ شي؛ نو په ګټه کې په لاندې ډول بدلون راځي. ( 1.5 $ million = 5% x 30 $million-) چې بانک د دغه سود نرخ د تغیر په اساس ۱,۵ میلیون ډالر تاوان وکړو، چې دغه میتود د فاصلې یا خالیګې تحلیل څخه عبارت دی.

د سود نرخ خطرونو د تحلیلولو لپاره یو بل میتود هم کارول کیږي، چې هغه د وخت یا دورې له تحلیل (Duration analysis) څخه عبارت دی. د دغه میتود په اساس سره د مجموعي شتمنیو او قرضونو د بازار ارزښت د سود نرخ له تغیر سره مقایسه کیږي.

ارزښت لرونکو پاڼو په بازاري ارزښت کې سلنیز بدلون= سود نرخ تغیر سلنیز نقطوي بدلون * موده د کالونو په حساب

د مثال لپاره هغه تیر مثال چې د فیرسټ نیشنل بانک بېلانس شیټ په نظر کې نیسو، داسې فرض کوو چې د شتمنیو وسطي تادیې وخت ۳ درې کاله ده او د قرضونو وسطي وخت ۲ دوه کاله ده. د فیرسټ نیشنل بانک بېلانس شیټ په داسې ډول ښودل کیږي، چې ۱۰۰ میلیونه ډالر شتمني لري، ۹۰ میلیونه ډالر قرضونه دي او د بانک پانګه ۱۰ میلیونه ډالر چې د هغه شتمنی ۱۰٪ کیږي. که چیرته د سود په نرخ کې ۵٪ زیاتوالی رامنځ ته شي. نو د بانک شتمنی د بازار ارزښت (15% = -5% x 3 years) د ۱۵٪ په اندازه کمیږي، چې دغه د بانک د شتمنیو ۱۵ میلیونه کیږي؛ او دغه د سود نرخ تغیر د بانک په شتمنی کې د ۱۵ میلیونو په اندازه کموالی راولي او د قرضونو د بازار ارزښت به (10% = -5% x 2 years) د ٪ ۱۰

په اندازه کم شي، چې دغه فیصدي د قرضونو ۹ میلیونه کیږي. د دغه تحلیل څخه وروسته مونږ ته خالص ارزښت (د شتمنۍ د بازار ارزښت تغیر منفي د قرضونو د بازار ارزښت) ۶ میلیونو په اندازه چې هغه ٪ ۶ کیږي، د شتمنۍ په ارزښت کې کموالی رامنځ ته شو. همداسې که چیرته د سود نرخ کې ٪ ۵ کموالی راشي؛ نو فیرسټ نیشنل بانک به د ٪ ۶ په اندازه ګټه تر لاسه کړي. نو د سود نرخ لوړوالی د دواړو میتودونو تحلیل په اساس د بانک لپاره د سود نرخ خطر رامنځ ته کوي (۳: ۲۲۱ – ۲۲۲).

د سود نرخ د خطر مدیریت ستراتیژي

داسې فرض کوو چې د بانک مدیر د فاصلې او دورې تحلیل د میتودونو څخه په استفادې د سود نرخ خطر اندازه ګیري کړو او معلومه شوه چې بانک د تاوان په لور روان دی؛ نو د دې لپاره چې بانک د دغه خطر څخه ژغورل شوی وي؛ نو د سود نرخ خطر د مدیریت کولو لپاره یو بدیل باید پیدا شي.

که چېرې د بانک مدیر پدې باوري وي، چې په راتلونکي وخت کې د سود نرخ ټیټیږي؛ نو کیدای شي کوم عمل تر سره نه شي، ځکه چې حساسي (لنډمهاله قرضونه) زیات دي، چې دغه د بانک لپاره ګټه ده. خو که چېرې د بانک مدیر دغه توقع لري، چې بانک کیدای شي نوره هم د خطر له ګواښ سره مخامخ شي او د سود نرخ د ټیټوالي په نسبت د هغه د لوړوالي امکان زیات وي. نو په دغه ځای کې باید د هغه کمولو یا ختمولو هڅه وشي.

یو بدیل یې دغه دی، چې د شتمنۍ وخت کم شي، یا د قرضونو وخت کې زیاتوالی رامنځ ته شي. د دغه لارې په اساس د بانک ګټه باندې به لږ تاثیر وکړي. په دغه ډول سره چې په بېلانس شیټ کې داسې تغیرات رامنځ ته کړي، او د سود نرخ خطر کم کړي، دغه په لنډ مهاله وخت کې ډیر سخت وي. همداسې ډول سره په اوسني وخت کې پرمختللي وسایل چې هغه مالي دارایي ګاڼې (Financial derivatives)، د خرید او فروش حقوق (Options)، راتلونکي قراردادونه (Future) او ځینې نورو وسایلو په واسطه کولی شو، چې د سود نرخ خطر کم کړو (۳: ۲۲۲ – ۲۲۳).

خوندي کول :

یوه مالي اداره یا بانک کولی شي، د Immunization ستراتیژۍ په اساس د سود نرخ خطر خوندي کړي، که چېرې د بانک مجموعي شتمني( Portfolio) په نظر کې ونیسو، پانګه اچوونکي ممکن د سود په نرخونو کې د بدلون په اساس مجموعي شتمني( portfolio) خوندي کړي. که څه هم بانکونه او مالي مؤسسات غواړي، چې ګټور وي، دوی باید د هغه شتمنیو ارزښت هم خوندي کړي چې دوی د ناڅرګندتیا سره مخ دي، په ځانګړې ډول د سود په نرخونو کې د بدلون په اساس چې رامنځ ته کیږي.

د خوندي کولو ستراتیژي (Immunization strategy) د مالي ادارو لپاره دا ممکنه کوي، چې د سود په نرخونو کې د بدلونونو سره مخ کیدل محدود کړي. د خوندیتوب ستراتیژۍ هدف د شتمنیو او قرضونو د وخت مقایسه کول دي، چې د هغه په اساس د بانک په سرمایه باندې د سود نرخ تآثیر کمیږي. نو د خوندیتوب ستراتیژۍ له مخې بانک کولی شي، د بېلابېلو لارو په اساس خپل بېلانس شیټ ته د سود نرخ تاثیر په اساس بدلون ورکړي، چې په لاندې ډول دي (۷: ۳۹).

د نغدو پیسو د جریان برابرول : د خوندیتوب تر ټولو اسان شکل د نغدو پیسو برابرول دي ،چې په اصل کې د تادیې په وړاندې د ځان ډاډمن کول دي. د مثال په توګه، که چېرې یو بانک اټکل وکړي، چې په راتلونکي ۱۲ کلونو کې HKD1,000 تادیه کړي؛ نو کولی شي، چې د صفر کوپن لرونکی د قرض سند وپیري او د ځان سره یې د 11 کلونو لپاره وساتي، چې د هغه وخت په پوره کیدو سره به دوی وکولای شي، چې هغه تادیات تر سره کړي. د پیسو د ورود جریان په مکمل ډول سره کولی شو، چې د پیسو صدور د وخت په اساس سره سمون ورکړو، چې د سود نرخ تغیر په اساس د دوی په توان باندې کوم منفي تاثیر نه کوي.

د مودې برابرول: د سود نرخ خطر کنټرول کولو لپاره یوه بله ستراتیژي د مودې برابرول دي، چې د نغدو پیسو جریان ستراتیژۍ څخه زیات د عملي کیدو وړ ده، د دغه ستراتیژۍ له مخې د شتمنیو او قرضونو وخت په نظر کې نیول کیږي. بانک کولی شي، د شتمنیو او قرضونو په وخت کې تغیر رامنځ ته کړي، تر څو دوی باوري شي، چې د مشتقه شتمنیو قیمت د قرضونو مشتقه شتمنیو د قیمت څخه لوړ دی. چې دغه ستراتیژي په مخکینۍ موضوع کې په تفصیل سره ذکر شوه (۷: ۳۰).

د سود د نرخ خطر ژغورنه:

خوندیتوب( immunization) د سود نرخ خطر څخه د مخنیوي لپاره غوره لاره ده، خو د بانکونو بېلانس شیټونو په بشپړ ډول خوندي کول ناممکن دي، چې هغه ډېر پیچلي دي او د بېلانس شیټ د اقلامو په داسې ډول سره ویشل یا برابرول چې د سود نرخ خطر په بشپړ ډول خوندي کړي، سخت دي. د سود نرخ کنټرول کولو لپاره یوه بله طریقه ژغورنه (Hedging) ده، چې د هغه په اساس دوی کولی شي، خپلې شتمنۍ او قرضونه د سود نرخ تغیر په وړاندې خوندي کړي(۷: ۳۰ – ۳۶ ).

**پایله**

په مالي اداراو کې بیلابیل ډول مالي خطرونه رامنځ ته کیږي، چې د هغه د کنټرول لپاره د خطر مدیریت رامنځ ته شوی دی، ترڅو وکولی شي چې دغه ډول خطرونه مدیریت کړي. د مالي خطرونو له ډلې عمده یې اعتباري او د سود نرخ خطرونه دي، چې مالي ادارات ور سره مخامخ کیږي. اعتباري خطر هغه وخت رامنځ ته کیږي، چې قرض اخیستونکی په دې ونه توانیږي، چې په ټاکلي وخت کې اصلي قرض یا د سود مقدار تادیه کړي او دا ډول اعتباري خطر یوه مالي اداره د زیات زیان سره مخامخ کولی شي؛ نو د دې لپاره چې یوه مالي اداره وکولی شي چې د خطراتو نوموړي اقسام په غوره توګه مدیریت کاندې؛ نو د قرض د ورکړې څخه مخکې باید د قرض اخیستونکي په اړه پوره معلومات راټول کړي، لکه د هغه شتمنۍ، بانکي حساب، تقرر وخت، معاش، د کاروبار ډول او داسې نور. ځکه د دغه معلوماتو راټولولو په اساس مونږ د هغه مشتري د اعتبار درجه معلومولی شو.

د سود نرخ خطر رامنځ ته کیدل د یوې مالي ادارې د ګټې د کموالي باعث ګرځي او د یاد خطر د رامنځ ته کیدو زیات عوامل موجود دي، لکه انفلاسیون، عمومي اقتصادي حالت، د مرکزي بانک پولي سیاستونه، د بهرنیو اسعارو د راکړې ورکړې مارکیټ کړنې، د قرض سندونو لپاره د بهرنیو

سرمایګذارانو تقاضا، مالي او سیاسي ثبات او داسې نور. د دغه کنټرول کولو لپاره باید د شتمنی وخت کم شي، یا د قرضونو وخت کې زیاتوالی رامنځ ته شي. چې د دې میتود په اساس د بانک ګټه تر تاثیر لاندې راځي او په دې ډول په بېلانس شیټ کې هم تغیرات رامنځ کېږي. سربېره پردې یو شمېر نور بېلابېل پرمختللي وسایل هم شتون لري، چې هغه په واسطه کولی شو چې د سود نرخ خطر کم کړو لکه هغه مالي دارايي ګانېFinancial derivatives، د خرید او فروش حقوق Options، راتلونکي قراردادونه Future او داسې نور.

وړاندیزونه

- د دې لپاره چې سوداګریز بانکونه د دیوالي کېدو له خطر څخه ژغورل شوي وي، دوی باید په خپل تشکیلاتي جوړښت کې د خطر مدیریت ولري.
- بانکونه نه یوازې د خطر مدیریت لپاره بلکې په هره برخه کې باید مسلکي اشخاص استخدام کړي، ترڅو پولي جریان په مکمل ډول سره تر څېړنې لاندې ونیول شي.
- د سازمان هغه ډول فعالیتونه چې سازمان یې په خپله په سم ډول نشي ترسره کولی، د مصارفو په نظر کې نیولو سره دې دا دنده د سازمان څخه د بهر اشخاصو په وسیله ترسره کړي یعنې (Outsourcing) دې وکړي.
- د خطر اداره کوونکي باید پور اخیستونکي په هر اړخیزه توګه وپېژني او همدارنګه د کریډیټ پروسه کې باید ډیر محتاط او دقیق واوسي.
- د بازار خطر د ښه مدیریت کولو لپاره د خطر مدیران باید د بازار په اړه دقیق معلومات لاسته راوړي، معلومات او پېښې باید په ښه ډول بررسي او تحلیل کړي او همدارنګه په تصمیم نیولو کې باید ډیر پام وکړي.

**ماخذونه**


۱. Ball, Laurence M. (2012). Money banking and financial markets. 2nd ed. worth publishers. USA.
۲. Horcher, Karen. (2005). Essential of financial risk management. John wiley & sons, USA.
۳. Mishkin, Frederic S. (2004). The economics of money, banking and financial markets. 7th ed. Addison wesely, New York, US.
٤. Glenn, H. O’brien, A.P. (2012). Money, banking and the

financial system. 1st Ed. Prentice hall, New York. USA.
Joel. Risk Management in Banking .٥
Heffernan, Shelagh. (2005). Modern banking. John wiley & Sons, Chichester, west Sussex, England. .٦
The Hong Kong Institute of bankers. (2018). Bank asset and liability management. John wiley & sons, Singapore Pte.Ltd. .٧

# د مدعي او مدعی علیه پېژندنه

لیکونکی: پوهنیار عباد الله نورزی
شیخ زاید پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي د اسلامي تعلیماتو څانګې علمي کادر غړی
تقریظ ورکونکی: پوهندوی سید کمال شاه بنوري د شرعیاتو پوهنځي استاد

**لنډیز**

د اسلام مبارک دین لومړۍ ورځ څخه قضاء ته اهمیت ورکړی دی، ځکه چې د قضاء نظام پلې کیدل او چارې یې په سمه توګه تر سره کول په ټولنه کې دعدل د اقامت ضمانت کوي، او عدل هغه اساسي شی دی چې بشرې ټولنې د دې پر اساس ولاړې دي،اسلامي شریعت د عدل په قائمولو ډیر ټینګار کړی دی؛ ځکه چې د قضاء لومړۍ مرحله قاضي ته د خپل حق د غوښتلو په پار د هغه چا ورتګ دي چې د تکلیف او تیري سره مخ شوی وي، د دې طریقه دا ده چې قاضي ته خپله دعوه ور پورته یا پیش کړي او غوښته هغه وخت صحیح بلل کیږي چې دعوه صحیح وي او دعوه هله صحیح کیږي چې ارکان او شرائط یې بشپړ وي، د دې لپاره چې قاضي د مدعی علیه په حاضرولو وتوانیږي او دعوي ته ځواب وواېي، له دې څخه مخکې پر قاضي لازم دي چې د مدعي او مدعی علیه تر منځ توپیر وکړي او دا ورته معلومه شي چې مدعي څوک دی او مدعی علیه څوک دی.

یاده موضوع یوه کتابتوني موضوع ده چې له مخې به یې لوستونکې د مدعي او مدعی علیه په پېژندنه قادر شي او د دواړو تر منځ به د توپیر په ضوابطو او معیارونو پوه شي، ترڅو د ځمکې پر مخ عدل قایم شي حق حقدار ته ورسیږي، د ظلم مخنیوی وشي او د چا حق بل ته ورنه کړل شی.

**کلیدي ټکي** : مدعي پېژندنه، مدعي اړوند شروطو پېژندنه، مدعي او مدعی علیه ترمنځ د توپیر د ظوابطو پېژندنه، مدعی علیه اړوند شرطونو پېژندنه

**سریزه**

إن الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضلَّ له، ومن يضلل فلا هاديّ له، وأشهد ألّا إله إلا الله وأشهد أن محمداً عبده ورسوله.

دا یو څرګند حقیقت دی چې اسلامي شریعت د مدعي او مدعی علیه د پېژندلو لپاره اړین اصول او قواعد بیان کړی دي ، تر څو په اسانۍ سره وکولای شو مدعي او مدعی علیه په هغه قواعدوو سره وپېژنو چې علماو یې ترمنځ توپیر کړی دی، تر څو د خصومتونو (جنجالونو) په وخت کې په ستونزو کې ښکیل نه شو، اسلامي شریعت د هغه وسائلو او اسبابو په عملي کولو امر کړی دی چې د هغې پر اساس په ټولنه کې عدل رامنځته کیږي، د عدل د اسبابو او وسائلو له جملې څخه یو قضاء ده، چې اسلامي شریعت د قضاء په اړه پراخه احکام او مسائل بیان کړي دي او پدې اړه یې د محاکماتو اصول وضع کړي دي، چې په شرعي محاکمو کې تطبیق دي،پدې اړه الله رب العزت په خپل کتاب کې داسې فرمایلي دي: (يَا دَاُووُد إِنّا جَعَلْنَاكَ خَلِيفَةً فِي الأَرْضِ فَاحْكُمْ بَيَن النَّاسِ بِالَّحق وَلَا تَتَّبعِ الَهوَى فَيُضِلَّكَ عَنْ

سَبِيلِ اللَّهِ) (سورت ص ۲۶).

ژباړه: مونږ هغه ته وویل ای داؤده! مونږ ته په ځمکه کې خلیفه ګرځولې یې، د دې له کبله ته د خلکو په منځ کې په حقه حکم ـ فیصلې ـ وکړه او د نفسي غوښتنو پیروي مه کوه چې هغه به تا د الله تعالی له لارې څخه واړوي.(۱۳: ۷۸۱)

د پورته آیت څخه څرګندیږي چې د مدعي او مدعی علیه نه پېژندل په فیصله او حکم کې د عدل مانع ګرځي او قاضي نشي کولای حق ته ورسیږي په همدې اساس د مدعي او مدعی علیه پېژندل اړین دي.

**د لیکنې موخې**

نوموړی لیکنه په لاندې اهدافو مشتمله ده

۱ـ د مدعي معنی او وضاحت پېژندنه.

۲ـ د مدعی علیه معنا او وضاحت پېژندنه.

۳ـ د مدعي او مدعی علیه د شروطو پېژندنه

۴ـ د مدعي او مدعی علیه تر منځ د توپیر ضوابطو د بیان پېژندنه.

**د کار توکي او کړنلاره**

۱: له معتمدو کتابونو څخه په دې لیکنه کې استفاده شوې ده .

۲: په لیکنه کې په عمومیاتو پیل شوی دی بیا وروسته خاصو امورو ته اشاره شوې ده.

۳: د هر عالم قول په پوره امانت داری خپل قائل ته منسوب شوې دی.

۴: د هر مصدر اومرجع څخه د عبارت په نقلولو کې استفاده شوی ده په پای کې پرې حواله ورکړل شوې ده .

۵: نبوي احادیث د معتبرو کتابونو څخه رانقل شوي دي.

دا لیکنه په روانه او ساده پښتو ژبه شوېده ، چې هر څوک کولای شي استفاده ترې وکړي په لیکنه کې د معتمدو مصادرو څخه استفاده شوېده ، آیتونه د عثماني رسم الخط مطابق د مصحف څخه نقل شوي دي او د آیتونو سره پښتو روانه ژباړه د کابلي تفسیر څخه په استفادې لیکل شوې ده.

**د مدعي تعریف او شرطونه**

**تمهید**

د مدعي لغوي او اصطلاحي او اړوند شروطو پېژندنه په دی موخه تر سره کیږي چې مدعې علیه سره یې تمیز او فرق راشي ؛ ځکه د هر یو لپاره د خپل ځان نه د دفاع ځانګړي اسلوب او طریقي دي او اسلامي شریعت د دعوي ثبوت په مدعي ور اچولی دی چې ګواهان به پیش کوي او د دعوي د دفع کولو بوج یې پر مدعی علیه اچولی دی چې د یمین ( قسم) په ترځ کې به یې دفع کوي، هریو به د خپل قول او وینا لپاره دلایل وړاندې کوي. (۲۰: ۱۷۶).

په همدې اساس ځینو علماوو د مدعي او مدعی علیه د پېژندلو لپاره د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث اصل ګرځولی دی، چې (ګواهان به مدعې پیش کوي او منکر لره قسم دی یعنی منکر شخص مدعی علیه دی او ګواهان پیش کوونکې مدعي دی، له دې وروسته د هر یو لپاره جلا جلا تعریفونه په ځانګړو عنوانونو سره ذکر کوو. (۳: ۱۴۰).

**د مدعي لغوي او اصطلاحي پېژندنه**

**د لغت له مخې د مدعي پېژندنه**

په عربي ژبدود کې مدعي د (اِدّعَیت الشیء) څخه اخیستل شوی دی یعني د خپل ځان لپاره مې طلب کړو او وه مې غوښته چې جمع یې (دعاوي) د واو توري په زیر او زور سره راځې عرب وايي : ( ادعی علی فلان کذا ) د دعوي نسبت یې ورته وکړ او شخړه یې ورسره وکړه په دغه دعوه کې او د قضاء په فن کې مدعي ته مخاصم یعنی جګړه کوونکې یا د دعوي مقابل لوری اوحریف ویل کیږي چې جمع یې مدّعون (دعوه کوونکې) راځي. .(۵: ۲۸۶) .

**د مدعي اصطلاحي تعریف**

د مدعي لپاره فقهاؤ مختلف تعریفونه کړی دي ، یو څو به یې د نمونې په طور ذکر کړو

۱ـ احناف فقهاء مدعي داسې تعریفوي: (أن المدعي هو من ترك الخصومة لا يجبر عليها) (۱۹: ۱۴۰)

ژباړه: مدعي هغه چاته ویل کیږي که خصومت (جګړه، شخړه) پریږدي، نو د دعوي په جریان کې پرې جبر او زور نشي کیدلای.

**د تعریف شرحه**

د نوموړی تعریف څخه څرګندیږي چې مدعي د حق څښتن ته ویل کیږي او د حق غو ښتنه کوي په همدې وجه ورته اختیار دی چې غوښتنه یې کوي او که خصومت پریږ دي.

کله چې مدعي ته د خپل حق د غوښتلو او د خصومت د پریښودلو اختیار شته خو دا هله چې دعوه کوونکې په خپله دعوه کې ریښتنی وي ځکه اسلامي شریعت پر مدعي باندې د مدعي علیه په وړاندې د خپلې دعوي د ثبوت بوج وار اچولی دی او کله چې ده ته اختیار ورکړل شوی نو د دعوی په جریان کې پری زور نشته. (۱۷: ۲۲۴).

**غوره تعریف**

غوره تعریف د احنافو فقهاؤ چې دا تعریف ډیر شامل او کامل دی نسبت نورو ته او د دي تعریف څخه په مجلة الاحكام العدلية کې هم یادونه شویده فرمايي( المدعي: هو الشخص الذي يطلب حقه في حضور القاضي) (۱۴: ۱۵۳ المادة رقم: (۱۶۱۳)

ژباړه : مدعي هغه شخص دی چې د قاضي پر وړاندې د خپل حق غوښتنه کوي.

**د ترجیح سبب**

د احنافو فقهاؤ تعریف ځکه غوره دی چې دعوی ته نزدې دی او د نیوکو څخه خوندي دی او په نني عصر کې دا څرګنده او متعارفه خبره ده، چې دعوه باید خامخا په محکمه کې دایره شي او د محکمې څخه بهر ورته اعتبار نشته همدې ته یې د نظم اجراءات وايي؛ ځکه چې دعوي په محاکمو کې ثبتیږي او ثبت یې د محکمې څخه بهر نه منل کیږي.

**د مدعي اړوند شرطونه**

۱ـ د مدعي اهلیت: د اهلیت کلمه لاندې شیانو ته شامله ده:

الف ـ مدعي ته هله مدعي ویل کیږي چې کله د ادعا وړتیا او اهلیت ولري همدارنګه اقلا باید د تمیز مرحلې ته رسیدلی وي او د وصي او ولي لخوا به ورته د خصومت اجازه شوی وي، په همدې اساس د

ځینې فقهاؤ له انده هغه ماشوم چې ممیز نه وي، دعوه یې درسته نده همدا راز هغه ماشوم چې ممیز دی خو د ولي یا وصي لخوا ورته د خصومت کولو اجازه نده شوي د ده دعوه هم درسته نده.

ب ـ مدعي به عاقل وي نو د لیوني دعوه درسته نه ده ، ځکه چې دی د دعوي کولو اهلیت او وړتیا نه لري، لکه څرنګه چې په دې اړه د مجلة الاحکام العدلیه ( ۱۶۱۶ ) صراحت کوي ( يشترط أن يكون المدعي والمدعى عليه عاقلين ودعوى المجنون والصبي الغير المميز ليست بصحيحة إلا أنه يصح أن يكون وصيهما أو وليهما مدعيين أو مدعى عليهما ). (۱۴: ۱۵۶).

ژباړه: د دعوي د صحت لپاره دا شرط ده چې هر یو دمدعي او مدعي علیه څخه به عاقلان وي همدا وجه ده چې د لیوني او غیر ممیز ماشوم دعوه درسته نده مګر په هغه صورت کې چې د دی دواړو ولي او یا وصي دعوه کړي وي او یا پرې دعوه شوي وي (مدعي وي یا مدعی علیه)، نو د لیونې او ماشوم لخوا به خصم د دوی ولي او یا وصي وي. (۱۵: ۲۲۰).

۲ـ مدعي کې به د خپل حق د غوښتلو صفت وي

مدعي کې د خپل حق د غوښتلو صفت شرط دی یعني هله مدعي بلل کیږي چې د حق د غوښتلو صفت ولري، ګویا هغه حق چې دعوه پرې شوي د ځان لپاره به یې غواړي او یا د بل چا لپاره خو په طریقي د وکالت یا وصیت سره، ځکه دحق څښتن په خپل ملکیت کې د اسقاط او ابراء د تصرف حق لري خو دا په هغه صورت کې چې کله دعوه د حقوق العباد سره تړاو ولري، د مثال په توګه لکه د مالي حقوقو دعوه یا د نکاح، د عقوباتو دعوه لکه قصاص په بدن او زخمونو کې او همدارنګه حد قذف، که چیرې د دعوي تعلق د حقوق الله سره وو یا د عامه حقوقو سره نو بیا په هر مسلمان لازم دي ، چې د ادعاء کولو صفت ولري د دې لپاره چې د دغه حقوقو ساتنه وکړي او په نافذیدو یې ټینګار وکړي. د دې مثال لکه د حسبي دعوي یا د زوجینو تر منځ د طلاق په وجه د جدا کیدو غوښتنه، نو دا ادعاوي به د الله تعالی لپاره په محاکمو کې جریان ورکوي او تعقیبوی به یې.

۳ـ دعوه به په مصلحت بنا وي

دریم شرط مصلحت دی او د مصلحت تکی مدعي ته راجع کیږي، د مصلحت څخه مراد هغه فائده ده چې مدعي یې قضاء ته د پناه وړلو پر اساس په لاس راوړي برابره خبره ده دغه مصلحت او فائده قانوني وي او که شخصي وي. (۶: ۵۳).

د دي شرط شتون په مدعې کې د نورو ذکر شوو شرطونو په څیر حتمي دی او د دې یادونه د مجلة الأحكام العدلية په (۱۶۳۰) ماده کې هم شویده وایې(يشترط أن تكون الدعوى على فرض ثبوتها ملزمة للمدعى عليه بشئ ومستوجبة الحكم عليه به)، ژباړه: په دعوه کې دا شرط دي چې د مدعي لپاره به یو شی په حتمي ډول ـ پر مدعي علیه ـ ثابتوي او یو حکم به پری مرتب وي، د دې مقصد دادی چې یو تن په بل یوه دعوه وکړي نو قاضي یې په اړه فکر کوي که بالفرض دعوه ثابته شي په مدعي علیه څه شی لازمیږي او څه الزام پرې لګیږي او که دعوه داسې نه وي چې مدعي علیه په کوم شی نه ملزَم کوي نو دا دعوه به مردوده وي ځکه چې د مصلحت شرط پکې نشته او دعوه به په دې صورت کې عبث او بې فائدي وي. (۱۴: ۱۸۳).

نو په همدي اساس هغه مصلحت چې مدعي یې قصد کوي او د قضاء پر وړاندې یې په لاس راوړي باید

قانوني او یا شخصي وي.

مصلحتونه په دوه ډوله دي

لومړی قانوني مصلحت: د دې څخه مقصد په خپل ځای کې د حق او یا قانوني مرکز غوښتنه ده، پدې اړه د قضاء دنده د قانوني نظام حمایت کول دي په همدې اساس دعوه نه منل کیږي مګر په هغه صورت کې چې د حق او یا دقانوني مرکز ساتنه  پکې هدف او مقصد شوی وي، که چیري دعوه د اقتصادي او ادبي مصلحت او فائدې پر اساس وي نو قانون د دې حمایت نه کوی او دا دعوا نه منل کیږي ځکه دا قضاء له دندي څخه تجاوز او تیری دی، البته قانوني مصلحت(فائده) کله مادي او مالي وي لکه د پور د غوښتلو دعوی. او کله کله ادبي او معنوي وي مثلا یو تن دعوه وکړي چې د ده په اړه په اخبار کې داسې څه نشر شوي دي چې د ده عزت یې دسوال لاندې راوستلی وي یا پکې د ده سپکاوی شوی وي.

دوهم شخصي مصلحت: د شخصي مصلحت څخه مراد هغه دعوه ده ، چې دعوه کونکې خپله  د خپل حق د ساتنې په موخه  کړې وي او یا د ده وکیل کړی وي او یا ولي او وصي د هغه شخص چې اهلیت یې ناقص وي په نیابت کې کړي وي .

**د مدعی علیه پیژندنه او د ده اړونده شرطونه**

**د مدعی علیه لغوي او اصطلاحي پیژندنه**

**د مدعي علیه لغوي تعریف:** دا هغه مخاصم (د جګړې مقابل لوری ) دی چې په دلیل سره مغلوب شوی وي ، ویل کیږي ( وخصمك الذي یخاصمك ) یعنې هغه تن چې له تاسره یې جګړه کوله پر تا غالب شو او ته یې مغلوب کړی، او جمع یې خصوم راځي. (۹: ۱۰۵).

یعنې مدعي علیه هغه چاته ویل کیږي چې د قسم کولو غوښتنه ترې کیږي.

**د مدعی علیه اصطلاحي تعریف**

د مدعي علیه په اړه چې د فقهاؤ تعریفاتو ته نظر وکړو نو داسې معلومیږي چې دوی په دی اړه اختلاف نلري ؛ ځکه د خصومت او منازعي لمنځه وړل واجب دي او د خصومت او منازعي لمنځه تلل د جواب پرته شونې نه ده ، نو جواب ورکول هم واجب دي ، په منازعاتو او خصومتونو کې د مدعي علیه قول ته اعتبار دی ؛ ځکه چې مدعي علیه په اصل  ولاړ دی او اصل د ذمې برائت دی. (۱۷: ۲۴۴).

۱ـ د مدعي علیه په اړه د احنافو فقهاؤ تعریف: المدعی علیه " هو من یجبر علی الخصوم" (۱۸: ۴۱۶).

ژباړه : مدعي علیه هغه چاته وایې چې د خصومت په کولو مجبورولی شي.

۲ـ مالکیه فقهاء مدعي علیه داسې تعریفوي: المدعی علیه " هو من کان قوله علی وفق أصل أو عرف"(۱۶: ۱۲۱۴).

ژباړه: مدعي علیه هغه چاته ویل کیږي چې وینا او خبره یې د اصل او عرف سره موافق وي.

**د تعریف شرحه**

اصل دیته وایې چې د یو تن دی او  په بل باندې یې مال وي، نو دلته د مدعي چې د حق غوښتنه کوي د ده خبره د اثبات له مخې کمزوری ده او د مدعي علیه خبره قوي او راجحه ده ؛ ځکه اصل د ذمي برائت دی په همدې اساس ګواهان د هغه چا څخه غوښتل کیږي چې خبره یې کمزورې وي او قسم د هغه

چا لپاره دی چې خبره یې قوي وي. (۲: ۲۲۴).

**غوره تعریف**

په ذکر شوو تعریفونو کې غوره تعریف د حنابله ؤ دی او هغه دا چې المدعي علیه من اذا سکت لم یترک. ژباړه : مدعي علیه هغه څوک دي چې د جواب کولو څخه چوپ شي ؛ نو د دي سره سره هم نه پرېښودل کېږي یعني حق به ترې غوښتل کېږي او ځینو دا تعبیر کړی دی: المدعي علیه من اذا ترک الجواب یجبر علیه. ژباړه : مدعي علیه هغه څوک دی چې کله ـ مدعي ته ـ جواب ورکول پرېږدي ، نو په جواب ورکولو به مجبورولی شي. (۳: ۱۴۱).

**د مدعی علیه اړوند شروط**

۱ـ مدعی علیه به اهلیت لرونکی وي : اهلیت دوه شیانو ته شامل دی:

الف ـ مدعي علیه به ممیز وي او په خصومت کولو به ورته اجازه ورکړل شوې وي دا د مدعي د لومړي شرط په څېر دی لکه څرنګه چې مخکې ذکر شو او د مجلة الأحکام (۱۶۱۶) مادې پری داسې صراحت کړی دی.

ب ـ مدعي علیه به عاقل وي ؛ نو د لیوني او ماشوم دعوی درسته نه ده او په هغه چا هم دعوه نشي کولای ، چې د لیوني او ماشوم ولي یا وصي وي لکه څرنګه چې مخکې ذکر شول.

۲ـ مدعي علیه به معلوم او معین وي : معلوم به ځکه وي چې په نا معلوم شخص دعوی درسته نه ده، مثلا یو تن په خپله دعوا کې ووایې: چې د فلانې کلي والاو په ما باندې دومره پیسې دي ، یا ووایې: د فلاني کلي والاو باندې زما دومره پیسې دي او مدعي علیه تعین نکړي نو دا دعوه درسته نه ده بلکې مدعي علیه به تعینوي، ځکه چې د دعوي ګټه او فائده الزام او حکم دی په هغه څه کې چې کله دعوه دحکم په اسبابو کې په یو سره ثابته شي او حالانکه کله چې مدعي علیه نا معلوم وي نو نه ګواهان صورت موندلی شي اونه کوم الزام لکه څرنګه چې د مجلة الأحکام (۱۶۱۷) ماده په دې صراحت کوي فرمایې: (د مدعي علیه په اړه دا شرط دي چې معلوم به وي). (۴: ۱۴).

۳ـ د مدعي علیه والې صفت به پکې وي: دا شرط هغه وخت منځ ته راځې چې د مدعي علیه لپاره په دعوا کې داسې حال او شان وی چې مشرّع پري اقرار وکړي او د مدعي علیه په جواب باندې د مکلف والې لپاره یې کافي وبولي، او مخاصمه د وکالت، ولایت او وصایت په څېر ده تر دې چې د داسې دعوي په وړاندې کولو توان ولري چې د مدعي دعوه پری پېته یا دفع کړي. (۱۲: ۴۶۴).

د صفت شرط په دواړه طرفونو د دعوا باندې شرط دی یعني په مدعي او مدعي علیه دواړو کې حتمي دی او د دی شرط نه شتون په یو یا دواړو کې یو شان نتیجه ورکوي، کله چې د یو داسې شخص لخوا دعوه تر سره شي چې صفت د مدعي والې یا د مدعي علیه والي ونلري او یا پری مصلحت مدعي ته نوي نو حکم به مات وي او دعوه به غیر معتبره وي.

**د مدعي او مدعی علیه ترمنځ توپیر**

**تمهید**

د مدعي او مدعي علیه ترمنځ د توپیر کولو اهمیت د ځینې شیانو له امله څرګندیږي چې مهم یې دا دي:

۱ـ د مدعي او مدعي علیه پېژندل د قاضي سره په حق ته رسیدلو کې مرسته کوي البته په هغه احکامو

کې چې قاضي یې صادروي ؛ ځکه شارع د دعوي د ثابتولو بوج پر مدعي باندې د ګواهانو په پیش کولو سره ایښی دی، او د دعوي د دفع کولو بوج یې پر مدعي علیه ایښی دی چې د قسم په کولو سره به یې تر سره کوي په هغه صورت کې چې مدعي خپله دعوه په ګواهانو سره ثابته نکړي، د مدعي بوج درونډ دی نسبت سره مدعي علیه ته ځکه د ده کار نفس قسم کول دي، که چېرته قاضي د مدعي او مدعي علیه تر منځ په فرق کولو کې خطا شي نو بیا به په مدعي علیه درونډ بوج بار شي چې هغه د ګواهانو پیش کول دي پداسې حال کې په شریعت کې دا بوج برداشول پده باندې نشته نو دا به بیا لوی ظلم او د اسلامي شریعت سره تکر وي عدالت ته په رسیدلو کې.

۲ـ کله چې دعوه په اصل کې د حق غوښتنه ده نو ظاهر داده: چې مدعي د حق غوښتونکې او د مدعی علیه څخه غوښتل کېږي او په دې ظاهر باندې په ټولو قضیو کې اعتماد کول د دقت کولو په مواضعو کې د تکیه کولو د اسبابو څخه دي، البته د منازعاتو په حل او فصل کې. (۸: ۳۳).

په همدې اساس فقهاؤ خپل جد او جهد د مدعي او مدعي علیه تر منځ د توپیر په پېژندلو کې مصرف کړیدی او د دی لپاره یې ضوابط وضع کړیدي چې په راتلونکې بحثونو کې به یې ذکر کړو ان شاء الله.

**د احنافو له آنده د مدعي او مدعی علیه تر منځ د توپیر معیار او ضابطه**

د احنافو فقهاؤ په اند د مدعي او مدعی علیه تر منځ د توپیر لپاره معیار او ضابطه دا ده چې مدعي هغه شخص دی که خصومت پریږدي او دعوی ته جریان نه ورکوي نو زور پری نشې کیدلی او مدعي علیه هغه څوک دی که خصومت پریږدي نو زور او جبر پری کیدلی شي.

دا معیار او ضابطه چې احنافو فقهاؤ ایښې ده دا یې د اساسي ځانګړتیاو د مدعي او مدعي علیه څخه ګڼل کېږي او د دعوي د کیفیت او شکل څخه سر اخستل شویده ځکه چې دعوه یو روا او ارادي تصرف دي چې مدعي یې په خپل اختیار سره تر سره کوي.

او هر چې د دعوي ځواب دی دا د دغه ذکر شوي تصرف د پایلو څخه یوه پایله او نتیجه ده، نو جواب ورکول د مدعي دعوي ته حتمي او واجب دي، دا معیار د دعوي د طبیعت او جوړښت څخه اخیستل شویدی، احنافو فقهاؤ دا ضابطه او معیار په نورو معیارونو راجح او غوره بللی دی ځکه چې دا معیار نسبت نورو ته عام دی او خپلو ټولو فروعاتو ته شامل دی چې هیڅ کومه فرع یې ترې خارج نه ده.

**د دې معیار مثالونه**

۱ـ که یو تن د پور د نیتې دعوه وکړي او یا یې د اداء دعوه وکړي او یا وواېي چې تا راته معاف کړی دی؛ نو دلته پور اخیستونکې شخص مدعي دی ځکه دا به د دی خپل دعوي په جریان په جبر سره نه مکلف کېږي که مدعی علیه دغه ذکر شوي دعوي کړي نه وای؛ نو مدعی علیه به په جواب ورکولو نه مجبوره کیده.

۲ـ که یو تن د هغه تړون د فساد دعوه وکړي ، چې د ده او بل شخص تر منځ تر سره شوی ده ، نو دا شخص مدعي دی سره له دی چې د تړون د تنفیذ غوښتنه تری کېږي خو که د عقد په فساد ورسره مخاصمه (جګړه ) نه وي شوی. (۱۰: ۳۱).

د دری امامانو ( امام مالک ، امام شافعي او امام احمد رحمهم الله ) په آند د مدعي او مدعي علیه تر منځ د توپیر معیار

جمهور فقهاء د احنافو پرته پدې اند دي چې مدعي عليه هغه شخص دی چې د ده طرف قوي وي يا په شهادت او يا په بل داسې شي سره چې د ده تصديق او تائيد کوي او مدعي هغه شخص دی چې د ده دعوا په داسې څه مشتمله نوي چې د ده تصديق وکړي ، نو دوی د دغه معيار په تعين کې د تنازع کونکو جانب ته کتلي دي نو کوم جانب چې قوي وي په شهادت يا داسې شی چې د ده تصديق وکړي، نو هغه مدعی عليه دی او بل جانب مدعي دی، لږ وروسته به د هر امام قول په تفصيل سره دفروعاتو په ترڅ کې روښانه شي ان شاء الله.

**د مالکيه فقهاؤ له انده د مدعي او مدعی عليه تر منځ د توپير معيار**

مالکيه فقهاء پدې متفق دي چې مدعي هغه څوک دی چې د ده دعوه د داسې شي څخه خالي وي چې د ده تصديق وکړي او هغه دليل چې د خپل صدق لپاره يې وايي ضعيف او کمزوری وي بيا دوی دد غه تصديق کونکې شي تفسير او وضاحت په اصل او معهود سره کړی دی، يعنې دغه شی د پخوا څخه د ده په لاس کې دی د عرف او عادت مطابق او دی يې ذی اليد دی او دا اصلي حالت دی. د دوی په آند مدعي هغه څوک دی چې د ده قول په عرف او عادت او اصل سره قوي نهوي، يعنی دغه شی د ده په لاس کې نوي.

مدعي عليه هغه څوک دی چې د ده خبره په عرف او عادت او اصل سره قوي وي، بعضو مالکيانو بيا د مدعي ضابطه د دعوي د حال پوری مقيده کړې ده چې د مقصود او هدف څخه خاليوالی دی چې دعوه به پدغه حال وي مخکې د ګواهانو پيش کولو نه او چا چې نده مقيده کړی هغوی وايې چې د ګواهانو پيش کولونه وروسته مدعي ته مدعي نه بلکې حقدار ورته ويل کيږي.

هغه تصديق کونکی شی چې د دعوه کوونکو تر منځ د يو تن په مدعی عليه والي دليل وي هغه يو د لاندې شيانو څخه دی:

**۱ـ اصلي حالت:** او دا اصلي حالت لاندې شيانو ته شامل دی

الف ـ اصل په ذيمه کې برائت دی تر څو چې د دې خلاف ثابت شي، دبېلګې په توګه: يو تن په بل د يو حق دعوه وکړي نو دا دعوه کوونکې د حق مدعي دی او دعوه کړی شوی شخص مدعي عليه دی ځکه د ده طرف په برائت اصليه سره قوي دی.

ب ـ اصل په انسان کې صحت دی، تر څو چې مرض يې ثابت شي، د بېلګې په توګه: کله چې يوې مېرمنې ته د مېړه لخوا بائن طلاق ورکړل شي بيا سړی وفات شي او مېرمنه دعوه وکړي او د مېړه ورثه ؤ ته ووايې مېړه مې ماته طلاق په داسې حالت کې راکړی وو، چې د مرګ په بستر پروت وو او مريض وو، دا دعوه په دې خاطر کوي چې ميراث تری واخلي، ليکن د مېړه ورثه انکار وکړي، نو په دې صورت کې مېرمنه مدعي ده، ځکه چې اصل په انسان کې د صحت حالت دی تر دی چې مرض يې ثابت شي، نو دلته به د ورثه ؤ خبری ته اعتبار وي او د مېرمنې څخه به ګواهان طلب شي، او س که دواړه اړخونو يو شان ګواهان پيش کړل؛ نو د صحت ثابتونکو ګواهانو ته به اعتبار وي ځکه صحت مرض ته په نسبت سره اصل دی.

ج ـ اصل عدم ضرر او عدم تجاوز دی(ضرر نه رسيدل او تيری نه کيدل)، مثلا: يو تن په طبيب دعوه وکړي چې تا په قصدي توګه ماته يا زما مريض ته ضرر رسولې ده او طبيب ووايې چې دغه متضرر

کیدل زمانه په خطا کې شویدي، نو دلته طبیب مدعي علیه دی او بل شخص مدعي دی د مدعي څخه به ګواهان طلب کړی شي ځکه اصل عدم ضرر او عدم تجاوز دی. (۸: ۳۴).

د ـ اصل په انسان کې په یو څه نه پوهیدل دي تر څو یې په دغه شي د پوهې دلیل څرګند شي: د بېلګې په توګه: کله چې یو تن د خپل شریک څخه د هغه د هغی حصی غوښتنه په شفعې سره وکړي کومه چې ده یو کال مخکې خرڅه کړی وه، په دې وخت کې مشتري دعوه وکړي او ووایې چې ته خو پدی بیع په هغه وخت کې چې ما اخیستله خبر وي او شریک دعوه وکړي چې زه خبر نه وم، په دې صورت کې شریک مدعی علیه دی، د ده قول ته به اعتبار وي ځکه د ده خبره په اصل سره بنا ده او قوي ده او مشتري مدعي دی او ګواهان به ترې طلب کړی شي.

هـ ـ اصلي حالت فقر دی ځکه چې دا په مالدارۍ مقدّم وي ځکه انسان فقیر پیدا کېږي څه ورسره نوي وروسته کسب او کار وکړي او مالداره شي، لیکن دوی وایې: خلک مالداره وي؛ ځکه اوس مالداري (غناء، سرمایه داري) غالبه ده، نو دلته اصل چې (فقر) دی د غالب سره (غنی) ده تعارض راغی نو غالب به مقدّم وي په اصل باندې، مثلا: هغه څوک چې لاس یې تنګ وي (څه ورسره نوي) مدعي ګڼل کېږي اګر که اصل د ده سره موافق دی چې فقر دی نو دی به په خپل اعسار( تنګ دستۍ) ګواهان پیش کوي، ځکه غالب عدم اعسار دی ـ غنی ـ او غالب به مقدّم وي په اصل باندې چې فقر دی.

**۲ـ ظاهر حالت**

ظاهر هله معتبر وي چې اسباب یې زیات وي او که د ظاهر اسباب کم وو بیا ورته اعتبار نشته، هغه شی چې د دعوه کوونکو تر منځ د یوه تصدیق کوي کله کله ظاهر هم کیدلی شي او ظاهر یو د لاندې دوه شیانو څخه استفاده کېږي:

الف ـ عرف: بعض ورته معهود، غالب او عادت هم وایې، د تعارض پر مهال به عرف په اصل مقدّم وي، په همدې اساس دوی وایې: هر اصل چې عرف یې تکذیب وکړي نو عرف به پرې راجح وي او د دې خبرې څخه دوی یوازی د برائت اصلیه اصل مستثنی کړی دی مثال: که یو صالح او تقوا داره شخص چې په علم او دین کې لوی شان او مرتبه لري په یو فاسق د یو درهم دعوه وکړي، نو دلته غالب د دې تصدیق کوي او اصلي حالت د ذمې برائت دی؛ نو دلته به اصل په غالب باندې مقدّم وي.

ب ـ قرینې، ظاهر حالتونه او غالب ګومان، د بېلګې په توګه: چا یو شی د څه مودې لپاره قبضه کړ او تصرف په کې کوي بیا پرې بل چا دعوه وکړه، دلته به د ملکیت په دعوه کې د قبضه کوونکې خبره معتبره وي او دا بل شخص مدعي دی،ځکه چې د ده خبره د ظاهر خلاف ده د مدعي څخه به ګواهان طلب کړل شي او که نه نو دعوه به د قبضه کوونکې په قسم سره دفع کړی شي.

پدې ضابطه کې اساني ده هغه دا چې کله په یوه مسئله کې د یو تن لپاره د دغه تصدیق کونکو شیانو څخه اصل او یا ظاهر موجود شو او د بل لپاره تصدیق کوونکې شیان ظاهر او اصل نه وو نو د چا قول چې قوي وو هغه به مدعي علیه وي او د چا قول چې قوي نه وو هغه به مدعي وي. دومره خبره ده چې پدې ضابطه یو څه احتمالات د دوه دعوه کوونکو په اړه واردیږي چې په دغه وخت کې یې د دې ضابطې پر اساس تمیز کران کار دی د بېلګې په توګه:

الف ـ کله چې د دوه دعوه کوونکو قول د هغه ترجیح کوونکو شیانو څخه خالي وي کوم چې مخکې ذکر

شول لکه دوه اشخاص په یو شي دعوه وکړي او د هیڅ یو تن په لاس کې هم نه وي،په دې حالت کې دواړه سره برابر دي او دواړه به قسم کوي او دغه شی به د دواړو تر منځ تقسیم کړی شي.

ب ـ کله چې د اصل او ظاهر تر منځ تعارض راشي: دوی ظاهر په اصل باندې د همیش لپاره مقدم کوي مګر په هغه صورت کې چې د ظاهر تعارض د برائت الذمې د اصل سره راشي نو بیا اصل مقدّم وي نه ظاهر، ځکه دا په شرعي اصولو او دلایلو کې قوي ، عام او راسخ دلیل دی په همدې وجه علماء وایې چې دا اصل به په باقي ټولو اصولو باندې مقدّم وي.

د ظاهر په اصل باندې د مقدّم والي ببلګه: چې یوه مېرمن په خپل فی الحال خاوند باندې دعوه وکړي چې نوموړی په ما خرچه نه کوي، نو اصل د نفقی نه کول دي، غالب او عرف دا دی چې نفقه پرې کوي، نو دلته به غالب مقدّم وي او د خاوند قول ته به اعتبار وي.

په دې معیار کې د مالکیه و تر منځ هم اختلاف شته په بعض مسائلو کې او د هغې څخه وتل غالبا د عامه مصلحت پر اساس وي او د دې د مثالونو څخه دا دی:

۱ـ د امین قول معتبر دی چې کله امانت د امانت ګر په لاس کې له منځه لاړ شي سره له دې چې اصل د دې خلاف دی؛ ځکه دا تلف کېدل یو عارضې شی دی، خو د امین قول ته ځکه اعتبار ورکول کېږي چې بیا به خلک د امانتونو د ساتلو څخه انکار کوي او په ټول ښار کې به څوک نشی پیدا کولی چې یو شی در څخه د امانت په ډول د ځان سره کېږدي، نو دا مصلحت په نظر کې نیول شوی.

۲ـ د غاصب قول ته اعتبار دی کله چې د ده په لاس کې غصب شوی شی هلاک شي د ده خبره به د قسم سره منل کېږي، سره له دې چې اصل د دې خلاف دی او دا کار د ضرورت پر اساس تر سره کېږي ځکه که د ده خبره د قسم سره ونه منل شي نو دی به په همیشه توګه زندان ته لاړ شي. (۷: ۱۲۴).

**د شافعي فقهاؤ په اند د مدعي او مدعي علیه تر منځ د توپیر معیار**

د مدعي او مدعی علیه تر منځ د تمیز د ضابطې او معیار په اړه د شافعي مذهب فقهاوو څخه دري قوله نقل دي.

